Downloaded By: Afghan Salar Library

Afghan Salar Library

رحمة للعالمين

صلى الله عليه وسلم

مؤلف:

محمد احمد جاد الموالي

پښتو مترجم:

محمد گل نوري

صداقت خپرندويه ټولنه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رحمة للعالمين

مؤلف:

محمد احمد جاد المولى

پارسي مترجم:

محمود شهاب

پښتو مترجم:

محمد گل نوري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

باسمه تعالی

د کتاب تول حقوق په خپرندوی اړه لري!

د کتاب پېژندنه

❁ د کتاب نوم : رحمة للعالمين

❁ مؤلف : محمد احمد جاد المولى

❁ پارسي مترجم : محمود شهاب

❁ پښتو مترجم :محمد گل نوري

❁ خپرندوی : صداقت خپرندويه ټولنه/ کندهار

❁ کمپوز/ ډيزاين : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❁ لومړی چاپ : ۱۳٤۱ ش، د سنبلې مياشت

د اول چاپ مهتمم او خپرونکی: حاجي محمد نور توخی

❁ دوهم چاپ : ۱۳۹۳ ش _ ۲۰۱٤ ع ، د جدي مياشت

❁ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

❁ د مخونو شمېر : ٤۰۰ مخه

د تر لاسه کولو پته:

صداقت خپرندويه ټولنه، کندهار - افغانستان

تليفون: ۰۷۰۰۳۰۹۲٤٤ - ۰۷۰۰۳۰٥٤۰۷

ايميل: sadaqat.books@gmail.com

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بسم الله الرحمن الرحيم

وَمَا اَرْسَلْنَاكَ اِلَّا رَحْمَةً لِلْعٰلَمِيْنَ

دا کتاب د حضرت سیدنا محمد ﷺ

رحمة للعالمين

پوره سیرت او د امت کامل سرمشق دئ، چې د حضرت محمد ﷺ
عظمت ثابتوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

فهرس

۱. تقریظ: د مولانا محمد شاه ارشاد په قلم ۱۲
۲. د پارسي مترجم مقدمه ۱۳
۳. اوس نو پوه انسان او د دین انتخاب ۱۶
۴. صالح دین ۱۶
۵. اسلام ۱۷
۶. د کتاب مؤلف ۱۹
۷. د کتاب اصل ۲۰
۸. ترجمه ۲۱

لومړی باب

رحمة للعالمین ﷺ محمد د ټولو فضائلو سرچینه دئ

۹. اجمال ۲۲
۱۰. تفصیل ۲۴
۱۱. د رحمة للعالمین شخصي فضائل ۲۸
۱۲. د حضرت محمد ﷺ ژوند ونه ۳۰
۱۳. د رحمت للعالمین ﷺ د خلقت او دده د جمال زیبایي ۳۲
۱۴. د حضرت محمد ﷺ د خبرو او نطق اکمال ۳۳
۱۵. د رحمة للعالمین د عقل او پوهي اکمال ۳۹
۱۶. د رحمة للعالمین زړه ورتوب او مېړانه ۴۲
۱۷. د رحمة للعالمین د دنیا څخه اعراض او له خدایه ویره ۴۳
۱۸. د رحمة للعالمین ﷺ احترام له ځانه ۴۵

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۱۹. د رحمة للعالمين اجتماعي فضائل ۴۶
۲۰. د رحمة للعالمين بنه معاشرت ۵۰
۲۱. د رحمة للعالمين عفوه او بخشش ۵۴
۲۲. د رحمة للعالمين ﷺ بنه سياست ۵۷
۲۳. په لاربنوونه کي د رحمة للعالمين ﷺ بنه سلوک ۶۴
۲۴. د رحمة للعالمين ﷺ ثبات او پايدراي ۷۶

دوهم باب
رحمة للعالمين محمد ﷺ په پيغمبرانو کي

۲۵. رحمة للعالمين مجمد په پيغمبرانو کي ۹۰

دريم باب
د رحمة للعالمين محمد ﷺ د بعثت اقتصادي او اجتماعي عوامل

۲۶. د ايران حال ۹۶
۲۷. د روم حال ۹۷
۲۸. د هند حال ۹۹
۲۹. د عربو حال ۹۹
۳۰. د رحمة للعالمين تر بعثت وړوسته د مکي معظمي حال ۱۰۰

څلرم باب
د نبوت د حصول مراحل او د هغه استقرار

۳۱. د نبوت او رسالت د حصول له پاره څو مرحلي ۱۲۵

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځم باب

د رحمة للعالمين حضرت محمد ﷺ پر رسالت باندي قطعي دلائل

٣٢. الف: عقلي دلائل ١٣٣
٣٣. د رحمة للعالمين رسول الله ﷺ د ډول ډول اذيتو تحمل ١٣٤
٣٤. د رحمة للعالمين محمد ﷺ د ستايل سوو اخلاقو شهرت ١٣٤
٣٥. د رحمة للعالمين ډېره ډېره د الله د عظمت په مقابل کي ١٣٦
٣٦. د اسلام ژر خپرېدل ١٣٧
٣٧. د رحمة للعالمين محمد ﷺ زحمت ګالل د وګورو د لاربنوونې .. ١٣٨
٣٨. د رحمة للعالمين ﷺ د غيبو څخه خبر ورکول ١٣٨
٣٩. د رحمة للعالمين محمد ﷺ اهتمام د امت په نېکبختي کي ١٤٢
٤٠. د رحمة للعالمين محمد ﷺ پاکوالی د بشري ١٤٢
٤١. د رحمة للعالمين محمد ﷺ کوبښښ د ناوړو او رذائلو څخه ١٤٣
٤٢. د رحمة للعالمين محمد ﷺ اجتماعي دردونو او د هغو ١٤٦
٤٣. د عربو عجز د قرانکريم د برابرۍ او معاوضې څخه ١٤٦
٤٤. د رحمة للعالمين محمد ﷺ تائيد پدل او د دښمنانو خوارېدل ١٥٣
٤٥. د حضرت محمد امين رسول الله ١٥٥
٤٦. حسي دلائل ١٦١
٤٧. معجزو او د هغو و احتياج ته اشاره ١٦١
٤٨. حسي معجزې ١٦٢

شپږم باب

رحمة للعالمين محمد ﷺ تر ټولو مصلحانو کامياب دئ

٤٩. اول: د رحمة للعالمين محمد ﷺ اجتماعي او خلقي کاميابۍ .. ١٦٧
٥٠. دوهم: په سياست او د کارو په اصلاح کي د رحمة ١٨٩
٥١. د اعرابو د ائتلاف په لار کي د حضرت محمد ﷺ زحمتکشي ... ١٨٩

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۵۲. د رحمة للعالمين محمد ﷺ ځيراکت، ۱۹۵
۵۳. د حديبې ترون ۱۹۵
۵۴. د جرګو او راتلونکو هيئتو څخه د حضرت محمد ﷺ ۲۰۲
۵۵. د نجران د ترسايانو جرګه ۲۰۲
۵۶. د تميم داري او دده د ملګرو وفد ۲۰۳
۵۷. د صعصعه د زوی عامر وفد ۲۰۴
۵۸. د عبدالقيس وفد ۲۰۵
۵۹. د حاتم د زوی د عدي وفد ۲۰۶
۶۰. د کنده وفد ۲۰۸
۶۱. د تجيب وفد ۲۰۹
۶۲. د بني سعد هذيم وفد ۲۱۰
۶۳. و پاچاهانو ته د حضرت للعالمين محمد ﷺ مراسلات ۲۱۱
۶۴. په غزا او جنګو کې د رحمة للعالمين محمد ﷺ کاميابي ۲۱۳
۶۵. د قتال د حکم رسېدل ۲۱۴
۶۶. د بدر غزا ۲۱۶
۶۷. د مکې مکرمې د فتح جنګ ۲۱۹

شپږم باب

د رحمة للعالمين محمد مصطفي ﷺ دين تر ټولو ادیانو کاملتر دئ

۶۸. مقدمه: ۲۲۲
۶۹. د اسلام مقاصد - مقدمه ۲۲۷
۷۰. لومړی مقصد ۲۳۰
۷۱. په هر سړي کې د صحيحي عقيدې پيدا کول ۲۳۰
۷۲. د صحيحي عقيدې د پيدا کېدو وسايل ۲۳۱
۷۳. د هر سړي د ظاهر بنائسته کول اول ۲۴۲
۷۴. لمونځ ۲۴۲
۷۵. روژه ۲۴۵
۷۶. دوهم مقصد ۲۴۹

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۷۷. زکواة ۲۴۹
۷۸. حج ۲۵۲
۷۹. دریم مقصد ۲۵۵
۸۰. د جامعې اصلاح ۲۵۵
۸۱. اجمال ۲۵۵
۸۲. بنځه په پخوانیو ملتو کې ۲۵۵
۸۳. اول: د نجلۍ توب په لحاظ د اسلام په نظر کې بنځه ۲۵۸
۸۴. دوهم د اسلام په نظر کې مړو بنې بنځه ۲۶۰
۸۵. دریم: بنځه د مور توب د لحاظه ۲۶۳
۸۶. څلورم: بنځه د دې لحاظه چې د جامعې عضوه ده ۲۶۵
۸۷. پنځم: د بنځې او نر په منځ کې سنجش ۲۶۶
۸۸. شپږم: د بنځې مختصات ۲۶۸
۸۹. د ماینو شمېر یا د زوجاتو تعدد ۲۶۹
۹۰. د ماینو د تعدد علل او اسباب ۲۶۹
۹۱. اووم په خپله د سید المرسلین د زوجاتو د تعدد علل او عوامل ۲۷۰
۹۲. خاص اسباب ۲۷۲
۹۳. اتم: د طلاق جواز ۲۷۹
۹۴. دوهمه لار: د مریانو د ازادۍ لپاره د پروسایل راغونډول ۲۸۴
۹۵. مریې توب ۲۸۴
۹۶. د مریې نیولو منشاء ۲۸۴
۹۷. هغه شیان چې د مریې توب سبب سوه ۲۸۵
۹۸. مریې توب په پخوانیو زمانو کې ۲۸۵
۹۹. په هندوانو کې مریې توب ۲۶۸
۱۰۰. په اسوریانانو او ایرانانو کې مریتوب ۲۸۷
۱۰۱. په چینایانو کې مریتوب ۲۸۷
۱۰۲. په عبراني وګړو کې مریې توب ۲۸۸
۱۰۳. په یوانا کې مریې توب ۲۸۹
۱۰۴. په یونان کې مریان پر دوه دوله دي ۲۸۹
۱۰۵. په روم کې مرییتوب ۲۹۰
۱۰۶. د مریانو اقسام ۲۹۱

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۱۰۷. د مريي قدر او ارزښت ۲۹۱
۱۰۸. په منځنيو قرنو کي مريي توب ۲۹۲
۱۰۹. په وروستيو زمانو کي مريي توب..... ۲۹۳
۱۱۰. د تورليکيانو قانون ۲۹۴
۱۱۱. د مسيح په دين کي مريي توب ۲۹۵
۱۱۲. په اسلام کي مريي توب ۲۹۷
۱۱۳. د مريي مميزات..... ۲۹۹
۱۱۴. د آزادېدو اجتماعي مزيت..... ۳۰۰
۱۱۵. د مريي سره رفتار..... ۳۰۱
۱۱۶. خلاصه ۳۰۲
۱۱۷. څلورم مقصد : د بېکاری، بدی او ۳۰۳
۱۱۸. پنځم مقصد : بنه کزاره او حسن معاشرت او خوش رفتاري ۳۰۷
۱۱۹. په جامعه کي د واده فايدې..... ۳۰۸
۱۲۰. شپږم مقصد : د ظلم ورک کول، عدل او انصاف کول ۳۱۴
۱۲۱. اووم مقصد : د اسلام د ټولو افرادو په منځ کي د ورور ۳۱۷
۱۲۲. اتم مقصد : د اسلامي رياست وحدت ۳۲۱
۱۲۳. نهم مقصد : د ټولو وګړو له پاره د خير غوښتل ۳۲۲
۱۲۴. لسم مقصد : و کريمه او ښو اخلاقو ته رابلل ۳۲۴
۱۲۵. يوولسم مقصد : د وګړو درجې او رتبې..... ۳۲۵
۱۲۶. کافران پنځه قسمه دي ۳۲۹
۱۲۷. دوولسم مقصد : په عمومي ډول سره د جامعې اصلاح..... ۳۳۴
۱۲۸. اول هغه دين چې ټوله ئې پيروي وکي..... ۳۳۴
۱۲۹. دوهم: قوي او پوه حکمت..... ۳۳۴
۱۳۰. دريم: عام عدل..... ۳۳۶
۱۳۱. د عدل اقسام ۳۳۷
۱۳۲. څلورم: هغه امن چې ټولو ته شامل وي ۳۳۹
۱۳۳. پنځم: د بدايتوب د اسبابو پرېماني..... ۳۳۹
۱۳۴. شپږم: عمومي تينګ امید او هيله..... ۳۴۰

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اتم باب

حضرت محمد رسول الله تر ټولو

مخلوقاتو اشرف دئ

۱۳۵. ددې مطلب د تصدیق لپاره ۳۴۶

نهم باب

باید پر حضرت رحمة للعالمین ﷺ ټوله وګړي ایمان راوړي

او اطاعت ئې وکي

۱۳۶. پر محمد رسول الله ﷺ د ایمان وجوب ۳۵۱
۱۳۷. دده مبارک د اطاعت وجوب ۳۵۱
۱۳۸. د محمد رسول الله ﷺ سره د محبت وجوب ۳۵۲
۱۳۹. د حضرت رحمة للعالمین ﷺ په دوستي د وګړو درجې ۳۵۴
۱۴۰. د حضرت رحمة للعالمین ﷺ د محبت نخبني ۳۵۶

لسم باب

د رحمة للعالمین محمد ﷺ لنډه سیرت

۱۴۱. د حضرت رحمة للعالمین ﷺ نسب ۳۶۰
۱۴۲. الف: دده مبارک نسب د پلار له خوا ۳۶۰
۱۴۳. ب: د انحضرت ﷺ نسب د مور له خوا ۳۶۰
۱۴۴. د حضرت رحمة للعالمین ﷺ د ژوندون دورې ۳۶۱
۱۴۵. لمړۍ دوره: له ولادت څخه تر بعثت پورې ۳۶۱
۱۴۶. د حضرت سید المرسلین محمد ﷺ ژوندون ۳۶۳
۱۴۷. دوهمه برخه: د نبوت څخه تر هجرت پورې ۳۶۳
۱۴۸. روحي فترت ۳۶۳
۱۴۹. د حضرت نور الهدای محمد ﷺ دعوت ۳۶۴
۱۵۰. تر بعثت وروسته په پنځم کال ۳۶۴
۱۵۱. د اسلام د دین د خپرېدو پیل ۳۶۵

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

۱۵۲. دریمه برخه: د هجرت څخه تر رحلت پورې ۳۶۶
۱۵۳. د هجرت لومړی کال ۳۶۸
۱۵۴. د جهاد حکم ۳۶۸
۱۵۵. د جنګ پیل ۳۶۹
۱۵۶. د هجرت دوهم کال ۳۶۹
۱۵۷. د رمضان د میاشتې روژه او سرسایه ۳۶۹
۱۵۸. د مال زکواة او د هغه حکمت ۳۷۰
۱۵۹. د لوی بدر غزا ۳۷۰
۱۶۰. د هجرت دریم کال ۳۷۱
۱۶۱. د احد غزا ۳۷۱
۱۶۲. د شرابو حرام کېدل ۳۷۱
۱۶۳. د هجرت څلورم کال ۳۷۱
۱۶۴. د ذات الرقاع غزا ۳۷۱
۱۶۵. د هجرت پنځم کال ۳۷۲
۱۶۶. د خندق غزا ۳۷۲
۱۶۷. د هجرت شپږم کال ۳۷۲
۱۶۸. د حدیبې غزا ۳۷۲
۱۶۹. د هجرت اووم کال ۳۷۲
۱۷۰. د خیبر غزا ۳۷۲
۱۷۱. د هجرت اتم کال ۳۸۳
۱۷۲. د مکې مکرمې د فتح غزا ۳۸۳
۱۷۳. په غیره عربي بنارو کې د اسلام خپرېدل ۳۸۳
۱۷۴. د هجرت نهم کال ۳۷۴
۱۷۵. د تبوک غزا ۳۷۴
۱۷۶. د هجرت لسم کال ۳۷۴
۱۷۷. و یمن ته د غازیانو لېږل ۳۷۴
۱۷۸. حجة الوداع ۳۷۵
۱۷۹. د حضرت رحمة للعالمین ﷺ تک و الله تعالی ته ۳۷۷
۱۸۰. د حضرت ﷺ تدفین ۳۷۸
۱۸۱. د حضرت محمد ﷺ ۱۱۳ احادیث ۳۷۹

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د بناغلي مولانا محمد شاه ارشاد په قلم:

تقریظ

رحمة للعالمین دغه کتاب چې د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سیرت او شمائل بیانوي د یوه عربي سترلیکوال له خوا لیکل سوی او مائې عربي نسخه لوستلې وه، ددغه کتاب محتویات ټول مستند او مؤثوق دي، ددغه کتاب لوستل د هر چا له پاره زوړوي او کهٔ ځوان ډېر ګټور دي.
د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم له سیرت سره اشنایي پیدا کول د اجتماعي ژوند په رموزو ځان پوهول دي.
د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم لوړ شخصیت نن د نړۍ ټولو پوهانو خپل دي که پردي منلی او هر چا نوموړی جناب پېژندلی، پر دې ئې باور راغلی دئ چې حضرت محمد صلي الله علیه وسلم د بشریت یو ستر رهنما او د انسانیت ډېر لوی مصلح وو او ددې وضع کړي او طرحه کړي اساسونه د بشریت تر وروستي وخته پوري د منلو او تطبیق وړ دي، د سیرت د کتابونو لوستل د سړي ایماني قوه په تحریک راولي او بشري احساسات او جذبات ئې را ژوندي کوي عواطف او انساني مشاعر ئې راپاروي او د انسانیت له زموزو سره ئې اشنا کوي، نو اوس چې دغه کتاب د بناغلي حاجي محمد نور توخي په اهتمام په بناغلي محمد ګل نوري باندي ترجمه سوی او د کندهار په دولتي مطبعه کي تر چاپ لاندي نیول سوی د پښتو د علمي ذخېرې دپاره یوه ستره پانګه ګڼل کېږي، مهتمم او مترجم ئې د ثواب مستحق بولو، زه ددغه کتاب لوستل د هر ځوان او سپین ږیري دپاره مفید ګڼم او یقین لرم څوک چې دغه کتاب ولولي د انسانیت په حقیقي معنې به پوه سي او انساني روحانیت بې ئې لوړ ولاړ سي په دې به هم پوه سي چې د اسلام د مقدس دین پېشوا په څه توګه خپل امت د انسانیت پر لاره روان کړ او په څه ترتیب ئې د خپل اسلامي ټولنې د مانې د بنسټ ډبره کښېښوده او څنګه ئې د خپلو پیروانو په زړونو کې د ایمان روښانه ډېوه بله کړه او څنګه ئې په زړونو کې د اخوت، ورورګلوۍ، ایثار او فداکاري حس پیدا کړ او څنګه ئې د دوی تر منځ د وحدت او اتفاق مزي وغځاوه، دغه سوالونو ته د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم د سیرت مطالعه جواب ورکولای سي او بس.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د فارسي مترجم

مقدمه

د مځکي د مخ موجودات لکه يو کاروان داسي دي، چي د يوې خوا څخه را رهي سوي او د خپل مطلب و منزل ته ځان رسوي، د دې کاروان لومړی حرکت د کومه ځايه او کله وو او آخر ختم ئې کله او پر کومه يّوه نقطه دئ؟ په سر و پای ئې الله تعالی خبر دئ و بس. هغه شی چي مسلم دئ، دا دئ چي د دې کاروان حرکت که څه هم زماني امتداد ورته لازم دئ، مګر مکاني امتداد نه لري، بلکي دغه کاروان د وجود کاروان دئ، لکه چي د حرکت سر او پای ئې په خپله په ده کي دئ، د حرکت امتداد او د سير خط ئې هم په خپله په ده کي دئ.

ډول ډول اجناس او رنګارنګ انواع چي په بې انتها اوږدو کي په ډېر تلوار سره ځي، په هيڅ ځای کي دمه نه نيسي او استراحت نه کوي، په ډېره سرګرداني او پرېشاني او وارخطايي سره د يوه منزل څخه و بل منزل ته او له يوه ځايه و بل لور ځای ته روان دي، عجبه دغه ده، چي که د دوی له پاره د ستړيا او ستومانی تصور وسي نو هغه به د لاري په درېدو کي وي، نه د هغې په ادامه او طی کولو کي.

هغه لار او طريقه چي هوښيارانو د وجود د دايرې د دوو قوسو د تکميل له پاره تشخيص کړې او تحقيق کړېده او په صعود او نزول ئې تعبير کړی ده، د وجود د کاروان و سير او تګ ته اشاره ده، د ارتقا او نشوي قانون همدغه سير او حرکت ثابتوي.

د محض فعليت او مطلق کمال څخه د فيض تجلی شروع کېږي، هر څونه چي د موجوداتو سلسله د هغه فيض د سرچينې څخه ليرې سي او ځوړې خوا ته سير کوي کمال او فعليت مخ پر کمي او نقصان ايږدي، څو چي د کار پای پر محض قوه او صرف نقص تمام او ورسېږي. بيا نو بيرته تکامل شروع کېږي، او دغه کاروان مخ پر فعليت ايږدي، بېجانه جماد مخ پر عالم نبات حرکت کوي او بې حسه نبات د حيوان نړۍ ته ځغلي، او بېعقل حيوان په ډېره ښېره د انسانيت و اقليم ته رادرومي، څو چي کوم عقل او پوهه لاس ته راولي او د مطلوب و کمال ته ورسېږي.

دغه کښته موجودات چي ډېري اوږدې لاري ئې طی کړي او خپل ځان ئې د انسان و لوړ مقام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ته رسولی دئ، نو اوس به په دغه مرحله کي خپل درومند بار کښېږدي او د اوسېدو او اقامت نیت به وکي او یا که به بیرته د تګ او سفر اراده کوي او د پخوا په شان چي په ډېره ښېره ئې و دې منزل ته ځان رارسولی دئ و بل لوړ منزل ته متوجه کېږي.

بشري افراد ټول د حرکت په حال کي دي، بلکي د دې شعر له حیثه:

وعـــده وصـــل چـــون شـــود نزدیـــک
آتـــــش شـــــوق تیزتـــــر گـــــردد

څرنګه چي د انسان د سیرخط د وجود د نزول د آخري نقطې څخه ښکته ډېر لیري او د صعود و آخري نقطې ته ډېر نژدې دئ نو ځکه په ډېره مینه او محبت وس کوي، چي ژر تر ژره خپل ځان د کمال بې څنډو او بې پایه دریاب ته ورسوي او د فعلیت د افق څخه سر ښکاره کي.

د مادي او دنیوي مقاصدو د په لاس راوړلو له پاره د انسان دغه ټوله جوش او خروش په حقیقت کي یو معنوي مهیج او غیبي محرک لري، چي د ده د طبیعي شوق سلسله پر ښور راولي او د یوه ښسده په شان دی پر لار او بې لارې هیسته او دوري کشوي چي څوک یار کي او مرسته ځني وغواړي او میل ئې و چا ته وي او د غیب لاس د فیض د لستونې څخه راوباسي او دی تر ګرېوان ونیسي و ځان ته ئې ورکش کي.

په دنیا کي هر سړی د ظاهر په حیث یو مطلوب لري، و هغه ته هڅه کوي او د هغه د لاس ته راوستلو له پاره زحمتونه ګالي، د یوه پیسې او روپۍ مطلب وي، د بل سړي علم، دریم اعتبار او عزت غواړي، څلورم د جاه و جلال او نفوذ او د اقتدار شوقي او غواړي ئې، همداسي نور ... نو که دغه کارونه او شیان د دغو کسانو حقیقي مطلوب وي، نو هغه وخت چي ور ورسېدی کامیاب سو، نو ولي د کوښښ او هڅي څخه لاس نه اخلي، نه درېږي او بیرته لکه لومړی ورځ چي هیڅ ئې په لاس کي نه درلودل، نه ئې سر کوت نه پښې، هغسي لا و مطلوب ته ورځغلي او خپل ژوند تر آخري سلګۍ پوري تر جاروي؟ یه! په حقیقت کي دغه یو شی د ده مطلوب نه دئ، دلته دا شی دئ چي انسان د خپل محیط د حال او اوضاعو او تربیت او د جامعې د روش او لاري سره سم یوه لاره او یو هدف مدنظر نیولی او خپل مطلوب ئې ګڼي او د هغه تعقیب کوي، په پای کي لکه د ورښنمو چنجی د بې حقیقته خیالاتو او اوهامو تارونه پر ځان پېچي او ځان په هغه کي پټ کړي.

هو! نوع انسان لره په حقیقت کي یو بل مطلوب ستة، چي ټوله افراد پر هغه شیدا او مین دي او په هغه پسې ډېر سرګردان دي او د ټولو همدغه یو مطلوب دئ و بس، چي د انسان طبیعت دی و هغه ته ورکشوي، لیکن د وهم او خیال شیطان او اهریمن د ده لار وهي او په مخ کي ډول ډول او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رنګارنګ شيان ورته بنکاره کوي، لار ځني ورکه کوي او پر خپل کار ئې مشتبه کوي، تر دې حده چې جز انسان بې له دې چې په ځان وپوهېږي د خپل فطرت څخه لاس کاږي او د خپل طبيعت پر خلاف سيرا و حرکت کوي.

د ټولو موجوداتو سير و مطلق کمال او محض فعليت ته دئ، و دې لوړ مقام ته د رسېدلو شور او حرارت د ټولو په خټه کې اخښلی او پټ دئ او دغه ټوله تر انساني مرحلې پورې خپل طبيعي حرکت پای ته رسوي، نو خامخا انسان لره هم يو واقعي مطلوب او حقيقي معشوق مطلق کمال او محض خير دئ.

انسان د عالم وجود د هغو اعضاوو څخه دئ، چې که د دغو اعضاوو او غړو زړه وچول سي نو په هغه کې به و مطلق کمال ته د شور او عشق اور ولېدل سي. نو انسان هم په خپل باطن او زړه کې دغسي شور او د مينې اور لري او د ده د وجود اوبه او ختې په دغه عشق او مينه سره اخښلي دي، نو په دې صورت چې د خپل باطن او هغه عشق پيروي سي او خپل پاک باطن او پاکه خټه او پاک سرشت فاسد نه کړي او د خپل فطرت په حکم سير کوي او تر ځان کښتو او ناقصو موجوداتو څخه وروسته پاته نه سي، نو دی به حتماً و کمال او مطلق خير ته رهی وی.

نو و همدې حقيقت ته کتنه ده، چې الله تعالی جل و علی شانه د الهي دين په باره کې فرمايلي دي:

[فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا]. هو! شک نسته فطرت سړی و الله تعالی او کمال او خير ته وربولي، په دې شرط که د اوهامو وسوسې پرېږدي او د ده د لاري مانع ونه ګرځي.

شيخ شهاب الدين سهروردي د حکمة الاشراق کتاب خاوند (۵۴۹ يا ۵۵۱، ۵۸۷ يا ۵۸۸) په خپلو خوږو کلمو کې ويلي دي:

"لولا ازاغة المبطلين نطقت الفطرة بشواهد الايمان".

د رسولانو او انبياوو عليهم السلام سلسله د الله تعالی له نزد څخه د همدې له پاره راغلې ده، چې د بشر فطرت د هوا او هوس د اهريمن او شيطان د منګولو څخه خلاص کي، او دغه کاروان د خپل حقيقي سير و لاري ته وارد کي، او د ده لاربښوونکی سي او خپل سرمنزل ته ئې ورسوي، الله ﷻ فرمايي:

[قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ] (سورة يوسف – ... آيت).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نو ټوله رسولان او ګرده انبيا علی نبينا و عليهم السلام د طبيعت د سير او د فطرت د کشش پر خلاف کار نه کوي، بلکي هغه شيان او هغه څه چې په ظاهره فطري او طبيعي غوندې ايسي او په حقيقت کي فطري نه وي او د اصل فطرت مخه نيسي او د حقيقت د ناموس او طبيعت په مخ کي بند او سد لوېږي له منځه اخلي، محوه کوي ئې، الله تعالی جل و علی شانه فرمايي:

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَآ أَنْ أَخْرِجْ قَوْمَكَ مِنَ ٱلظُّلُمَـٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ (سورة ابراهيم - ٥ آيت)

اوس نو پوه انسان او د دين انتخاب

صالح دين:

صالح دين چې د بشر د هدايت له پاره ورځ دئ، لکه چې ومو ويل فطرت دی په حرکت راولي او د کمال د خط و سير ته ئې راولي، په کلي ډول سره ويلای سو، چې دغه دين به دغسي وي چې دغه لاندي مزايا ولري:

١. د حق تعالی د ذات او د ده د جلال او جمال د صفاتو په باره کي ئې په داسي ډول خبري کړي وي چې پر هغو عقول مطابقت ولري.
٢. د فاضله او رذيله اخلاقو بيان ئې کړی وي او وګړي ئې و اول ته تشويق کړي او د دوهم څخه ئې منع کړي وي.
٣. د اجتماعي امورو رعايت ئې ښه کړی وي او په دې باره کي ئې د وګړو له پاره داسي قوانين او احکام وضع کړي او ايښي وي، چې د نقص قابل نه وي.

د هغو امورو اصول چې په هر دين کي ئې رعايت لازم او حتمي دئ همدغه امرونه دي چې لوړ وليکل سول، ځکه چې سړي لره تر دغه دري ډوله رابطو او علاقو او شئونو څخه زيات بل څه نسته:

١. د ده رابطه د ده د وجود د مبداء سره.
٢. د ده شان او حال د ده د خپل ذات په نسبت.
٣. د ده علاقه د نورو افرادو سره چې د ده سره ژوند ون کوي.

نو د لومړی مادې له قراره بايد دی وپوهېږي، چې د کمي خوا څخه راغلی دئ او د ده پيدا کوونکی او خالق څه صفات او څه شيان لري، په حقيقت کي تر يوې اندازې پورې چې وس ئې کېږي الله تعالی وپېژني او د ده د کمال په صفاتو سره عارف سي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د دوهمي مادې په لحاظ باید وپوهېږي، چې د ده خپل کمال څه شي دئ، د ده د رتبې او مقام سره څنګه څنګه صفات او اخلاق ورې دي، چې د ده په کمالي سیر کې د دې موجب وګرځي، چې د مطلق کمال د قرب او د محض خیر او د مطلق نور په مقام سره کامیاب سي، څو خپل ځان په هغو سره متصف او متخلق وګرځوي.

دریم باید خپله وظیفه په اجتماع کې وپېژني یعني په دغه وپوهېږي چې د جامعې د استفادې په مقابل کې په خپلو وظایفو سره افاده وکې، مثلاً دی د جامعې یو ګټور غړی وي، و اجتماعي مقرراتو ته مطیع وي، باید د اجتماع د کاروان سره چې د ترقی په لور خوا روان دئ اوږه پر اوږه ملګری او د خپل استعداد په اندازه سره مرسته ورسره وکې او د خپلې بې پروایۍ او بېباکۍ او خرابکارۍ او لتې په سبب و جامعې ته صدمه ونه رسوي او د اجتماع وظایف او د افرادو حقوق ادا کې.

همدغه شیان دي، چې باید هیڅ دین د دغو څخه خالي نه وي، هر هغه دین چې د دې موضوعاتو د شعوبو او جزئیاتو او دقایقو رعایت ډېر پکښې وي او د هدایت وسایل ئې زیات او محکم او ټینګ او مقصود ته نژدې وي کامل او اکمل دئ. هر څوک چې عاقل او هوښیار او پوه وي هغه د زړه د کومې ومنې او قبول ئې کې، او د هغه پیروي د خپل ځان د پېشرفت او کامیابۍ مایه وبولي.

اسلام:

فقط یوازې یو دین چې دغه درې ګونې پورته بیان سوي موضوعات ئې په بې مثاله دقت سره تر توجه لاندې نیولي او د هرې یوې په باره کې ئې تر دې اندازې تحقیق کړی دئ، چې زیات تر دغه په تصور کې نه سي راتلای د اسلام دین دئ و بس.

اسلام تر دې اندازې په الهیاتو کې خبرې او تحقیق کړی دئ، چې د اسلام دمخه فلاسفه د فلسفې د لومړي سر څخه بیا د اسلام د ظهور تر زمانې پورې قادر سوي نه دي او نه سوای کولای، چې په دغه ډول سره مطلب بیان کې، چې هم د عمومو فهم ته نژدې او د خواصو له پاره مفید وي، لکه چې فلاسفه او عارفان او متصوفان تر هغه وروسته سرلوړي دي، هغه څه چې اسلام په دې باب ویلي دي وکولای سي چې ادراک ئې وکې، اسلام یعني قرآنکریم وایي:

قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تَتَّقُونَ ﴿۸۷﴾ قُلْ مَنْ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿۸۹﴾ (سورة مؤمنون، ۸۶ - ۸۹ آیتونه).

په خلص او داسي ډول سره اسلام د الله تعالی اثبات کړی دئ او وګړي ئې په خپله د دوی په ژبه پوهولي دي او مطلب ئې څرګند کړی دئ او په ډېرو ځایو او په مختلفو بیانو سره ئې توضیح ورکړېده، چې وړ او لایق ګرځېدلې ده، دا چې وفرمایي:

أَفِي اللَّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ (سورة ابراهيم)

اسلام د سلبي او ثبوتي، اضافي او حقیقي، جلالي او جمالي صفاتو په باره کي داسي خبري کړي دي، چې داسي خبري پرته له الله تعالی څخه بل څوک نه سي کولای، د توحید سورة د حق د احدیت او وحدت اثبات په ښه ډول او په لنډو کلمو او عبارتو سره په وګړو او نورو پوهولی او فهمولی دئ، چې الله تعالی هم په ذات.سره احد او یو دئ، هم په کار کي شریک نه لري او په الوهیت کي او معبودیت کي فرد او بې مثله او بې شریکه دئ او په فني اصطلاح سره د ده ذات د ترکیبي او خارجي او ذهني اجزاوو څخه منزه دئ، په خلاقیت کي د چا کومک ته احتیاج نه دئ او د وجود په عالم کي دوه خدایان کرټ معقول نه دي، همدغه رنګه د الله تعالی د علم، قدرت، حیات، ارادې او نورو صفاتو په اړه قرآن عظیم الشان په ډېر ښه ډول سره خبري کړي دي، که انسان د هغو په حقایقو او دقایقو پوه سي نو د الله تعالی په معرفت کي به هغه خورا لوړ مقام ته ورسېږي، چې د بشر سره ممکن او وړ وي.

اسلام په نفساني صفاتو او اخلاقي امورو کي همداسي خبري کړي دي او هغه ئې څرګندي او روښانه کړي دي او وګړي ئې و هغو ته ور دعوت کړي دي او یا ئې د هغو څخه نهي او منع کړي دي، چې که څوک د هغو پیروي وکي و خورا لوړي مرتبې ته به ورسېږي. اسلامي کتابونه چې په اسلام کي لیکل سوي یعني هغه چا چې په دې موضوع پوري مربوط روایات او آیات جمع کړي دي د دې مطلب ښه شاهد ګڼل کېږي. اسلام په اجتماعي امورو کي تر هر دین ښه خبري کړي دي، هغه چا چې د اسلامي فقې بابونه لیدلي او لوستلي وي او په مدني قوانینو او انتظام خبر سوی وي نو دغه زموږ مطلب ښه تصدیق کوي.

هو! اسلام یو داسي کامل دین دئ او له هره حیثه د کمال د کاروان د پېشرفت او ترقي ضامن دئ. له همدې رویه الله تعالی همدغه اسلام د خپلو بنده ګانو له پاره غوښتی او فرمایلي ئې دي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ].

د اسلام د حقايقو او د اسلام د عظيم الشان رسول ﷺ د مقام او عظمت په باره کي هغسي لکه چي وړ او لايق وي داسي توضيحات نه دي ورکړه سوي چي هر څوک په وپوهيږي، د همدې کتاب مترجم چي همدغه مقدمه مي ليکلې د ده په خيال کي وه، چي د خپل وس او تتبع او پوره اطلاع سره سم په دغه باره کي څه بيانات جمع او څه وليکم، ښايي دا به همنوع وروڼو ته يو خدمت وي، ليکن څرنګه چي په ځينو کارو مشغول وم په دغه لوړ مقصد سره نه سواى کاميابيدلاى، په دې ترڅ کي دغه کتاب (حضرت محمد ﷺ مثل الکامل) د معاصر او پوه محمد احمد جاد المولى بک تاليف چي د مصر د لويو فضلاوو څخه دئ لاس ته راغى او دغه مي د خپل مقصود سره مناسب وګانه، که څه هم زما شغل ترجمه نه وه، ليکن د دې له پاره چي دا کتاب عام سي او زما د زړه مقصد هم تر سره سي نو مي په فارسي ترجمه کى، چي دغه زما د لږ زحمت نتيجه و اسلامي وروڼو ته د هديې په ډول پيش سي، ګوندي ما او مؤلف او ناشر ته د خير دعا وکي، الله تعالى ئې قبوله کي.

دا دئ د محترم مؤلف او اصل کتاب او ترجمې په باره کي څو ليکي:

د کتاب مؤلف:

لکه چي په خپله د دغه کتاب څخه څرګنديږي، دغه ليکونکى يو ډېر فاضل، متتبع، اديب، متدين سړى دئ، علاوه پر دې کتاب نور تاليفات هم لري، شيخ طنطاوي د خپل تفسير په دوولسم جلد کي نکل کوي، چي د دې کتاب مؤلف د مصر د دولت له خوا د اکسفورډ په ښار کي د مشرق پېژندلو په مجلس کي چي (۷۰۰ تنه غربي پوهان د اروپا د مختلفو ښارو څخه هلته حاضر وه) د نماينده په حيث يوه غرا خطابه ايراد کړه (دغه خطابه او نطق د جمعې په ورځ د اګسټ آخر ۱۹۲۸ ميلادي کال کي وو، موضوع ئې [قرآن] ده)، بيا ئې ويلي دي:

اکثره نطقونه او خطابې چي به په دغه مجلس کي کېدلې تر خطابې وروسته به انتقاد پر کېدى، ځکه چي د مجلس معمول همدغه وو، چي بايد تر خطابې وروسته دي له هري خوا انتقاد کېږي، ليکن د دغه سړي خطابه تر حده محکمه او متينه او د حقيقت سره موافقه وه، چي د حاضرينو څخه هيچا ونه سواى کولاى، چي خوله دي وښوروي، څه دي ووايي. بلکي ټولو ئې تصديق وکى او خطيب او ناطق ته ئې تبريک ووايه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د کتاب اصل:

کتاب (محمد ﷺ مثل الکامل) لس بابه لري اکثرو بابو لره فصلونه سته، چې په فهرست کې درج دي، د دې کتاب مؤلف په دې وسیله غوښتي دي، چې حضرت محمد ﷺ لکه چې دې هغسې څرګند کې، یعني په دغو لسو بابو کې مدلل او ثابتوي چې حضرت محمد ﷺ د شئونو په هر شان او د کمال د اوصافو په هر وصف کې یوه کامله نمونه او پوره سرمشق دې، له همدې جهته ئې د کتاب د لومړي چاپ په مقدمه کې ویلي دي: څرنګه چې د حضرت محمد ﷺ سیرت د ولادت څخه بیا تر وفات پورې روښانه او ثابت او څرګند دې، او پر هر هغه شي باندې چې بشر د خپل معاش او معاد په باره کې هغه ته اړ دې شامل دې او د حضرت رحمة اللعلمین ﷺ ژوندون سراسر کاملې نمونې دي، چې د بشر د ترقي او د دوی د عقولو د تهذیب او د اخلاقو د تقویم او د شئونو د اصلاح له پاره لازمي دي، نو دغه رسول ﷺ په نورو رسولانو کې کامله نمونه ګڼل کېږي.

دا خو هیڅ عجبه نه ده، چې د اسلام رسول حضرت محمد خاتم النبیین ﷺ په کوچنیوالي کې تر ټولو لوی او لوړ او په ځوانۍ کې تر ټولو شریف او نجیب وو، حضرت محمد ﷺ په ملت کې د فرد، د ماینې سره د مېړه، د زوی سره د پلار، د شاګرد سره د معلم، د اروېدونکو سره د واعظ، د جنګ په میدان کې د سپاهي، د یوه آمر له پاره په پروګرام، د قانو په ایښوولو کې د قانونچي، په حکم کې د حاکم، د امورو په تدبیر کې د سیاس، په رعیت پروري کې د شاه، د دوستانو له پاره د مسالم، د دښمنانو له پاره د محارب، په محراب کې د عابد، په قناعت کې د زاهد له پاره لوی پیشوا دې، دغه ټوله وګړي کولای سي، چې د حضرت محمد ﷺ د عملي ژوندون څخه یوه نمونه واخلي او د ځان له پاره ئې سرمشق وګرځوي، عمل په وکې او په خپلو کارو کې د یوه قوي روح خاوند سي او د خپل مقصود د رسېدو له پاره د هغه پیروي وکې او د حیرت او پریشانۍ او سرګردانۍ په حال کې و هغه ته مراجعه وکې.

دا کتاب درې واړه چاپ سوی دې، په دوهم چاپ کې چې د دې ترجمې ماخذ دې، د مصر د سترو پوهانو او لویو استادانو تقریظونه ورسره ضمیمه دي، چې د دې څخه څرګندېږي، چې لومړی وار چې چاپ سوی دې هم د عمومو خوښ او د توجه مورد ئې ګرځېدلی دې، چې بیا دوهم او دریم چاپ ته اړ سوی دې، او هم د خواصو خوښ سوی او قدر ئې کړی دې، چې د مؤلف قدرداني ئې کړیده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ترجمه:

هغه څه شيان چې په دې فارسي ترجمه کې مدنظر نيول سوي دي، دا دي:

۱. کوښښ او وس سوی دئ، چې عبارت روان وي، چې هر سړی ئې په مطلب وپوهيږي، او مقصود ته په ورسيږي او په عين حال کې د کتاب د مطلب بلکې د جملو څخه ئې (سره له دې چې مؤلف ئې ادبي جنبه او د سجع ډېر رعايت کړی او غالباً ئې مکرر راوړی دئ) وس سوی دئ، چې کوم شی ساقط نه سي او په نظر کې مکرر هم معلوم نه سي.

۲. د دې له پاره چې لوستونکي وغواړي چې هغه آيتونه چې په دې کتاب کې راوړل سوي دي د قرآنکريم په کوم ځای کې دي نو اکثره سورتونه او د آيتو شمېر په هندسه سره په پاورقۍ کې ښوول سوی دئ.

۳. قرآني آيتونه او نبوي ﷺ احاديث هر ځای د تفسيرو په ملاحظه سره ترجمه سوي دي، مګر نه هغه چې ډېر واضح دي، يا دا چې د دې ترجمې په يوه بل مورد کې ترجمه سوي وي.

۴. داسې ځايونه سته، چې مؤلف د خپل مذهب او اطلاع سره سم يو مطلب يا تاريخ نقل کړی دئ، نو په دې صورت کې چې موضوع د اختلاف مورد ونه ګرځي نو و ځينو ځينو ته په پاورقيو کې اشاره سوېده، مګر هغه موارد چې ډېر ښکاره يا دا چې په هغه کې مختلف اقوال ډېر دي.

۵. هغه پاورقۍ چې په اصل کتاب کې دي، د مؤلف د امضا سره قيد سوي دي.

محمود شهابي

تهران - دوشنبه

د ۱۳۵۸ هـ کال د جمادي الاول ۱۵

د ۱۳۱۸ ش کال د سرطان ۱۱

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لومړی باب

رحمة اللعالمین محمد ﷺ د ټولو فضایلو سرچینه دئ

(۱)

اجمال

الله ﷻ خپل پیغمبر حضرت محمد ﷺ په ډېرو ښېګڼو او فضایلو سره مخصوص کړی دئ. پر ټولو خلکو ئې ده ته فضیلت ورکی. آیتونه او معجزې ئې د ده پر لاس ښکاره کړې. په قرآن عظیم کې ئې څو ځایه د ده مبارک تمجید او ستاینه کړېده، څو دا دنیا وي د ده معجزې ئې تل او ثابتې ولرلې. په خپل عنایت کې ئې وساتی. د دښمنانو په زړو کې ئې ښېره او ډار واچاوه. د خبرو او نطق فصاحت او رسایي ئې ورکړه. لنډې او د معنی ډکې خبرې ئې ورپه برخه کړې. په ښو ښو خویو ئې ښایسته کړ. نور وګړي ئې د ده د نواهیو او اوامرو په پیروي امر کړل. نېک عملونه ئې ده ته په برخه کړل. ده ته ئې الهام واستاوه. د ده سره ئې مناجات وکی، خپل لوی آیتونه او قدرتونه ئې ورښکاره کړل. په دنیا او آخرت کې ئې په عزت کی. هر څه چې ئې غوښتې په ښه ډول ئې قبول کړل. الله تعالی دغه رحمة اللعالمین ته ډېر خصوصیات ورکړل، خوش اندام وو، معتدل ئې پیدا کی، دی ئې په ښه آدابو سره ښایسته کړ. په هغه څه چې نه پوهېدی په زده ئې کړل. د پټو او مشکلو کارو د حل لار ئې ورو ښوولە. تقوی او پرهېزګاري ئې د ده په خلقت کې کښېښوولە. د ده د عدل او انصاف تله ئې معتدله وګرځوله. خپل پټ سر (راز) ئې ده ته ښکاره کړ. د خپل آسماني کتاب په زده کړه کې ئې یاري او مرسته ورسره وکړه. د خلکو سره ئې نرم او پر دوی ئې مهربانه کی. د ده مبارک په وسیله ئې ړندې سترګې بینا، کانه غوږونه ئې اروېدونکي او شنوا او مهر سوي زړونه ئې خلاص کړل. د دغه مبارک ښېګڼې او عملونه او د ده خبرې او نورې نخښې او علامې او آثار ئې تر ده مخه پېغمبرانو ته

Facebook.https://www.facebook.com/groups/1822412674207698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ستايلي او وويلې او د دوی څخه ئې قول او عهد واخيست، چې دغه مبارک ووينې، پر ده ايمان راوړي او د ده سره مرسته وکړي. هغه فضيلتونه چې نورو پيغمبرانو ته ئې ورکړي وه هغه ئې ټوله، بلکې لا زيات تر هغو ئې ده ته ورکړل. هغه ښېګڼې چې ښه خلک ئې لري د ده مبارک په وجود کې غونډې او جمع وې. هيڅکله ئې د هوا او هوس له رويه څه نه دي ويلي. زړه ئې هر څه چې ليدل هغه بالکل عين واقع او حقيقت وو، د درواغو، باطلو او غرض څخه بالکل پاک او ليرې وو. څه چې ئې غوښتې هغه ئې ورکړل. د ده اطاعت ئې د خپل اطاعت په حکم کې وګڼه او وئې فرمايل:

مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ!

ترجمه: څوک چې د پيغمبر امر او فرمان يوسي هغه د خدای فرمان يووړ.

دغه مبارک ﷺ ئې په خپل قرآن عظيم کې (نور) وباله، ځکه چې فرمايلي ئې دي:

قَدْ جَاءَكُمْ مِنَ اللَّهِ نُورٌ وَكِتَابٌ مُبِينٌ!

ترجمه: د خدای له خوا ښکاره نور او کتاب تاسي ته راغی.

د ده سينه ئې په رسالت سره ښايسته کړه. د شهادت په کلمو کې ئې د ده مبارک نوم د خپله ځانه سره جوړه کی. په غټو ښو معجزو او لويو دلايلو ئې د ده ملا وتړله، او د مکې معظمې د خلکو څخه ئې عذاب د ده د وجود په برکت ليرې کی:

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ!

ترڅو چې ته د مکې په وګړو کې يې، خدای به هغه نه په عذابوي.

د هرډول آلايش څخه ئې پاک او په ټولو خلکو کې ئې معصوم او وساتی او وئې فرمايل:

وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ!

الله تا له خلکو څخه ساتي يا دا چې خدای تعالی تا د هغو آلايشاتو څخه چې خلک په ککړ دي ساتي.

او د (ن) په سورة کې ئې د ده سره په ډېر ښه ډول مخاطبه فرمايلې او ده ته ئې په بې منته مکافاتو سره زېری ورکی او د ده خوی ئې په بزرګي او عظمت سره وستايه، ځکه چې فرمايلي ئې دي: و انک لعلی خلق عظيم!

ترجمه: ستا ډېر ښه او مرغوب خوی دی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۲)

تفصيل

څرنګه چې د بزرګانو د تاريخ پاڼې لټوو او د هر يوه نامتو خويونه او رفتار تر کتنې لاندې نيسو، وينو ئې چې د رحمة اللعالمين محمد ﷺ نوم تر ټولو لوړ او آوازه ئې ډېره تللې ده او آثار ئې تل پاته دي، د تاريخي بزرګانو څخه هيڅوک داسې نه دي تېر سوي لکه دی مبارک چې د داسې زړه ورو، ژبه ورو، متعصبو، متکبرو او هوښيارو اعرابو سر مخامخ سوی وي او دوی دي وېرووي، او دوی دي راوبولي چې د خپلو معتقداتو څخه لاس واخلي او خپلې غاړې و حق او حقيقت ته کښېږدي او د زړه له کومې څخه ذي د د خبرې او اوامر ومني. سره له دې چې دغو اعرابو دغه مبارک پخوا لا په ښه خوی او پاک زړه او د (امين) په صفت سره پېژندی او په دې هم پوهېدل، چې د ه د دې خبرو څخه دا مطلب نه دئ چې دنيا داره او بډای سم او يا رياست او سلطنت ته ورسېږم. ده ته ئې توهين، استخفاف، سپکتيا او تکليف ورکاوه، زهيراوه ئې او ويل به ئې:

قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ فَاعْمَلْ إِنَّنَا عَامِلُونَ.

زمونږ کنو غوږونو او سختو زړو ته ستا د دعوت لار نسته. زمونږ او ستا تر منځ پرده ده، ته په خپل کار بوخت اوسه، مونږ به خپل کار کوو.

سره د دې ټولو بېورو او د دوی د بدیو دغه مبارک ﷺ د خطا ايستلو د لارې ورډمخه نه سو او د دوی د باطلو کارو، بدو عقيدو سره ئې موافقت ونه کی او نه ئې دوه مخې ورسره وکړه او لکه د نورو ملتو د لیډرانو او سياسي وګړو په ډول ئې د دوی د غولولو او خطا ايستلو له پاره د خپلې حقې عقيدې څخه لاس وانه خيست او د خپل اعتقاد پر خلاف ئې ځان ښکاره نه کړ، لکه چې ناپليون په مصر کې د اسلام په دوستي سره ځان معروفه کی او دا به ئې هم ويل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"که زه پر يهودي مذهبه ملت باندې حکمران سم د سليمان عليه السلام معبد ته دعوت کوم".

د اسلام د شريعت څښتن هيڅکله دغسي کارونه نه دي کړي، هغه وخت چې ملګري ئې لږ وه، تر دې چې يوه مسلمان ته اړوو، چې د ده ملګري په ډېر سي ده ته وويل سوه، چې د مشرکانو څخه دي کومک او مرسته وغواړي او د دوی په هغه مرسته او وسيله دي د دوی سره وجنګېږي، وئې نه منل او وئې ويل:

"د مشرک څخه مرسته نه غواړم".

په عين حال کې پر خپل مطلب کامياب سو. عربو د ده فرمان ته سر کښېښود او وروسته تر هغه چې ده مبارک ته ئې ډېر تکليف ورساوه، د ده و مرستې ته تيار سول، سره له دې چې مبارک ﷺ د دوی اخلاق او عادات او رسم و رواج بد ګڼل او بد ئې بلل. دوی ټوله ئې د زړه له کومې دوستان سول. که تاريخ ته په غور وګورو، وينو ئې چې تاريخي سترو مېړو د خپل قوم او ملت د ترقي د درجو په تناسب سره د دوی په منځ کې ظهور کړی دئ، مثلاً: که يوه قوم د فکري حقايقو په باب کې ترقي کړې او مخ په وړاندې تللی وي نو په دوی کې حکيم او پوه او هوښيار پيدا او ولاړ سوی دئ، او په خپل غښتلي او ټينګ فکر سره ئې د دوی له پاره په دغه باره کې ښه ترا د پرمختګ او تکامل لار خلاصه او روښانه کړې ده او که يو قوم د خپل ملک د پراخې او ډېروالي او د نورو مملکتو د فتح او استعمار په باره کې پرمختګ کړی وي نو خامخا په دوی کې يو فاتح او سياست مدار پاڅېدلی، خورا ليري ليري ښارونه ئې نيولي او خپل قوم ئې پر هغو حاکم او مسلط کړی دئ. همدارنګه شاعران او خطيبان او نور مخور کسان چې د خپل قوم د ترقي عضو ګڼل کېږي ټوله په حقيقت کې د خپل عصر روح او د دوی د قانون او تقاضا سره سم ئې ظهور کړی دئ. مګر د رحمة اللعالمين حضرت محمد ﷺ پيدايښت د دغه قانون او قاعدې سره سم نه وو، ځکه هغه وخت چې دی مبارک وپاڅېدی د عربو اجتماعي وضعيت داسې مخ پر کښته او فناه او انحلال وو، چې په تاريخ کې ئې مثل نه موندل کېږي. د يوه صحيح دين د احکامو په نسبت پر دوی ناپوهې غلبه کړې وه، د سياست د لارو څخه نه وه خبر او د اجتماعي ژوندون څخه بې برخې پاته وه. نه ئې هنر او خوی زده وو او نه په کسب او ګار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوهېدل. په دولتي روابطو ئې خبر نه درلود. هره قبيله ځانته د بلي همسايه قبيلې و چور او چپاو ته تياره وه. آيا دا په تصور کي راتلای سوای چي په دغسي محيط او دغسي خلکو کي دي داسي يو بزرګوار پيدا سي، چي د هيڅ يوه مسلح له پاره داسي توفيق نه وي په برخه سوی او ده ته دي په برخه سي؟

هوکې! ده دين برپايه او ملت ئې ايجاد او دولت ئې تاسيس کړ. دا دړې کارونه چي ده وکړل هيڅوک تر ده دمخه دي که وروسته نه ئې کولای سوای او نه به ئې وکي. هو! دا ويلای سو چي په عربي محيط کي ځيني هوښيار لکه اکثم بن صيفي پيدا سول، ليکن د داسي افرادو دغه لږ وجود پر دې نه سي دليل کېدلای چي دغه محيط نو د بشريت د لويو مصلحينو د ظهور له پاره صالح او ور دئ. بلکي بايد ووايو چي د مطلب حقيقت دا دئ، چي د هغه (الله) په عنايت او قدرت سره چي د لويو دريابو په تل او تياره کي ئې داسي وړوکي حيوانات پيدا کړي دي، چي په ذره بين سره لا په زحمت ليدل کېږي، دغه لوی بزرګ انسان ﷺ هلته پيدا سو، او په خپله مهرباني سره ئې د ده مرسته وکړه او د ده مبارک د وجود په نور ئې د ټوله جهان څخه تاريکه ورکه او عالم ئې روښانه کی. د يوه سړي عظمت پر دې نه دئ موقوف او ترلی، چي دی دي معجزې او عجايبات ښکاره کي، يا دي د ژبي صفايي او فصاحت ولري، يا دي د وګړو په نظرياتو ښه وپوهېږي، ځکه چي دا ټوله مظاهر او تظاهرات ناپايداره او بې ثباته دي، بلکي حقيقي عظمت له دې څخه عبارت دئ، چي شخصيت قوي، محکم او پايداره وي. دا هغه شخصيت دئ، چي د عجايبو مبدا ګرځېدلی او هغه خلک چي د ده په زمانه کي و ده ته نژدې وي پر ده مين کړي او هغه کسان چي تر ده وروسته راځي او د ده رفتار او عمل ته ګوري ورجذب ئې کي او د دوی پر عقل او شعور استيلا پيدا کوي. کامله او پوره شخصيت هغه دئ، چي معاصرين د زړه له کومي څخه د چا دوستان کي او هغه د ده و احترام ته وګوماري او د ده اطاعت ته په زړو کي ميل اچوي، او دوی دې ته اړ باسي چي د دغه شخص پيروي او تقليد وکړي او د ده سره همنوا او همرنګه سي او دغه عقايد او آرايش قبول کي. د دغو معاصرانو آثار بيا د راتلونکو قرنو و وګړو ته رسېږي. دوی هم د دغه شخصيت پر عظمت اقرار کوي، په نتيجه کي دغه عظمت پاينده او تل پاتېږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رحمة اللعالمين حضرت محمد ﷺ داسي کامل شخصيت درلود، چي هيڅوک نه تر ده دمخه او نه تر ده وروسته و دې درجې ته رسېدلي دي. هغه د ده مبارک معاصران سره له دې چي اکثره د لويو غټو او شتمنو کورنيو او تر يوې اندازې پوهان وه او ځينې ئې خپلوان او د ده مبارک پر اجتماعي او شخصي ژوندون ئې علم هم درلود که ئې کوم عيب او نقص ليدلی وای دستي ئې تيتاوه، سره له دغه ټولو گردو د ده پر تفوق او برزگۍ او لوړوالي اقرار کاوه.

د ده مبارک يارانو د بعثت د لومړي سره تر ديارلسو کالو پورې هر ډول سختۍ او زحمتونه پر ځانو گالل، هرې قبيلې خپلې نژدې قبيلې ته ډول ډول ضررونه رسول، چې بيان ئې زړونه ژړوي. دوی دغه داسي پر ځانو گلول او تحمل ئې کاوه، چې هر څوک آفرين او تعجب ورته کوي. تر دې اندازې چې آنحضرت ﷺ ناچاره سو، چې ځيني ياران حبشې ته ولېږي، سره له دغه سختو زحمتو او آزارو او غمو د ده مبارک پيروان ورځ په ورځ زياتېدل.

آيا د دونه زحمتو گاللو موجب څه شي وو؟ او ولي دوی ده ته متوجه او ايمان ئې پر راوړ؟ بل علت ئې نه وو، پرته د ده مبارک د کامل شخصيت څخه. هو! دغه کامل شخصيت وو، چې د دوی زړونه ئې وړي او د دوی مشاعر او عقلونه ئې تر نفوذ لاندې راوستلي، داسي يو ملت ئې ميدان ته راويوست چې د پخوانيو زمانو فلاسفه وو نه سوای کولای، چې داسي يو ملت ميدان ته راوباسي چې ټوله د علو نفس او د پاک زړه څښتنان او هم د نرم او ملايمي طبع او ښه خوی او د حق په مقابل کې د غاړې ايښوولو او امانت ساتلو او عدل او نورو غټو فضايلو خاوندان سول.

له همدې امله اوس دا وړ ده، چې هغه فضايل چې الله تعالی و آنحضرت ﷺ ته په نسب نشأة او اعمالو کې ورکړي دي په تفصيل سره بيان کړو، چې ټول عالم ته څرگنده سي چې دا مبارک ښه پيشوا دئ. د امتو او افرادو په سياست کې ټوله غوره او ښه اخلاق له ده مبارک څخه اخيست سوي او د ټولو سرچينه او منبع دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

درحمة اللعالمين شخصي فضايل

(۱)

(آ) د حضرت محمد ﷺ دزيږېدو وخت او ځای او د ده مبارک نسب او کريم نشأة

لکه چي معلومه او مشهوره ده، چي آنحضرت ﷺ د عام الفيل په کال د لومړۍ خور د دولسمي په سهار په مکه معظمه کي وزيږېدی. په هغه ښار کي چي د الله تعالی په نزد تر ټولو ښارو مشرفه او غوره دئ، داسي ښار چي ډېر برکتناک او د بيت الله شريف ارکان د امان او امنيت څخه ډک او د خلکو دعاوي هلته مقبولي دي. د دې متبرک ښار د اهميت يو سبب دا دئ، چي د پخوانو زمانو راهيسي د هري خوا څخه خلک حج ته راځي. په دغه نسبت دلته ډېر سوداګر او تجار سره ټولېدل او ټولېږي، رانيول او خرڅول سره کوي. په نتيجه کي مکه معظمه د عربي مملکتو چارسوق او د هند او د شام تر منځ يو بازار وګرځېدله. کله کله د دغه ښار اوسېدونکي د پېرېدونکو او پلورونکو له املې سلو زرو ته رسېدلي دي. د مکې معظمې د حکومت طرز يو ډول اشرافي جمهوري ډول وو، يعني (ارستقراطي) چي ديني رنګ ئې درلود. په داسي ډول د قبايلو د بزرګانو څخه ئې شل کسه انتخابول، چي دوی د مکې معظمې او بيت الله شريف ساتونکي، دغه شل تنه د حضرت محمد ﷺ په دوره کي ټوله قريش وه. د عربو نور ټوکمونه او قبايل، صحرانشين، کوچيان او تيت وه او هري قبيلې يو يا څو تنه اميران درلودل او دغه ټولي قبيلې اکثراً په جګړو او چور و چپاو او په مرګو اخته وې. پرته د کعبې شريفي څخه چي هغه هم د بده مرغه بت پرسته او په کعبه کي ئې ټولنه کوله، بل سبب نه وو چي د دوی د اتفاق سبب ګرځېدلی وای، ډېر کلونه او ډېر قرنونه دوی خپل عمرونه د بله په چور او چپاو او جګړو او دښمنۍ تېراوه، او هيڅکله د دوی د جګړو اور مړ نه سو، بلکي د جنګ د اور لمبو نارينه مېړونه له منځه وړل او ښځي ئې کونډي او هلکان ئې يتيمان پاتېدل. خطيبانو او شاعرانو په شعر او خطابو کي همدغه اور ته لمن وهله، تازه کاوه ئې او هر يوه د خپلې قبيلې خلک

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

و جنګ ته تشويق او ګومارل، او بې زړه وګړي ئې زړه ور کول، د داسي جنګو اووينو تويولو نمونه د (بسوس، د احس او غبرا) جنګ دئ[1].

د داسي کسانو له منځه څخه حضرت محمد ﷺ وپاڅېد، هغه محمد ﷺ چې د ده نيکه حضرت ابراهيم علی نبينا و عليه السلام خلک و ده ته دعوت کړل او حضرت عيسی عليه السلام د ده په وجود زېرى وکى. هغه محمد ﷺ چې تر قريشو اعلى او ښه او په بني هاشمو کې غوره او تر ټولو عربو مشرف تره او شريف تره وو. د ده مبارک کورنۍ او خانواده تر ټولو لوړه او کسب و کار ئې تر ټولو عزيز او ښه وو.

دغه مقدس نور تل د ښاغلو پلرو څخه و پياوړو زامنو ته نقل کېدى. تر څو چې و عبدالمطلب بن هاشم چې د جاهليت په زمانه کې د مکې معظمې او قريشو غټ سردار وو راورسېد او د ده څخه د ده زوى حضرت عبدالله د رحمة اللعالمين ﷺ پلار ته چې تر ټولو شريف وو راغى.

د حضرت محمد ﷺ نسب شريف داسي نسب دئ، چې حضرت ابراهيم خليل الله د هغه اساس او اسماعيل علی نبينا و عليه السلام او کنانه او قريش او هاشم بنيان او بنسټ دئ. الله تعالى د بهترين خاندان څخه غوره کړ، ځکه چې اسماعيل عليه السلام د ابراهيم عليه السلام زوى چې کعبه شريفه ئې جوړه کړې ده غوره کړ او د اسماعيل عليه السلام د زوزات څخه ئې کنانه او د کنانه له زوزاته ئې قريش د عظمت څښتنان دي او د قريشو څخه ئې بني هاشم او رسول الله محمد عربي قريشي هاشمي ﷺ ئې د بني هاشمو د مشرفي کورنۍ څخه انتخاب کى، لکه چې په خپله آنحضرت ﷺ فرمايي:

الله ﷻ د ابراهيم عليه السلام د اولاد څخه اسمعيل عليه السلام او د اسمعيل عليه السلام څخه ئې کنانه او د کنانه څخه ئې قريش او له قريشو ئې بني هاشم غوره کړه او زه ئې د بني هاشم څخه انتخاب کړم، نو زه د غوره سوو غوره يم. د ده مبارک ﷺ اکا ابو طالب په خپلو اشعارو دغه مطلب په دې مضمون سره ويلى دئ:

"که يوه ورځ قريش سره ټول سي او د نسب مسئله منځته راواچوي، ثابته به سي چې

---

[1] بسوس د يوې ښځې نوم دئ، چې د دې په ذريعه جنګ شروع سو. تر دې مهاله چې دغه ئې ضرب المثل ګرځولې ده: [اشأم من البسوس، د احس او غبرا د زهير بن قيس عيسى د آس نوم دئ] چې د دغه آس له امله د عبس او ذبيان د قبيلو تر منځ جنګ څلوېښت کاله دوام وکى.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تر ټولو لوړ او بالا عبدمناف دئ. که د عبدمناف نسب ته وکتل سي نو تر ټولو شریف او لوړ بني هاشم دئ، او د بني هاشمو د فخر مایه محمد ﷺ دئ او د بني هاشمو شرف په ده سره دئ".

هو! بېشکه د حضرت محمد ﷺ په شرف او د نسب په لوړیۍ کي شک او شبهه نسته، ځکه چي د ده مبارک په نیکه ګانو کي هیڅوک بلکي یو سړی کم عقل او کښته نسته، بلکي ټول غټان، سرداران، مشران او پېشوایان وه.

(۱)

د حضرت محمد ﷺ ژوندون

څرنګه چي پر الله تعالی ﷻ خپل رسول ﷺ ډېر ګران وو او غوښتل ئې چي دی مبارک د رسالت شرف ته ورسوي، نو د ده د ژوندون د لومړي سر څخه ئې د جاهلیت د مرداریۍ څخه ساتی، له همدې لامله مړانه ئې تر ټوله قوم ډېره، په ځان ډېر ښه، حسب ئې لوړ، پر وګړو ئې ډېر شفت، حلم ئې زیات، خبري ئې زیاتي او ډېري رشتیا، د امانت ساتنه ئې ډېره کامله او د بدو عملو او ناوړو کارو څخه خورا لیري وو، تر دې حده چي د ځوانۍ په لومړي سر کي د مکې معظمې د وګړو په منځ کي د (امین) په نامه معروف او مشهور سوی وو، ځکه چي ده ډېر لوړ مکارم اخلاق درلودل. چنانچه د خلقت د لومړي سر څخه بیا تر پایه پورې په مکارمو اخلاقو کي په ده پسې نه څوک رسېدلي دي او نه به ورسېږي، همدغه د ده غوره او عالي او ښه خویونه وه، چي ټوله زړونه ئې پر ده مین او شیدا کړل.

هو! دغسي ده چي په خپل صبر، حلم، وفا، زهد، بخشش، عفوه، بزرګواري او رشتیا خبرو او ښه ګذارې او کمینۍ او عزم او ثبات ئې ټوله پر ځان مین او ځانته ئې جذب کړل.

ده په داسي قوم کي ژوندون کاوه، چي ټوله فقیران وه. دی هم لکه د اکا زامن او د خپل خاندان نور کسان په دې لار کي دغسي وو. هغه شی چي تر دې زیات ده درلود دا وو، چي د وړوکوالي څخه ئې خپل مور او پلار ونه لیدل، په ظاهره ئې داسي څوک نه درلود، چي پرورش او تربیت ئې وکړي یا څه وروښیي، پرته له دې چي په زړه پاک او پر فضیلت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ئې زړه بايللی وو. د ده ټوله معاصر بت پرسته وه. د خپلو بتانو په حفاظت او خدمت کي ئې کوښښ کاوه. دی پر دې وضعيت پيدا سو. آيا دغه عجبه او د حيرت خبره نه ده؟ نه، يا. ځکه چي دی پخپله وايي:

[ادبني ربي فاحسن تاديبي]. ما ته خپل الله ﷻ پرورش او تربيت راکړ، دغه د ازل استاد ټوله شيان په ما زده کړل.

حضرت محمد ﷺ د ژوندون د لومړي سر څخه لکه نور ماشومان داسي نه وو، چي د محيط تر تاثير لاندي سي. هر څه چي ووينې او يا ئې واروي پيروي ئې کوي، که نه خو (نعوذبالله) دی به هم لکه قوم ئې په ګمراهي کي لوېدلی او بت پرستي به ئې غوره کړې وای (العياذبالله). څرنګه چي دی تل د الله تعالی په عنايت کي وو، نو لکه چي ښائېدل هغسي ئې پرورښت ورکی او په خورا ښو صفاتو سره ئې ښايسته کړ.

محمد ﷺ هيڅ کله بت ته سجده ونه کړه. په هيڅ اختر کي ئې د خپل قوم سره شرکت ونه کړ او د دوی د قربانۍ د غوښو څخه ئې څکه وُنه کړه.

حضرت محمد ﷺ تل کار کاوه، د موټه ګټلې ئې خوړل. خپل بار ئې د بل پر اوږو نه اچاوه. د همدغو ستايلو اخلاقو او امانت ساتلو او رښتيا ويلو اثر وو، چي د خويلد لور بي بي خديجې ﵂ د ده څخه وغوښتل، چي د دې په سرمايه سره تجارت وکړي او ميسره نامی خپل مريی ئې د حضرت محمد ﷺ د کومک او خدمت له پاره وټاکی، د ده سره ئې شام ته ولېږی. ميسره به تل و بي بي خديجې ﵂ ته د ده د امانت او پاک لمنۍ او د لاس د برکت او د ښې معاملې صفت کاوه. تر دې اندازې چي ام المؤمنين بي بي خديجه ﵂ د ده پر ښو خويو او عالي اخلاقو شيدا او د څلوېښتم کال پر سن ئې چي حضرت محمد ﷺ تر دغه ګړيه پنځه ويشت کلن ځلمی وو، د خپلې نکاح درخواست ځني وکړ. حضرت محمد ﷺ راضي سو. دوی داسي په پاکو زړو او دوستۍ او خوښۍ سره ژوندون کاوه، چي د ټولو خپلوانو او همسايګانو د آفرين او ستاينې وړ وګرځېدل، تر څو چي بي بي خديجه ﵂ ژوندۍ وه د بلې مانديني په فکر کي کرټ نه وو، او تل ئې د دغې بي بي مالي او فکري ښېګڼې له يادې نه وتلې، او د دې بي بي په باره کي به ئې ويل:

خديجې ﵂ په داسي وخت کي ايمان راوړ، چي وګړي ټوله کافران وه، په داسي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حال ئې زما تصديق وکی، چې ټولو مي تکذيب کاوه، په داسي وخت کي ئې خپله دارايي او پانګه زما په اختيار کي کړه چې هيچا ما ته شی نه راکاوه.

د حضرت محمد ﷺ چې هر څو عمر تېريدی او کلونه ئې زياتېدل، ميل ئې د حق و قرب ته ډېريدی او د خلکو څخه پرې کېدی.

د حراء غار ئې د ځان له پاره خلوت وټاکه. ډېر ځله به هلته تلی، په شپو شپو به ئې د پاک الله تعالی ﷻ عبادت کاوه. خپل مشرفه روح به ئې و عالم اعلی ته متوجه کاوه، او ځان ئې د وحي او الهي الهام د استفادې له پاره آماده کاوه. ټوله پوهېږي، چې دی مبارک هيڅکله و مکتب ته نه دئ تللی، خط ئې نه دئ ليکلی، پرته د ازل د استاد څخه ئې د هيڅ رنګه استاد او معلم څخه څه نه دي زده کړي. د عالم او د علومو څخه ئې پرته د عربستان د جهل او تاريکي صحرا څخه چې ليدله ئې نه څه ليدلي او نه اروېدلي دي. سره له دې ټولو هيڅوک نه سي کولای چې پر ده مبارک اعتراض وکړي، چې ده نوي او زاړه علوم نه دي زده کړي، او يا ئې د چا څخه استفاده نه ده کړې. ځکه چې الله تعالی ﷻ دی مبارک د دغو ټولو څخه بې نيازه کړی وو. آيا تر دې لويه معجزه به وي چې يو امي سړی دي داسي لوی او ستر عالم وو؟

(۲)

د رحمة اللعالمين ﷺ د خلقت کمال او د ده د جمال زيبايي

که د عکاسۍ فن ته دا افتخار او شرف نه دئ حاصل سوی، چې د حضرت محمد ﷺ عکس واخلي نو قلم په دغه شرف سره مشرف سوی دئ:

[اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ].

د دې زميني له پاره همدا د حضرت حسن بن حضرت علي رضي الله عنه روايت کافي دئ، چې ويلي ئې دي:

ما د هند بن ابي هاله څخه چې لوی اوصاف او ښه صفت کوونکی وو، پوښتنه وکړه، چې د حضرت محمد ﷺ پاکه ښه او هيئت ما ته بيان کړه، نو ده وويل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پيغمبر ﷺ د بنه عظمت او فخامت څښتن وو، مخ ئې لکه د څورلسمي سپوږمۍ ځلېدی، قامت ئې سم رسا، سر مبارک ئې بزرګ، ورېښتان ئې نه پېچلي او نه ايله وه. هر کله چې به ئې د سر ورېښتان ايله کړل کښته به ځړېدل او که به ئې راټول کړل د غوږونو تر نرمیو نه تېرېدل. رنګ ئې روښانه او سپين، تندی ئې خلاص، وروځي لکه لېندۍ او ګڼې او سره ارتي وې، د وروځو په منځ کې ئې هيئت رُک څرګندېدی. د پزې منځ ئې لږ لوړ چې تل به روښانه او ځلېدونکی، بنه ګڼه ږيره، د سترګو تور ئې تک تور، بارخوګان ئې نرم، پاسته او کم ګوشته وه، سمه پراخه خوله، نري سپين غاښونه، د مخ دوه غاښونه ئې سره ارت وه، د سينې بيا تر نامه پورې ئې د ورېښتانو باريک خط تللی او غاړه ئې لکه د سپينو زرو، خلقت ئې معتدل او اندامونه ئې سره برابر، نس او سينه ئې يو رنګه، ارتي اوږې، د هډوکو سرونه ئې غټ، تي ئې بې ورېښتو او پاک، اوږې او تر سينې لوړې برخې او موټان ئې ورېښته ور، د لاس بند ئې اوږد، پراخ، اورغوي، چمبې او پښې ئې درشتې، ګوتې ئې نرۍ او اوږدې، بازوګان ئې درشت او پنډ، تلي ئې خالي او کم غوښنو وې. هر کله چې به پر لاري تلی په ډېر وقار به ئې حرکت کاوه او ارت ګامونه به ئې اخيستل، پر لار به داسې تلی لکه چې د لوړې څخه کښته ته ځي، هر کله چې به يوه شي ته متوجه کېدی سر تر پايه به ئې توجه ورته کول، سترګې به ئې کښته اچولې او تل به ئې مځکې ته کتل نه آسمان ته او خپلو يارانو ته به ئې هدايت او لارښوونه کوله، د هر چا سره چې به مخامخ سو لومړی به ئې په سلام ابتدا کوله.

(۳)

د رحمة اللعالمين حضرت محمد ﷺ د خبرو او نطق اکمال

د حضرت محمد ﷺ مختلفې عربي ژبې زده وې، د هرې طايفې سره به ئې د هغې طايفې په ژبه خبرې او ګفتګوی کاوه. د هرې قبيلې سره به د دوی په څېر ګډ وو. د ده مبارک فصاحت انتها درجه فصاحت وو. د ده مبارک پر بلاغت هر څوک مين وو. کلمات ئې جامع او مثالونه ئې ماثور او مشهوره دي. د ده مبارک د خبرو زيبايي تر حد تېره او تر ستاينې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او صفت لوړه ده، د ده مبارک د خبرو خوند او شېرینې پرته له پوهانو او اهل حق څخه څوک نه سي درک کولای.

د دې له پاره چې د حضرت محمد ﷺ احترام ثابت او د ده د لوړتوب او عظمت دلیل وګرځي قرآن عظیم الشان د ده په ژبه نازل سو، حضرت رسول اکرم ﷺ د بني سعد په قبیله کې چې په قریشو کې ئې ډېره لوړه مرتبه درلوده پرورښت کړی دئ. نو ځکه د ده خبرو هم خورا ښه رنګ او خوږلنې او هم ئې د صحرا جزالت او محکمې درلوده. الله تعالی په وحی سره چې بشر ئې له ادراک څخه عاجز او علم ئې و حقیقت ته نه رسېږي د ده مرسته وکړه. د حضرت نبوي ﷺ خبرې خوږې وې. هره کلمه او جمله ئې ورو - ورو او ښکله - ښکله په ډېره محکمې او متانت سره ویله، چې هر سړي اړوپدلې په پوهېدی به او په یادولې ئې. د خبرو کلمې ئې لکه پیلي مرغلرې یوه یوه ورو - ورو تر خولې راوتلې، په داسې ډول که چا غوښتلای چې وئې شمېرې نو پوره ئې شمېرلای سوای. خبرې ئې د حاجت په قدر کولې نه ئې یو حرف کم وایه نه زیات.

د حضرت نبوي ﷺ خبرې د تکلیف او بندېدو څخه بېخې پاکې او صافې وې، په خبرو کې ئې تمتمه[1]، فأفأة[2]، ورته[3]، تنطع[4]، تمطق[5] او تفیهق[6] بېخې نه وه او نه اړوپدل سوی دئ. د ده مبارک خبرې د لغت د طبیعت سره برابرې وې، د ادا ډول ئې ډېر محکم، الفاظ ئې پوره او درست، او بیان ئې شیوا او بلیغ وو، خبرې ئې خوږې، د تجوید له امله کاملې وې.

بي بي عایشه رضي الله عنها د مبارک په باره کې وایي:

حضرت نبوي ﷺ د نورو وګړو په ډول خبرې نه کولې، بلکې خبرې ئې معلومې او شمېرلې کېدلې، د ده مبارک مجلسیانو اړوپدلې او په یادولې ئې. په بل روایت کې

---

(۱) میم په خبرو کې راوړل.
(۲) ف، مکرر ویل.
(۳) ګونګې خبرې.
(۴) حروف په زحمت ادا کول.
(۵) دواړې شوندې سره ترل او ژبه تالو ته پورته کول.
(۶) خوله په الفاظو پرسول او ډکول [اثرثره].

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وايي:

حضرت محمد ﷺ به داسي خبري کولې، چې که چا غوښتلای چې وئې شمېري نو شمېرلای ئې سوای.

حضرت محمد ﷺ یو بېل سړی وو، چې ده په خپل ښه بیان او کامل فصاحت سره کولای سوای چې د هري قبیلې سره د دوی په لحن او لهجه بلکې تر هغو ښه خبري ورسره وکې. په تاریخ کې نه دي لیدل سوي چې چا درس او کتاب نه وي ویلی او لیک و لوست ئې نه وي کړی او د لغاتو او لهجو د زده کړې له پاره ئې سفر نه وي کړی او نه شاوخوا ګرځېدلی وي، خو د هر قوم او قبیلې د لهجې او لغاتو سره دي سم خبرې او محاوره وکړي، بلکې د دوی په لهجه کې تر هغو لا زیاته شېرینې ولري! دا د تعجب ور خبره نه ده، ځکه چې الله ﷻ ده ته سلیم فطرت او پاک احساس او کامله او پوره پوهه ورکړې وه او ده ته ئې طاقت او قدرت او توفیق ورکړی وو، چې د ټولو قبیلو په لغاتو پوه او خبر سي او د ټولو قبیلو تر افرادو دي کامل وي او تر ټولو دي حاضرجوابه او د مطلب او مقصود په ادا کې تر ټولو ګړندی وي. په داسي ډول چې یو لغت ځنې هېر نه سي او نه ئې عبارت ګډوډ او متزلزل سي او نه ئې د خبرو سلسله او لار سره وشلېږي او نه په تکلیف کې ولوېږي.

حضرت رسول اکرم ﷺ سره له دې چې په بې علمه او بېسواده خلکو کې اوسېدلی او په خپله هم امي وو، نه ئې کتاب لوستی او نه ئې علم زده کړی او نه د معلم او نه د عالم سره کښېنستلی او نه ئې ناسته او ولاړه ورسره کړې وه، د داسي حکمت څښتن وو، چې عقلونه ورته عاجز وه، څه چې ئې وویل محکم او متین وه او څه چې ئې راوړه درست او صحیح وه. هیڅکله لکه نور خطیبان او نطاقان په خبرو کې بند نه سو او نه پخې طبع او پېڅ ذهن غلبه پر وکړه. ځینې نطاقان او خطیبان وي چې هر کله خبرې ځنې اوږدې سي نو ستړی سي، د عجز او ستړیا نخښې پکښې څرګندې سي. ځینې بیا داسي کسان وي، چې یو ځای نطق کولای سي، مګر بل ځای ئې بیا نه سي کولای. حضرت محمد ﷺ په هر ځای او هر وخت کې بلا استثنی په ډېر فصاحت او بلاغت نطق کولای سوای. خبرې ئې واضحې، سره پېیلې او شمېرلې وې او د رسالت نخښې ځنې څرګندې، دغه د خبرو فصاحت، د خبرو شېرینې، د ادا ښه طرز، دا ټوله د الله تعالی ﷻ بخښش دئ، چې بې له تکلیفه او بې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تحصيله او بې له زحمت کښلو او بې له سعي د ده په برخه سوی دئ.

د حضرت محمد رسول الله ﷺ اصحاب د ده مبارک و قوي او مقتدري ژبې، رسا او فصيح بيان ته په حيرت کي وه. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه چې د نسب په علم او د عربو په نسبت په اخبارو کي ئې ښه لاس درلودی، تر دې حده چې د (انسب من ابي بکر) متل په دوی کي جاري وو، و حضرت محمد ﷺ ته وويل:

"يا رسول الله ﷺ! زه په عربو کي ګرځېدلی يم او د عربو فصيحان مي ليدلي دي. د دوی خبري مي اوربدلي دي، تر تا مي فصيح ژبی او رسا خبري کوونکی نه دئ ليدلی. نو دا ادب دي د چا څخه زده کړی؟"

ده مبارک ﷺ وفرمايل:

"ما ته خپل الله جل جلاله ادب را زده کی".

دلته به ښه دا وي، چې اوس د هند بن هاله او د جاحظ خبري او بيان چې د حضرت محمد ﷺ د نطق او خبرو په باره کي ئې کړي دي رانقل کړو:

ابن هاله ويلي دي:

"حضرت رسول اکرم ﷺ تل محزون او متفکر وو. يو ګړی ئې راحت نه درلود، هيڅکله ئې بيهوده او بيځايه خبره نه ده کړې، اکثره به پټه خوله او ساکت وو، (د حضرت محمد ﷺ سکوت پر څلور ډوله وو: حلم او حذر، تقدير او تفکر). په خلاص تالو يعني په ډېر فصاحت ئې خبري شروع کولې او تر پايه به ئې په دغه فصاحت سره ختمولې، په پوره او جامعو او بېلو بېلو کلمو، بې له دې چې تر مطلب زياتي يا کمي سي، خبري به ئې پای ته رسولې. ډېر خوشخويه وو، لږ نعمت ئې ډېر ګانه، د هيڅ شي بدګويي ئې نه کوله، کوم شی او طعام چې ئې خوښ نه ئې صفت کاوه او نه ئې عيب پوري تاړه، تل ئې د الله تعالى جل جلاله څخه ياري او مرسته غوښته، هيڅکله په خپلو مربوطه کارو کي نه درېدی، کله چې به ئې اشاره کوله په ټوله چمبه سره ئې کوله، د حيرت په وخت کي ئې خپله خپړ اړوله، کله چې به ئې خبري کولې د راسته لاس بټه ګوته به ئې د چپه لاس پر ورغوي وهله، د قهر او درد په حال کي ئې مخ ګرځاوه، د خوشحالی په وخت کي ئې لږ سترګي پټولې، هغه پوره خندا ئې تبسم وو، داسي چې مبارک غاښونه به ئې لکه مرغلري ښکاره سول".

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حضرت حاحظ نژدې و دغه تقرير ته بيان کړی دئ، دی وايي:

"خبره ئې لنډه او د معنی ډکه وه او هيڅ رنګه پيچده ګي ئې نه درلوده، هر څه چې ئې ويل په ډېر عصمت په ډېر تائيد او وقار او د حکمت له رويه ئې ويل، الله تعالی ﷻ د ده خبري د محبته ډکي يعني په محبت او قبول مخلوطي کړي يعني (د ده خبري د هر چا خوښي او قبلولې)، د ده مبارک په خبرو کي هم شېرينې او حلاوت او هم ستاره او هيبت ګډ وو، سره له دې چې د ده مبارک په خبرو کي و سامع او ده ته د يوې خبري د ګرځولو هيڅ حاجت نه وو، هيڅکله ئې يو لفظ د خبرو څخه نه دئ بېل سوی، په خبرو کي ئې لغزش او خطا نه پېښېدله، اوږدې خطبې به ئې په لنډو خبرو کي ادا او ويلې، مقابل طرف به ئې د دوی په قبول او منلو خاموش او پټه خوله کاوه، پرته له رشتيا څخه بل څه ئې نه ويل، هيڅکله هيڅا د ده مبارک تر خبرو معتدلي، برابري، منظمي، رشتيا، واضحي، خوږې او محبوبي خبرې نه دي اروېدلي. د ده هغه خبري چې بايد د وګړو غوږو ته ورسېږي، هغه په روښانه او واضح دليل سره په داسې ډول چې دوی په وپوهېږي، خوښې ئې کړي، قبولې ئې کړي ور رسولې. ځکه چې د ده مبارک پخپله وايي:

[ما ته جامعي کلمې راکړل سوې او ما ته حکمت لنډ او کوتاه او جمع وګرځېده].

چې د خبرو حاجت به پېښ سو د کفايت او لزوم په اندازه بې له زيادت او کمبوت څخه ئې خبري کولې، کله کله چې به ئې غوښتل چې پټه خوله سي، نو په ښه وضعيت او ښه زېبا ډول سره به پټه خوله سو، خبري ئې تر دې حده خوږې او شېرينې او مقبولې وې چې په خلکو کي به خوله په خوله ګرځېدلې او د هر چا پر زړه لکه ملهم لګېدلې، او ټوله په کتابو کي ثبت او وليکل سوې".

د ده مبارک خبري د خطا او لغزش او ښوئېدلو او بې ځايتوب څخه بالکل پاکي او صفا دي. د هر سوال جواب ئې په ډېر عام فهمه او روښانه ډول ورکاوه، که څوک د ده سره په مجادله او بحث اخته سوی وای د ښکاره دلايلو په زور ئې پر کاوه، د خبرو په ادا کي ئې دونه قوت درلود چې هيڅکله ئې خبري د عجز په واسطه نه قطع کېدلې، په خبرو کي ئې ژبه د تحريف څخه ساتلې وه، هيڅکله ئې داسې خبر نه رانقل کاوه، چې د درواغو احتمال ئې درلودای. د کوچنيوالي د لومړي سر څخه د ده څخه چا درواغ نه دي اروېدلي، نو هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

څوک چې په کوچنیوالي درواغ ونه وایي او ربنتیا ویل ئې عادت ګرځولي وي، په لوی والي ښه ترا ربنتیا وایي او هغه څوک چې په خپلو مربوطو کارو کي د درواغو څخه پرهېز وکي او د رشتیا او راستۍ د لاري څخه یو قدم کوږ نه ایږدي څرګنده ده، چې په الهي حقوقو او په الله ﷻ پوري په مربوطو کارو کي د رشتیا د روش ښه ترا مراعات کوي او دغه د رشتیا او راستۍ عادت ښه تینګوي.

د حضرت محمد ﷺ د خبرو او احادیثو د جملې څخه چې په ایجاز کي بې مثاله دي دغه دي:

[الناس بزمانهم اشبهه]. وګړي و خپلي زمانې ته ورته دي.

[العقل الوف مألوف]. عقل د الفت او یو له بله سره د خوی نیولو مایه ده.

[العدة عطیة] زېری بخښش دئ.

[الید العلیا خیر من السفلی]. لوړ لاس تر کښته ښه دئ.

[الخیر کثیر و قلیل فاعله]. ښه او د خیر کارونه ډېر مګر کوونکي ئې لږ دي.

[اذا اراد الله بعبد خیراً جعل له واعظا من نفسه]. هر کله چې د الله اراده د بنده په حق کي د خیر وسي، نو دننه په زړه کي واعظ او ناصح ورته پیدا کي.

د ده مبارک د خبرو له جملې څخه چې په فصاحت کي ساری نه لري، دغه لاندي دي:

[لایزال امتی بخیر مالم ترا لامانه مغنماً والصدقة مغرباً]. زما امت به تل په خیر او خوښي کي وي، تر څو چې امانت غنیمت او صدقه غرامت او تاوان ونه ګڼي.

[ثلاث منجیات، و ثلاث مهلکات، فاما المنجیات فخشیة الله تعالی فی السر و العلانیة، والاقتصاد فی الغنی، والفقر و الحکم بالعدل فی الرضا و الغضب، و اما المهلکات فشح مطاع، و هوی متبع و اعجاب المرء بنفسه]. درې شیان د سړي د ساتنې او نجات سبب ګڼل کېږي، او درې شیان د هلاکت موجب دي، درې شیان نجات ورکوونکي دا دي: یو دا دئ، چې سړی په ښکاره او په پټه د الله تعالی ﷻ څخه وېرېږي. دوهم شی دا دئ، چې سړی د بدایتوب او شتمنۍ او هم د مسکنت او ناداری په حال کي د اقتصاد او میانه روی څخه لاس وانه خلي. دریم شی دا دئ، چې د خوشحالۍ او قهر په حال کي د عدل او عدالته لاس وانه خلي او عادلانه حکم کوي. تباه او هلاک کوونکي درې شیان دغه دي: لومړی د بخل او بخیلۍ اطاعت، دوهم د هوا او هوس پیروي، دریم ځان منې او خودخواهي او خودپسندي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۴)

د رحمة اللعالمين ﷺ د عقل او پوهي اکمال

حضرت محمد ﷺ به تل ویل:

[اللهم کما احسنت خلقی فحسن خلقی].

یا الله! لکه چي زما خلقت دي ښه کړی دئ او خوی مي هم ښ کړ.

څرنګه چي د حضرت محمد ﷺ کمالات او ښه خویونه بې حسابه وه، نو الله تعالی ﷻ د ده صفت په قرآن کریم کي کړی دئ:

وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ. ستا خویونه خورا ډېر ښه دي.

معلومه ده، حسن خلق د نفساني ملکاتو څخه دئ، چي هر څوک ئې لري، نو ښه کارونه په اساني سره پای ته رسولای سي. د حضرت محمد ﷺ خلق چي په بزرګي او عظمت سره سوی دئ له دې جهته چي ټوله ښه خویونه او مکارم اخلاق د ده مبارک په مبارک وجود کي جمع وه. لکه چي امام مالک صاحب رحمة الله علیه په موطأ کي روایت کړی دئ، چي رسول الله ﷺ ویلي دي:

[بعثت لاتمم مکارم الاخلاق]. زه بعث سوی یم، چي مکارم اخلاق بشپړ کړم.

بي بي عائشه رضي الله عنها وایي:

د حضرت محمد ﷺ خلق د قرآن په ډول وو، یعني لکه چي د قرآن کریم معاني نامتناهي او پای نه لري همدغه رنګه د حضرت محمد ﷺ نېک او جمیل اوصاف چي د ده پر خلق عظیم دلالت کوي بې پایه او انتها نه لري. ځکه چي په هر حالت کي د ده مبارک څخه دونه ښه خویونه او ستایلي اخلاق څرګندېدله، او دونه بې حسابه علوم او معارف د فیض پر ډول پر ده اورېدله چي انسان ئې پر هغه لږ جزئیاتو باندي د احتوا او اندازې قدرت نه لري او اندازه ئې بې له الله ﷻ څخه څوک نه سوای کولای. حضرت محمد ﷺ دغه ستایلي اخلاق د ریاضت او زحمت په زور لاس ته نه دي راوستلي، بلکي د حق ﷻ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

جود او عنايت د خلقت ذ لومړي سر څخه دغه اخلاق د ده په ذات کي ايښي وه، ځکه نو پرله پسې د معارفو او علومو رښا د ده په پاک زړه کي ځلېدله څو تر دغه حده ورسېدی.

د ستايلو اخلاقو او ښو خويو سرچينه عقل دئ. ځکه چې د دغه روحاني امر په وسيله سړی د نظري او ضروري علومو ادراک کولای سي او په همدغه وسيله فضائل او رذائل سره بېلوي، و فضائلو ته هڅه کوي او د رذائلو څخه پرهېز کوي. حضرت محمد ﷺ د عقل د کمال و دونه مرتبې ته رسېدلی دئ، چې هيڅ يو بشر و دغه مقام ته نه دئ رسېدلی.

که څوک وغواړي چې د تحقيق له رويه وپوهېږي، چې پيغمبر ﷺ تر ټولو انسانانو پوه او عاقل وو، نو د ده په ښه تدبير کي دي سوچ ووهي، او فکر دي وکي، چې په څنګه ښه هنر او تدبير سره ئې دغه اعرابيان چې لکه وحشي حيوانان او بالطبع سره ليري او سره مخالف وه آرام کړل او د دوی د آزار او اذيت په مقابل کي ئې بردباري او تحمل غوره کی، څو چې ټوله مجبوره او اړ سول، چې خپل سرونه او غاړې ئې د ده تر فرمان لاندې کښېښوولې. د ده د دوستۍ په لار کي خپلوان، پلرونه او زامن سره وجنګېدل او دی مبارک ئې تر ځانو غوره او خوښ کی او خپل لاسونه ئې د کوره او ژوندون او دوستانو او خپلوانو څخه ومينځل. دغه ښه تدبير او بې مثاله هنر د تجربې او ازمويښت او د کتابو د مطالعې او تېرو کسانو د حال د کتلو څخه نه وو، بلکي فقط د عقل په قوت او د الهي مرستي په ذريعه وو، دغه د فکر بشپړوالی، او د پوهې تېزوالی او د ګومان سموالی او ښه نظر په عواقبو او مصالحو کي او حقيقت ته رسېدل، او د ده مبارک دغه پوره تدبير هغه شيان او دلايل دي، چې د ده مبارک د عقل قوت او اکمال او عظمت ښه ثابتوي.

د ده مبارک د عقل او عظمت د توجه له پاره هم دغه لاندي شيان بس دي. د ده جامعي کلمې او ماثوره حکمتونه او د ده خبرتيا د آسماني کتابو څخه او پر عقايدو باندي د ده علم او د حکماوو اقوال او د تېرو کسانو تاريخ او د ده مبارک ﷺ پر منقوله امثالو احاطه، پر دې علاوه د پر علمي فنون لکه پزشکي او طبيعي نواميس چې د هغو اهل د آنحضرت ﷺ په کلماتو او اشاراتو کي پيدا کړی او هغه ئې خپل رهنما ګرځولی دئ. الله تعالی ﷻ و حضرت محمد ﷺ ته بېحده او بېحسابه علوم او معارف ور عطا کړل او دی ئې د دنيا او دين په ټولو مصالحو خبر کی او مشرفه قوانين ئې په زده کړل او د بنده ګانو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پر سياست ئې قوت ورکړ او د پخوانيو پيغمبرانو او ظالمانو په خط مشي او د پخوانو امتو په حال او د دوی په اوضاعو، او ښارو او زمانو او د دوی د عمر په اندازه ئې خبر کی. د تېرو هوښيارانو او حکماوو په اقوالو او اعمالو ئې عالم کی، د کافرانو سره ئې د مناظرې په ډول وپوهاوه، په داسي ډول چې د اهل کتاب سره ئې د دوی د نوشتو او کتابو څخه دلايل ويل او دوی ئې د خپلو کتابو په اسرارو خبر کړل. هغه ځايونه چې دوی تغير، تبديل او تحريف پکښې کړی وو ورښوول او په غوږو کې ئې ورکړل، او هغه احکام او خبرې چې پټې کړي ئې وې ښکاره او لڅې کړې.

همدغه رنګه الله تعالی ﷻ و مبارک ﷺ ته د عربو پر لغاتو او نادرو الفاظو او د خطيبانو او شاعرانو او د واعظانو پر بلاغت ئې کامله احاطه ورکړه، په عربي متلو او امثالو او د دوی د شاعرانو د اشعارو په معانيو ئې خبر کړ او دی ئې د عربو پر جامعه کلمو عالم کی. دغه ژبه ئې د دين د قوانينو ژبه وټاکله، د ده دين چې د اخلاقو پر محاسنو او د آدابو پر ستاينو او د حقي لاري پر ښوولو، او د حلالو او حرامو پر بيان او د حدودو په ذريعه د اموالو او اعراضو پر ساتنه شامل دئ او برعلاوه دغه دين پر ډېرو نورو فنونو هم لکه (حساب، فرايض، تعبير او انساب او نور) محيط دئ، په دغه ژبه ئې بيان کی. دغه دين او شريعت رحمة اللعالمين ﷺ راوړ، په دې صورت چې څو واره مو وليکل او ومو ويل چې دی مبارک ﷺ امي وو، درس ئې نه وو ويلی، خط ئې نه وو ليکلی، او نه د داسي کسانو سره کښېنستلی وو، چې په کتاب او حساب پوهېدل، نه ئې په داسي قوم کې ژوندون کړی وو، چې هغه د درس اهل وه او نه ئې د کوم پوه او هوښيار سره ناسته ولاړه وه او نه ئې د يوه مؤرخ او کاهن سره ارتباط وو، بلکې دی په خپله د پوهي او دانش سرچينه او علم د ده څخه نشأة او صدور کړی دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۵)

درحمة اللعالمین ﷺ زړه ورتوب او مېړانه

حضرت محمد رسول الله ﷺ ډېره مېړانه، زړه ورتوب او شهامت درلود. د جنګ په ډګر کې سره د سختي او خپلې ستاړې، هیبت او حملې چې درلودل ئې ډېر پهلوانان ئې تیت و پرک کول. د پهلوانانو او جګړنو حیلې او چمونه ئې بې اهمیته او له منځه ایستله، شک او تردد ئې په حق یقین سره له منځه ورک کړل. دښمنان ئې په خپله تېره او محکمه توره وبېرول او د دوی بیرغونه ئې نسکوره او پر سر ګل ودرول. د دوی افکار ئې خام، اقوال او افعال ئې بد وګڼل، د دوی مځکې او کورونه او مالونه ئې مباح وشمېرل. په خپله په وینو سره توره ئې د حق او حقیقت غلیمان کنډوکپر کړل، د خپلو هغو یارانو په وسیله ئې چې پر کافرانو ئې سختي حملې او وارونه کول، د اسلام دین ښکاره او ېنشر کړ، د جنګ و ډګر ته ورغلی د هغه مهم وقایع ئې ولیدل، زړه ورو مېړو، پهلوانانو د جنګ د میدان څخه مخ وګرځاوه، دی مبارک ﷺ پر میدان ودرېدی، د حنین په جنګ کې مسلمانان د جنګ د دوړو څخه سره تیت سول، لیکن دی مبارک ﷺ پر میدان ولاړ هیڅ اندېښنه ورونه لوېده، د دښمنانو د هیڅ یوې ډلې سره مخامخ نه سو، مګر په داسې حال کې چې ده به اول توره وکښله، هیڅ آواز به نه وو پورته سوی چې توریالیان سستي وکي، لیکن ده مبارک ﷺ به تر ټولو دمخه او په ېړه اقدام کاوه. د جهاد او د جنګ په وخت کې د ده مبارک ﷺ په څېر زړه ور او په زړه ډک سړی نه وو. هیڅوک د ده په شان د دښمن د جنګ و خط ته نه سو ورنژدې کېدلای.

دی مبارک ﷺ د سختیو په مقابل کې محکم، د عجز، درمانده ګۍ په حال کې کلک ولاړ وو. په هر دول موقع کې ئې نفس مطمئن او روح ئې آرام وو. په هیڅ یوه پېښه کې متحیر نه سو، په کوچنۍ او لویه پېښه نه متزلزل کېدی، آزار او ضررونه چې ده د قریشو د لاسه لیدل هر چا چې به ولیدل بېتابه به سو مګر دی مبارک ﷺ لکه هغه څوک چې ځان فاتح او غالب بولي پر ځای ولاړ او تحمل ئې کاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه وخت ئې د دښمنانو سره د مجادلې له پاره ملا وترله، چې له هري خوا پر ده احاطه سوې وه او یاران ئې هم لږ وه، په همدغه حال کې هم ده د اسلام قوانین او احکام و خلکو ته رسول، او هم د دښمنانو سره جنګېدی، او دوی ئې له منځه وړل مغلوبول ئې، د دښمنانو په جنګ کې ئې داسې پښې ټینګې وې چې کار ئې یکسره کاوه، هیڅکله نه تښتېدی او په خپل کار نه سرګردانه کېدی.

د هیڅ زړه ور سړي مو نه دي اروېدلي، چې کلک درېدلی وي بلکې د ده د جګړې په تاریخ کې لږ تر لږه یوه پلا د جګړې څخه مخ اړول یا شا ورګرځول ثبت سوي نه دي. مګر دی مبارک ﷺ په ټولو سختو جنګو کې کلک ولاړ، پښه ئې د ځایه نه ده ښوئېدلې. له همدې لامله حضرت علي کرم الله وجهه ویلي دي:

"هر کله چې به د جنګ اور بل سو، او د ځان جارولوبازار به تود سو مور به خپل پیغمبر ﷺ ته ورتلو، ځکه چې هیڅوک د ده په شان و دښمن ته نژدې نه وو".

رسول اکرم ﷺ داسې نه وو، لکه د نن ورځې افسران او منصبداران، چې تر لښکر وزوسته وي او هغه ځای انتخابوي چې د بمباری او مرډک له خطر څخه لیرې وي.

(٦)

د رحمة اللعالمین ﷺ د دنیا څخه اعراض او له خدایه ببره

رسول اکرم ﷺ نسبت و دنیا ته زاهد او د لذایذو څخه لیرې ګرځېدی، د دنیا په خوښې ئې اعتنا نه درلوده، په عفت او طاعت ښایسته وو. په ژوندون کې د کفاف په اندازه ئې ګذاره کوله، په خورک او جامه کې ئې د ضرورت پر قدر قناعت کاوه، زیږه جامه ئې اغوستله، پستې او نرمې جامې ئې یارانو ته بخښلې، ژوندون ئې په سختي کې، خورک ئې لږ وو، یو پوست چې د خرما د پوستکو ډک وو نالي ئې وه، د شپې وږی بیدېدی، د ورځې ئې روژه نیوله، هیڅکله پر ښه دسترخوان نه دئ کښېنستلی. ځان ئې دوې ورځې پرله پسې په اوربشینه نه دئ مور کړی، سره زر، سپین زر ئې میراث نه دي پرې ایښې، تر ده وروسته پرته د جنګ له درستې او یوه غاتره او څه مځکې چې وقف ئې کړه بل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

څه نه وه پاته.

سره له دې چې د پاچهانو او سردارانو له خوا ډېر تارتوکونه او سوغاتونه و ده ته رسېدل، صدقې او جزئې بې حسابه د دنیا له هر ګوټه ورته راتلې په عین حال کې ئې یو درهم یا یو دینار نه ځني اخیستی او نه ئې پیسې ټولې کړې، بلکې هر څه به ورته رارسېدل د خیر په لارکې ئې مصرفول، پر بېوزلو، اسکېرلو، عاجزو، خوارانو ئې وېشل او ناداره مسکینان ئې شتمن کول، د همدغو وارده پیسو په ذریعه ئې د مسلمانانو د مصالحو رعایت کاوه، د کافرانو، مشرکانو لاس ئې د دوی د آزار او زهیرولو څخه لنډ اوه.

څونه بې انصافه او ملعون درواغجن دئ، هغه څوک چې وایي حضرت محمد ﷺ شهوت پرست او لذت خوښوونکی وو (العیاذبالله)، ځکه دی مبارک ﷺ له هرې خوا او بابته جامې وې یا ماکولات یا نور څه نهایت په تنګدستي او سختي کې وو، خورک ئې ګوله ډوډۍ او اوبه وو، جامې ئې څیرې او پینه کړې وې، خپلې مېرۍ ئې په خپله لوشلې، د شپې د الله ﷻ په ثنا، یاد او عبادت بوخت وو، ورځې ئې د الله ﷻ د دین په ترویج او د اسلام په نشرولو تېرولې، لکه نور وګړي و جاه، دولت، ریاست او سلطنت ته ئې ستړګې نه وې نیولې، پر شهرت او نوم ایستلو نه وو مین.

له دې امله هغه مخالفین چې زړونه ئې تر ډېره کلک، جفا او ظلم ئې په خپله کې اخښلی وه. د ده مبارک ﷺ په مقابل کې عاجز او کوچنې سول، د ده تعظیم، تکریم او احترام ئې کاوه، که ئې په ده مبارک ﷺ کې د فضل، پاکۍ او بزرګوارۍ علایم او آثار نه لیدلای، دغه پوره درویشت کاله ئې د اطاعت سر د ده مبارک ﷺ په مقابل کې نه کښته کاوه او تر سر، مال او ځان نه ور تېرېدل، په دې کې شک نسته، که د روم یوه قیصر سره له دونه جاه او لویۍ غوښتای چې د حضرت نبوي ﷺ معاصر عرب په داسې ډول چې ده مبارک ﷺ په پینه کړو کالو کې دوی تر فرمان لاندې راوستلې وه، خپل مطیع کړې هیڅ امکان ئې نه درلود، چې کامیاب سوی وای، دا دئ د حضرت نبوي ﷺ د بزرګوارۍ حقیقت او عظمت.

حضرت محمد ﷺ د خدایه ډېر ببرېدی، ډېر محبت ئې درلود، ډېر عبادت او بنده ګي ئې کوله، د الله ﷻ ئې دونه فرمان وړی لکه چې دوستي ئې ورسره وه او ببره ئې دونه وه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لکه چې دی په خبر وو، پرته د يوې برخې د شپې څخه تمامه شپه د الله ﷻ په راز او نياز بوخت وو او پر لمانځه به ولاړ وو تر دې اندازې به ولاړ وو، چې مبارکې پښې ئې د ډېرو درېدو څخه وپړسېدلې، قوت ئې يقين، سرمايه ئې عرفان، نهايت آرزو ئې طاعت، مرکب ئې شوق، ملګری ئې فکر، مجلسي ئې حزن، خزانه ئې اطمينان، فخر ئې پرهېزګاري، څراغ ئې عقل، دوست او خپل ئې جهاد، د جنګ ساز ئې پوهه، د سترګو نور ئې لمونځ، د زړه مېوه ئې د حضرت بې نياز الله جل علی شانه ياد وو.

(۷)

د رحمة اللعالمين ﷺ احترام له ځانه

حضرت محمد ﷺ د ريا او تصنع څخه پاک وو، په رأی کې ئې استقلال درلود، که ئې شی نه درلود د درلودلو دعوه ئې هم نه کوله، کبر او تکبر ئې هيڅ وخت نه کاوه، خواری او ذلت ته ئې هم تن نه ورکاوه. بلکې په هغو پېنه کړو زړو جامو کې ئې د روم و قيصرانو، د عجمو و پاچهانو ته خپلې حقې خبرې بې پردې کولې، او دوی به ئې و هغه شي ته چې بايد په ژوندون کې ئې ولري او هغه شي ته چې دوی ئې د نورو د نشأة له پاره تهيه کې رابلل، خپل قدر ئې په خپله پېژندی، عزم ئې ټينګ وو، د نن ورځې کار ئې سبا ته نه پرېښو، هيڅکله ئې بېهوده کار نه کاوه، هيڅ وخت بلکې کرټ که په ګفتار کې وو که په کردار کې په لهو و لعب پسې نه ګرځېدی. په الفاظو ئې لوبې نه کولې، د جدلي قضايا وو څخه ليرې وو، د حقايقو څخه ئې سترګې نه پټولې، ځان ئې په بې حقيقته او غولوونکو مظاهراتو نه بنايسته کاوه، تل ئې د حقيقت په سترګه و هر شي ته کتل، امر ئې د فنا او بقا په منځ کې ګانه، حضرت مبارک ﷺ د هغو خلکو څخه نه وو، چې په ژوند کې ئې اقوال او اعمال درواغ او په هغو کې صداقت او شرافت ضعيف دئ او د دوی ټوله سرمايه عبارت له غټو خبرو او ظاهري رنګ څخه ده، د دوی مثال د (کربن) په شان دئ، چې په ظاهره نازک او بنايسته خو په باطن کې زهر، ګنده هېر او بې علاجه مرګ دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(ب)

درحمة اللعالمين اجتماعي فضايل

(۱) دده مبارک ﷺ سخا او بخشش:

حضرت محمد ﷺ په احسان او صدقه او د خير په کارو کي تلوار کاوه، له همدې امله د ده د سينې پراخي (شرح صدر) تر ټولو وګړو ډېره وه، ځکه چې د شرح صدر په موضوع کي تصديق او ښندنه ډېر عجيبه تاثير لري. حضرت محمد رسول الله ﷺ ډېر لوړ همت، ډېر فضل و کرم، نېک عواطف، ښه خويونه او خصلتونه درلودل، او خورا لوی بخښنده وو، دی مبارک خورا سخي، لاس ئې په ورکړه او بخښش عادي وو، عاجزو ته ئې نفقه ورکوله، څوک ئې نه ناامیده او بې هيلي کاوه، د دوی آرزو ئې تر سره کوله. د دوی خواست ئې قبلاوه، د تنګسې په حال کي د هر چا يار او مددګار وو، د سبا له پاره ئې شی نه ساتی، د نېستۍ څخه ئې پروا نه کوله، څه چې په لاس ورتلل خيراتول ئې، داسي نه ده پېښه سوې چې د ده مبارک څخه چا شی غوښتی وي او ده مبارک ﷺ دي په (نه) او (يا) سره جواب کړی وي، هيڅکله ئې د اړو او محتاجانو څخه مخ نه ګرځاوه، لکه چې د هوازن بنديان چې شپږ زره تنه وه ايله ئې کړل او بيرته ئې ولېږل، څه چې ئې درلودل بخښل ئې، نو ځکه چې د دنيا څخه ئې رحلت وکی سره له دې هم چې د جزيرة العرب خاوند او متصرف هم و، د جنګ زغره ئې په يوه لپه اوربشو چې خوړلي ئې د يوه يهودي څخه ګرو وه، د جزيرة العرب غټانو او پاچهانو تل مالونه او روپۍ او خزانې ټولولې او په مال، خزانو او پيسو ئې فخر او ويار کاوه، ليکن حضرت رسول اکرم ﷺ چې پر ګرده جزيره او د دوی پر ملک متصرف سو يو درهم او دينار ئې نه کړه ټول، پرته له کلکو او زيږو خوړو څخه ئې بل څه نه خوړل، پرته له پندې او زيږې شيلګي جامې څخه ئې نور کالي وانه غوستل، په خپله به وږی وو لوږه به ئې ګلوله، او ډېر مالونه به ئې نورو ته بخښل.

کله کله چې څه به ئې نه درلوده، که به چا شی ځني وغوښت (نه) ئې نه ورته ويل، بلکي وعده ئې ورسره کوله، حضرت علي کرم الله وجهه د حضرت محمد ﷺ په توصيف

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کي وايي:

حضرت محمد رسول الله ﷺ تر گردو وگړو په زړه او لاس کي خلاص، او رشتيا ويونکی وو، پر قول او وعده کلک ولاړ، تر هر چا نرم خويه او د پر بنه معاشرت ئې درلود. دی مبارک ﷺ چې به لومړی وار چا وليد په زړه کي به ئې هيبت ولوېد، بيا چې به بنه ترا ور نژدې سو او د نژدې څخه به ئې وليد او د ده سره به ئې معاشرت او ژوند وکی د زړه له کومي څخه به پر مين او د ده تېرونی يار او دوست به سو.

يو وخت نيوي زره درهمه ورته راوړل سول، ټوله ئې پر بوريا کوټه کړه، بيا ئې په وېشلو پيل وکی، هر چا ته چې غوښتل ئې ورئې کړه، هيڅ نه سول پاته. کله چې د وېش څخه خلاص سو يو سړی ورته راغی څه خواست ئې وکړ، حضرت محمد ﷺ جواب ورکی چې اوس خو زما سره څه نه دي پاته سوي مګر ته چې هر څه په بازار کي رانيسې وائې خله پيسې ئې په ما پسي وتړه، هر کله چې پيسې پيدا سولې دغه پور به زه ادا کم. نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل:

"يا رسول الله ﷺ! الله ﷻ ته په هغه شي چې نه ئې لرې او هغه څه چې نه ئې کولای سې نه ئې مکلف کړی".

د حضرت محمد ﷺ دا خبره خوښه نه سوه، يوه سړي و حضرت عمر رضي الله عنه ته وويل: "د الله ﷻ د خزانو د کمبود او نېستی څخه مه بېرېږه". د حضرت محمد ﷺ دا خبره خوښه سوه او وئې مسل. هغه وخت چې د حنين څخه بيرته راغبرګ سو اعراب ورته راغلل، د ده څخه ئې څه وغوښتل، څو دی مبارک ﷺ ئې يوې درختي ته کش کړ، چېنه مبارکه ئې ځنې يووړه، نو ده پسې ږغ کړه چې چېنه مي بيرته راکئ، که ما د دغو درختو په شمېر مال او اوښان درلودای پر تاسي مي وېشل، تاسي هم پوهېږئ چې زه نه بخيل يم، نه درواغجن او نه بېرېدونکی يم.

حضرت صفوان د اميه زوی ويلي دي:

"حضرت محمد ﷺ ما ته د پر شيان راکړل، سره له دغه مي دښمن باله، ده مبارک ﷺ به بيا شی راوبخښنی تر دې اندازې چې تر ټولو مي محبوب سو، زه شاهدي ادا کوم چې داسي کارونه پرته له رسول الله ﷺ څخه د بل د لاسه نه دي پوره".

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حضرت رسول اکرم ﷺ چې و دغه سړي ته دونه بخښش کاوه د دې له پاره وو، چې پوهېدی، چې د ده د درد دوا پرته له دې دارو څخه نه کېږي، نو په دې وسیله ئې علاج وکی، چې د کفر د درد څخه ئې شفا وموندله. د اسلام دین ته راغی. په صحیح بخاري شریف کي راغلي دي، چې د حضرت محمد ﷺ له پاره د بحرین څخه مال ورسېد، چې تر دغه وخته ده ته دونه ډېر مال نه وو رسېدلی، چې د مال راتګ ئې واروېدی، وئې ویل:

"واه – واه څنګه ښکلې چوخه ده، دغه په ما واغونده". حضرت سرور کاینات ﷺ هغه و دغه صحابي ته وبخښله، چې حضرت رسول اکرم ﷺ پر لمانځه ودرېدی اصحابو کرامو دغه سړي ته عتاب وکی، ورته وئې ویل: تا نه لیدی چې پیغمبر ﷺ په خپله ورته اړ وو، او ته په دغه نه وې خبر چې دی مبارک سایل ناامیده نه پرېږدي.

حضرت بي بي فاطمة الزهرا رضي الله عنها د کور د کارو د زحمته څخه حضرت بهترین عالم ﷺ ته وویل، چې: "یو خادم راکه، چې دغه د کور کارونه کوي". ده مبارک ﷺ ورته وویل: "د حق جلی علی شانه په تکبیر، تسبیح او حمد سره مرسته وغواړه". بیا ئې ورنه وویل، چې زه ستا دغه خواست نه سم منلای، ځکه چې زه اهل صفه وینم چې د لوږې تاو تاو کېږي.

یو سړی و حضرت محمد ﷺ ته راغی، څه ئې ځي وغوښته، ده مبارک ورته وویل: کنبښه الله جل جلاله به ستا رزق در ورسوي. بیا بل راغی سوال ئې وکړ، بیا بل راغی څه ئې وغوښته، دوی ته ئې هم دغسي وویل، په مابین کي یو سړی راغی څلور (اوقئې) طعام ئې راوړ، وئې ویل، دغه صدقه ده. حضرت محمد ﷺ لومړی خواستګر راوغوښت یوه اوقیه ئې ورکړه، بیا ئې دوهم، دریم سایل ته یوه یوه اوقیه ورکړه، یوه اوقیه پاته سوله،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حاضرينو ته ئې وويل: هر څوک چې ورته اړوي وائې خلئ. هيڅا وانه خيسته، څو ما بنام حضرت ﷺ خپله عبا (چپنه) هواره کړه، هغه اوقيه ئې تر سر لاندي کړه، ليکن خوب نه ورتلی، اړخ پر اړخ کېدی، ولاړېدی، لمونځ ئې کاوه، بيا به پرېوتی، بيا به ولاړ سو. بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وويل:

"ولي پورته کښته کېږې، پر کوم ځای دي درد دئ؟" ده وويل: "يه". دې وويل: آيا د الله تعالى ﷻ څخه يو امر درته راغلی دئ؟ ده مبارک وويل: يه! دې ويل نو ولي په حرکت کي ئې؟ حضرت مبارک ﷺ هغه يوه پاته اوقيه د سر څخه راوکښله وئې ويل:

"دغه اوقيه طعام دئ، چې زه ئې له خوبه ايستلی يم، په انتظار کي يم ببرېږم چې دمخه تر دې چې دغهٔ اوقيه طعام و حقدار او محتاج ته ورسوم مرګ به راسي، مړ به سم دغه به راڅخه پاته سي".

حضرت محمد ﷺ چې به هر څه چا ته ورکول د الله ﷻ له پاره او د ده په رضا ئې ورکول، په ورکړه او بخشش کي پرته د الله ﷻ د رضا څخه بل منظور نه وو، له همدې لامله به ئې مال و اړو او بېوزلو ته ورکاوه او کله به ئې د خدای ﷻ په لار کي ورکاوه، کله به ئې د مسلمانانو په مصالحو مصرفاوه، او هغه کسانو ته ئې ورکاوه، چې د هغو زړونه و اسلام ته نرم سي، او د مسلمانانو ملاتړ وګرځي او اسلام په دوی قوت وموميږي، په ټولو مرحلو کي ئې ځان او اولاد ته توجه نه وه.

په عين حال کي چې ده مبارک لکه نور فقراء او مسکينان ژوند کاوه، خو د سخا او ورکړې لاس ئې دونه اوږد وو، چې غټ غټ پاچهان لکه قيصر او کسری د هغه څخه عاجز وه. کله کله به دوې مياشتي د ده په کور کي اور نه سو بل او نه به ئې په کور کي دود پورته سو، د لوږې به ئې د بري پر مبارک نس تړلې.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کړی چې ويلي ئې دي: "زه و مومنانو ته تر دوی ورتېر يم، نو که څوک تر ځان وروسته پور پرېږدي ادا کېده ئې پر ما دي، او که مال ځني پاته سي زه کار نه په لرم، هغه ئې د ميراث خورو دئ".

دغه پورته روايت د ده مبارک ﷺ د بې حسابه فضايلو او محاسنو څخه يوه نمونه ده، که نه؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د دریاب اوبه بس نه دي چي ته ګوته په لنده کړې
چي کتاب د فضیلت ئې اړوې، فضل ئې ګورې

ټوله هغه کسان چي د ده مبارک سره ئې دښمني درلوده او د ده مبارک سره مخالف وه کوښښ ئې کړی دئ، چي لږ تر لږه د ده مبارک په خبرو یا عمل کي یو عیب پیدا کي یا یو لغزش قدر لاس ته راولي او هغه خپل سند وګرځوي، چي هر څه پسي څارو او زحمت ئې په دې باره کي وکښی څه ئې لاس ته ورنه غلل، تر دې فضل به نو کم فضل پورته وي، چي دښمنان او حاسدان په هغه پسې ګوري ونه کولای سي چي د بدګویی او اعتراض لار پیدا کي.

[الفضل ما شهد بالاعداء]. شک نسته، هغه څوک د خلکو د رهنمایی د مقام او د دوی د صلح د قیام له پاره وړ او لایق دئ، چي د فضایلو آخري درجې ته رسېدلی او له هره حیثه کامل وي، څرنګه چي داسي شی چي د مصالحو بنسټ او د مفاسدو او رذائلو محوه کوونکي پرته د پیغمبری د مقامه بل نسته نو ځکه د الله ﷻ په فضل دغه منصب و حضرت محمد ﷺ ته ورکړل سو او دی مبارک ﷺ هم لکه چي ښائېدل د دې کار د تکالیفو تر عهدې ووت.

هو! بېشکه دی مبارک ﷺ د رسالت له پاره جوړ سوی او رسالت د ده له پاره جوړ سوی او له هره حیثه دواړه سره وړ او موافق دي.

(۲)

د رحمة اللعالمین ﷺ ښه معاشرت

حضرت محمد ﷺ هیڅکله پر کارګرو او خدمتګارو تندي نه کوله او پر هغو ئې برچ نه واهه. حضرت انس رضي الله عنه وایي:

"زه لس کاله د حضرت محمد ﷺ خدمتګار وم، هیڅکله ئې (ولي) راته ونه ویل. که به مي یو شی جوړ کړی وو، نه ئې راته ویل چي ولي دي جوړ کړی دئ؟ که به مي یو کار نه وو کړی، نه ئې ویل چي ولي دي نه دئ کړی؟ رسول الله ﷺ د مینځو او مریانو سره همدغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ډول ګذاره کوله، هیڅکله ئې دوی نه وهل. نو که د الله تعالی ﷻ فضل او تائید نه وای ځنګه ئې دا سخت کار چې ټوله ئې د اجرا څخه عاجزوه اجرا کولای سوای".

بي بي عائشه رضي الله عنها وایي: "تر هر چا حضرت مبارک ﷺ په کور کي نرم خویه او خلاص تندی او متبسم وو". حضرت رسول الله ﷺ پر خره سپرېدی، کله کله به ئې دوهم سړی تر شا سپور کی، خپلي ځینې بنځي به ئې هم د ځانه سره تر شا سپرولې. معاذ بن جبل، اسامه بن زید رضي الله عنهما ئې هم د خپل ځان سره تر شا سپاره کړي وه.

روایت سوی دئ، چې په یوه سفر کي حضرت محمد ﷺ و خپلو یارانو ته وویل، چې: "یو پسه د خورک له پاره باید تیار سي". یو سړي وویل: زه به ئې حلال کړم. بل سړي وویل: زه به ئې پوست کم، دریم سړي وویل: چې زه به ئې پوخ کړم. مبارک ﷺ وویل: چې زه به ولاړ سم بوټي به ټول کم. اصحابو وویل: چې ته مه ځه دغه کار به هم موږ وکړو. حضرت محمد ﷺ وویل: پوهیږم چې تاسي دغه کار کولای سئ، لیکن زه دغه بنه نه بولم، چې پر تاسي امتیاز ولرم، دغه د الله تعالی ﷻ نه ده خوښه، چې یو بنده پر نورو ځان لوړ وګڼي.

- نجاشي له خوا څو کسه حضرت محمد ﷺ ته راغلل. دد مبارک ﷺ ئې په خپله خدمت کاوه. یارانو ورته وویل. چې: موږ به د دوی خدمت وکړو، حضرت بهترین عالم ﷺ وویل: دوی زما د یارانو عزت کړی دئ. زه هم د دوی په عوض کي د دوی عزت کوم.

یو لږ څه کم عقله بنځه وه، ده مبارک ﷺ ته راغله وې ویل: زه په تا کار لرم، مبارک ﷺ ډېر معطل سو، څو د هغې کار ئې پای ته ورساوه.

په صحیح بخاري شریف کي راغلي دي، چې: "کله چې به د حضرت محمد ﷺ لاس یو مینځي نیوی هر ځای ته چې زړه به ئې غوښت بېوی به ئې".

یو وخت حضرت خاتم النبیین ﷺ لمونځ کاوه، چې حضرت حسن رضي الله عنه راغی، کله چې دی مبارک ﷺ پر سجده سو، نو حضرت حسن رضي الله عنه ورغی پر شا ئې کښېنستی، ده مبارک سجده اوږده کړه، څو حضرت حسن رضي الله عنه راکښته سو، چې حضرت ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو، یارانو ورته وویل: سجده دي اوږده کړه، ده مبارک ورته وویل: نه مي غوښته چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خپل لمسی په تلوار کي واچوم چي ژر کښته سي.

حضرت محمد عربي ﷺ د خپلو يارانو سره په خلاص تندي رويه کوله، يو سړی چي (زهير) نومېدی او په ببديا کي اوسېدی تل به چي په ببديا کي يو نوی شی لاس ته ورغی د تارتوک او هديې په ډول به ئې و مبارک عليه السلام ته راوړ، مبارک عليه السلام به د ده د سوغات په عوض کي د بنار کوم نادره يا نوی شی ورته هديه کاوه، او ويل به ئې: "زهير زما ببديا او زه د زهير بنار يم".

يوه ورځ مبارک عليه السلام و بازار ته راغی، زهير ولاړ وو، وئې ليد، د ده تر شا و مخ ته راغی او د زهير سره ئې معانقه وکړه، په سينه پوري ئې ونيو. زهير د تبرک له پاره خپله سينه د ده مبارک په سينه پوري منبله، رسول الله ﷺ ويل: د دې مريي خريدار څوک دئ؟ زهير وويل: زه په بيه ډېر ارزان يم، مبارک عليه السلام په جواب کي وويل: ستا قيمت د الله تعالی په نزد ډېر دئ، او ستا بيه ډېره گرانه ده.

حضرت نبي سرور عالم ﷺ خوږې ټوکې کولې، ليکن پرته له حق څخه ئې بل څه نه ويل. وايي يوه ورځ يو بېعقل او ناپوه راغی و حضرت محمد ﷺ ته ئې وويل: (العياذبالله) ما پر ځان سپور کړه. ده مبارک ورته وويل: تا د اوښي پر زوی سپروم. دغه بېعقل وويل: د اوښي زوی مي نه سي وړای، د هغه په سپارلی کي مي فايده نسته. ده مبارک ورته وويل: آيا اوښ ناقه نه زېږوي؟

بله ورځ يوه بوډی راغله، ورته وئې ويل: يا رسول الله ﷺ! دعا راته وکه چي الله تعالی مي جنت ته ورولي. ده مبارک ورته وويل: اې بنځي! جنت د بوډيانو ځای نه دئ. دغه بوډی د ډېره غمه په ژړا سوه، رسول مقبول ﷺ چي د دې د ژړا و غم څخه خبر سو، وئې فرمايل، چي: ورسئ دغي بنځي ته ووايياست، چي: بوډيانې په دغسي حال کي چي عاجزه سپين سرې وي جنت ته نه ځي بلکي ځوانه کېږي نو ورځي، ځکه الله جل جلاله فرمايلي دي:

[إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً (٣٥) فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا (٣٦) عُرُبًا أَتْرَابًا]. بېشکه موږ نوي پيدا کړي دي دغه حوري په بنه پيدا کېدو سره، نو گرځولي مو دي دوی بکري پېغلي، عاشقاني، همزولي په خپل مابين کي، (موضح القرآن).

د حضرت انس رضي الله عنه ورور چي ابو عمر نومېدی، لکه چوغکه يو مرغه چي (نغر) ئې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

باله بازی ئې په کولې. نابېره دغه مرغه مړ سو، یوه ورځ ابو عمر د مبارک علیه السلام سره مخامخ سو، ابوعمر د خپل مرغه د مرګه غمګین وو، حضرت بهترین عالم ﷺ پوښتنه وکړه، چې: په ابوعمر څه سوي دي؟ ده ورته وویل: چې د ده نغر مړ دئ. مبارک ﷺ ورته وویل:

[یا ابو عمیر ما فعل النغیر[1]].

لنډه دا چې د پیغمبر ﷺ دوستي تر ټولو ډېره، فروتني ئې تر ټولو زیاته، عهد او وفا ئې تر ګردو ټینګه، عفت او خودداري ئې تر ټولو وګړو لوړه وه. ښکلی مخ، خلاص تندی، ربښتیا وینا، ظاهر او باطن ئې نېک، فضل او احسان ئې ډېر، لاس نیوی او مړانه ئې پرېمانه وه، د دوستۍ او رفاقت سابقه حقوق ئې ساتل، پر (ذولارحامو) او خپلوانو باندې ډېر مهربان وو، پر کوچني او لوی مهربان او د پوچ خولو څخه ګوښه ګرځېدی. د ده مبارک مجلس د دانش، پوهې، نېکۍ، علم او حیا مجلس وو. د ده مبارک په مجلس کې د چا عیب نه وایه کېده، د عهد او پیمان ماتول هلته نه وو. ده مبارک چې به په خبرو شروع کول، ټولو حاضرینو به سرونه کښته ځړول او غوږ ئې نیوی، که د سکوت په حال کې وو پر ټولو به ئې وقار او قیمت لا زیاتېدی، سخت زړه او سخت خوی ئې نه درلود او نه پست طبیعته وو، پر ټولو وګړو لکه پلار غوندې مهربان وو، د ده مبارک په نزد په حق کې برابر وه، خپل مجلسیان ئې هر یو نازاوه، هیچا دا ګومان نه کاوه، چې پلانکی تر ما پر ده مبارک ګران دئ. که یوه غریب په خبرو یا سوال کې د ده مبارک سره درشتي کوله، ده مبارک تحمل کاوه، که یو چا د ده مبارک سره د یو حاجت یا خبرو له پاره مجلس کاوه، څو هغه په خپله نه وای ولاړ سوی ده صبر کاوه، اهل فضل ئې د دینداری او د ښه خوی په اندازه غوره کول، د ده مبارک په نزد ښه سړی هغه وو، چې نصیحت او پند ئې ډېر ورکاوه، او تر ټولو بزرګ هغه وو، چې و خلکو ته ئې مساعدت، ځان، مال، خوله، ژبه، نفع او ګټه رسېدله.

هر کله چې به مجلس ته راغی خلک پوهېدل چې د ولاړېدلو څخه ئې بد راځي و ده مبارک ﷺ ته نه ولاړېدل، چې مجلس ته به راغی د مجلس په آخر کې کښېنوست. د چا سره

---

[1] ممکن دئ، د دې درو فقرو شېرینې چې مؤلف د مبارک ﷺ نقل کړې دي، کاملاً احساس نه سي، لیکن په هغه وخت کې به هغه ژبه او بیان چې په اصل او هغه عصر کې تعبیر په سوی دئ، هم شېرین او هم عیناً واقع او حقیقت دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

به ئې چې مجلس کاوه نو که دوی د آخرت خبري کولې، ده به هم هغه خبري ورسره کولې. او که به په خورک یا جامه کې ګډ وه، ده مبارک به هم ملګري ورسره کوله، که به په دنیا کې بډغبدل ده مبارک به موافقت ورسره کاوه، څو دوی پر ځان مین او ملګري کې.

که به یوه مسکین او بېوزلي یا کومي اسکېرلي بنځي دی مېلمه کاوه مېلمستیا ئې قبلوله، د ناجوړو پوښتنه ئې کول، که څه هم دغه ناروغه به د مدینې منورې په کوم لیرې ګوټ کې وو، د خلکو عذر ئې مانه، وګړي ئې و بنو کارو او بنو اعمالو ته ګومارل، بنه خلک ئې و ځان ته نژدې کول، بد سړي ته ئې سزا نه ورکوله، بلکې تر بدو ورتېرېدی او بخښنل ئې، د بدانو سره ئې په عفوه ګذاره کوله، تر څو چې ئې وس کېدی بنه او نېک کارونه ئې پای ته رسول. صله رحمي ئې کوله، مېلمه ته ئې عزت ورکاوه، د وینو تویولو مخه ئې نیوله، پر وعده ئې وفا کوله، په خبرو کې ئې ایجاز پټ وو، یاران ئې په کنیه او محبوب ترینه نومو سره مخاطب کول. د لویانو سره ئې خبري کولې، د کوچنیانو سره ئې خوش طبیعي کوله، هر سړي ته ئې په ډېر احترام جواب ورکاوه، چې هر څونه ډېر مال به ورته ورسېدی د یوه درهم او دینار تصرف ئې نه کاوه، بلکې ټوله ئې باخښنه، اسکېرلي او بېوزلي ئې مړول او بډایان کول، یا ئې د مسلمانانو په مصالحو او بنېګڼو او د دوی څخه د مشرکانو او کافرانو په لاس لنډولو کې صرفاوه.

(۳)

د رحمة اللعالمین ﷺ تېرېدل (عفوه) او بخښش

د حضرت محمد ﷺ تحمل او حلم ډېر، فضل او بخښش ئې پرېمانه وو. حتی د هغه چا سره چې د رحم قطع به ئې کړې وه صلحه رحمي ئې کوله، هغه چا ته چې دی ئې محروم کړی وو، بخښش ئې کاوه او هغه چا ته چې د ده سره ئې ظلم کړی وو ورتېرېدی. د آزار او اذیت په مقابل کې ئې تحمل کاوه، هغه چا چې د مبارک ﷺ غابنونه ئې ور مات کړي وه تر تقصیر ئې ورتېر سو، هغه منافقانو چې په خبرو او کارو کې ئې ده مبارک ته آزار رساوه ده مبارک آزار نه کړل او بد ئې په بدو بدل نه کړل.

یوه ورځ یو صحرایي (اعرابي) د ده مبارک څخه یو څه وغوښتل، ده مبارک هغه شی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې غوښتی ئې ورئې کړ، نو ئې ورته وویل: آیا ستا سره مې نېکي ونه کړه؟ اعرابي ویل: یه! مسلمانان په دې خبره په قهر سول او د اعرابي د ایداد ورکولو له پاره ولاړ سول، حضرت محمد ﷺ اشاره ورته وکړه، چې د ده څخه لاس واخلئ، ده ته آزار مه رسوئ.

مبارک ﷺ چې کور ته ولاړی هغه اعرابي ئې راوغوښت، تر هغه څه چې ورکړي ئې وه، زیات شیان ئې ورکړل او ورته وئې ویل: آیا ستا سره مې نېکي وکړه؟ اعرابي وویل: هو! الله تعالی جل علی شانه دي تا او ستا کورنۍ ته ښه عوض درکي. حضرت محمد ﷺ ورته وویل: هغه چې زما د یارانو په مقابل کې دي وویل هغه دي خپه کړل. اوس که دي زړه غواړي خوښه دي وي هغه چې زما په مخ کې دي وویل هغه د یارانو په مخ کې ووایه، څو چې هغه کین چې ستا څخه ئې په زړه کې دئ، د زړو څخه ئې ایسته سي، اعرابي ومنله، وختي چې شپه سوه، رسول اکرم ﷺ اصحابو ته وویل: دغه اعرابي زما څخه اوس خوشحاله دئ، آیا دغسي نه ده؟ اعرابي وویل: چې بېشکه هو دغسي ده، زه خوشحاله یم، الله ﷻ دي تا او ستا کورنۍ ته د خیر عوض درکی.

حضرت محمد رسول الله ﷺ وویل: زما او دې اعرابي امثال لکه د هغه سړي داسي دئ، چې اوښ ځني وتښتېدي، خلکو پسې الا کړه، اوښ طبعاً وځغستل، وروسته د اوښ خاوند پر خلکو باندي برچ وهل ورته په قهر سو، چې مه پسې ځغلئ، زما د اوښ څخه لاس واخلئ. ما او زما اوښ سره پرېږدئ. ځکه چې اوښ پر ما ګران دئ د ده په خوی او حال زه ښه پوهېږم، وروسته د اوښ خاوند یو څه وابنه واخیسته اوښ ته ورنژدې سو، وابنه ئې ورته وښورول، کرار کرار ئې اوښ آرام کې راوئې ګرځاوه او خې ئې کړ، بار ئې پر باندي کې سربېره پر سپور سو، نو که ما ستاسي لاس د ده له آزار څخه نه وای لنډ کړی دغه سړی مو پر هغه خبره واړه نو دومره خي کېدلاست.

حضرت محمد ﷺ دېر متحمل وو، څو چې په طاقت کې به ئې وه عفوه ئې کوله. هغه وخت چې د سرو او سپینو زرو امبلونه ئې د خپلو یارانو په منځ کې وېشل یو اعرابي ودرېدی او وئې ویل: اې محمده ﷺ! که الله جل علی شانه ته په عدل او انصاف او داد امر کړی ئې، زه لورم او قسم اخلم چې په عدل رفتار نه کوې؟ رسول الله ﷺ په دېره مهرباني او نرمي سره وویل: آیا تر ما به وروسته پر تا څوک عدالت وکي؟ اعرابي مخ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وګرځاوه ولاړې. ده مبارک وویل: چې اوس ئې په نرمي او آرامي راوګرځوئ ما ته ئې راولئ.

د خیبر په جنګ کې حضرت محمد ﷺ غنیمتونه د یارانو په منځ کې وېشل، یو سړي ورته وویل: په عدل سره کار کوه. ده مبارک په ډېره مهرباني جواب ورکی: که ما هم په عدالت سره کار نه وي کړی، نو تر ما وروسته به څوک عدالت وکي؟ که زه په عدل سره غنیمت ونه وېشم نو تاوان به وکم، نو حضرت عمر رضي الله عنه ولاړ سو او وئې ویل: اجازه راکه چې د دې منافق سر غوټ پرې کم. ده مبارک ورته وویل: چې کرټ اجازه نه درکوم، چې زما یو صحابي په قتل ورسېږي.

په یوه جنګ کې چې مسلمانان خورا په جګړه بوخت وه، یوه دښمن چې د مسلمانانو غفلت ئې غنیمت وګانه، ځان ئې د خدای رسول ﷺ ته ور ورساوه، توره ئې وکښله وئې ویل: څوک دئ چې زما د لاسه دي خلاص او نجات درکي؟ بهترین عالم ﷺ وویل: الله تبارک و تعالی. دستي د دغه سړي د لاسه توره ولوېدله، مبارک ﷺ واخیستله وئې ویل: څوک دئ چې زما څخه دي خلاص کي؟ هغه سړي ورته وویل: نېکي کوه. ده مبارک ﷺ ورته وویل: شاهدي ادا کوې چې الله یو دئ او زه د ده پیغمبر او رسول یم؟ سړي ویل: یه! لیکن زه هیڅکله ستا سره جنګ نه کوم، او ستا د دښمنانو سره ملګري او مرسته نه کوم، او ستا سره هم نه ملګری کېږم، بلکي زه بېطرفه یم. حضرت محمد ﷺ د ده څخه لاس واخیست، آزاد او ایله ئې کی، هغه سړی چې خپلو ملګرو ته ورسېدی ورته وئې ویل: وپوهېږئ چې د خورا ښو خلکو څخه راګرځېدلی یم او تاسي ته راغلی یم.

حضرت علي کرم الله وجهه وایي، چې: حضرت اکرم او مقبول ﷺ ما او زبیر او مقداد رضي الله عنهم ته وویل: د خاخ[1] باغ ته ولاړ سئ هلته به ظعینه وویني، چې یو کاغذ ورڅخه دئ کاغذ ځني واخلئ. نو موږ ولاړو، هلته چې ورسېدلو هغه ښځه مو پیدا کړه، ورته ومو ویل چې کاغذ راکه، دې انکار وکی، چې زما سره کاغذ نسته، نو موږ پټکه پر وکړه، و موبېروله چې که کاغذ رانه کې په تا کي ګورو کالي دي شنو، نو ئې کاغذ د خپلو کوڅیو د منځه راویوست هغه ئې راکی، موږ حضرت محمد ﷺ ته راوړ، هغه کاغذ د ابي بلتعة

---

[1] د مکې شریفي او مدیني منورې ترمنځ یو باغ دئ. (مؤلف).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

زوی حاطب د مکې معظمې د مشرانو یوې ډلې ته لیکلی وو او د رسول الله ﷺ ځینې حالات او کارونه ئې هغو ته پکښې لیکلي وه. حضرت مبارک ﷺ و حاطب ته مخ واړاوه ورته وې ویل: چې دا څه شي دي؟ ده په جواب کې ورته وویل: هغه مهاجر چې ستا سره دي، په مکه شریفه کې ځینې خپلوان او دوستان لري، چې د دوی ښځې او زامن ساتي، لیکن زه په خپل قوم پورې مربوط او د چا سره مې بستګي او خپلوي نه درلوده نو په دې چم مې وغوښتل، چې ځینې کسان که څه هم زما سره خپلوي نه لري خوشحاله کم، چې زما ماندینه او اولاد وساتي، نه مې دا کار د کفر د حیثه کړی او نه مرتد سوی یم.

حضرت مبارک ﷺ وویل: چې دی رشتیا وایي، نو حضرت عمر ﷺ و حضرت مبارک ﷺ ته وویل: چې اجازه راکه، چې د دغه دوه مخې سر د اورمیږه جلا کم، مبارک ﷺ جواب ورکی چې دغه سړی د بدر په جنګ کې حاضر وو، ته د څه له رویه خبر ئې چې الله تعالی ﷻ هغه کسان چې د بدر په جنګ کې ئې شرکت درلود نه دي بخښلي؟

په یوه وېش کې چې حضرت بهترین عالم ﷺ وکی یوه سړي وویل، چې: په دې وېش کې د الله ﷻ رضا په نظر کې نه ده نیول سوې، چې دا خبر د حضرت محمد ﷺ غوږو ته ورسېدله، مبارک مخ ئې سور سو او وئې ویل: چې زما ورور حضرت موسی علی نبینا دي الله ﷻ وبخښي چې تر دې زیات زحمت او آزار ئې لیدی او صبر ئې کاوه.

حضرت محمد رسول الله ﷺ به تل ویل:

"زما و یارانو ته و یوه ته نه ښایي چې د نورو خبرې ما ته راوړي، ځکه زما دغه خوښه ده، چې ستاسې سره مخامخ سم په داسې حال کې چې د ټولو څخه خوشحاله یم، او و هیڅ یوه ته مې په زړه کې څه نه وي".

(۴)

د رحمة اللعالمین ﷺ ښه سیاست

که څوک دې ته ځیر سي، چې رسول الله ﷺ سره له دې چې د پخوانیو تاریخ او سیرت ئې نه وو لوستی او د چا څخه ئې تجربه نه وه زده کړې نو د وحشیانو اعرابو سره ئې څنګه رفتار کاوه او څنګه ئې دغه سخت خویه خلک آرام او اېل کړي وه، په دغه کار کې ئې د ښه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تدبیره څخه کار اخیستی وو، پر زحمت او ربړ او آزار ئې صبر کړی وو، څو په پای کې ئې دوی نرم کړل، تر دې حده چې ټوله پر ده شاوخوا راغونډ ېدل او د ده مبارک په محبت کې ئې د خپل ټبر او خپلوانو. پلار او زامنو سره مقابله کړېده. نو یقین به ئې سي چې حضرت خاتم النبیین ﷺ د نړۍ تر ټولو ډګرو عاقل وو. ځکه چې د اخلاقو توسعه د عقل د بزرګۍ په اندازه ده، د ده مبارک اخلاق دونه توسعه او لوړوالی درلود او دونه ښه او ملایم اخلاق ئې وه، چې د هغو منافقانو سره چې مخامخ ئې چاپلوسي او غوړه مالي کوله او پشلا ئې د ده مبارک غیبت کاوه، دی مبارک ورسره جوړېدی، و هغو کسانو ته چې د ده مبارک غاښونه ئې ورمات کړل او د ده سره ئې جنګ او مقاتله کوله او د ده مبارک مخ ئې زخمي کی چې وینې تر بهېدلې ورتېرېدی، یاران به ئې بېتابه سول، ده مبارک ته به ئې ویل چې پر دغه قوم نفرت ووایي، لیکن ده مبارک به ویل، چې:

زه د دې له پاره نه یم مبعوث او را استول سوی چې پر خلکو لعنت ولېږم او پر هغه پېټ ووایم، بلکې بعثت او زما لېږل د دعا او رحمت له پاره دي.

بیا حضرت نبي سرور عالم ﷺ وویل:

یا الله ﷻ! زما قوم مه نیسه او دوی وبخښه ځکه چې دوی ناپوه او ببعقل وګړي دي. د رسول الله ﷺ د عقل او ادراک قوت کامل، آراء او افکار ئې پوره او فهم ئې درست او حواس ئې ډېر قوي وه، پوهه، تحمل، شرم، مړانه، دوستي، راهنمایي، خیرخواهي، رحمت، صبر او سکون هغه شیان دي، چې د حضرت ﷺ په ذات کې اینښودل سوي او پراته وه.

د حضرت محمد عربي ﷺ عقل راجح، همت ئې درست او فراست ئې صادق وو، د نورو د کین او مکر په مقابل کې نه غافله کېدی او نه غولېدی، د سختیو او مشکلاتو په مقابل کې نه عاجزه کېدی، بلکې د کار د شروع په تندي کې ئې د هغه عواقب او نتیجه لیدله، د کارو عیب ته ځیر کېدی او مشکلات ئې حل کول، سره له دې چې د ناپوهو، بې تربیته او بې ادبه اعرابو سره ئې سروکار وو، هیڅکله د ده څخه سپکتوب یا تندي او بې فکري، خطایي او لغزش نه دي لیدل سوي. په تاریخ کې داسي یو رهنما نه دئ تېر سوی (پرته له ده مبارکه) چې لغزش او خطا نه وي ځني پېښه سوې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حضرت رسول مقبول ﷺ بې وفايي لو ګناه او بې قولۍ ئې بد کار ګانې، د عهد او پيمان په ساتنه او وفا کي ئې هر ډول سختي پر ځان اخيستله، تر څو چې مقابل طرف د عهد نقص نه واى کړى د ده له خوا معاهده تينګه وه، لکه چې د حديبيې د عهد او پيمان د کيسې څخه دغه مطلب ښه ترا ثابتيږي.

حضرت محمد رسول الله ﷺ آرام او باوقاره وو، چا چې به دى مبارک لومړى وليد هيبت به ئې په زړه کي ور ولوېدى، بيا چې به ئې زياته ناسته او ولاړه ورسره وکړه دى مبارک به ئې دوست او محبوب وګرځېدى. د کسرا رالېږلي وګړي که څه هم درباري وه او تل ئې د پاچهانو سره ناسته او ولاړه وه د دوى صولت او شوکت، ستاره او هيبت ئې ليدلى وو، چې حضرت محمد ﷺ ته راغله سترګي ئې پرومو بنتلې د ده مبارک د عظمت، هيبت، ستارې او بارې څخه وبېرېدل. د ده مبارک هيبت او ستاره ئې تر ټولو شاهانو زياته وګڼله. دغه هم په داسي حال کي چې ده مبارک هيڅکله تکبر نه کاوه، بلکي په کميني او تواضع او ښه خوى او ښې ګذارې سره په عالم کي مشهوره وو، نو ځکه ئې دوستي په زړو کي داسي مېشته سوې وه، چې مجلسيان ئې ورته بدبينه نه وه او دښمنان د ده څخه متنفر نه وه او يارانو ئې دى مبارک تر خپل پلار او زوى محبوب ګانې.

هو! د دوى محبوب وو، ځکه چې سره له دې چې د دوى لارښوونکى او پېشوا وو، د دوى په نسبت ئې تواضع کوله او سره له دې چې پر دوى ئې حکم او فرمان درلود، تر ټولو ئې ځان کوچنى ګانې تر دې حده چې د ده په فروتنۍ او تواضع پسې هيڅوک نه سواى رسېدلاى، د خپلو يارانو او اصحابانو سره داسي وو لکه د دوى څخه يو سړى بازار ته تلى، د ټولو سره ئې ناسته او ولاړه او معاشرت کاوه (صلى الله عليه وآله واصحابه وسلم).

يو وخت يو اعرابي ورته راغى، د ده مبارک د هيبت څخه وبېرېدى، حضرت محمد ﷺ و ده ته داسي وويل:

مه ببرېږه خپل کار په اساني اجرا که ځکه چې زه د هغي ښځي زوى يم، چې په مکه معظمه کي ئې وچي کړي غوښي خورلې.

يارانو ئې دېر پر ګران وه، د هر قوم غټ ئې غټ ګانې، سردارې د هغه قوم ئې و ده نه پرېښوولې، او هر چا چې به د يوه کار له املې د ده څخه عذر غوښت عذر ئې قبلاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اوس به د نمونې له پاره د زهير د زوی کعب کيسه وکو:

هغه وخت چې بجير د کعب ورور د اسلام په دين مشرف سو او پر پيغمبر ﷺ ئې ايمان راوړ، ورور ئې کعب ورته وليکل او په خط کې ئې سرزنش ورکی، بجير حضرت سرور کاينات ﷺ په خبر کی، مبارک ﷺ وويل: هر څوک چې پر کعب قدرت پيدا کې ودې وژني، بجير و کعب ته وليکل، چې مبارک ﷺ ستا د مرګ امر صادر کی، نو که ځان درباندې ګران او د ژوند سره مينه لرې بايد و مبارک ﷺ ته راسې، ځکه چی دی مبارک توبه قبلوي او تر هغې پخوانی ګناه درتېروي. هر کله چې د بجير کاغذ و کعب ته ورسېدی نو خپلې قبيلې ته وتښتېدی پناه ئې ځني وغوښته. قبيلې ئې پناه ورنه کړه، نو کعب پر ځان وبېرېدی د خپلو دښمنانو څخه په ډارکې سو، ناچاره مدينې منورې ته راغی، لومړی د حضرت علي کرم الله وجهه سره مخامخ سو، حضرت علي کرم الله وجهه دی و مسجد ته بوت، حضرت رسول اکرم ﷺ ئې ور وښود، ورته وئې ويل دغه حضرت خاتم النبيين ﷺ دئ، ورسه امان ځني وغواړه، کعب دا خبره ومنله و حضرت رسول الله ﷺ ته راغی مخامخ ورته کښېنوست خپل لاس ئې د ده مبارک په لاس کې کښېښود ورته وئې ويل:

کعب بن زهير د خپلې ګناه څخه پښېمانه دئ اسلام ئې منلی دئ، اوس دلته راغلی دئ ستا څخه امان غواړي، نو که کعب راولم او حاضر ئې کم نو عذر به ئې ومنې امان به ورکې؟ رسول مقبول ﷺ وويل: ته هغه سړی ئې چې هغه خبري دي کړي وې؟

په دې ترڅ کې يو انصاري ولاړ سو و درېدی او وئې ويل: يا رسول الله ﷺ! ما ور ايله که چې د الله تعالی ﷻ د دغه دښمن سر ورقلم او غوڅ کم، حضرت محمد ﷺ وويل: تر ګناه ورتېر سه. پرې ئې ږده، دی پر خپله ګناه پښېمانه دئ، امان ئې غوښتی دئ، ايمان ئې راوړی دئ. کعب دستې په دغه ځای کې خپله مشهوره قصيده جوړه کړه.

دغه قصيده د مطلع په مناسبت د (بانت سعاد) په نامه مشهوره ده.

په دغه قصيده کې د مبارک ﷺ ستاينه، مدح او صفت وو او هم د چغلګر و بېهوده ويلو ته اشاره سوېده، هر کله چې و دې شعر ته ورسېدی:

ان الرسول لنور يستضأبه
و صارم سيوف الله مسلول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مبارک ﷺ خپله عبا (چوخه) مبارکه و کعب ته ور وغورځوله او ترګناه ور تپر سو.

د حضرت محمد ﷺ په نزد قوي او ضعیف یو ډول وه، تل به ئې په مدارا او نرمي سره امر کاوه، د درشتۍ څخه ئې ځان ژغوری، هیڅکله ئې بد کار نه کاوه او د بدۍ جواب ئې په بدۍ نه ورکاوه، د وګړو تر خطا، سهو او لغزش ورتپرېدی، او هغو ته ئې عفو کول، په دې سبب چې مبارک ﷺ سعه صدر، پراخه سینه او ډېر شرم درلود نو ځکه مخامخ ئې و چا ته څه نه ویل، او داسي کار ئې نه کاوه چې د هغه نه وي خوښ.

حضرت مبارک ﷺ د بېوزلو او اسکېرلو د لیدلو له پاره ورتی، د هغو سره کښېنوست، لطف ئې ورسره کاوه، الفت ئې ورسره نیوی، د عاجزو، مسکینانو او ناجوړانو پوښتنې ته ورتی، د مسلمانانو د شریف، وضیع او ناپوه د جنازې سره تی او نور ئې و خپلو نېکو او ښو کارو ته رابلل، چې پیروي ئې وکي.

که به ئې یو عاجز او ناتوانه لیدی د ځان سره ئې سپراوه، د ده سره مدارا او لطف ئې کاوه په کارو کې به ئې د دوی سره مرسته کوله، په دې وسیله ئې آمرانو او منصبدارانو ته درس ورکاوه، چې د حرکت په وخت کې باید د افرادو هغه ببخي ضعیف په نظر کې ونیسي او داسي حرکت وکي چې هغه سم ورسره تلای سي، او وروسته پاته نه سي، له هري خوا که مالي وي که نور تر لاس لاندي وګړو سره مرسته وکي او د دوی احتیاج رفع کي.

شک نسته چې حضرت رسول الله ﷺ لوی سیاست او شریف معارف درلوده، لوړ فکر، ربښتیا ګومان، درست حدس او رسا نظر ئې درلود، اخلاق ئې ښه او مرغوب، اوصاف او فضایل ئې ستایلي وه، دی الله ﷻ راواستاوه، چې ښه فاضله اخلاق او نېک خویونه نشر او رواج کي، ده مبارک شرایع نشر، امانت داري ئې محکمه کړه، په مصالحو او مهماتو کې ئې کوښښ وکی، مشکلات ئې له منځه وایستل. لنډه دا چې دین ئې ایمان او خط مشي ئې قرآن کریم وو. هغه څه چې قرآن غوښته ده غوښته د ده مطلب د قرآنکریم مطلب وو، د هر شي څخه چې قرآنکریم مخالف وو دی هم ځني مخالف او ناخوښه وو.

حضرت بهترین عالم ﷺ د خدمتګارانو سره ډوډۍ خوړله، د مېلمنو خدمت ئې کاوه، کالي او موچني ئې پینه کولې، خونه اوسرای ئې جارو کاوه، چې په بازار کې به ئې د کور له پاره هر شی رانیوی، کورته به ئې په خپله پر شاوړی، شک نسته سره له دې چې د ګرده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عالم سردار او مشرفترينه د مخلوقاتو وو، غوښت ئې چې يو بنده او افتاده رسول وي، نه داسي رسول چې سلطان او متکبر وي.

تر ټولو افرادو امين، عفيف، پاک، ربښتيا ويونکی، عادل، پر وعده ټينګ، حق ويونکی، حق خوښوونکی وو، احکام ئې د حق سره برابر وه، د وګړو سره ئې ډېر احسان کاوه.

د جاهليت په زمانه کې د ده فضل او فضيلت و ټولو ته څرګند وو، دوست او دښمن د ده پر پوهه، عدل او امانت داري شاهدي ادا کوله، په خپلو دعوو کې ئې ده ته رجوع کوله. مبارک ﷺ د ارحامو دلجويي کوله، د خپلوانو سره ئې ښه کول، دوی ئې په ورکړه او بخشش سره نازول، د دوی زړونه ئې په مهرباني، مرسته او کومک سره ورړل، که به ئې دري ورځې د خپلو يارانو څخه کوم يو ونه ليد، د حال پوښتنه به ئې کوله، نو که به په سفر تللی وو، دعا به ئې ورته کوله، که به حاضر وو ملاقات ته ئې ورتی، که به مريض وو پوښتنې ته به ئې ورتی.

هو! بادار هغه دئ چې د خدمتګاره غم ورسره وي، پر پېښوا او بادار لازم دي چې پر ماتحتانو او لاس لاندي کسانو باندي رحم کوي، پوښتنه ئې کوي، د دوی کارونه مرتب او اصلاح کوي.

هر کله چې به يو هيئت يا يوه ډله راتله، نو د دې له پاره چې د دښمن په سترګو کې اهميت ولري او د الله تعالی جل علی شانه دين لوړ سي او د حق کلمه ښه تر اعتلاء پيدا کي نو د دوی تر راتګ دمخه به هغه ښه جامې چې درلودې اغوستې، او خپلو لويو يارانو ته به ئې هم دغسي فرمايل.

رحمة اللعلمين ﷺ رحيم زړه درلود، تر دې حده چې پر خپلو دښمنانو ئې رحم کاوه، وختي چې مکه معظمه ئې فتح کړه قريش چې په مسجد الحرام کې ناست وه دی مبارک ورته راغی (په دغه ترڅ کې ئې يارانو کتل او په انتظار کې وه چې آيا د قريشو په باره کې به اوس څه حکم وکي. پر هغو به د قتل حکم وسي يا نور څه) ده مبارک مخ و قريشو ته وګرځاوه او ورته وئې ويل:

ستاسي څه خيال دئ، چې زه به ستاسي په نسبت څه وکم؟ دوی وويل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نېکي! ځکه چې ته مهربانه ورور ئې، او د اکا زوی ئې چې پلار دي هم کريم او مهربانه وو.

حضرت پيغمبر ﷺ وويل، چې: زه نن ورځ هغه خبره درته کوم چې ورور مي حضرت يوسف عليه السلام تر ما دمخه و خپلو وروڼو ته کړې ده: (لاتثرب عليكم اليوم). نن مو باک نسته، ځئ ازاد ياست. د دې بخښش او مهربانۍ څخه بايد تعجب ونه کئ، ځکه چې حضرت بهترين عالم په دوستي، مهرباني، عنايت، نېکي او ښه فضايلو سره ښايسته وو، داسي نه چې يوازي پر مسلمانانو رحيم وو، بلکي د هيچا سره ئې سختي او درشتي نه کوله او کلک ئې نه نيوله، مګر هغه وخت چې د باري تعالى جل جلاله له خوا مامور وو:

[يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ].

د کافرانو او منافقانو سره مجاهده وکه او پر دوی سختګيري او درشتي وکه.

حضرت رسول الله ﷺ تر نبوت دمخه هم په امانت سره معروف وو، نو ځکه د جاهليت اهل په ټولو کارو کې پر ده کامل اطمينان درلود، تر دې حده چې د ده مبارک سخت دښمن ابوجهل و ده ته وويل:

موږ تا دروغجن نه بولو او تکذيب دي نه کوو. ليکن هغه شی چې دي راوړی دئ نه ئې قبلوو، د الله جل جلاله د حق کلام خبري په دې اشاره سره دي:

[فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ].

دوی تا نه تکذيب کوي، ليکن ظالمان د الله جل جلاله د آيتو څخه انکار کوي.

هرقل د ابوسفيان څخه پوښتنه وکړه: آيا تاسي دی تر پيغمبرۍ دمخه دروغجن ګانه؟ ده وويل: يه. بيا هرقل وويل: نو که ئې دروغ ويلای د خلکو په باره کې به ئې ويلای نه د الله.

حضرت نضر بن حارث، هغه وخت چې ده وغوښته چې د قريشو خطا او اشتباه و هغو ته څرګنده کي ويل ئې:

حضرت محمد ﷺ هغه وخت چې پر برنده ځواني وو، په تاسي کې اوسېدی تر تاسي ټولو ئې ښه عمل، خبري ئې ربنتيا، او په امانت کې لومړی سړی وو. نو اوس چې د سپين ږيرتوب علامې ئې په تندي مبارک کې ښکاره سولې، دين او شريعت ئې درته راوړ، څه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وسوه چي جادوګر ئې بولئ؟ قسم په الله دئ، چي محمد ﷺ جادوګر نه دئ.

د حضرت محمد ﷺ دښمنانو ونه کړای سوای، چي سره له دونه اهتمامه چي په دې باره کي ئې درلود چي د حضرت په تېريا اوس حال کي لږ ايراد او بهانه لاس ته راولي، چي هغه د بدګويي او طعن وسيله وګرځوي که ئې چيري کولای سوای چي د ده تر نبوت دمخه يو درواغ د ده نقل او ثابت کي نو هغه به ئې د ده پر تکذيب دليل کاوه، او په دغه دليل به ئې د ده نبوت باطل ګاڼه. لکه چي دمخه مو وويل:

هغه څوک چي په کوچنيوالي د درواغو څخه پرهېز کوي، او د ربنتيا سره ئې عادت نيولی وي، په لوی والي لا ډېر پرهېز ځني کوي او ربنتيا وايي نو هغه څوک چي د خپلو مربوطو کارو په نسبت درواغ نه وايي نو د الله تعالی په مربوطو کارو پوري هم درواغ نه وايي، پرته له راسته لاري څخه پر بله لار نه ځي.

لنډه دا چي حضرت ﷺ هم په کوچنيوالي او هم په لوی والي په ربنتيا ويلو سره مشهور او په امانت ساتلو موصوف وو، تر دې حده چي دی مبارک ئې (محمد امين) باله.

(۵)

په لاربښوونه کي د رحمة اللعلمين ﷺ ښه سلوک

حضرت محمد ﷺ کوښښ وکړ، څو د خلکو خرابي اندېښنې او فاسدي عقيدې ئې سستي او متزلزلي کړي او د دوی پست او کښته او رذيل عادات او خويونه ئې له منځه ورک کړي. ليکن هيڅ لاپي او شاپي ئې ونه وهلې او ببځايه زېري ئې ونه کړل، او ځان ئې په لويي سره نه کی معارفي، د خلکو د بېرولو له پاره ئې پر ځان نوکران، لښکر او پوليس نه کړه غوندې، بلکي په کامله صريحه لهجه ئې و خپل قوم ته ويل:

زه د الله ﷻ رسول يم، ستاسي د زېري او بېرولو له پاره رااستول سوی او مبعوث سوی يم.

معجزې ئې ډېري ښکاره او راوړې مګر هيڅکله ئې دعوه ونه کړه چي دی معجزه ښکاره او راوړای سي، بلکي تل ئې د قرآنکريم په بيان سره ويل: (انما انا بشر مثلكم) زه بېشکه ستاسي په شان يو بشر يم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ].

ووايه اې محمده ﷺ! زه د نفع او ضرر مالک نه يم، زما په لاس نه دي، پرته له هغه چې الله ئې غواړي و ما ته نه رسېږي، که زه په پټو خبر او غيب راته څرګند واى نو ډېر خير به مي لاس ته راوستلى واى، د بدى او ضرر څخه به ساتلى پاته واى.

د حضرت محمد رسول الله ﷺ دا منظور نه وو، چې خلک په خوږو خبرو خطا باسي يا غوړه مالي وکي يا ناچاره مکر او فريب وکي، يا د هغه او د دې دوستي، بلکې منظور ئې فقط د الله د پيام او پيغام رسول او د دين د احکامو بيانول وو، چې بني نوع عالم په رحمت کي ډوب سي او الهي سلطنت د مځکي پر مخ تيت او قرار ومومي او بني آدم ټوله يو د بله سره ورونه او ملګري سي او په حقيقت کي د يوه وجود غړي وګرځي او د ورورګلوى روابط ئې يو د بله سره ټينګ سي.

حضرت بهترين عالم ﷺ هغه څه چې غوښتل پاى ته ئې ورسول او په خپل مقصد کي کامياب او په خپل مطلب ورسېدى، بې له دې چې (لکه نور تېر سوي پيغمبران چې په خپل کار کي بېچاره سول معجزې به مرسته ورسره کوله، او د دوى مطلب به ئې اتمام ته رساوه). په هر کار کي دى مبارک و معجزې ته لاس واچوي او هغه څه چې د بشر د افرادو د لاسه نه ده پوره او د دوى تر قوت او طاقت دباندي وي ايجاد کړي، ځکه که ئې دغسي لار غوره کړې واى او په هر کار کي ئې معجزه ښکاره کولاى او خلک ئې د معجزو په ښکاره کولو عادي کړي واى، د لاربښوونې کار ئې تر ځان وروسته پر خلکو محال کاوه، ځکه چې د دوى په دې کار کي دسترس نه وو، او د معجزې د ښکاره کولو څخه عاجزه وه، ليکن حضرت محمد ﷺ په خپله رهنمايي کي ښه لار غوره کړه، نو د هغو کسانو له پاره چې غواړي په خپله آرزو او مقصد کي کاميابه سي نو ښايي د ده په ژوندون کي دقت وکي، ځکه چې د ده ژوندون په حقيقت کي د دوى له پاره خورا ښه سرمشق دئ.

ټوله پوهېږو چې د موسى على نبينا و عليه السلام قوم د معجزې په وسيله نجات وموند، له همدې جهته ده ته ميسره نه سوه چې د مرانې روح او ښه صفتونه په دوى کې پيدا کي، ليکن حضرت محمد ﷺ د جنګي اوسياسي لارې څخه چې د لښکر د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

منصبدارانو او د سياسي پېشوايانو د افتخار مايه ده مجاهده وکړه، د همدې له پاره ئې د خپلو يارانو او اصحابو څخه يوې ډلې ته پرورش ورکی او مهذب ئې کړل، چې د زړه له کومې د ده مبارک معتقد او دوستان سول، او ټوله په ښه خوی او ښه فکر کې انتها درجې ته ورسېدل، تر دې حده چې د ټينګ فکر او ښه خلق په واسطه هيڅکله د ژوندون او زمانې د پېښو په مقابل کې وار خطا نه سول.

په ربنتيا د انسان خلق او خوی مخصوصه موقع لري، چې د هغې موقع په مناسبت سره هغه ښکاره کېږي، نو هغه ډول چې زحمتونه او سختۍ انسان لره يو خاص اخلاق حاصلوي همدغه رنګه د سړي پر مختګ او کاميابي د دې موجب ګرځي چې ښه خويونه لکه بزرګواري، همت او مړانه که په ده کې وي ښکاره دي سي.

ټوله مصلحان د يوې لارې څخه و مطلب او مقصد ته نه دي رسېدلي بلکې ځيني د فقر او سختۍ، ځيني د دولت او استراحت د لارې په خپله آرزو او مقصد کې کاميابه سوي دي. هغه کسان چې دوارې لارې ئې طی کړې او په دوارو وسيلو سره د مطلوب کمال ته رسېدلي دي، ښځي لږ دي. څرنګه چې الله تعالی ﷻ داسي اراده وکړه، چې حضرت محمد ﷺ دي د انسانيت کامله نمونه وي، نو د دې له پاره چې دی و کمال مطلوب ته ورسېږي دوارې لارې ئې ورته سمې کړې، نو د کاميابۍ او آسايش په وخت کې پرته له بخښش او عفو بل کار د ده څخه نه ليدل کېدی، د سختۍ او تنګدستۍ په ورځ پرته له تحمل، صبر، ايمان، محکمۍ او پايداری څخه بل شی د ده مبارک څخه ښکاره نه سو.

هر کله چې به د ده مبارک ﷺ څخه معجزه وغوښتل سوه ويل به ئې: تر ټولو لوړه او غټه معجزه دغه عالم او مخلوق دئ. تاسي و مځکې ته وګورئ او د الله تعالی عجبه عجبه کارونه پکښې ووينئ. د الله تعالی هستي او لويي ومنئ او فکر پکښې ووهئ، وګورئ چې مځکه ئې پيدا کړه، بيا ئې ستاسي د تګ و راتګ له پاره لاري پکښې موجودي کړې او ستاسي رزق او خواړه ئې د مځکې د محصولاتو څخه مقدر کړل، د آسمان اوريځو ته ځير سئ، چې څنګه د يوه ځايه بل ځای ته ځي، بارانونه اوروي، د بارانو په ذريعه دغه وچې مړې مځکې شنې او زرغونې کېږي، ډول ډول ونې او رنګارنګ مېوې او ښکلي ښکلي ګلان له مځکې راباسي. وغويو، پسو، اوښانو او نورو حيواناتو ته ځير سئ چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی جل علی شانه څنګه دغه ډول وانبه او شینلي د دوی په وجود او مزاج کي په سپینو او خوږو شیدو الیشوي، تر ټولو دمخه او لوړ مخلوق ستاسي خپل وجود دئ، و خپل ځان ته وګورئ. دغه د الله ﷻ لو معجزه ده، نه واست پیدا سولاست، بېخي وړوکي واست لوی سولاست. بیا الله ﷻ تاسي ته عقل او پوهه درکړه، قوت ئې درکی، ښه ښایست ئې درکی، په تاسي کي یو خورا لوی او لوړ صفت چي رحمت دئ کښېښود، دغه رحمت که الله تعالی نه وای پیدا کړی خدای خبر دا جهان به برحال وای.

حضرت محمد رسول الله ﷺ خپلو دښمنانو او د الله تعالی منکرانو ته لاربنوونه کوله، چي نړۍ ته وګورئ! موجودات ئې وویني! څو وپوهېږئ چي الله تعالی د ټولو او پر ټولو باندې او آمر دئ، او هیڅ ځای نسته چي هلته د الله تعالی د قدرت او ربوبیت نخښي نه وي، هغه شیان چي د نن ورځي عصري علماء ئې ماده او قوه بولي، تقدس او تجرد ته ئې قایل نه دي بلکي خرید او فروش کوي، په کښتیو او طیارو کي مصرف کوي دا ټوله خدایي آیاتونه دي، لیکن ځینو دا حقایق نه دي پېژندلي، نه دي ورته ځیر سوي، په دې سبب چي دوی په ظواهرو بوخت او مشغوله دي او د کارد باطن څخه په غفلت کي دي او د الله تعالی اسرارو ته چي په ټولو کایناتو کي پټ دي نه دي ورته ځیر سوي او نه دي په خبر سوي، حقیقت دا دئ که دا سر نه وای د دې علومو څخه به هیڅ یو موجود نه وای. انسان هغه وخت د حقایقو په کشف موفق او د علومو لوړو درجو ته رسېږي چي دمخه تر هغه ئې خدای ﷻ پېژندلی وي نو علم د هغه چا له پاره دئ چي الله تعالی وپېژني او د علم او عرفان رونا ئې زړه او سترګي روښانه کړي وي، مګر علم او پوهه بې له الله پېژندلو ګواکي یو صورت دئ بې حقیقته، یا بې اوبو سراب دئ. لکه چي د غرب یوه پوه ئې مثال ویلی او وایي، چي: یو وروست او پوده لرګی دئ، یا وچ وانبه دئ.

حضرت محمد رسول الله ﷺ په ټوله عمر کي چي په مکه شریفه کي وو په کامل مسالمت سره ئې خلک د الله تعالی دین ته رابلل، په دلایلو او ښه پند، نصیحت، خلاص تندي او ښه وضع سره ئې دوی د اسلام دین ته داخلول، په همدې وسیله د هر هغه کسان چي د ده ربنتین توب او راستي ورمعلومه او څرګنده وه ایمان ئې راوړ مسلمانان سول، لکه چي په دې آیت کي و دغه مطلب ته اشاره سوې ده:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

[أَفَأَنْتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ].

آيا ته خلک پر ايمان راوړلو زورګيره کوې؟

د حضرت مبارک ﷺ د خلکو سره رويه د مسالمت د لاري څخه وه، ليکن د مکې معظمې کافرانو، يهودانو، او د عربو نورو قبيلو د ده مبارک په دښمنۍ په دغه قدر اکتفا نه کوله، چې و اسلام ته د ده بلنه ونه منې او د ده د رسالت څخه انکار وکې، بلکې دې ته تيار سوه چې دغه د اسلام د دعوت آواز چپ کې او دغه الهي بلنه د مابين څخه ورکه کړې له دې جهته ئې دی مبارک او يارانو ئې سخت وځوروول او خپله دښمني ئې زياته کړه، همدغه سبب وو، چې حکيم الله تعالى مسلمانانو ته د جنګ حکم ورکی څو وکولای سي، چې د ځانو څخه دفاع وکې او دغه د الله تعالى دعوت د دښمنانو د شره څخه وساتي او پرې ئې نه ږدي چې د دين دښمنان د خلکو د مسلمانېدلو او اسلام راوړلو مخه ونيسي، يا دغه کافران او دښمنان نوي راغلي کسان و نه غولوي يا آزار ورسوي په دې باره کې ئې فرمايلي دي:

[أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ].

هغه مظلومان چې د مقاتلې سره مخامخ سي کولای سي چې د دښمنانو سره جنګ وکي او د الله تعالى ﷻ و مرستې ته اميدواره وي.

او هم الله فرمايلي دي:

[وَقَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا].

د هغو کسانو سره چې ستاسي سره جنګ او مقاتله کوي تاسي هم د الله ﷻ په لاره کې د دوی سره جنګ کوئ، ليکن تعدی او ظلم مه کوئ.

او هم ئې فرمايلي دي:

[وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ].

د مشرکانو او کافرانو سره وجنګېږئ، څو د فتنې او فساد ريښه وخېژي او خلک تولە الله جل علی شانه ومني.

د الله ﷻ عبادت وکئ ديندارە سئ. په همدغه وخت حضرت مبارک ﷺ او يارانو ئې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په دفاع پيل وکی، په حقيقت کي دوی د حال په ژبه دغسي ويل:

اوس چي قريش د مسالمت د لاري رانه غلل او پرته له جنګ او وينو تويولو څخه بل څه نه غواړي او د حق و کلمې ته ئې غوږ ونه نيوی او سمي لاري ته ئې ونه کتل او ورته راوانه وښتل. نو اوس دي جنګ ته تيار وي او د جنګ سهمناکه ورځ دي پر ځان تېروي، چي د حضرت محمد رسول الله ﷺ د نرمۍ او ښه خوی په مقابل کي ئې سرکښۍ، خراب کارۍ او فساد ته لاس ورته کی او خپله ګمراهي ئې لا زياته کړه، چور چپاو او تاړاک ئې خوښ کی، د بېګناه خلکو په وژلو ئې لاس پوري کی. نو دغه دئ دا ئې ګز دا ئې ميدان! وي دي، چي د زړه ورو مېړو د توري واری وګوري او د خپلو بدو عملو نتيجه د خدای پرستو او ځان جاروونکو مسلمانانو د تېرې توري څخه وويني.

هغه د اسلام دښمن او بېعقل دغه نه ده سنجولې او نه دئ پوهېدلی چي وايي: د اسلام دين د توري په زور پر خلکو تحميل سوی دئ؟ په يه! هيڅکله دغسي نه ده، ځکه لکه چي ومو ويل: رسول الله ﷺ تر څو چي ممکن وو خلک د پند او نصيحت، ښېري او اميد، دليل او برهان د لاري و الله ﷻ او کمال ته راوبلل، ليکن هر کله چي ئې وليده چي پر تور زړه باندي د پند او نصيحت څه فايده او دا ورمعلومه سوه، چي د دې مدارا او نرمۍ څخه د دوی د سرکښۍ لمن لا پراخېږي، او آزار او قتل ته لا لاس غځوي، نو د ناچارۍ څخه ده مبارک او يارانو ئې لاس و توري ته وغځاوه.

هو! د حق د ترويج او د حقيقت د بيرغ د جګولو او د دين د ساتلو له پاره بايد د ژبې، حق او حقيقت د ملګرۍ څخه کار واخيستل سي، يا تېره توره استعمال سي.

د الله ﷻ اراده پر همدغه ده، چي تل د حق او باطل سره جنګ، او په پای کي حق غالب او فاتح سي.

د حق مثال لکه د غنمو داسي دئ، که کثافت او امبار ورسره ګډ او وکرل سي تر خاورو لاندي پټ سي پاک او ستره غنم شنه کېږي، کثافت يا په ګټورو شيانو کي حل يا بالکل محوه او ورک کېږي.

همدغه دئ هغه ناموس چي الله ﷻ د مخلوقاتو په عالم کي د حق، عدل، مهر او رحمت له رويه پيدا کړی دی، چي هر شی چي د اخلاقو او کمالاتو پر پايه ولاړ وي، د حق

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او حقیقت روح پکښې پو سوی دئ او بری ئې په برخه کوي.

دغه دین حضرت رسول اکرم ﷺ راوړ، یو لوی او خورا بزرګ حقیقت دئ چې په بشري عالم کي بنکاره سو. دغه دین د یوه عصر څخه و بل عصر ته او د یوې زمانې څخه و بلي زمانې ته ورسېدی. هغه اصلي او عین ذاتي مرغلره ئې په هغه پاکي، بنکلا، بنایست، رونا او ځلښت سره پر ځای پاته ده:

[إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ].

اسلام په خپله د حق اساس، د سمښت، راستې او حقیقت روح دئ، هغه خرافات، درواغ او تهمتونه چې دښمنانو پوري تړلي او هغه خبري چې په اسلام پسې ئې جوړې کړي دي ګرده او ټوله درواغ او ناحقه دي، اسلام د دغو ټولو څخه پاک دئ، دغه خبري او دغه کارونه اسلام ته زیان نه رسوي او نه ئې شرف کموي، د اسلام رونا او څراغ هیڅوک نه سي وژلای:

چراغی کی ایزد بر فروزد
هر آن کس پف زند ریشش بسوزد

سړی باید هیڅ تعجب ونه کي چې اسلام داسي و زړو ته لار پیدا کړه، د روح او وینو سره ګډ سو، کاذبه او باطل ملتونه او مذهبونه ئې له منځه یووړه، ځکه چې دا ټوله لکه وچ بوټي داسي وه، چې د اسلام تند اور پکښې ولوېد ټوله ئې ایرې وګرځول، لیکن په خپله دغه اور پر ځای او لګېدلی پاته دئ.

قرآن مجید تل د بشر د عمل او د قانون اینبودلو اساس او د وګړو د ژوند او د ټولو شئونو او مسایلو پېښوا او لارښوونکی دئ. قرآنکریم یو روښانه څراغ دئ، چې د ژوندون لارئې و ټوله عالم ته روښانه کړې ده او ښه او راسته لارئې ورښوولې ده، د الله تعالی ﷻ حکمت دغسي اقتضا درلوده، چې دغه قرآن شریف د یوه کلي قانون په څېر و خلکو ته و رعنایت کي څو چې خلک په هر وخت او هر ځای کي چې وي د خپل ژوندون خیر او اصلاح او تکلیف د هغه څخه استنباط کي. دیارلس نیم سوه کاله کېږي، چې د قرآن عظیم لوړ آواز د لکو لکو خلکو و غوږو ته رسېږي او دغه د حق آواز چې سر تر پایه اخلاص او رحم او مهر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دئ په روح او زړه کي ئې رسوخ موندلی دئ او هغه سرکښه او معاند عرب ئې د خپل بلاغت په مقابل کي خاضع او اپل کړي دي او ټولو د تسليم سر ورته کښته کی، او د هغه سره ئې په معاوضه کي پر عجز اقرار وکی.

د ربيعه عبشمي د زوی عتبه کيسه چي د بني عبد مناف د طايفې او د خپل قوم د بزرګانو او پېشوايانو څخه وو، بايد په پوره غور سره وکتل سي:

دغه عتبه و خپل قوم ته وويل: که مو خوښه وي زه به ورسم محمد ﷺ به ووينم د ده سره به خبري وکم، د ځينو شيانو وعده به ورسره وکم، ښايي چي راضي سي او زموږ څخه لاس واخلي. دوی ورته وويل:

ښه دئ، چي زړه دي غواړي هغسي وکه کامل اختيار ستا دئ. نو عتبه راغی، مبارک ﷺ پر لمانځه ولاړ وو ورته وئې ويل: اې زما وراره! ټوله پوهېږي چي ته تر ټولو په حسب او نسب کي لوړيې ليکن تا و لوی کار ته اقدام کړی دئ. عرب دي ګرده متفرق کړل، او د دوی افکار دي سره ټوک ټوک کړل. د عربو دين او خدايانو ته بد وايې، پلرونه او نيکه ګان کافران بولې. نو ته ما ته غوږ ونيسه چې زه څه درته وايم وائې وره او فکر پکښې وکه، ښايي چي زما خبري ومنې او قبولي ئې کې. حضرت محمد ﷺ ورته وويل: اې ابو وليده! څه چي دي په زړه کي دي ووايه.

عتبه وويل:

که دي د دې کارو څخه دا په خيال کي وي چي دنيا ټوله کې، چي هر څه دولت لرم تا ته ئې درکوم چي ته تر ټولو دولتمن سې او ستا دنيا تر ټولو زياته سي، که دي رياست او سرداري په زړه کي ده تا به موږ رئيس او سردار کړو، سرونه به ستا د فرمانه نه پېچو، که زموږ پاچهي غواړې تا به خپل پاچا وټاکو او که پوهېږي چي پېريان درباندي زور او درباندي ناست دي او که نه سې کولای چي ځان ځني خلاص کړې، نو طبيب به راولو او ډېري روپۍ به ورکو، چي تا ته دارو درکي.

حضرت رسول اکرم ﷺ وويل:

اې ابو وليده! که ستا خبري تمامي وي، نو زما خبرو ته غوږ ونيسه، پسله دغه د (فصلت) په سورة ئې شروع وکړه:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اعوذبالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

حمٓ ﴿١﴾ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ
يَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾ بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ﴿٤﴾ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ
أَكِنَّةٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٞ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٞ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ
﴿٥﴾ قُلۡ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمۡ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞ فَٱسۡتَقِيمُوٓاْ إِلَيۡهِ وَٱسۡتَغۡفِرُوهُۗ
وَوَيۡلٞ لِّلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦﴾ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿٧﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ أَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُونٖ ﴿٨﴾ ۞ قُلۡ أَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُونَ بِٱلَّذِي خَلَقَ
ٱلۡأَرۡضَ فِي يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُونَ لَهُۥٓ أَندَادٗاۚ ذَٰلِكَ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٩﴾ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن
فَوۡقِهَا وَبَٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَآ أَقۡوَٰتَهَا فِيٓ أَرۡبَعَةِ أَيَّامٖ سَوَآءٗ لِّلسَّآئِلِينَ ﴿١٠﴾ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰٓ إِلَى
ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٞ فَقَالَ لَهَا وَلِلۡأَرۡضِ ٱئۡتِيَا طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا قَالَتَآ أَتَيۡنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾
فَقَضَىٰهُنَّ سَبۡعَ سَمَٰوَاتٖ فِي يَوۡمَيۡنِ وَأَوۡحَىٰ فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمۡرَهَاۚ وَزَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا
بِمَصَٰبِيحَ وَحِفۡظٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿١٢﴾ فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ
مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذۡ جَآءَتۡهُمُ ٱلرُّسُلُ مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ أَلَّا
تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ قَالُواْ لَوۡ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةٗ فَإِنَّا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾ (سورة حم
السجده، ۱- ۱۴آیتونه).

د الله په نامه چې بخښونکی او مهربان دئ. دا قرآن چې د بخښونکي او مهربان الله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ﷻ له جانبه رااستول سوی دئ، کتاب دئ عربي له پاره د پوهانو آیتونه ئې په تفصیل سره راغلي دي، د بېري او امید درلودونکي دي، لیکن ډېرو خلکو مخ ګرځولی دئ نه ئې اوري، او وایي چې زموږ زړونه په پرده کي دي، زموږ غوږونه درانه سوي دي، ستا دعوت نه اروو، او نه ئې قبلوو، زموږ او ستا په منځ کي پرده ده، ته هر څه چې کوې موږ په خپل کار بوخت کېږو. ووایه اې محمده ﷺ! زه لکه تاسي یو بشر یم او ما ته وحي کېږي، چې ستا الله ﷻ یو او بې مثله دئ، نو د ده د معرفت او عبادت له پاره ولاړ سئ او استقامت وکئ او د ده څخه عفوه او بخښنه وغواړئ، عذاب (ویل) دئ د مشرکانو پر حال چې د خپل مال زکوة نه ورکوي او د آخرت څخه انکار وي، هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دئ، او ښه کارونه ئې کړي دي، الله ﷻ و هغو ته بې منته، بې عیبه، بې نقصه، مکافات او مزدوري ورکوي ورته ووایه آیا تاسي په هغه الله ﷻ چې محکه ئې په دوې ورځې پیدا کړه کافران کېږئ او و ده ته شریک نیسئ، خدای یو دئ او د ټوله جهان او مخلوقاتو رب دئ. هغه د (ځمکي له منځ ته راوړلو نه وروسته) پر هغې دپاسه غرونه مېخ کړل او په هغې کي ئې برکتونه واچول او په هغې کي ئې (د ټولو غوښتونکو لپاره د هر یوه له غوښتنې او اړتیا سره سم) په صحیح اندازه خوراکي مواد بربر کړل. دغه ټولي چاري په څلورو ورځو کي سر ته ورسېدې.

"مفسرین وایي دوې ورځې د هغو څلورو ورځو څخه د محکي د پیدا کېدو هغه دوې ورځې دي". پوره لکه چې غوښتونکي ئې غواړي (یعني روزي مو د خلکو د احتیاج د اقتضا په قدر او د انسان د فطري درخواست او تکویني سوال سره سم مقدره کړه) بیا ئې د آسمان په پیدا کېدو اراده وکړه او هغه دود وو، نو ئې محکي او آسمان ته وفرمایل:

خامخا و ما ته راسئ، دوی وویل: د میل د رویه اطاعت کوو، بیا ئې اووه اسمانونه په دوې ورځې کي پیدا کړه، او هر آسمان ته ئې خپل د کار دستور ورکی، او د دنیا آسمان مې په څراغونو بنایسته کی، او هغه ستوري مو د نګهبانۍ له پاره استعمال کړل. دغه دي د عزیز او منیع دانا الله ﷻ مقدرات، نو که کافران اعراض کوي، نو ورته ووایه: زه تاسي د ټکي او تندري لکه د عاد او ثمودیانو د قوم ټکه چې وه ببرومه، چې رسولان هم تر دوی دمخه او هم ئې وروسته راغله او ورته وئې ویل: پرته له الله ﷻ څخه د بل چا عبادت مه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوئ، دوی وویل: که خدای غوښتای ملایکي به ئې را استولي وای، ناحقه زحمت مه کاږئ پر هغه چي تاسي موږ بولئ ایمان نه راوړو.

په دغه وخت کي عتبه د مبارک ﷺ خوله ونیوله، ده ته ئې په خپله خپلوي قسم ورکی چي لاس د قرائت څخه واخله، هر کله چي عتبه و خپل قوم ته ورغی او د ده څخه ئې د کیفیت پوښتنه وکړه، نو ئې وویل:

قسم په خدای دئ لکه چي نن مي واورېدل نه مي وو اورېدلي، په الله جل علی شانه قسم دئ، چي دغه ویل نه شعر دئ، نه کهانت او نه سحر دئ. اې قریشو! زما څخه خبره واورئ د دې سړي څخه لاس واخلئ او دی و خپل کار ته پرېږدئ، قسم په خدای دئ هغه چي ما نن ورځ واورېدل ژر دئ چي تاثیر او اهمیت ئې غوږو ته ورسېږي، تاسي ګورئ انتظار باسئ که عرب پر ده غالبه سي نو تاسي بې زحمته خپل مطلب ته ورسېدا ست او که دی پر عربو غالب او فاتح سو نو د ده عزت ستاسي عزت دئ.

قریشو چي د عتبه خبري واورېدې ورته وئې ویل:

محمد ﷺ ته په خپل سحر خطا ایستې.

عتبه وویل:

هغه چي زما عقیده وه ومي ویل او د ابلاغ شرط مي پر ځای کړ، نو اوس که زما په خبرو پند اخلئ، خوشحالېږئ او که خپه کېږئ تر دې قضیې وروسته ئې حضرت محمد رسول الله ﷺ ته وویل:

راسه چي په عبادت کي یو د بله شراکت وکو، موږ به هغه عبادت چي ته وائې کوو به ئې ته هم زموږ عبادت کوه، د دوی د جواب له پاره د (قل یا ایها الکافرون) سورة نازل سو، د دې کار څخه هم ناامیده سول، بیا ئې د ده څخه وغوښتل چي د بتانو بد ویل او په خپله دوی ته د سرزنش خبري د قرآن څخه وباسه، نو موږ به بیا نه قهرېږو، نو دغه آیت نازل سو:

قُلْ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآيِ نَفْسِيٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۖ .

(سورة یونس - ۱۵ آیت).

ووایه! زه په ټولو کارو کي د وحي او د الله ﷻ د فرمان مطیع یم، زه نه سوای کولای چي ستاسي د زړه له پاره قرآن تغیر او تبدیل کړم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هر کله چې د دې لارو څخه و مطلب ته ونه رسېدل، نو ئې وغوښتل چې دی مبارک د معجزې غوښتلو د لارې عاجزه کي. نو ئې د سپوږمۍ د چاودلو معجزه ځني وغوښتله.

الله ﷻ دا معجزه و ده ته ور عنایت کړه.

اَقْتَرَبَتِ اَلسَّاعَةُ وَاَنشَقَّ اَلْقَمَرُ ﴿١﴾ (سورة قمر - ۱ آیت).

چې دا معجزه ئې ولیدله بیا ئې په دښمنۍ او لجاجت لاس پورې کی او وې ویل:

لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ تَفْجُرَ لَنَا مِنَ اَلْأَرْضِ يَنۢبُوعًا ﴿٩٠﴾ أَوْ تَكُونَ لَكَ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ وَعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ اَلْأَنْهَٰرَ خِلَٰلَهَا تَفْجِيرًا ﴿٩١﴾ (سورة بني اسرائيل: ۹۱ - ۹۲ آیتونه).

هیڅکله پر تا ایمان نه راوړو، مګر د مځکې څخه یوه چینه جاري کړې، یا د انګورو او خرما باغ ولرې، او د اوبو ولې د هغه په منځ کې وي.

حضرت مبارک ﷺ د دوی په جواب کې دا آیت ووایه:

قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولًا ﴿٩٣﴾ (سورة بني اسرائيل: ۹۳ آیت).

ووایه پاک دئ الله! زه تر رسالت علاوه د نورو سره فرق نه لرم.

دا جواب د دې له پاره وو، چې د دوی عناد، لجاجت او تعصب معلوم وو او الله ﷻ ته معلومه وه، چې هر څه معجزې چې وویني ایمان نه راوړي:

وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ (سورة الانعام: ۱۰۹ آیت).

ځکه چې د داسې کسانو څخه هیڅ د خیر امید نه وو، چې د دې پر ځای چې د الله ﷻ څخه هدایت وغواړي دا به ئې ویل:

اَللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ اَلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ اَلسَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ (سورة الانفال: ۳۲ آیت).

خدایه! که هغه شی چې محمد ﷺ راوړی دئ حق او ستا له جانبه وي نو د آسمانه دبرې پرموږ واوروه، یا موږ په سخت عذاب اخته کړه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هر کله چې مشرکان وپوهېدل، چې په دلايلو سره د اسلام سره مقاومت نه سي کولای. نو ئې د زور او اذيت په سياست لاس پورې کی، لکه چې د ابراهيم عليه السلام قوم چې په دلايلو کې پرسوله، نو ئې وويل:

حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُوٓاْ ءَالِهَتَكُمۡ (سورة الانبياء: ٦٨ آيت).

دی وسوځئ او د خپلو خدايانو سره مرسته وکئ.

(٦)

د رحمة اللعلمين ﷺ ثبات او پايداري

هر کله چې سړی په خپل ژوندون کې د سهمناکه او سختو پېښو سره مخامخ سي اخلاق ئې غوره (ورزيده) کېږي، لکه چې زر په بوته کې پاک، سوتره او خالص ګرځي. د انسان خلق هم د زمانې د حوادثو او سختيو په بوته کې خالص او په نتيجه کې پابرجای او ثابت ګرځي.

سختۍ او ناوړې پېښې هغه شی چې د انسان په باطن کې دې ښکاره او څرګندوي ئې، په داسې ډول چې يا سړی د خلق عظيم څښتن کوي، چې په کلو کلو او زمانو زمانو نور وګړي د هغه د رونا څخه استفاده کوي او يا دا چې ببخي ئې ورک او معدوم کوي، له همدې جهته پر هغو کسانو چې غټ غټ مقصدونه لري او غواړي چې خپلې آرزو او مقصد ته ورسېږي لازم دئ، چې د هر ډول سختۍ او حملې او د هر ډول سهمناکې پېښې و تحمل ته ځان تيار کي، او د پاک مبارک رسول الله ﷺ پېښه تېنګول او ثبات په خپل ژوندون کې د ځان سرمشق وګرځوي.

ثبات او پايداري داسې صفات دي، چې د الهي قدرت په مظاهرو پورې مخصوص دي، ځکه چې دغه مظاهر پر يوه قرار او يوه روش بې له کوم تغيره ګردش کوي، مځکه تل په تاکلي وخت او يوه مخصوص روش پر لمر ګرځي او خپلې دورې او ګرځېده و پای ته رسوي. باد او باران تر يوه مخصوص نظام لاندې اجراآت را الوزوي او اوري. د حق د قدرت د نورو مظاهرو حال پر همدغه ډول دئ.

ثبات او صبر او پېښه تېنګول په ډېرو حالاتو کې لکه پرې او ماتې، بخت او بدبختي،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ناداري او بډايي کي تجلی لري.

حضرت محمد ﷺ هغه څوک دئ، چي د ټينګار او ثابت قدمۍ خلق د ده په وجود کي خپلي لوړي درجې ته رسېدلی دئ. دی مبارک په دې صفت کي بې مثاله دئ.

په جګړو کي ئې فتح کوله مګر ځان مني، تکبر او لويي ئې نه په کوله، د عربو د ټولو ښارو خزاني ورته راتلې ليکن په خورک او لباس کي ئې زيادت او توپير ونه سو، له همدې جهته پر ګردو لوړ او د دين او دنيا سرداري ئې په برخه سوله.

حضرت محمد ﷺ دې کاله هغه سخت قومونه چي زړه ئې لکه ډبره او پرته له بې معنی بتانو د بل چا عبادت ئې نه کاوه، د ده مبارک د بلنې او دعوت په مقابل کي ئې پرته له مسخرو او ريشخندو څخه بل کار ونه ليد. په ګردو عربو کي پرته د ديارلسو تنو څخه د ده مبارک دعوت نه کی قبول، پرته له ده مبارک څخه هر سړی د کار د عدم پېشرفت له امله ستړی او سست کېدی، مګر حضرت بهترين عالم ﷺ په ټينګ عزم، کلک تحمل او ټينګار سره خپل دعوت او کار ته ادامه ورکړه او د خلکو د لاربنوونې څخه ئې لاس وانه خيست.

هغه ورځ چې د الله ﷻ له جانبه فرمان ورورسېدی، چې په بنکاره لاربنوونه کوه:

فَٱصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ (الحجر سورة- ۹۴ آيت).

د الله ﷻ فرمان په بنکاره چلوه او د مشرکانو څخه ګوښه سه.

نو قريش ئې په بنکاره د الله ﷻ و وحدت او د بتانو د عبادت و پرېښولو ته دعوت کړه. له دغه وروسته ګړځېدی د خلکو کورو ته ورتلی او دوی ته به ئې په ډډه ويل:

[ان الله يامرکم ان تعبدوه و لاتشرکوا به شيئا].

الله جل علی شانه تاسي ته حکم کوي چې يوازي د ده عبادت کوئ بل هيڅوک او هيڅ شی د ده سره مه شريک کوئ.

ابو لهب ترده ورروسته تی او خلکو ته ئې ويل:

آخلکو! دغه سړی و تاسي ته وايي چې د پلرو د دين څخه لاس واخلئ.

کله چې حضرت اکرم ﷺ په کعبه شريفه کي پر سجده پروت وو، د ابي معيط زوی عقبه خپله پښه د ده مبارک پر مغزي کښېښووله، دونه ئې زور پر وکی چې نږدې وو، د حضرت محمد ﷺ مبارکي سترګي د خپلو غالبانو څخه دباندي ووزي او نورو کافرانو هم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ترستوني کلک ونيو. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ور ولاړ سو، دی ئې هم آزار کی او د سر او ږيري تر ورېښتانو ئې ونيو، دونه ئې کش کړ، چې اکثره ورېښتان ئې وختل. نو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وويل:

آيا دغه سړی هسې پر دغه باندې وژنئ، چې وايي زما خدای الله ﷻ دئ.

بل وخت حضرت رسول الله ﷺ په کعبه شريفه کې لمونځ کاوه، د قريشو يوه ډله خلک ناست وه، يوه ئې وويل: آيا دغه سړی نه وينئ چې څه کوي؟ کوم يو به د هغه فلانکي د مړه اوښ لری د لرشين سره راوړي چې دی پر سجده وي پر څټ ئې وروا چوي؟ يو سړی ولاړ سو چې دا کار زه کوم، ورغی لری ئې راوړ د ده مبارک د اوږو په منځ کې ئې کښېښود، حضرت محمد ﷺ باک په ونه کی پر سجده پروت وو، د بښمنانو ئې دونه په هره هاري وخندل، چې د ډېرې خندا څخه يو د بله غوځارېدل، وروسته بې بې فاطمه رضي الله عنها چې لا کوچنۍ نجلۍ وه راغله او لری ئې د ده مبارک ﷺ د اوږو څخه ايسته کی، مګر حضرت محمد ﷺ لا پر سجده وو.

حضرت محمد ﷺ د الله تعالی ﷻ په حکم او د ده ﷻ په مرسته ئې په بنکاره دعوت کاوه او د صفا پر غره وخوت او په لوړ آواز ئې ناري کړه:

بني قهر او بي عدی چې د قريشو څخه وه ور وئې بلل، ټوله ورغلل، که څوک نه سوای تلای بل يو به ئې ورولېږه، چې حال راوړي، چې دوی گرده سره راټول سول، نو حضرت محمد ﷺ وويل:

که تاسي ته ووايم چې د صفا د غره تر شا دښمنان ستاسي د چور او چپاو له پاره را رهي سوي دي نو باور کوئ، که يه؟ ټولو وويل: هو! ځکه چې هيڅکله موږ ستا څخه درواغ نه دي اوريدلي.

نو حضرت محمد ﷺ وويل، چې: د ډېر سخت عذاب درپسې دئ، خبر مي کړ است! ابو لهب باندې په قهر سو، چې موږ دي د دې خبري له پاره راغوندې کړلو؟

نو الله تعالی ﷻ د ده په باره کې دا سورة نازل کی:

تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لَهَبٍ ﴿٣﴾ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ﴿٤﴾ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدٖ ﴿٥﴾ (د اللهب سورة، ۱-۵ آيتونه).

د ابي لهب لاسونه دي مات سي، او زيان كاره دي سي. د ده دارايي او سوداگري دي د ده په ښه نه ورځي، بل اور دي دی وسوځي او د ده د ماينې چي چغلگره ده رسۍ يا د اوسپني كړۍ دې په غاړه كي ولوېږي.

څنگه چي د ابي لهب ښځي د ښځو په مجلس كي پر حضرت محمد ﷺ درواغ ترړل نو له دې جهته د (حمالة الحطب) لفظ د دې كنايه وگڼل سو، پس له دې واقعې دا آيات نازل سو:

وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ (الشعراء سورة- ۲۱۴ آيت).

خپل نژدې خپلوان دي وېرووه. چي په دې كي دغه مراد دئ: (بني هاشم، بني مطلب، بني نوفل، بني عبد شمس چي د عبدمناف اولاده ده). حضرت محمد ﷺ دوی راوبلل، چي راتول سول، ورته وئې ويل: هيڅ يو مشر و خپلو خلكو ته درواغ نه وايي، په الله ﷻ قسم دئ كه په فرض محال سره داسي سړی چي و هر چا ته درواغ ويلای ليكن تاسي ته مي درواغ نه ويل، كه مي تولې خلك غولولای ستاسي سره مي دغسي نه كول. قسم په الله ﷻ دئ چي پرته له دغه څخه بل الله نسته! زه د الله تعالى رسول يم چي تول خلك خصوصاً تاسي و الله ﷻ ته راوبولم. قسم په الله ﷻ دئ، چي تاسي لكه بيد پرئ دغسي به مړه سئ، او لكه چي وينې پرئ دغسي به په قيامت وپاڅول سئ. هر څه عملونه چي مو كړي دي د هغو به اينه پر بينه پوښتنه درڅخه وسي، د نېكۍ په مقابل كي به نېكي او د بد سزا به په بدي سره وويني. تولې وپوهېږئ چي په آخر كي يا ابدي جنت دئ يا دوږخ او تونډ اور.

قريش چي د بتانو معتقد او خدمتگاره وه او د كعبې شريفي تولائې په لاس كي وه، په دغه سبب پر نورو سرداران وه، خورا سخت په قهر او په غضب سول او وئې ويل:

دا څوك دئ، چي ځان تر موږ تولو هوښيار بولي، او موږ ته د بتانو پر عبادت سرزنش راكوي او موږ بېعقل او ناپوه بولي؟ تولو د ده مبارك و دښمنۍ ته ملا وترله. حضرت محمد ﷺ د خپل دعوت و ابلاغ ته ساعي سو او په دې پر استقامت سره ئې د الله ﷻ حكم و خلكو ته رساوه، قريشو تر پخوا لا دېره د ده سره بغض او كينه په زړو كي تينگه كړه او يو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بله ئې د ده و دښمنۍ ته خلک پاروول، چې د دوی یوه ډله و ابو طالب ته ورغله او ورته وئې وویل:

ستا وراره زموږ خدایانو ته بد او رد وایي او زموږ دین بد او باطل ګڼي، موږ ببعقلان بولي پر موږ د ناپوهانو حکم کوي، نو خامخا دی له دغو خبرو څخه منع که، یا د ده د حفاظت او ساتنې څخه لاس واخله، دی موږ ته راپریږده، ځکه چې ته هم زموږ د ډلې څخه ئې او ستا اعتقاد زموږ اعتقاد دئ، ابو طالب په خوښي او نرمي سره جواب ورکی او رخصت ئې کړل.

حضرت محمد ﷺ په ډېره مینه په خپل کار بوخت او د الله تعالی ﷻ دین ئې په ښکاره خپراوه او خلک ئې و الله ﷻ ته رابلل، کرار - کرار کار سختېدی او د وګړو په منځ کې دښمني او تفریقه پیدا سوله. قریش وببرېدل، بیا ابو طالب ته راغلل او وزته وئې ویل: موږ تر دې زیات ستا د وراره خبري نه سو سهلای. ابو طالب حیران سو، چې څه وکي؟ ځکه له یوې خوا ئې د خپلې دښمنۍ او جلا کېدو تاب په ځان کې نه لیدی او له بلې خوا ئې دا مناسب او روا نه ګڼله چې د خپل وراره د حفاظت څخه لاس واخلي، و دې کار ته ئې هم تن نه سوای ورکولای، ابو طالب خپل وراره په ډېره نرمي او مهر سره خپل کار ته پرېښود، دی مبارک ﷺ ئې له دعوت څخه نه منع کاوه، څو الهي قوت د مبارک ﷺ سره مرسته وکړه، په پای کې خپل قوم مایوس کی، و ابو طالب ته ئې وویل:

زه به د خپلو له دعوت څخه لاس وانه خلم څو یا د الله ﷻ دین خپور نه کم کامیابه نه سم او یا ځان جار نه کم. ابو طالب ورته وویل:

چې زړه دي غواړي کوه ئې، هر څه چې وائې وایه ئې. په الله ﷻ سره مي قسم دئ، چې تینګ حمایت دي کوم. په دې وخت کې د عربو قبیلې د څو کسو مسلمانانو په مقابل کې پورته سولې، او هره قبیله چې د دوی څخه به کوم سړی په اسلام مشرفه سو هغه به ئې واهه او تکاوه به ئې. د عربو قبیله دوې ډلې سوه: بني هاشم او بني عبدالمطلب. د ابو طالب سره ئې د حضرت محمد ﷺ پر مرسته تړون وکی، او نورو د ده مبارک پر آزار. مشرکانو د مسلمانانو و آزار ته ملا وتړله، کار ډېر سخت سو، تر دې چې یوه ورځ د ابو جهل ملعون په مخه د عمار بن یاسر مور بي بي سمیه رضی الله عنها ورغله، دې مبارکي د دین په لار

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کي هر ډول زحمتونه پر ځان ګالل، ابو جهل دغه مبارکه بنځه په نېزه ووهل شهيده ئې کړه. يو له دغې جملې څخه چې د مسلمانانو له پاره د عبرت او پند وړ ده، د ابو ذر رضي الله عنه روايت دئ، چې وايي:

هغه کسان چې لومړی ئې خپل اسلام بنکاره کی اووه تنه وه: حضرت محمد ﷺ، ابوبکر صديق، حضرت عمار، او مور ئې بي بي سميه، حضرت صهيب، حضرت بلال او حضرت مقداد رضي الله عنهم[1]. د دغو اوو کسو څخه دوه کسه يو حضرت مبارک ﷺ چې کاکا ابو طالب ئې حمايت کاوه، بل حضرت صديق اکبر رضي الله عنه چې قوم ئې حمايت کاوه، د مشرکانو د سخت عذابه نسبت نورو ته آرام وه، ليکن هغه نور پنځه تنه د مشرکانو تر سختي شکنجې لاندې او د مشرکانو په ډول ډول عذابو اخته وه، چې حضرت بلال رضي الله عنه ئې د هلکانو په لاس ورکړی وو، چې د مکې معظمې په درو او تيږو کي ئې وګرځوي او وئې ځوروي. حضرت بلال رضي الله عنه د دغه زحمت تحمل کاوه او تل به ئې ويل: (احد - احد).

حضرت رسول الله ﷺ چې د مشرکانو دغه سختي او ظلم وليد چې مسلمانان ځني په عذاب وه نو ئې د رسالت په پنځم کال د رجب المرجب په مياشت کي و خپلو يارانو ته حکم وکی چې و حبشې ته هجرت وکي، نو يوولس کسه نارينه او څلور تنې بنځي چې تر ټولو دمخه حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه او د ده زوجه مبارکه بي بي رقيه رضي الله عنها د حضرت محمد ﷺ لور رهي سول حبشې ته ولاړل، هر کله چې قريش په خبر سوه چې مسلمانان مهاجران په حبشه کي د آرامۍ ژوندون کوي نو ئې عمرو، عاص، عبدالله، ابي ربيعه سره له ډېرو سوغاتو و نجاشي ته ولېږل چې مهاجران بيرته په لاس ورکی راوئې لېږي. نجاشي دغه سوغاتونه قبول نه کړل او بيرته ئې نااميده جواب ورکی.

حضرت محمد ﷺ سره له دغه اړيو د الله تعالى د دين په خپرولو کي ځان ونه سپماوه، هغه کسان چې د حج د ادا له پاره مکې معظمې ته راتلل و اسلام ته ئې رابلل،

---

[1] دغه تعبير چې حضرت محمد ﷺ د نورو په لړ کي داخل کړی دئ، د حرارته خالي نه دئ، که نه دی مبارک د طفوليته بلکي د ازله څخه د هر ډول پليدۍ څخه پاک وو، او حضرت علي کرم الله وجهه چې يې نه دئ ياد کړی دغه د حقيقت څخه مخالفه ده، ځکه چې لومړی سړی چې اسلام يې راو ړی او بنکاره کړی دئ، محققاً حضرت علي رضي الله عنه دئ. د انذار عشيره کيسه او دغه آية شريف: [افمن كان على بينة من ربه و يتلوه شاهد منه] او نور د ډېرو روايات او اخبار چې د خاصو او عامو له لاري وارد سوي دي دغه مطلب بنه روښانه کوي. (م).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کافرانو هم د ده په دښمني او د اسلام په مخه نيولو کي ئې کوښښ کاوه، يوازي په مېړو کي ابو طالب وو، چي د ده ساتنه ئې کوله څو چي وس ئې وو د مشرکانو او دښمنانو د آزارولو څخه ئې ساتی، په ښځو کي ام المؤمنين بي بي خديجه رضي الله عنها وه، چي د ده مبارک سره ئې په ټولو کارو کي مرسته کوله او ده مبارک ته ئې د زړه ډاډ ورکاوه.

د حضرت محمد ﷺ پاکو يارانو د دغو ټولو عذابو او زحمتو په مقابل کي صبر او تحمل کاوه، د الله جل علی شانه او د حضرت رسول الله ﷺ رضامندي ئې لاس ته راوستله، څو د بعثت لسم کال سو، چي دغه کال گواکي په حقيقت کي د آنحضرت ﷺ د مصيبت کال وو، په دغه کال ابو طالب هم تر دنيا تېر سو، او بي بي خديجې رضي الله عنها هم رحلت وکی، دغي پېښي پر حضرت محمد ﷺ ډېر اثر وکی تر دې حده چي دغه کال ئې (عام الحزن) يعني د غم کال وباله. د حضرت محمد ﷺ دښمنانو د ابو طالب مرگ غنيمت وگانه. د حضرت محمد ﷺ او د ده د يارانو په آزارولو ئې لاس پوري کړ. او هغه تکليفونه چي د ابو طالب د ژوند په وخت کي ئې نه سواى رسولاى ور وئې رسول، حضرت محمد ﷺ سخت په خطر کي ولوېدی، بې عقيدې خلکو داسي گومان کاوه، دا کار په تعويق او نېستی کي ولوېدی، ليکن حکيم الله جل جلاله دغه بزرگ کار محکم کی او پرې ئې نه ښو چي بې سرپرست او نېستي سي.

د بعثت په ديارلسم کال د مدينې شريفي څخه يوه ډله د حج له پاره مکې شريفي ته راغله او د حضرت محمد ﷺ سره ئې ملاقات وکی او د ده مبارک سره ئې ترون وکی چي دی مبارک و مدينې ته راسي، موږ به دی حمايت کوو او د دښمنانو سره به ئې جنگ کوو. مشرکانو چي دا خبري واورېدې چي رسول الله ﷺ داسي يو ترون کړی دئ، نو ئې د ده پر اذيت او آزارولو لا ببړه وکړله، نو ځکه د حضرت محمد ﷺ په امر مسلمانانو و مدينې شريفي ته هجرت شروع کی، د مکې شريفي څخه ولاړل، څو وکولای سي چي د الله تعالی جل جلاله دين چي دوستي ئې د دوی په زړو، غوښو، رگو، وينو کي اخښلې ده وساتي او الله جل جلاله په عبادت مشغوله وي. د همدې لامله ئې د پلار، زوی، لور او عيال ښلتون هيڅ نه گانه. هر کله چي د قريشو ته خبر ورسېدی، چي د حضرت محمد ﷺ ياران و مدينې منورې ته ځي نو په (دارالندوة) کي سره ټول سوله، مشوره ئې وکړه چي د حضرت محمد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ﷺ او د یارانو په باره کي څه چاره وکي؟ یوه وویل:

دی به د خپل وطنه وباسو، چي پر آرامه سو. نورو دغه رایه په دې سبب رد کړه، چي که حضرت محمد ﷺ د مکې دباندي ولاړ سي نو خلک به د ده د خوږو خبرو او ښه رسا بیان او شېرینې ژبې په واسطه پر راتهول سي. بل یوه وویل:

رائځئ چي بندي ئې کړو، دا رایه هم ونه منله سوه، ځکه دوی وویل، چي دغه د بند خبر ئې و یارانو او دوستانو ته رسېږي، نو په جنګ به پیل او بیرته به ئې خلاص کي. په آخر کي یوه وویل:

دی به (نعوذبالله) ووژنو، او د دې له پاره چي بني عبد مناف ئې خون وانه خیستلای سي نو د هر قبیلې څخه به یو یو زړه ور ځوان انتخاب کړو، دغه ځوانان دي د حضرت محمد ﷺ د کور دمخه سره تهول سي چي د کوره راووزي تهوله دي په یوه پلا حمله پر وکي، کار دې خلاص کي، په داسي ډول چي تهوله قاتلان وګڼل سي نو د دې جهته به د ده خون په تهولو قبایلو کي تیت سي او بني عبد مناف به ناچاره د دیت په اخیستلو قناعت وکي، دا رایه تهولو خوښه کړه.

هر کله چي شپه سوله، تهوله د حضرت محمد ﷺ و کور ته راغله غلي سوله، چي دی بیده سي نو کار ئې ورو کي. حضرت رسول الله ﷺ حضرت علي کرم الله وجهه ته امر وکی، چي زما پر بستره پرپوزه، "دغو ځوانانو د دروازې تر چاک کتل او د حضرت محمد ﷺ د ځای څارئې کاوه، څو وئې وینې چي څوک پروت دئ که یه؟"

حضرت محمد ﷺ خپله عبا مبارکه پر حضرت علي رضي الله عنه هواره کړه، حضرت علي کرم الله وجهه لومړی ځان جاروونکی دئ، چي د الله ﷻ په لار کي تر خپل ځان تېر سو. پیغمبر ﷺ چي حضرت علي کرم الله وجهه پر خپل ځای بیده کی دباندي راووت د الله ﷻ په حکم هیچا ونه لید، راغی و هغه ځای ته چي د حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه سره ئې وعده کړې وه. د هغه ځایه څخه دواړه د (ثور) غار ته ورغله، په غار ننوتل. حضرت محمد ﷺ چي د مکې معظمې څخه ووت و کعبې شریفي ته ئې وکتل، قسم په خدای ﷻ دئ چي تر تهولو مځکو ما ته محبوبه ئې، الله ﷻ هم تا تر تهولو مځکو خوښه لري، که ستا اوسېدونکو وګړو زه نه ایستلای، زه ستا څخه نه لیرې کېدم.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

محمد ﷺ هغه غټ او سرتمبه دښمنان وي او ده ته سخت آزار ورسوي څو بله چاره ودرپږي پرته له دې چې حضرت محمد ﷺ له دوی څخه لیري او د خپل ښار څخه هجرت وکي.

حضرت محمد ﷺ دغه ټوله زحمت او تکلیف پر ځان تېراوه، او تل ئې د خپل دعوت په لار کي کار کاوه، شپه او ورځ ئې په پټه او لڅه په لوړ آواز بې له بېري او ډار امر د الله و خلکو ته رساوه، تر څو چې جزیرة العرب خپل سرونه د ده مبارک فرمان ته کښته کی او خلکو په ډلو ډلو د ده دین قبول کی او حکم ته ئې غاړه کښېښوو له.

وروسته ئې د جزیرة العرب دباندي و خلکو ته په هدایت ورکولو لاس پوري کی. یوه ډله ئې د خپلو یارانو څخه چې غیرتمن او د ټینګ ایمان څښتنان او پوهان او ژبه ور وه غوره ئې کړل، دوی ئې د جزیرة العرب دباندي پاچهانو ته واستول، او هغه ئې د اسلام دین ته راوبلل. حضرت محمد ﷺ په هر حال د خپل مقصد په لاره کي کار کاوه، یو ګړی د دغه کار څخه آرام نه کښېنو.ست، هیڅکله د ده کوم لغزش او ښوئېدل نه دي پېښ سوي، صبر ئې کاوه، بردباري ئې کوله، تکلیفونه او زحمتونه ئې پر ځان تېرول، تحمل ئې کاوه. لکه چې دمخه مو وویل: د کامیابۍ قدرت او توانایي په حال کي ئې هم بخښنه ئې کوله، د بېعقل او جاهل په مقابل کي ئې صبر کاوه، حضرت بي بي عائشه رضی الله عنها وایي:

هر کله چې به حضرت محمد ﷺ ته دوه کارونه پېښ سول، اول به ئې هغه آسانه کار کاوه، مګر نه په دې حال چې ګناه به وه، په دې صورت کي به ئې ځان لیري ځني ساتی، او که به ئې پر درد کاوه هغه درد او خښم به ئې د الله ﷻ له پاره وو، هیڅ وخت ئې د ځان له پاره د چا څخه انتقام نه کیښ. د اُحد په جنګ کي وروسته تر دې چې ډېر زحمتونه پر وغله و ده ته وویل سوه، چې پر قوم باندي لعن ووایه. ده مبارک وویل:

[اني لم ابعث لعانا و لیکن بعثت داعیا و رحمة، اللهم اهد قومی فانهم لایعلمون].

زه د الله ﷻ له جانبه نه یم را استول سوی، چې پر خلکو لعنت ووایم، بلکي راغلی یم چې دوی و راستې لاري ته راوبولم، او رحمت ته ئې ورسوم. یا الله زما قوم ته لار وښیه، ځکه چې دوی ناپوه دي.

لکه چې دمخه و دې ته اشاره وسوه، حضرت محمد ﷺ یوازي ئې لعنت نه وایه، بلکي عفوه ئې کوله، مهرباني ئې کوله، رحمت ئې کاوه، دعا او شفاعت ئې کاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

له دغه تپره بيان څخه دا ثابتپږي، چې حضرت محمد ﷺ تر ټولو انبياوو عليهم السلام زيات زحمتونه ګاللي دي او ډول ډول حالاتو سره لکه دارايي، او مسکنت، بېغمي او بېري او نورو سره مخامخ سوی دئ، چې په خپل ښار کي ډول ډول زحمتونه او ربړونه ئې وليدل، په پای کي و هجرت ته اړ سو. ياران او دوستان ئې په مخ کي شهيدان سوي دي، روحي او بدني آزار او تکليف پر تپر سوی دئ. درواغ پوري ترړل سوي دي، بهتان او افترا پر ويل سوي دي، په دغو ټولو حالاتو کي ئې صبر کړی دئ، او خلک ئې الله ﷻ ته رابللي دي. ربنتيا همدا ده، چې هيڅ يوه پيغمبر د ده مبارک زحمتونه او خواری پر ځان نه دي ګاللي او نه ئې ليدلي دي، له همدې سببه الله تعالی ﷻ هغه چې ده مبارک ته ئې ورکړي دي و هيڅ يوه پيغمبر ته ئې نه دي ورکړي. نوم ئې دونه لوړ کی چې د خپل نامه سره ئې يو ځای کی، دی ئې د ټول عالم سردار کی، د ده مبارک شفاعت ئې تر ټولو پيغمبرانو مقبول او د ده مقام او مرتبه ئې تر ګردو لوړه کړه، د ده مبارک د تحمل، زحمتونه، او آزيتونه او تکاليف د ده د کرامت د ظهور او د خدای ﷻ په نزد د ده د شرف او فضل موجب سول، د همدې جهته هغه لوړ مقام الله ﷻ و ده ته ورکی. د حضرت رسول الله ﷺ د ورځې حال هم همدغسي دئ، د هر يوه په برخه يو څه اندازه زحمت او تکليف وو چې په همدغه اندازه سره الله تعالی ﷻ دوی و کمال ته ورسول. هغه کسان چې د دې کارو څخه خلاص دي هغه کمال ته لار نه لري، دوی داسي دي لکه چې دنيا د دوی او دوی د دنيا له پاره پيدا سوي دي، چې وخوري، بيده سي. د الله اوليا په عين زحمت او تکليف کي خوشحاله، آسوده او په راحت دي، د دنيايي وګړو بېله لار او د اولياوو بېله لار ده، او هر يوه لره بېله بېله انديښنه او فکر دئ، او هر يو بېل مطلب او خواهش لري، د دنيوي وګړو همت دا دئ، چې د جاه خاوند سي او ډېره دنيا، مال او خزانې ټولي کي، او د عاجز کمیس وکاږي او پر دوی نفوذ پيدا کي، ليکن د اولياوو او د ټينګ عزم او قوي ارادې د خاوندانو همت دا دئ، چې د حق کلمه لوړه کي او د الله تعالی ﷻ دين تقويه او لوړ کي، باطل مذهبونه او باطلي لاري له منځه محوه کي، چې پرته له الله ﷻ څخه بل معبود پاته نه سي، او پرته له حضرت محمد ﷺ څخه بل مطاع نه وي، هغه حکمتونه چې د پيغمبرانو او قوي ايمان د څښتنانو په خواريو او زحمت ګاللو کي پټ پراته دي، هغو ټولو ته د چا عقل نه رسېږي، تر اوسه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پوري يو څوک بې له دې چې د زحمت او مشقت پر پله ور تېر سوي وي آيا يوه مقام او لوړي درجې او عالي مقصد ته رسېدلي دي؟ يه! ځکه بې له رنځه ګنج په لاس نه راځي، بې له دې چې د زحمت پر پله تېر نه سي بنارونه نه مسخر کېږي. له همدې جهته حضرت محمد ﷺ د مربيانو، د رهنمايانو، د پاچهانو، د منصبدارانو، د قاضيانو، د حاکمانو، د حکيمانو، د معاهدانو، او جګړه چيانو او عابدانو، زاهدانو او ټولو له پاره لوی او ښه پېشوا دئ.

حضرت محمد ﷺ يو مثل الاعلی او لوی سرمشق دئ، د فرد له پاره په جامعه او قبيله کې. د مېړه له پاره د مايني په مقابل کې، د پلار له پاره د زوی په مقابل کې، د سوداګر له پاره په تجارت کې، د معلم له پاره د شاګرد په مقابل کې، د واعظ او ناصح له پاره د اورېدونکو په مقابل کې، د سپاهي له پاره د جنګ په ميدان کې، د منصبدار له پاره په ښه تدبير کې، د قانون جوړونکي له پاره په قانون جوړولو کې، د قاضي له پاره په قضايي احکامو کې، د سياستمدار له پاره په حکمراني کې، د پاچا له پاره په پاچهي چلولو کې، د دوست له پاره په دوستي کې، د عابد له پاره په عبادت کې، د زاهد له پاره په زهد کې، په پای کې د دنيا د ټولو انتظام او ګذارې له پاره.

دغه ګرده اصناف يا په بل عبارت ټوله وګړي که په دين بوخت که په دنيا ګرده بلا استثنی د ده پر قدمو قدم پر قدم ولاړ سي او د ده خط مشي ټينګ کې او په ټولو کارو او اعمالو کې د ده مبارک پيروي او متابعت وکې، د ده د صفتو څخه يوه نمونه لاس ته راولي او خپل سرمشق ئې وګرځوي، په مقاصدو او په خپلو اعمالو کې ئې پيروي وکې، او د حيرت او سرګردانۍ په وخت کې د کار لار پيدا کې، پر ټولو لازم دي چې د ده د ښو عملو او د ده د رفتار متابعت وکې، او د ده مبارک اخلاق د خپلو اخلاقو رهنما وګرځوي. د ده مبارک په امر او نهي خوشحاله وي، عملي کوي ئې، د ده مبارک و امر او نهي ته ئې سر ايښی وي. هر څوک چې د ده مبارک پيرو او د ده په قوم پسې ځي د ده متابعت کوي، د ده سنت پر ځای کوي هغه د الله ﷻ محبوب دئ.

هغه امت او وګړي نېکبخته دي چې د حضرت محمد ﷺ امر پر ځای کې، د هغه شيانو څخه چې نهي کړي دي پرهېز وکې، او د ده د دين د تقويې سره مرسته او معاونت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وکي، او د ده احکام پر هوا او هوس مقدم وګڼي، او د ده پر شریعت ټینګ اوسي، د ده په دین او شریعت ځان عالم او خبر کي، د ده د خویو پیرو سني، د ده یاران او دوستان محبوب وګڼي، د ده د خاندان او یارانو تعظیم وکي او د هغه شي سره چي د ده د شریعت مخالف وي مخالفت وکي، او د مبتدع څخه چي د ده په دین کي نوي شیان او بدعتونه راباسي نفرت ځني وکي، مخ ځني واړوي، قاطع او قمع ئې وکي، او د ده بدګویان او حاسدان بد او دښمنان وګڼي، د دین حدود ټینګ وساتي، په پای کي خپل ځان او مال او اولاد ګرده تر قربان، سپلني او صدقه کړي، ځکه چي د ده تر کرم لوړ کرم او د ده تر نعمت کامل نعمت او د ده تر عطا او بخشش ښه عطا نسته.

حضرت محمد ﷺ خو رحمة اللعلمین دئ، د ځان سره ئې رافت او رحمت راوړی دئ، کتاب او حکمت ئې زده کړی دئ، هم بشیر دئ هم نذیر، تبلیغ ئې کړی، نصیحت ئې کړی، خلک ئې د الله ﷻ څخه ببرولي او د الله ﷻ په امید ئې کړي دي، د ټولو لارښوونکی دئ، وګړي ئې د ګمراهۍ څخه ساتلي او منع کړي دي، د خلاصون او فلاح ځای او سبب ئې ورښوولی دئ او د دغي لاري ته ئې خلک رابللي دي.

حق جل و علی شانه فرمایلي دي:

وَرَحْمَتِى وَسِعَتْ كُلَّ شَىْءٍ ۚ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَـٰتِنَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٦﴾ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِىَّ ٱلْأُمِّىَّ ٱلَّذِى يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَىٰهُمْ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ ٱلْخَبَـٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَـٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُوا۟ ٱلنُّورَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ ۙ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٥٧﴾ (سورة الاعراف: ۱۵۶ - ۱۵۷ آیتونه).

زما رحمت پر ټولو احاطه کړې ده، هغه کسان چي پرهېز کوي او خپل زکوة ورکوي او زمونږ پر آیتو ئې ایمان راوړی دئ ژربه رحمت پر وکم، هغه کسان چي د هغه امیر پیغمبر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پيروي کوي چي په تورات او انجيل کي ياد سوی او پر ښو کارو امر درکوي، د بدو کارو څخه مو ژغوري او پاک شيان درته حلال او بد او مردار شيان درته حراموي، او سختی او درانه بارونه چي پر باندي وه د دوی څخه ايسته کوي، هغه کسان چي پر دغه رسول ﷺ ئې ايمان راوړی او د ده سره ئې مرسته کړې ده او د هغه نور (قرآن) چي پر ده نازل سوی دئ متابعت ئې کړی دئ، همدغه ټول په فلاح کي او خلاص دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دوهم باب

رحمة اللعلمين محمد ﷺ په پيغمبرانو کي

حضرت محمد رسول الله ﷺ په ټولو انبياوو او رسولانو کي داسي يو رسول دئ، چي د ده معاصر خلک د ده مبارک ﷺ په عمومي او خصوصي اخلاقو او د ده پر ټولو شئوناتو خبر سوي دي او دغه د ده د معاصرو اطلاعات بې پردې او روښانه بې له اشتباه څخه لاس پرلاس ګرځېدلي او د يوه کتابه څخه بل کتاب ته رانقل سوي دي او د يوې زمانې د وګړو څخه د بلې زمانې و وګړو ته رسېدلي دي. نو دغه رحمة اللعلمين ﷺ په ټوله معنی سره يو تاريخي رسول دئ. ځکه چي د ده مبارک ﷺ د زېږېدو څخه بيا د ده تر رحلته پوري د ده ټوله خويونه، سيرت او روش بې له استثنی روښانه او درست او پوره ضبط او ثبت سوی دئ، اعمال ئې ټوله ليکل سوي دي، خبري ئې چي د سړي د معاش او معاد قانون دئ ضبط سوي دي، اعمال ئې د ګفتار سره موافق وه، د ده د قول او عمل په منځ کي يو لږ توپير نه دئ ليدل سوی او نه ثابت سوی دئ. علاوه تر دې د ده مبارک ﷺ وجود د ټولو انسانانو له پاره لکه روښانه لمر داسي وو، چي په زرو - زرو کلونه د هغه د شغلو او پلوشو څخه استفاده کوي، له همدې جهته حضرت رسول اکرم ﷺ تر ټولو انبياوو او رسولانو افضل شان ئې دېر او قدرت ئې لوړ دئ، رشتيا هم دا ده که دی مبارک ﷺ او اعمال ئې نه واى نو خلکو به د پيغمبر قدر او د رسولانو مقام نه سواى پېژندلاى.

که پيغمبري يوازي د نصيحت او وعظ د مراسمو اجرا واى، بېله دې چي د انسان د پرمختګ او ترقي او عقلو د تهذيب او د اخلاقو د حسن او د بشر د افرادو د شئونو او ژوندون په لارکي مجاهده او کوښښ وسي او په دې باره کي زحمتونه او تکليفونه وګالل سي نو هيڅ به د پيغمبرى او رسالت فايده نه معلومېده، او د خلکو د احتياج او نيازمندى لارو پيغمبرانو ته پر هيڅا نه روښانه کېده، دېر کسان دي چي د پيغمبرى او رسالت د مقام مدعيان نه دي، نصيحتونه او حکمتونه او امثال ئې ويلي او راوړي دي، مثلاً د کليه دمنه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

په کتاب کي چې په هند کي تالیف سوی دئ، ډېر حکم او امثال په یو مناسبت سره نقل سوي دي، او ډېر بحثونه ئې د اخلاقي، سیاسي، اجتماعي او جنګي بحثو څخه د امیرانو او شاهزاده ګانو د پرورش او ارشاد او لارښوونې له پاره د درنده ګانو او مرغانو د ژبې څخه پکښې ځای کړي دي، لیکن په عین حال کي چې دغه کتاب بې له شکه د ادب او حکمت کتاب دئ، د هغو شیانو تحقق او ثبوت چې په دغه کتاب کي سته سخت دئ. ځکه چې دا و نظري امورو ته نژدې دي، نو چې په عملي امورو او د نصیحتونو په مؤثر کېدو چې ویونکی ئې هغه د عمل په میدان کي نه دي وارد کړي ډېر کم دي.

هغه بهترین شی چې د خلکو په قاید او پېشوا کي لازم او وجود ئې مؤثر دئ، د دغه قاید او لارښوونکي اعمال دي، ځکه چې د واعظانو او نصیحت ګرو وینا د دوی د عمر سره جوړه او ملګرې نه وي، داسي دئ لکه یو شی چې پر دېوال ولیکل سي، لیکن عمل او کردار دئ چې وګرې ورجذب کوي او پر عامل ئې راټولېږي، او د یوه مخه د ده په مخ کي تسلیمېږي.

نو کلي قانون د لارښوونکو په باره کي دا دئ، چې سړی د هغه و عمل ته متوجه وي نه د دوی ویلو ته، ښه لارښوونکي او رهنمایان هغه کسان دي، چې الله تعالی ﷻ هغه د هدایت په رونا منور کړي او د رسالت په عنوان ئې و خلکو ته رالېږلي دي، د دوی اجتماعي، اخلاقي او حکیمانه وینا ښه اثر کوي چې پند او وینا ئې د عمل سره موافق وي، هغه څوک چې وغواړي په هغو ویناوو او پندو عمل وکي چې دی نه پوهېږي چې ویونکی او ناصح په خپله څنګه عمل درلود ممکن دئ چې ګمراه او بې راه سي او په خطا کي ولوېږي.

د سړي ویل او وینا پر دې نه سي دلیل کېدلای، چې دی دي نو د فضایلو و حقیقت ته رسېدلی وي، مګر عمل ئې د وینا سره ملګری وي، بلکي باید داسي وویل سي چې دوه سوه خبري په دې باره کي لکه نیم عمل نه دي، یعني تر دوو سوو خبرو نیم عمل ښه دئ.

د هغه چا له پاره چې خلکو ته په صبر نصیحت کوي او د زحمتو او اذیتو په تحمل او ګاللو توصیه کوي او د دې دواړو ثواب او ښېګڼې بیانوي، نو ده ته ورډا ده چې ده باید په خپله دېري خواري، اریانې، زحمتونه او تکلیفونه پر ځان ګاللي وي، او د خپل اعتقاد د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دفاع او د خپلي رايي د ترويج په لار کي ئې د ډېرو ضررو او اذيتو تحمل کړی وي، لکه چي حضرت رسول مقبول ﷺ دغه ټوله ليدلي او ګاللي دي.

آيتونه او دلايل د هر پيغمبر نه يوازي د ده وعظ او پندونه او معجزې دي، بلکي د ده د رسالت نخښه دا ده، پس له دې چي انسان د عقلي او خلقي او روحي مرګ سره مقابل سوی وي دی ئې ژوندی کي او د خپلي وينا او وعظ او عمل په وسيله د همت او مړانۍ او زړه ورتوب روح چي علامه د ژوند دئ په دوی کي پوکي او انسانيت ته د مرګ څخه نجات ورکي او د ژوند رڼا پر انسانيت احاطه سي. د انسان عاطفه پر ښور راولي، شعور ئې ويښ، عقل ئې خبر، اخلاق ئې څرګند، روح ئې خوشحاله کي. لنډه دا چي هغه صفتونه چي انسانيت بې له هغو ژوندی نه پاتېږي او د انسانيت حقيقي هسي په هغو پوري تړلي ده څرګند کي. بايد دې ته متوجه وي چي يو صفت تقويه نه کي او بل هېر نه کي، ځکه چي صفتونه ټوله يو د بله سره تړلي دي، د دغو صفاتو راستي او تکامل هلته وي چي يو د بله سره پيوست او ملګري وي.

حضرت محمد رسول الله ﷺ يوازي يو سړی وو، چي د دې صفاتو اهميت ته ئې توجه کړې وه، او د دغو صفاتو ثمر ئې داسي غوښتی دئ، چي خلک د لوړ عقل، او پاکو او نېکو او ښو خويو او د عالي روح څښتنان سي. په زرو زرو کلونه تېر سوه چي هر امت د نورو څخه شلولی او ځني ليرې به وو او ګومان به ئې کاوه چي د جهان ټوله ښېګڼې او شيان په ده کي دي او همدی دئ، چي تر ټولو امتو لوړ او بهتر دئ، ځکه چي الله تعالی ﷻ مزيتونه ورکړي دي چي نور امتونه د هغو څخه بې برخي دي. الله تعالی ﷻ مخصوص د دغه امت له پاره رسول لېږلی او په دې وسيله ئې هغه ته هدايت ورکړی دئ، او نور ئې د دې نعمت څخه بې برخي کړي دي.

د الله ﷻ حکمت دغسي وغوښته چي دغه بېځايه ګومان او دغه بېځايه ځانمني او خودبيني چي په ځينو امتو کي څرګنده سوې وه، چي ځان ئې تر نورو د دين او قوميت او اوصافو له رويه لوړ ګانې له منځه واخلي، او ټوله انسانان لکه يو وجود داسي کي، له همدې سببه ئې يو رسول ﷺ راواستاوه، چي رسالت عام وي، په زمانه او ځای او مکان او ښار او قوميت او يوه امت پورې مخصوص نه وي، لکه چي الله ﷻ فرمايلي دي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿۱۰۷﴾ (سورة الانبياء: ۱۰۷ آيت).

ما نه ئې لېږلی ته مګر د رحمت له پاره پر ټوله جهان.

وَمَآ أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا (سورة السبا: ۲۸ آيت).

نه مي ئې لېږلی مګر د دې له پاره چې ټوله خلک د بدو کارو څخه منع کې او بېره او امید ورکې.

تر رحمة اللعلمين ﷺ دمخه پيغمبران عليهم السلام لکه څراغ داسي وه، چې په يوه خونه کي لګېدل، او فقط هغه ځای ئې روښانه کاوه، هر کله چې د عربستان د افق څخه د رحمت لمر وځلېدی نو خلک د هغو نورو څراغو څخه بې نيازه سول، ځکه چې هيڅ يو نور نه سوای کولای، چې د لمر ځای ونيسي يا د لمر په مقابل کي خپل نور څرګند او خپور کي، د هر پيغمبر عليه السلام منظور دغه وو، چې د خپل امت وګړي مهذب کي، او دوی سره نژدې او يو وجود کي چې دغه ټول افراد يو امت کي، هو! رشتيا دا ده، چې دغه منظور خورا د قدر ور او بزرګ وو، ليکن د رحمة اللعلمين محمد رسول الله ﷺ منظور تر دې خورا لوړ او پورته دئ، ځکه چې ده وغوښتل چې دغه ټوله امتونه د ورورګلوی د رابطې په وسيله يو د بله اوړه پر اوړه کي او د دوی ټولو څخه يو امت جوړ کي.

نورو انبياوو عليهم السلام د اصلاح له پاره يو معين خلق درلود او په خپل ژوند کي ئې په هغه لارکي کار کاوه، ليکن د رسول مقبول حضرت محمد رسول الله ﷺ همت دا وو، چې هر خوی او خلق ته چې د انسان سره ور دئ پرورش ورکي، او هغه تر فرمان لاندې راولي او غريزه ئې درسته کي. د حضرت محمد ﷺ ژوندون د اخلاقو د کاملو نمونو څخه ډک دئ، په حقيقت کي محمد ﷺ د انسانيت کامله نمونه او کامل انسان دئ، ټول فضايل چې په نورو انبياوو عليهم السلام کي تيت او خپاره وه، د ده مبارک په مبارک وجود کي جمع وه، د موسی عليه السلام زړه ورتوب، د هارون عليه السلام مهرباني، د ايوب عليه السلام صبر، د داود عليه السلام اقدام، د سليمان عليه السلام بزرګي او عظمت، د يحيی عليه السلام خوشخويي، د عيسی عليه السلام رحمت دغه ټوله ده يوازې درلودل.

د حضرت محمد رسول الله ﷺ شخصيت دونه قوي وو، چې په ټولو اطرافو کي ئې که

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دوست وو که دښمن تاثیر وکی، او هغه ئې دې ته اړ کړل چې د ده په مقابل کې کوچنۍ سي
او د ده مبارک پر فضایلو اقرار وکي، هیڅوک په پایداري او بردباري او آرامي او
حاضرجوابي کې د ده و مرتبې ته نه رسېدلی وو، نه به ورسېږي. د ده مبارک واضح او بلیغ
بیان او ښکاره دلایل داسي وه، چې هر څوک په پوهېدل، هر څه چې ئې ویل هغسي ئې
کول، هر کار ئې پرته د هغه کار د پاکۍ او ښه والي څخه بل څه نه وو، د ژوندون د لومړي
څخه بیا تر آخره پورې ئې د نورو څخه د ځان له پاره تعظیم او تکریم نه غوښت، خلکو ته به
ئې ویل، چې: زه هم لکه تاسي یو انسان یم، فقط زه د لارښوونې له پاره را استول سوی یم،
هغه آداب او احکام چې حکم راکړه سوی دئ و خلکو ته رسوم او د هغه ترجمانې ئې هم
خپل عمر ګرځاوه، هغه څه چې و ده ته رسېدلي وه و خلکو ته ئې ورسول، او هغه ئې د خپل
عمل او فعل په واسطه دوی ته توضیح کړه، ځان ئې د غسي جوړ کی چې غوښت ئې نورهم
دغسي سي، نو ناچاره خلک هم په آساني سره د ده پیرو سول، او شریعت ئې د زړه له کومي
قبول او خوښ کی، آسماني کتاب (قرآن عظیم) لکه چې پر ده نازل سوی وو هغه ئې د خپل
عمل په واسطه ښکاره کی او بې له تحریفه او بې له تغیر او تبدیله او له کمي او زیاتوبه
پاته سو او د اسلافو د لاس څخه و اخلافو ته ورسېدی.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿٩﴾ (سورة الحجر: ۹ آیت).

قرآن موږ نازل کړی دئ او موږ ئې خپله ساتو.

څرنګه چې دغه ثابته سوه چې قرآنکریم د الله تعالی ﷻ د پاکي ارادې مظهر دئ او
هیڅ تغیر او تبدیل نه پکښې سوی او نه به پکښې وسي، او د انسانانو پر معاش او معاد
چې دوی ورته اړ دي شامل دئ او حضرت محمد ﷺ هغه لکه چې د الله ﷻ امر وو، د خپل
عصر و خلکو ته رسولی دئ، او همدغه بیان ئې لاس پر لاس بې له کمي او زیاتوبه وروسته
زمانو ته رسېدلی دئ، نو د خلکو و نوي کتاب ته حاجت نسته، او تکراراً رالېږل ئې عبث
دي، او همدغه رنګه بل رسول ته حاجت نسته، ځکه چې حضرت رسول اکرم ﷺ هغه آخر
قانون چې د بني نوع له پاره لازم وو راوړ، نو ځکه دی مبارک د انبیاوو او رسولانو خاتم
سو، سره له دې چې ټولو د نړۍ ټوله پوهان پر دې متفق دي، چې د ادیانو لوی مطلب دا دئ،
چې انسان د حیواني عالم د کندي څخه د تفکر و هغه لوړ ځای ته ورسوي او دی د تقوی او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

استقامت او فضیلت و ژوندون ته تیار او آماده کي، دا مطلب یوازي د هغه دین څخه لاس ته راځي چې رشتیا، راست او درست او کامل وي او د نورو ادیانو په نسبت و هغه ته رسېده آسانه وي، او د هري زمانې او ځای سره موافق وي، که څوک ئې په دغه موافقت پوهېږي یا نه پوهېږي قرآن عظیم د انسانانو د لوړي ترقی نخښه او هدف دئ، څنګه قرآن دئ؟

كِتَٰبٌ أُحْكِمَتْ ءَايَٰتُهُۥ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِن لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ ۝ (سورة هود : ۱ آیت).

دا کتاب دئ، چې آیتونه محکم او مفصل د حکیم او عالم الله له جانبه نازل سوي دي، په قرآن کي روښانه آیتونه دي، په قرآن کي ښکاره دلایل دي، په هغه کي رشتیا اخبارونه، ښه نصیحتونه، کلک قوانین، عالي آداب سته، دغه ټوله په روښانه بیان او په محکمو دلایلو سره دي.

قرآن مجید د دین او د دنیا د منافعو کیلي او د پخوانیو آسماني کتابونو مصدق دئ، قرآنکریم د الله ﷻ یو همېشنی حجت دئ او په هره زمانه کي په هر ځای کي محکم او په هر ځای او په هره ژبه په نورو کتابو کي ښکاره او معلومداره او څرګند دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دريم باب

د رحمة اللعلمين محمد ﷺ د بعثت اقتصادي او اجتماعي عوامل

په دې ځای کي بنه دا ده، چي د هغو اوضاعو څرنگه والی چي تر بعثت دمخه په جهان کي د عربو په ښارو په زياته بيا په مکه شريفه کي چي وه په لنډ صورت سره بيان کړو، چي هغه عوامل او علل او اسباب چي د بعثت موجب گڼل سوي دي، ښکاره او څرگند سي.

الف - د ايران حال:

تاريخ څرگندوي چي په ۶۱۰ م کال کي د روم او ايران تر منځ د جنگ اوربل سو، پخوا د دې دوو ملتو په منځ کي دښمني وه، د دې دښمنۍ شروع تر اسلام پخوا د پنځم قرن څخه لا دمخه وه، د دې دښمنۍ لوی عوامل دا وو، چي هغه وخت په ټوله دنيا کي تر دغو دوو مملکتو لوی هيواد نه وو، نو ځکه دوی يو د بله سره رقابت کاوه او هر يوه غوښتې چي مطلقي باداري دي زما وي.

د ۶۱۰ م کال تر جنگ وروسته د ايران لښکر د روم پر شاوخوا حملې کولې، د روم امپراتور (هرقل) چي دمخه په عيش او نوش اخته وو په سد کي سو وځې ليد چي د روم مملکت مخ پر کښته او نېستۍ ځي، اوس لا چي کار تر کار نه دځ تېر بايد د دې خطر مخه ونيوله سي، څرنگه چي خزانې گرده خالي وې نو ناچاره سو د کليساگانو څخه ځې پور وکی، او عهد ځې ورسره وکی، چي هر وخت چي د جنگ څخه خلاص سي نو پور به ځې سره د سوده او گټې ورکوي نو جنگ تر ۶۲۲ م کال پوري اوږد سو، او په دغه کال د رومیانو فتح په برخه سوه. په ۶۲۷ م کال کي بيا د روم او ايران په منځ کي جنگ وموښت، رومیانو تر نينوا د آشور د پخوانې پايتخت پوري ايرانيان تر شا کړه، تر دغه جنگ وروسته د ايران سياسي اوضاع پرېشانه او گډوډه سوله، تر دې حده چي څلور کاله چا د پاچهۍ دعوه ونه کړه، په دغه وخت کي د ايران اجتماعي وضعيت هم خراب او گډوډ سو، د وگړو د اتفاق

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رسي وشلېده، ګرده سره بې اتفاقه سوله، ډول ډول مذهبونه پکښې پيدا سوه، يوه ډله د (ماني) پر مذهب وه بلي ډلي مزدکي طريقه غوره کړې وه، چې ويل به ئې: څرنګه چې خلک ټوله سره وروڼه او د يوه پلار زامن دي نو ټوله شيان که ښځي دي که مالونه د دوی په منځ کي شريک دي او ټوله شيان و هر سړي ته مباح دي. نو د دې معتقداتو په سبب د خلکو اخلاق تر دي مودې پوري فاسد او خراب وه.

ب- د روم حال:

د روم وضعيت هم چنداني ښه نه وو، ځکه چې له يوې خوا څخه پردو وګړو چې د رومیانو مقهور سوي وه د مملکت واګي ئې کم کم په لاس کي ونيولې او ملکي او لښکري منصبونه ئې خپلو ځانو ته وټاکل، له بلي خوا د مملکت پر سرحدو او شاوخوا د همسايه ګانو له خوا حملې کېدلې، تر ټولو لا بد دا کار وو، چې دغه پرله پسې حکومتو د لوړو غټانو د مړولو او د حاکمانو د ډېر مصرف د تهيه کولو له پاره ئې مالیې زياتي کړې، په نتيجه کي د هري خوا څخه د بغاوت او بلوا آوازونه پورته سوه، څرنګه چې خلکو د حکامو د ظلم او استبداد توان نه درلود او نه ئې سواى کولاى چې د حارصانو سترګي په مال سره ورډکي کي نو ناچاره سوه بغاوت ئې وکی.

د روم پاچهانو د قلديانوس د زمانې څخه کوښښ کاوه، چې د روم د انحطاط مخ ونيسي او د نېستۍ او نابودېدو عوامل او اسباب ئې له منځه ورک کړي، دغه سړی که څه هم د بطارقه وو افسران او مشران ئې لغوه کړه او نوی نظام ئې ميدان ته راوايست، ليکن و خپل مقصود ته ونه رسېدی، هر کله چې د قسطنطين دوره راغله نو د ده په کوښښ سره د آرتش د سرکرده ګانو او بزرګانو شوکت کم سو او د دوی لښکري کارونه په اداري او ملکي کارو تبديل سوه، هر کله چې قسطنطين په خپل کار کي کامياب سو، نو د دې له پاره چې پخواني عادات، رسم او رواج يو مخيزه ورک کړي رومیان ئې و خپلو د درواغو معبودانو ته پرېښوول او داسې فکر ئې وکی چې خپل پايتخت و قسطنطنيې ته نقل کي، نو په دې کار هم موفق سو، قسطنطين په دې ګومان چې که مسيحي ديانت تقويه کي نو و خپلو مقاصدو ته به ښه ورسېږي نو دغه دين ئې رواج کی، ليکن دغه کار د ده د ګومان پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

خلاف نتيجه ورکړه، ځکه چې ديني اختلافات د پر سول او هري ډلي د خپلو عقيدو په لاره کي کوښښ کاوه، نو په دې سبب ورو ورو هم په ديني کارو او په دنيايي او دفتري کارو کي پريشاني او خرابي پيدا سوه، علاوه پر دې هغه منصبداران او غټان او اشراف چې د روم د پاچهانو په بخششو او ورکړه سره اموخته او روږد سوي وه و قسطنطنيې ته کډه سوه، چې هلته بنايي په خپل عادت کاميابه او بنه معاشونه ورمقرره سي، نو د دې پورتنيو پېښو په اثر د وګړو اخلاق فاسد سول، بېشرمي او سپين سترګي د پره سوه څو کار تر دې حده ورسېدی چې د پاچهی واګي د بازاري وګړو په لاس کي ولوېدې، يعني هر چا چې به د پرې روپۍ بنندلې هغه به پاچهی ته رسېدی.

کرار کرار د سردارانو او مشرانو او د پاپانو تر منځ نفاق او نزاع پيدا سوله، او د روم د انحلال عواملو قوت پيدا کی، د دښمنانو او پردو وګړو په مقابل کي چې د هري خوا ئې لاسونه ورغځول او حملې ئې پر کولې په دفاع کي ئې عاجزه او ستړي سول، مشران او ليډران ئې د دې پر ځای چې د اېران او بلغار سره د جنګ ميدان ته ووزي خپل همت او توجه ئې د کليساګانو د مشرانو و نژدېکت او تقرب ته صرف کړې وه، چې د دوی توجه او زړونه و ځان ته جلب کړي.

علاوه پر دې هغه دښمنی چې د روميانو او يهوديانو په منځ کي وې د هرقل په دوره کي لا پسې زياتي سولې، د انطاکيې يهوديانو شورش وکی او د هغه ځای اسقف ئې وواژه، تر وژلو وروسته ئې په خورا بد مثلث سره ککړ کی، د صور يهوديانو د فنيقيه او فلسطين د يهودو سره مذاکره وکړه، دا ئې سره جوړه او غوټه کړه چې د شپې د صور پر بنار حمله وکي او د هغه ځای نصرانيان گرده تر تېغ وکاږي.

يو له بد او ناوړه کارو څخه چې يهوديانو د روميانو سره وکړ دا وو، چې ۸۰ زره کسه روميان چې د اېرانيانو په لاس کي بنديان وه ټوله ئې په پيسو رانيول او بې زړه سويه ئې گرده مړه او تر تېغ وکښل، د نصرانيانو ملي مجلس د يهوديانو دين لغوه کی، د نصاراوو حکومت پر يهودو سختي کوله، او د يهودو په اختر کي ئې يهود د جشن او مېلې څخه منع کړل، نه ئې پرېښوول چې د اختر مراسم ادا کي، دوی ئې د نصراني دين په منلو ګومارل، په دې باب کي ئې دونه سختي پر راوستلې وه، چې يهوديان ناچاره سول چې په ښکاره ځان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نصراني معرفي کي.

خلک د اخلاقي او اجتماعي فضايلو څخه ليري سول، بدکارانو پرمختګ وکی او د روم د قيصرانو د تاج او تخت اختيار د دوی په لاس کي وو، تر دې حده چي د روم پاچهي يوې بنځي ته چي (ثيودوره) نومېده په لاس ورغله، قاضيانو، کاهنانو، او قايدانو د تعظيم سر و دغي بدکاري ناکاري بنځي ته کښته کاوه، نو د دې اوضاعو په نتيجه کي پر خلکو اضطراب او ناآرامۍ غلبه وکړه، پرېشاني و حيرت او ايله کي ډېره سوه، قوانين او هم الهي احکام تر پښو لاندي سول او د مقدسو ځايو سره بې احترامي کېدل.

ج- د هند حال:

د هند په قاره کي فحشاء او زناکاريو رواج وموند، د زبردستو مبلغانو په تبليغ سره اباحت او اشتراک په بنځو کي نشر سو، او د بدکاريو او فحشاء کار تر دې حده ورسېدی چي د واده لومړي ورځي ناوې په کاهن پوري مخصوصه او څو ورځي به ئې د دې له پاره د کاهن سره تېرولې چي دا زرغونه سي، دا او مېړه ئې د برکت سي، د دغه فحش او بد کار له پاره ئې سروزونه جوړ کړي وه، چي په خصوصي او عمومي مجلسو کي به ئې ويل.

د- د عربو حال:

د رحمة اللعلمين محمد رسول الله ﷺ تر بعثت دمخه د عربو ملت ټوله متفرق او دربدره او يو د بله دښمنان وه او په ډېره بدبختي سره ئې ژوندون کاوه، خلک اکثره ګډ په شا او په خېمو کي اوسېدل، په زحمت او تکليف او سرګرداني ئې عمر تېراوه، ټوله د جهالت او بېعقلۍ تر پردې لاندي وه، بېګناه نجوني ژوندۍ په خاورو کي بنخېدلې، د بتانو عبادت ئې کاوه، صله رحمي ئې نه درلوده، په چور او چپاو او تاړاکو بوخت وه، تر حضرت محمد ﷺ دمخه داسي د پستۍ په کنده کي لوېدلي وه چي په تاريخ کي نه دي ليدل سوي. د دين احکام ئې صحيح نه پېژندل، د سياسي او اجتماعي ژوندون په مبادیو نه وه خبر، هنر ئې نه درلود، د دولتو روابط ئې نه پېژندل، هره قبيله او قوم ځانته مستقله د همسايه قبيلې د چور او چپاو له پاره تياره وه، بد عادتونه لکه شراب خورل، خمار، سود،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

نجوني وژل، او چور و چپاو پکښې رواج وه. کله کله به پريوه اند که او ناچيزه خبرې مړې کېدل، د کين او بغض او عناد حس په دوی کې آخري درجې ته رسېدلی وو، تر دې حده چې ښځې نه خوشحالېدلې، پرته له دې چې جامې ئې د دښمن په وينو سرې سي او د دښمن زړه او اينه وخوري سره له دې تولو په پره بازيو بوخت او ټوله يو د بله په روش کې جلا وه، ځينو به د ډول ډول چارپايانو او درنده ګانو عبادت کاوه، ځينو به د ستورو عبادت کاوه. ځينو به د درختو او ډبرو ثنا ويل.

لنډه دا چې د سخت زړه او بدو عملو او بې قانونۍ او پست فطرتۍ په واسطه چې پر عربو ئې غلبه کړې وه رذايل ئې فضايل ګڼل او د فضايلو خاوندانو ته ئې د تحقير په سترګه کتل. تر دې حده چې دوی (جماعت، جامع، اجتماع) نه بلل کېدل.

هـ - د رحمة اللعلمين محمد ﷺ تر بعثت وروسته د مکې معظمې حال:

تر ميلادي پنځم قرن دمخه مکه معظمه يو کوچنی محل وو، چې د جزيرة العرب د جنوب کاروانونه پر هغه محل تېرېدل، او د هغه ځای څخه ئې د هندوستان کالي و سوريې او فلسطين او مصر ته وړل کېده. د ميلادي شپږم قرن په آخر کې د ډېر داد و ستد په واسطه چې په مکه شريفه کې کېدی او دغه ځای د خريد او فروش بازار وګرځېدی، نو لوی بنار ځنې جوړ سو، چې د جزيرې او سوريې او عراق او د عربو د نورو ځايو څخه د تجارت يا د کعبې شريفې د زيارت له پاره و مکې شريفې ته ئې مخه راوکړه. يوه ډله په مکه شريفه کې وه، چې د مکې د خدمت او د هغه ځای د بزرګۍ او د حاجيانو او داد و ستد څخه ئې استفاده کوله او نسبت و عربو ته ئې نفوذ او لوړتوب لاس ته راوستی.

د بازار د تودېدو په اثر د مکې معظمې خلکو د مال په جمع کولو او ټولولو کې کوښښ کاوه او د هرې خوا څخه چې کولای ئې سوای دغه خپل محبوب ئې لاس ته راوستی، حتی د اسلام تر ظهور وروسته ئې هم تر دينې کارو د مال ټولول مقدم ګڼل:

وَإِذَا رَأَوْا۟ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓا۟ إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمًا (سورة الجمعه: ۱۱ آيت).

او ځنې کسانو چې د سودا يا د تماشې څيز وليدی نو په هغه پسې په منډه خواره خواره واره سول او ته ئې ولاړ پرېښودې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مکه معظمه یو ښار وو، چې کرهنه او کښت نه پکښې کېدی:

رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ (سورة ابراهيم: ۳۷ آيت).

پروردګاره! ما په یو بې اوبو وښو ناو کې د خپل اولاد یوه برخه ستا د محترم کور تر څنګ میشته کړې ده.

د دغه ځای د وګړو هنر او صنعت نه وو زده، نو ځکه ئې و تجارت او سوداګرۍ ته مخ ګرځولی وو او د دې لارې ئې ژوندون کاوه.

د مکې شریفې خلکو سعي کوله چې له هري خوا د راحت وسایل او د راتلونکو وګړو توجه ځان ته جلب کړي، نو د دې جهته دمخه تر دې چې د حج میاشتې را نوې سي او د عکاظ بازار افتتاح او تود سي، او دمخه د زیارت کوونکو او سوداګرو تر راتګ به ئې ښه ښه کالي سره غونډول، د دې کار له پاره ئې په کال کې دوه واره سفر کاوه، یو په دوبي او بل په ژمي کې، دوی به و سوریا او فلسطین او د عربستان و جنوب ته تلل، هلته به ئې کالي خرڅول او د هغو ښارو څخه به ئې د مکې معظمې د بازار سره وړ کالي رانیول او راوړل به ئې.

د دوی سرمایه دوی په خپلو منځو کې غونډول، اکثره د مکې معظمې او د طائف په خلکو پورې مربوطه وه، دوی داسې شرطونه ایښې وه چې د هغو په موجب هم د سرمایې خاوندانو ګټه کوله او هم سوداګر او خریدارانو. څرنګه چې په هغه وخت کې غله او شکوونکې ډېر وه چې د دوی ګذاره او ژوندون په غلا او شکونه وو، نو ځکه سوداګر په خطر کې وه، کله کله به غلو ګیر کړل او د سوداګرۍ څخه به پاته سول.

د مکې شریفې خلکو د خپل کلني کاروان په ساتنه کې ډېر کوښښ کاوه، هر کله چې دوی یو لار ښوونکی او شاګی نه درلود او دغه کار د چا د لاسه پوره نه وو، ځکه چې د دې کار له پاره داسې زړه ور کسان وړ وه، چې په سیاست او عزم او شهامت کې سر وي او په خپل ښه تدبیر سره وکولای سي چې هم د مکې معظمې د دولتمنو منافع وساتي او هم د هغو قبایلو سرداران خوشحاله کې چې تجارتي کاروان په دوی کې تېرېږي. نو چې دوی دغسې رهنما نه درلود نو مجبوره وه، چې کله د مال په وسیله د دوی زړه نرم کې او کله به ئې خبښي ورسره کوله، کله به ئې په تهدید او بېرولو سره د دوی د شره ځانونه ساتل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د مکې معظمې دولتمنو او د قافلې خاوندانو چې خپل احتیاج و دغسې ساتونکو تنه ډېر درلود، او دغه قافلې او ثروتمندې ورځ په ورځ زیاتېده نو ځکه دوی یو لنبکر ودراوه، چې د مکې سوداګرو د خپلو د سود د روپو څخه د دوی مصرف ورکاوه.

دغه چې وویل سوه ښه ځنې معلومېږي، چې په مکه معظمه او طایف شریف کې دارایې او دولت خورا ډېر وو، په دغو ځایو کې ډېر سوداګر وه له همدغه سببه دوی د حرص څخه و سود او ربا ته لاس ورته کی، سودخورې پکښې رواج سوله تر دې حده چې سل په څلوېښت او سل په سلو ئې ربا کوله، له دغه جهته د مکې معظمې د دولتمنو نوم په تولهعربو کې ولاړې او خلک و دوی ته بدبین سوله، د سودخورانو شمېر ډېر سو او د دوی زیان و جامعې ته ډېر متوجه سو.

آه! د بېچاره ګانو او مسکینانو پر حال چې په دغه دام کې بندیان سوله او د ناعلاجې څخه د دوی تر پورلاندې سول، ځکه چې دولتمنو د بیع او ربا فرق نه کاوه او ویل به ئې:

إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰا۟ (سورة البقره: ۱۷۵ آیت).

د بیع او ربا تو پیر نسته.

نو ځکه ئې هیڅ رحم پر پورونې باندې نه کاوه، تر دې اندازې د مال او دولت پر تولولو مینان وه، چې په هره وسیله چې کېدل مال ئې تولاوه، قرآنکریم د دوی په توصیف کې ویلې دي:

إِذَا ٱكْتَالُوا۟ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ﴿٢﴾ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ﴿٣﴾

(سورة المطففین: ۲ - ۳ آیتونه).

هر کله چې به ئې شی اخیست په پوره تول او پوره پیمانه ئې اخیست او که به ئې بل ته ورکاوه په کم کانې او تشه پیمانه به ئې ورکول.

په درهم او دینار ئې مضاربت او معامله کوله او د خپلې مادې ګټې په نسبت ئې د معامله ګرو په وزن یا په قیمت کې چم او پل غلطې کوله. کله به ئې ځنې کمول کله به ئې پر زیاتول. د خلکو د پورو سره ئې هم چم کاوه، کله به ئې د ورکړې زمانه تر خپلې وعدې زیاتوله کله به ئې دمخه کوله، کله به ئې د وعدې د اوږدوالي په سبب دوی ازارول. لنډه دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې په دې باره کې ئې ډېرې بې لارې کولې چې په نتيجه کې به د پوروړې کار خراب او د مريټوب سبب به ئې سو.

په قرآن عظيم کې وايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَى وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا وَلَا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَى أَجَلِهِ ذَلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَى أَلَّا تَرْتَابُوا إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ

(سورة بقره: ۲۸۲ آيت)

اې مؤمنانو! هر کله چې يو د بله پور ورکوئ، نو د ورکولو له پاره وخت ټاکئ (که پور وي که نسيه يا سلف) هغه وليکئ، ليکونکی دي ئې د راستی او عدل د رويه وليکی، نه بنايي چې ليکونکی د هغه د ليکلو څخه لکه الله په ده زده کړې دي سر ځني وپېچي بلکې بايد وليکي هغه څوک چې چا ته پور ورکوي، يعني پور ورکوونکی بايد پر ليکونکي املاء کي او د الله څخه دي وېرېږي او بې له کم و کاسته املا کي، که پور اخيستونکي او پور ورکوونکي کم عقل يا ناتوانه وي (يا د ګونګيتوب يا توړي توب يا بندي توب) په واسطه نه سواى کولاى چې په خپله حاضر سي او په ليکونکي ئې املا وکي بايد ولي ئې د راستی له رويه املا کي علاوه پر دې دوه تنه نارينه يا يو نارينه او دوې ښځې د هغو خلکو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

څخه چي ښه ئې پېژني او ديندار ه، امانت کار ه او با کفايته ئې بولي شاهدان ونيسي، چي که ئې يو هېر کي هغه بل ئې ور په ياد کي او نه ښايي چي د شاهدی د ادا کولو له پاره ور وغوښت سي او دی سر ځني وپېچي او د ليکلو څخه دي نه خوابدی کېږي که لږ حق وي که ډېر وئې ليکي د ورکولو وخت ئې ياد کي، چي دغه کار د الله تعالی په نزد عادلانه او د شاهدانو د اقامې له پاره راست او د شک څخه ليري دئ، هر کله که تجارت وي لاس په لاس چي متاع ورکي او بها ئې نقداً واخلي نو که ليک ونه کي باک نه لري او که په دغه باره کي هم خط وليکي نو پر تاسي هيڅ ګناه نسته هر کله چي راکړه ورکړه کوئ شاهدان ونيسئ نه ښايي پر ليکونکي او شاهد زيان راولي، که دغسي وکئ او ضرر ور ورورسوئ نو به مو د الله ﷻ نافرماني کړې وي، د الله څخه وېرېږئ الله تاسي ته زده کوي او همدی په ټولو شيانو خبر دئ.

د سود خورانو سخت زړنه تر دې حده رسېدلي وه، چي سود ورکوونکي به دې ته اړ سوله چي خپلي ښځي او لونې و فحشاء ته وګوماري، او د دې لاري څخه پلار يا مېړه ته پيسې ټولي کي او د دې لاري څخه د دوی د پور بار سپک کړي او دوی و دې ته اړ نه سي لکه نور چي پر بيابان وتښتي يا د غلو په ډله کي شامل سي يا د مريیتوب کړی غاړې ته واچوي.

سودخورانو تر دې حده د مال په ټولولو کي همت کاوه، چي غوښتل ئې چي د خوارانو او بې وزلو ټوله شيان د دوی وي او خواران ټوله وږي او بدبخته وي، ربا خوران ماړه او نېک بخته وي او دا ئې غوښته چي مسکينان ئې وګټي او دغو مفت خورانو ته ئې تحويل کي، له همدې جهته په دوی کي د کار حس او د خوشحالی روح ضعيف سو، د عربو په جامعه کي دوی لکه وچ وانبه او هغه لکه درنده ګان چي د بل وينې زېښي، نو ناچاره مسکينانو چي ځان مريی او خوار ليدی د سودخورانو سره ئې کينه او عناد په زړه کي ساتی څو په موقع خپل کسات ځني واخلي.

خيراتونه نه وه، د زکاتو نخښه ورکه سوله، صدق ولاړی، د مسکينانو حقوق ترپښو لاندي سول، د خلکو مالونه په ناروا او ناحقه خوړل کېده، ظلم ډېر سو، رحم او مهرباني له منځه ولاړل، د همسايګانو حقوق هېر سول، د ورورګلوی او انسانيت مزي وشکېدل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

يهوديان سره له دې چې د تورات په حکم د سود خوری څخه ممنوع وه، په ډول ډول حيلو او تاويل (لکه چې ويل ئې چې حرامه ربا هغه ده چې د يهودي څخه واخيستله سي نه د امي څخه) بوخت سول څو وکولای سي په دغه مکر او حيله سره د رباخوری څخه و مطلب ته ورسيږي، په دې ډول ئې چې د خلکو مالونه يوسي:

تُخَٰدِعُونَ ٱللَّهَ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَمَا يَخۡدَعُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ۝٩

(سورة بقره: ۹ آيت).

ظاهره الله ﷻ او مومنانو ته فريب ورکوي ليکن په حقيقت کې بې له دې چې دوی پوه سي خپل ځان خطا باسي.

څو موده وروسته تر يهوديانو، نصراني روحانيونو او کشيشانو د ربا سره (چې پوروړی ئې د پور ورکوونکي او سودخور زرخريده مريی کاوه چې بې له مزدوری د خپلي نفع په کار کې دې واچوي) مقاومت وکی.

لنډه دا چې د حضرت محمد رسول الله ﷺ تر بعثت دمخه په عربي او نورو ملکونو کې معاملات د مساکينو او فقيرانو د امحا موجب او د کينې او بغض مايه او د فساد شيوع باعث وه، ثروت د خلکو په يوه طبقه کې غونډ سو چې په نتيجه کې دوی په خپله ځانونه د جهان زمامداران او د انسانانو رئيسان ګڼل، سره له دې چې دوی علم او عمل او عقل او فکر هيڅ نه درلوده، ځانونه ئې تر ټولو لوړ بلل، لاس ئې د کسب او کار او صنعت او نورو کارو څخه اخيستی وو فقط په ربا او سودخوری ئې اکتفا کوله.

د قانون اختيار هم د دغو سودخورو په اختيار کې وو، هر څه چې ئې زړه غوښت هغه به ئې کول، د مسکينانو او بېچاره ګانو له پاره داسي يو قانون نه وو، چې دوی د اجتماعي مرګ او د پستی د کندې او د ابدي مريتوب څخه وساتي، بلکې قانون دغسي وو، چې بايد شپه او ورځ د هغه ثروتمنو ربا خورو د سخت زړګيو له پاره کلک چوپړ ووهي، او د دوی سخت او د زحمت کارونه پای ته ورسوي، نو ځکه عقلونه سست او خلکو و پستی ته ميل، زړو ئې و شورش او ډول ډول فسادو ته کشش پيدا کی. اوضاع او احوال د هغو کسانو د پيدا کېدو له پاره اماده سول، چې مادي او ادبي حال اصلاح کي، د عربو شاعران چې د عربو ويانده ژبه ګڼل کېږي په اصلاح سره شروع وکړه، او په خپلو اشعارو کې ئې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

فقيرانو او مساكينو و بدبختي او بېچاره گي ته اشاره وكړه، آزاريان او سود خورونكي بډايان ئې د ملامتي او سرزنش په ژبه وستايل، او هغه ئې پر مسكينانو او فقيرانو او مظلومانو باندي و مهر او رحم ته راوبلل.

بشر بن مغيره د بډايانو د تحريص په ځاى كي ويلي دي:

و كلهم قد نال شبعاً لبطنه
وشبع الفتى لؤم اذا جاع صاحبه

بډايان ټوله ماړه دي او دا د سړي سپيتانه او كنځكتوب او پستي ده، چې دى په خپله مور او ملگرى ئې وږى وي.

اعشي ويلي دي:

تبيتون في المشتى ملاء بطونكم
و چاراتكم غرثى يبتن خمائصا

تاسي د ژمي په شپو په ماړه نس بيدږئ او همسايگان مو وږي او په وږي نس شپې تېروي.

مگر دغه لږ فريادونه د دوى پر سختو زړونو اثر نه سواى كولاى، او دا ناممكن وو چې د هغه مرض ريښه چې د عربو د جامعې د وجود په هډو كي موجود وه وكاږي، د همدې جهته لازم وو چې د دې اجتماعي ناجوړيو د درمان له پاره بنه مؤثر دارو تهيه سي او قوي وسايل پيدا سي، او يو هوښيار او پوه د عزم څښتن طبيب ميدان ته راسي او لاس په كار پورې كي. په دغه وخت كي حال دغسي وو چې كه د بشر له پاره يوه ورځ يو رسول لازم وي نو همدغه ورځ وه، هو! لكه چې د الله تعالى سنت او عادت پر دغه دئ چې تر تيارې وروسته روښا خپره كي او تر وچكالي او كاختي وروسته باران واوروي، او تر سختي وروسته آساني راولي او همدغه رنگه الهي سنت دئ، چې هر كله انسانان د پستي او بېعقلي آخري درجې ته ورسېږي نو د رحمت له رويه پر خپلو بنده گانو باندي يو پيغمبر راولېږي چې دوى پر سمه لار برابر كي او د دوى لاس ونيسي، د پستي د كندې څخه ئې راوكاږي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

فطرتي زمان چي د محمد رسول الله ﷺ تر ظهور دمخه وو، د نورو فطرتو سره فرق لري، ځکه چي په دغه فطرت کي د جهل او شرک تياري، ظلم او آزار او د بدو او رذيلو منکراتو شيوع جهان سر تر پايه نيولی وو، اختيارات د پستو او رذيلو وګړو په لاس کي لوبدلي وه، له همدې رويه د يوه رسول راتلل لکه حضرت محمد ﷺ چي د بشري جامعې له پاره لوړ اصلاحات اماده کي لازم او واجب وګڼل سو. هو هغه اصلاح چي حضرت محمد رسول الله ﷺ د جامعې له پاره مهيا کړه هيڅ يو مصلح که تر ده دمخه وي که وروسته نه سي کولای چي تهيه ئې کي.

همدغه دليل دئ، چي په ډېر ښه ډول د ده مبارک لوړتوب او بهتري او عظمت نسبت نورو مصلحانو ته ثابتوي، او دا څرګندوي چي حضرت محمد مصطفی ﷺ علاوه پر دې چي تر خپلو شخصي مصالحو او منافعو تېر سوی او د خپل الهي شريف مقصد په لار کي ئې ځان، سر او مال هيڅ نه شمېرل او د اميد او بېري وعده او عيد څخه ئې ځان نه بايلاوه، دی يو سړی وو ليري ليدونکی، لوړ کتونکی، پاک زړه، ښه سياسته او د مخلوق په طبايعو پوه وو.

الله ﷻ رسول وباله، نو په خوشحاله زړه او د هغه محيط چي دی پکښې پيدا سوی او ژوندون ئې پکښې کړی وو حال او اوضاعو خبر، لبيک ووايه، په تجارت بوخت سو، مسافرۍ ئې وکړې د وګړو سره ئې ګډون وکی، د دوی د عملو څخه خبر سو. د محتاجانو او مسکينانو د بدبختۍ عوامل او اسباب ئې تر نظر تېرول، او د دوی د نجات له پاره ئې فکر کاوه او د فقر د ليري کولو او د ظلم د ورک کولو له پاره ئې لاري سنجولې، هغه مسافرۍ او هغه اختلاط او هغه مطالعې چي د وګړو په حالاتو او اوضاعو کي ئې وکړلې، او د دوی خبري ئې واورېدې او د دوی په ډېرو دردو خبر سو دی مبارک ئې د الهي امر و منلو او قبلولو ته مستعد او آماده کی.

حضرت رسول اکرم ﷺ څو موده په تفکر کي وو، څو الله ﷻ دی مبارک د ژوندون په اسرارو خبر کی، نو د ژوندون منظور ورته معلوم سو او د ټکبختۍ اسباب او د بدبختۍ عوامل ورڅرګند سول، د دې له پاره تيار سو، هغه چي پوهېږي و قوم ته ئې ورسوي، نو په پاک نيت او پر هغه الله باندې په تينګ اعتماد چي دی ئې په يتيمي کي ساتلی او ده ته ئې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لار ښوولې او طاقت ئې وربخښلی وو و دې کار ته ئې ملا وتړله، د ده د کونښښ او امانت داری په اثر ټوله د ده دوستان سول او دی ئې محترم وګانه، او همدغه رنګه هغه د جامعې امراض چې ده ښه پېژندلي وه او د ژوندون اسرار چې ښه ورمعلوم سوي وه د چاري او بیان له پاره ئې تیار سو. پر هغو دښمنانو چې د اصلاح او ترقی په لاره کې اغزي وه فاتح سو او په شرح صدر سره چې الله تعالی و ده ته ورکړی او فرمایلي دي: (الم نشرح لکه صدرک) د خپل مقصود تعقیب ئې وکی او په هغه سره کامیاب سو.

حضرت محمد رسول الله ﷺ د خپل تجارت په وخت کې ولیدل، چې خلک څنګه درواغ وایي او په تجارت کې دوروئي کوي او د بل مال په غبن خوري، په تول او ترازو او پیمانه کې غلا کوي او بډایان په اسراف کې کونښښ کوي، نو همدغه سبب وو، چې د دغو اجتماعي مرضو د ریښې د کښلو له پاره ئې ملا وتړله، بې له دې چې اشتراکي یا شیوعي عقاید خپل هدف کې لکه یو کامل سړی چې د ژوندون شئونات ورمعلوم وي د مظلومانو او فقیرانو په جماعت سره ولاړ سو او په ردې او بې پروایي سره ئې د دوی د ژوندون د مصالحو دفاع وکړه.

د حضرت رسول اکرم ﷺ درسته او وسله د (لااله الاالله) کلمه ده، وګړي ئې و دغې کلمې ته رابلل او بېرول ئې، د دوی عاطفه ئې سره ښوروله هم ئې وعده ورکوله او هم ئې تهدیدول، د الله ﷻ په لاره کې ئې د سرزنش او ملامتی څخه پروا نه کوله لکه چې اکا ئې ابو لهب د ده په مخالفت پورته سو او وګړي ئې د ده مبارک په مخالفت پاروول. حضرت محمد ﷺ په صریحه لهجه د قرآنکریم په ژبه پرده او ماینې ئې لعنت ووایه او وئې ویل:

تبت یدا ابي لهب و تب ! مات او هلاک دي سي دواړه لاسونه د ابي لهب او په خپله دي هم هلاک سي. دفعه ونه کړه له ده څخه ملا د ده او هغه چې ده ګټلي وه ژر دئ چې په اور سوځوونکي کې ودي سوځي، او د ښځي په غاړه کې چې چغلګره (یا ئې د بوتو بار وړی) رسۍ دي وي کلکه د خرما د پوستکو څخه (یا د اوسپنې ځنځیر او کړه).

دی مبارک د مکې شریفې د غټانو او بډایانو څخه ونه ښېږدی او بې دریغه ئې دوی پر دنیا پرستۍ او د مال پر ټولولو وغندل. هر کله چې وګړو ولید چې بډایان غندي او د مسکینانو حمایت کوي او د دوی له پاره حقوق مقرروي چې و دوی ته فایده لري او نور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ته تاوان هم نه لري نو ټوله د زړه له کومي د ده مبارک دوستان سول او په ډلو ډلو د الله تعالی و دین ته راواوښتل.

د حق جل و علی شانه حکمت او پر خلکو باندي د ده رحمت دغسي اقتضا ولرله، چې سود او سودخور تر سختي حملې لاندي ونيسي نو له رویه ئې په قرآنکریم کي وفرمایل:

ٱلَّذِينَ يَأْكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِى يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيْطَٰنُ مِنَ ٱلْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓاْ إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰاْ ۗ وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰاْ ۚ فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ فَٱنتَهَىٰ فَلَهُۥ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٧٥﴾ يَمْحَقُ ٱللَّهُ ٱلرِّبَوٰاْ وَيُرْبِى ٱلصَّدَقَٰتِ ۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿٢٧٦﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِىَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ فَأْذَنُواْ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۖ وَإِن تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَٰلِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾ وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾ (سورة البقره: ۲۷۵ - ۲۸۰ آیتونه)

هغه څوک چې سود خوري په آخرت به لکه لېونیان د قبرو څخه سر راپورته کړي، ځکه چې دوي ویل بیع لکه ربا داسي ده، الله بیع حلاله او ربا ئې حرامه کړې ده، نو هر څوک چې الهي پند او نصیحت واوري او د سودخوری څخه منع سي نو الله به تر هغه چې دمخه ئې کړي دي ورتېر سي، او کار د ده د الله سره دئ! هغه څوک چې و سود ته بیرته وروګرځي نو د دوزخ په اور کي به تل پاته سي، الله سود کموي، او صدقې زیاتوي او پرورښت ورکوي، الله دوست نه ګڼي هغه څوک چې د ربا حرامېده نه قبلوي او هغه حلاله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalarlibrary

Downloaded By: Afghan Salar Library

ګڼي او ځان کافر کي، او هم هغه څوک چې د عمل څخه لاس نه کاږي او د دې ګناه مرتکب ګرځي. هغه کسان چې ایمان ئې راوړی دئ او نېک کارونه ئې کړي دي او لمونځونه ئې کړي دي او د مالو زکاتونه ئې ورکړي دي نو سته دوی ته د الله ﷻ په نزد مزدوري او ثواب، ترس او بېره به دوی ته نه وي.

اې مؤمنانو! که مو په رشتیا ایمان راوړی دئ د الله ﷻ څخه وبېرېږئ هغه چې ستاسي رباوي پر خلکو پاته دي ایله ئې کئ، او د ربا څخه خبر اوسئ چې د الله ﷻ او د ده د رسول ﷺ سره جنګ کوي، و الله ﷻ ته رجوع وکئ او ترسود تېر سئ و تاسي ته زیان نه رسېږي. بلکي ستاسي سرمایې به ستاسي وي نه ظلم کوئ او نه پر تاسي ظلم کېږي، که سود ورکوونکی مسکین او تنګدسته وي ده ته مهلت باید ورکړه سي چې توانګر سي، بلکي که غواړئ چې وپوهېږئ نو صدقه کول مو ښه کار دئ.

الله تعالی په دې آیتونو کي پنځه عذابونه یاد کړي دي:

لېونتوب، د مال کمبوت، جنګ او جګړه، کفر او په دوزخ کي تل پاته کېده او زکات ئې پر ځای د سود مقرر کړی، په صدقه سره ئې امر کړی، او د بډایانو په مال کي ئې د فقیرانو په پاره حق واجب کړی او سرمایه غوښتونکي و مفلس پور ادا کوونکي ته ئې د سهلت امر کړی او دی ئې پر خیرات او صدقه او تېري ترغیب او ګومارلی دئ. څرنګه چې الهي حکمت اقتضا درلوده. چې د فقیرانو سره احسان او تصدق وسي په دې باره کي ئې هر ترغیب کړی دئ او څوارلس آیتونه. چې ټوله حکمت او هدایت او ارشاد دي راستولي دي، او فرمایلي ئې دي:

مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍ ۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦١﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَآ أَنفَقُوا۟ مَنًّا وَلَآ أَذًى ۙ لَّهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ ۞ قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى ۗ وَٱللَّهُ غَنِىٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ
وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٦٤﴾ وَمَثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُمُ ٱبْتِغَآءَ مَرْضَاتِ ٱللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِّنْ
أَنفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَـَٔاتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ
فَطَلٌّ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٦٥﴾ أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَن تَكُونَ لَهُۥ جَنَّةٌ مِّن نَّخِيلٍ
وَأَعْنَابٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ لَهُۥ فِيهَا مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ وَأَصَابَهُ ٱلْكِبَرُ وَلَهُۥ ذُرِّيَّةٌ
ضُعَفَآءُ فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ
تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَنفِقُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ أَخْرَجْنَا
لَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا۟ ٱلْخَبِيثَ مِنْهُ تُنفِقُونَ وَلَسْتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغْمِضُوا۟ فِيهِ ۚ
وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِىٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾ ٱلشَّيْطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ وَٱللَّهُ
يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾ يُؤْتِى ٱلْحِكْمَةَ مَن يَشَآءُ ۚ وَمَن يُؤْتَ
ٱلْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِىَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٦٩﴾ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن
نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُهُۥ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾ إِن تُبْدُوا۟
ٱلصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنكُم
مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾ ۞ لَّيْسَ عَلَيْكَ هُدَىٰهُمْ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ
يَهْدِى مَن يَشَآءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا۟ مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ٱللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾ لِلْفُقَرَآءِ ٱلَّذِينَ
أُحْصِرُواْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ ٱلْجَاهِلُ
أَغْنِيَآءَ مِنَ ٱلتَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَـٰهُمْ لَا يَسْـَٔلُونَ ٱلنَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ
خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً
فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾

(سورة البقره: ۱۶۰ - ۱۷۷ آیتونه)

د هغو صدقو مثال چې د الله په لار کې ورکول کېږي لکه هغه دانه داسې ده چې اووه وږي ځنې شنه سي او په هر وږي کې سل دانې وي. الله د هغه چا له پاره چې وغواړي دوه چنده د هغه کوي، د الله بخښنه پراخه ده او د وګړو په استحقاق او اعمالو دانا دئ، هغه کسان چې خپل مالونه د الله ﷻ په لار کې نفقه او هدیه کوي او وروسته هغه څه چې ورکړي ئې دي منت نه پر ایږدي او آزار نه ورکوي دوی ته د الله په نزد مزد او ثواب دئ او پر دوی بېره او غم نه وي ښه خبره او تېرېده، تر هغې صدقې ښه ده چې وروسته تر هغې آزار وي او الله ﷻ بې نیازه او حلیم دئ.

اې مؤمنانو! خپلې صدقې په منت ایښودلو او آزار سره مه باطلوئ لکه هغه څوک چې خپل مال د ځان ښکاره کولو او نه د ایمان له رویه پر خدای او تصدیق پر آخرت اتفاق کوي، د دې سړي مثال لکه هواره ډبره داسې دئ، چې خاوري پر پرتې وي او تند باران پر وسي نو هغه ومینځي او د خاورو څخه ئې پاکه کي، پر هغه څه چې کړي ئې نه سوای کولای چې مزدوري لاس ته راوړي. الله کافرانو وګړو ته هدایت نه ورکوي، د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله د خوښۍ په لاره کې نه د زړه د محبته او د نفس د آرامۍ له جهته ورکوي لکه هغه باغ داسې دئ، چې د درختو ډک پر لوړه وي او تند باران پر واوري، نود نورو په دوه چنده مېوه وکي (یا په کال کې دوه چنده مېوه وکي) یا که دانه درشته نه وي نرم باران پر واوري الله په هغه کې چې کوي ئې لیدونکی دئ. آیا یو څوک له تاسې څخه خوښ لري چې ده لره باغ وي د انګورو او خرماوو او تر ونو لاندې ئې ولې بهېږي او هر ډول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مېوې پکښې وي او دغه سړی سپين ږيری سوی وي او زامن ئې ضعيف وي نو سخت باد او دوړي چې اور ورسره گډ وي هغه باغ ته ورسېږي، الله خپل دغسې آياتونه تاسې ته بيانوي بنايي تاسې فکر پکښې وکړئ.

اې مؤمنانو! د هغه څخه چې پاک او حلال مو په لاس راوړي دي او ما ستاسې له پاره د مځکې څخه را ايستلي دي انفاق وکئ او قصد مه کوئ چې اتفاق کوی د بدو شيانو، چې که هغه تاسې ته بل څوک درکي نه ئې اخلئ، مگر د سترگو پټول له رويه د نقصان څخه ئې، پوه سئ چې الله بې نيازه دئ ستاسې د صدقو څخه (که ئې ورنه کئ) او حميد دئ (که ئې ورکئ) شيطان مو په تنگدستي او مسکنت بېروي او په بخل مو امر کوي. الله ﷻ تاسې ته بخښنه (په آخرت کې) او رزق (په دنيا کې) وعده کوي، الله ﷻ پراخ عطا او دانا دئ، حکمت هغه چا ته ورکوي چې وغواړي هر چا ته حکمت ورسېږي، نو ډېر خير ئې پيدا کړی دئ تذکر او ياد نه کوي مگر د عقل خاوندان، هره نقطه يا نذر چې انفاق ئې کی الله په هغه پوهېږي ظالمانو ته يار نسته که صدقې په بنکاره ورکړي نو ښه کار مو کړی دئ او که ئې په پټه و فقيرانو ته ورکی دا ستاسې له پاره ښه دئ، او وبه رژول سي ستاسې گناهونه، الله په هغو کارو کې چې کوئ ياستې خبر دئ، توفيق د هغو پر تا نه دئ الله هر چا ته چې وغواړي توفيق ورکوي هر خير چې انفاق کړي د خپل ځان له پاره ئې کوي، پرته د الله ﷻ د خوښی د لاري څه ئې نه کوي، د هغو مکافات او ثواب به ووينې پر تاسې ظلم نه کېږي، هغه فقيران چې د الله ﷻ په لار کې محصور (عاجز، ضعيف، سپين ږيري، مريض يا نور) دي او نه سي کولای چې په مځکه کې په سفر ولاړ سي او مال لاس ته راولي هغه څوک چې د دوی په حال او کار خبر نه دئ، دوی ته د عفت په واسطه چې لري ئې د بډای گومان کوي، هغه په سيما پر چهره او بڼه پېژني دوی د اصرارو له رويه څه شي نه غواړي، هر خير انفاق کوي الله تعالی په هغه عالم دئ هغه کسان چې خپل مال په شپه او ورځ په بنکاره او پټه انفاق کوي الله و هغه ته مزد، ثواب او مکافات ورکوي ببره، ترس او غم پر هغو نه وي.

له دغه څخه چې ومو ويل معلومه سوه، چې د حضرت محمد رسول الله ﷺ تر بعثت دمخه دنيا سر تر پايه فساد نيولې، عقلي او روحي او خلقي پستی پر وگړو احاطه کړې وه او پر هر ځای تياره غوړېدلې وه، د وگړو سترگې رندې او کارونه ئې پرېشانه وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"ظهر الفساد في البر والبحر بما كسبت ايدي الناس ليذيقهم بعض الذي عملوا".

استاد (موير) په خپل کتاب کي چې د (ترجمه محمد ﷺ) په نامه ئې ليکلی دئ، داسي وايي:

په اووم ميلادي قرن کي نصرانيت فاسد سو. (گيبن) ويلي دي: په اووم ميلادي قرن کي نصراني دين په بت پرستۍ اليش سو، وگړي د معابدو او هياکلو د توجه په عوض و بتانو ته متوجه سول، وگړي گمراه سول او گمراه کوونکي د الله د صفاتو نسبت مسيح عليه السلام او مورئې بي بي مريمي رضي الله عنها ته کاوه او د واحد پرستۍ څخه ليرې سوله، په تثليث او اتحاد او حلول معتقد سول. اجتماعي احوال او اخلاقي اوضاع په نړۍ کي تر دې حده پريشانه او گډوډه وه چې نه يوازې د دين اهل د فضايلو څخه ليرې سوي وه، بلکي رذائلو د فضائلو حکم پيدا کی، او وگړو ذ الله د تقرب په نامه و هغو ته مخ اړولی وو، ټوله ملتونه مخ پر پستي ولاړه او ټولو ملتو رذائل او منکرات پر ځای راوړل، رشتيا همدا ده چې د حضرت محمد ﷺ تر بعثت دمخه ډېر پيغمبران عليهم السلام چې د دوی وجود ته حاجت وو الله تعالی راولېږله، ليکن د هيڅ يوه پيغمبر عليه السلام عصر او زمانه چې دی پکښې رالېږل سوی وو داسي تياره او تاريکه نه وه، لکه هغه عصر او زمانه چې حضرت محمد عربي ﷺ پکښې راولېږل سو. ټولو رسولانو سختۍ، آزارونه او زحمتونه ليدلي دي، ليکن هيڅ يوه رسول عليه السلام د حضرت محمد ﷺ په اندازه سختۍ او زحمتونه نه دي ليدلي او د لويو مسئوليتونو سره نه دئ مخامخ سوی، ځکه حضرت موسی عليه السلام چې د بني اسرائيلو د آزادۍ له پاره راواستول سو په هغه موقع کي وو چې مصريانو په هغه وخت کي تمدن درلود، او د علومو او اخلاقو څخه ئې غټه برخه درلوده، تر دې حده چې په دوی کی داسي کسان وه، چې غوښتل ئې چې د کاينناتو د اسرارو څخه ځان خبر کي او په ډول ډول جادوگريو او غيب ويلو بوخت وه، عيسی عليه السلام هم هغه وخت رسول سو، چې د روم تمدن نسبت د نورو ښارو و تمدن ته لکه د نن ورځي د غربيانو تمدن داسي وو، په زياته بيا رومیان د طبابت په علم کي ډېر پر مخ تللي وه، هغه عيب چې په دوی کي وو، دا وو، چې بت پرست وه او هم نفاق او نور رذائل پکښې رواج وه، عيسی عليه السلام ورته راواستول سو، چې دغه رذائل او بت پرستي ورکه کي او د پخوانيو رسولانو پيروي رواج کي، نو په دې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

صورت کي چي دغو عواملو او اسبابو چي د حضرت موسی علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام ظهور ئې لازم ګانه نو شک نه وو، چي د میلادي شپږم قرن اوضاعو دغه اقتضا درلوده، چي باید ډېر پیغمبران د دنیا په اطرافو کي پیدا سي او هر یو، یو یو اقلیم اصلاح کړي او یا باید یو پیغمبر و تهوله جهان ته راواستول سي چي د الله جل و علی شانه دین هر ځای محکم کي او د یوه واحد احد الله ﷻ و عبادت ته ئې راوبولي، ځکه چي په شپږم میلادي قرن کي ګرده ادیان او شریعتونه په تهوله نړۍ کي د غفلت تر پردې لاندي سوي وه، د الهي حدودو سره مخالفت کېدی، دیني او روحي حالات خراب وه، لکه چي ومو ویل: نصرانیت چي د بت پرستۍ د ورک کولو له پاره بنکاره سو نو ژر دی په خپله په دغه بت پرستي ککړ سو، ځکه چي په دغه وخت کي فاسدي فلسفې او فکرونه پیدا سول او پر دیني کتابو ئې حمله کوله، په نتیجه کي هغه ملتونه چي په مرکزي او شرقي آسیا کي ئې ژوند کاوه او هم هغه قبایل چي د اروپا په شمال کي اوسېدله، او نور داسي بنارونه چي په هغه وخت کي معروف نه وه تهولو د پستۍ او رذالت لار نیولې او په بت پرستۍ سره بوخت وه، بلکي د یهودو د قبایلو ډېري طایفې د بتانو په عبادت ککړي وې.

په دغسي زمانه کي چي اسماني کتابونه تحریف او تبدیل وګرځېدل، او الهي کلمې د وګړو د فهم څخه په پرده کي سولې، نو د الله جل و علی شانه رحمت داسي وغوښتل چي پرې نه ږدي چي بنده ګان ئې د رذائلو په شپلو او د بې لاریو په تیارو کي سرګردانه پاته سي او هم ئې وغوښته چي د خپلو کلمو صفایي او جمال بیرته څرګند او د هغو زېبایي او بنکلا بیرته د وحي په وسیله نوې کي، لکه چي په قرآن عظیم الشان کي ئې فرمایلي دي:

نَزَّلَ عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ﴿٣﴾ مِن قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلْفُرْقَانَ ۗ (سورة عمران: ۳ - ۴ آیتونه).

په راستي سره پر تا کتاب نازل سو، هغه چي تر تا دمخه وه تصدیق کي، تورات او انجیل چي دمخه مو لېږلي وه د وګړو لارښوونکي وه، فرقان هم راولېږل سو.

دغه آیت دا ښه څرګندوي چي د الهي عادله سنت پر دې قرار نیولی وو چي په هره زمانه کي تر بلي زماني وروسته نور او خپل هدایت پرله پسې و وګړو ته ورسوي، له دې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

Downloaded By: Afghan Salar Library

هته پسله دې چې ئې و مختلفو امتو ته متعدد کتابونه ولېږل او د هغو کتابونو لږ عمر پيروي وسوله، وروسته ئې خلکو سر له اطاعته واخيست او د عقايدو او احکامو او عباداتو سره ئې په مخالفت ملا وتړله، نو د عادله سنت په حکم لازم دا وو، چې د هر امت له پاره يو رسول ولېږل سي چې دغه خلاف او مخالفت له منځه يوسي يا دا چې د ټولو امتو له پاره يو رسول ولېږي، چې دغه کار پای ته ورسوي او خلک و راستي لاري ته راوبولي، په قران مجيد کې ئې فرمايلي دي:

تَاللَّهِ لَقَدْ أَرْسَلْنَا إِلَى أُمَمٍ مِنْ قَبْلِكَ فَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَهُوَ وَلِيُّهُمُ الْيَوْمَ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (٦٣) وَمَا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِي اخْتَلَفُوا فِيهِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (٦٤) وَاللَّهُ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَسْمَعُونَ.

قسم په الله چې تر تا دمخه مو و امتو ته رسولان استولي وه، نو شيطان د دوی کارونه د دوی په نظر کې بنايسته کړل نو نن ورځ د دوی ولي هغه شيطان دئ، او سته دوی ته عذاب دردناک، ما قرآن پر تا نه دئ لېږلی مګر د دې له پاره چې دوی اختلاف پکښې کړی دئ روښانه ئې کړي او مګر د مؤمنانو د لارښوونې او د دوی د رحمت له پاره.

د دې آيت څخه دوې خبرې څرګندې ږي يوه دا چې شيطان د دوی کارونه بنايسته کړه، لکه دوی په خپله به ويل: "نبه دا دئ چې دغه د شر کارونه وکړو چې خير ته ورسېږو". دوهمه دا ده هغه چې پخوانيو پيغمبرانو ويل او راوړي وه په هغو کې سخت متفرق او اختلاف ئې پکښې کاوه.

د اديانو تاريخ ثابتوي چې الله تعالى په هره زمانه کې رسول لېږلی دئ، هر کله چې د ده په دين کې زيات او کمبوت او تحريف وسو او د دې تغيراتو په اثر ئې د زمانې په مرور سره د خلکو اختياج نه سو رفع کولای نو الله بل رسول مبعوث کړ، ځکه هغه دين چې تغير او تبديل پکښې پيښ سي د مختلفو زمانو د حاجاتو تر عهده نه سي وتلای، بلکې هغه دين د دې کار تر عهدې وتلای سي، چې محض او خالص آسماني دين وي، هيڅ تصرف او تغير نه وي پکښې سوی، دغه ډول دين دين دئ که څه هم په زرو کلونه پر تېر سي، د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

انسانانو د اصلاح له پاره کافي دئ، ځکه چي دين هم د الله ﷻ د مصنوعاتو څخه دئ، د الله ﷻ مصنوعات که څه هم په زرو زرو کلونه پر تېر سي نوي اوتازه دي، دريابونه، لمر، سپوږمی، ستوري، بادونه دا ګرده د الله ﷻ مصنوعات دي سره له دې قرنونه قرنونه پر تېر سوي دي د انسانانو او حيوانانو او نباتاتو د حاجاتو له پاره بالکل کافي دي، دين همدغسي دئ، ځکه دين د الله ﷻ دئ هر شي لره شامل دئ، چي په مختلفو زمانو کي د انسانانو حاجت ورته سته، دين د تغير او تبديل او تنقيح قابل نه دئ هيڅوک که څه هم په وه او هوښيار وي که د دين پر لمن د تحريف دوړي پرتې وي نه سواى کولاى چي هغه و هغه لومړي حال ته وګرځوي، ځکه هر کله چي سړى نه سواى کولاى چي پر نړېدلو پايو او نړېدلو او ماتو دېوالو نوې داسي بناء جوړه کړي چي هغه د سکونت او بقا وړ وي او د پخوا په شان ښايست ولري، نو دا خو بالکل نه سي کولاى چي د هغه دين بناء چي ټوکر ټوکر او ګډه وډه وي نوې ئې کي.

اومه مېوه رسېږي او پخه کېږي بيا ورسته او اجزا ئې سره تيت کېږي، بيرته هغه حال ته ګرځي چي دمخه تر مېوه کېدو ئې درلود، الله ﷻ هغه دوهمه پلا په بله ماده احاله کوي يا داچي اول حالت ته ئې ګرځوي:

آللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ (سورة النمل: ۸۸ آيت)

کوم انسان دئ چي فاسده ورسته مېوه چي اجزا ئې تيت و پرک سوي وي بيرته لومړي حال ته وګرځوي او هغه لکه دمخه چي وه يوه تره او تازه او خوشمزه مېوه ځني جوړه کي؟

نو سړى چي د داسي کار تر عهدې نه سي وتلاى چي يوه ورسته مېوه بيرته تر او تازه کي نو څنګه کولاى سي چي الهي وحي او آسماني دين چي تحريف او فساد ورته راغلى وي بيرته وګرځوي؟ هغه انسان چي د خوني او مېوې د بيرته ګرځېدلو څخه و خپل حالت ته عاجز وي نو هغه دين چي ارکان ئې سست او روابط ئې قطع او خلک ئې متفرقه کلمه وايي، کله کولاى سي چي خپل نوي اصلي حال ته وګرځوي، هغه دين چي د بت پرستۍ سېل وړى وي، اخلاقي او فکري انحطاط ئې پر پيروانو غالب سوى وي تر دې حده چي کانې، ونې، لمر، سپوږمی ئې خپل معبود ګرځولي وي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (سورة فصلت: ۳۶ آیت)

لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ که په ربنتیا د الله عبادت کوئ نو یوازي الله تعالی ته سجده کوئ چې د لمر او سپوږمۍ خالق دئ.

بلکي په مختلفو عنوانو هواپرستي او شهوتخواهي کوي او په خپلو معبدو کې د ډېرو ناوړو او بدکارو مرتکب سوي دي، څنګه به ممکن وي چې و خپل پخواني حال ته وګرځي؟

د میلاد په شپږم قرن کې د دین فساد تر دې حده ورسېدی چې د خلکو د زړو او عقایدو اختیار د دیني زمامدارانو په لاس کې ولوېدی، داسي که یوه کشیش به وچا ته ویل: "دا سړی مسیحي دئ مسیحي وو او که ویل ئې (نه دئ) نه وو"، د خلکو د عقایدو آزادي اخیستل سوې وه او د دوی د زړه دوو ستر ګو د کشیشانو دوو شوندانو ته کتل دغو کشیشانو د دنیا د لیري کېدو محنت او د کسب او کار څخه لاس اخیستل ئې د وګړو په زړو کې واچاوه، لکه چې د متي په انجیل کې راغلي دي: "محال دئ چې د خدای او مال خدمت وکي، بنا پر دې و تاسي ته وایم د خپل ژوند ون له پاره فکر مه کوئ، چې څه به خورئ او څه به څښئ، او مه د بدن غم خوري چې څه اغوندئ تاسي ته په راستي وایم ډېره مشکله ده چې بدایي د آسمانو و ملکوت ته ورسېږي".

کشیشانو خلک دغسي وپوهول چې ممکن دین د عقل په صریح حکم مناقض وي او باید پر دغه ایمان ولري. اسلیم کشیش ویلي دي: "هغه چې ستا په زړه کې عرضه او لوېږي واجب دي چې بې له فکر او نظر څخه اعتقاد وکې، بیا نو اجتهاد وکې په دې کې چې ائین او بنایست د اعتقاد وپېژنې".

خلک ئې د ژوندون د کارو د مشغولېدو څخه ګرځول، هر کله که د یوه سړي فکر د جهان د یوه شي و پوهېدلو ته متوجه کېدی نو د دین زمامدارانو د دې بېري چې نه باید د دین څخه واوړي، دی ئې د دې کار څخه منع کاوه، تر دې حده چې د وګړو په فکر کې دغې مفکورې قرار نیولی وو چې سلامتي په نه فکر کولو او تسلیمي کې ده، قانون او قاعده پر دې وه چې (نادانې د پرهېزګارۍ مور ده). پوهه او علم او معرفت غندل کېدی، د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بطليموسيانو او مصريانو کتابونه د ژول سزار په زمانه کي په اسکندريه کي وسوځول سوه. نيوفل، چي د اسکندرئې د کشيشانو مشر وو يوه بهانه جوړه او هلته ئې اله ګوله جوړه کړه، د بطليموسيانو پاته کتابخانه ئې وسوځله. تيت و پرک او محوه ئې کړه، په شپږم قرن کي يوې ډلي ديني پيشوايانو د ځان له پاره الهي سلطنت وټاکه او پر وګړو ئې خپل امر او اطاعت واجب کی، د دوی په غوږو کي ئې دا ورکړه چي خداى و دوى ته وحي ورلېږي، او دوى د تشريع حق لري او هيڅوک د دوى سره د مخالفت حق نه لري، که څه هم دوى ووينې او پوهېږي چي دوى د خداى سره دښمنان دي او د دوى کارونه د هيڅ دين او شريعت سره برابر نه دي، ځکه څوک چي د الهي سلطنت و مرتبې ته رسېدلى وي د ده وينا او عمل هر ډول او هر څه چي وي د اعتراض قابل نه دي، شرع او دين همدغه دئ و بس.

له دغه پورته بيان څخه ښه څرګنده سوله، چي جهان سر تر پايه په فساد اخته وو، ځکه:

۱. ايران او روم د تل جنګو په اثر ضعيف او ستړي سوي وه.
۲. د خلکو عقيدې فاسدي او د دنيا کارونه پر دوى مجهول وه.
۳. ديني پيشوايانو چي هر څه غوښته کوله ئې، او پر خپل سر ئې ډنګول.
۴. د مهر او اتحاد پر ځاى نفاق او دورويي د جماعتو او افرادو په منځ کي وه.
۵. وګړي د دين د پيشوايانو د جلوګيرى او تحريم په اثر په مخلوقاتو کي د کتلو او تفکر څخه لاس اخيستى او په نتيجه کي د هغه څخه چي بايد نفع ځني واخلي بې برخي پاته وه.
٦. د يهودو سرمايه دارانو او بډايانو او د نورو ملتو دولتمنو، ناداره او مسکينان د ناوړي ربا او سودخورى او د اجناسو د کم ورکولو په واسطه خپل مريان کړي وه، دغه جهان نيونکي فساد ايجابوله چي د يوه ځايه يو آواز راووزي، بيده او غافله وګړي ويښ او پر سد کي او ظالمان ئې واروي چي د بېځايه وينو تويولو، اسراف، خودپسندى، او د ملا ماتولو محصولاتو او مالیو څخه چي ناداري، خواري، مسکينى او پرېشانى ئې راوستلي دي او په دغه سبب خلک پر ځان او مال باور نه لري لاس واخلي او جلوګيري ئې وکي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

له همدې سببه الهي رحمت د دې باعث سو چې رحمة اللعلمين محمد رسول الله ﷺ مبعوث سي، الله تعالى دى رسول كړ، چې د مځكي پر مخ توحيد خپور او محكم كړي، رسول ئې كړ چې فاسدي عقيدې اصلاح كي، په دې سبب ئې څرګنده كړه چې مسيح روح الله او كلمة الله او د الله پيغمبر دئ، چې و بني اسرائيلو ته ورواستول سو، چې دوى ته په معادي او معاشي كارو كي لارښوونه وكي او د دوى څخه ئې وغوښتل چې د الله ﷻ شكر وكاږي او هغه د الله تعالى ورکړي قواوي پر كار واچوي، په زياته بيا عقل چې تر ټولو انساني قواوو لوړه او ښه قوه ده، بېكاره ئې پرې نه ږدي او د خپل وجود كتاب چې د ده په مخ كي خلاص دئ مطالعه كي او د هغه له مطالعې څخه الله تعالى وپېژني او د اصول و مقام ته رسېدلې مطالعه او دقت پكښې وكړي، حضرت رسول اكرم ﷺ راغى چې خلك وپوهوي چې دين د الله او د الله دين يو ډول دي او كه په ظاهري صورت يو اختلاف پكښې پېښ سي روح او حقيقت ئې يو دئ، چې د رسولانو په ژبه و خلكو ته رسول سوى دئ. دين عبارت له دې څخه دئ: پر الله باندي ايمان، او د يوه الله عبادت او يو د بله په ښو كارو كي مرسته، د آزار او اذيت څخه د نورو لاس اخيستل.

حضرت محمد رسول الله ﷺ راغى چې د بشر عقل د بند او ځنځير څخه خلاص كي، څو وكولاى سي آزادانه په هغه لار كي چې دى د هغې لاري د طى كولو له پاره پيدا سوى دئ تګ وكي، له همدې رويه د هغه د ويښولو له پاره ئې ګاهي ويل:

أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا (سورة انبياء: ۳۰ آيت)

آيا كافرانو نه دي ليدلي چې آسمان او مځكه سره تړلي او موښتي وه، بيا مو هغه سره جلا كړل.

او كله به ئې ويل:

أَوَلَمْ يَنظُرُواْ فِي مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا خَلَقَ ٱللَّهُ مِن شَيْءٍ (سورة اعراف: ۱۸۵ آيت)

آيا د مځكي او آسمان په ملكوت او د الله په نورو مخلوقاتو كي دوى نه دي كتلي.

بل وخت به ئې ويل:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وَءَايَةٌ لَّهُمُ ٱلْأَرْضُ ٱلْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَـٰهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَأْكُلُونَ ﴿٣٣﴾

(سورة یاسین: ۳۳ آیت)

مړه مځکه چې ژوندۍ مو کړه او دانې مو ځني راوایستلې چې وئې خوري دغه د دوی له پاره نښانه او آیه ده.

بیا ئې وویل:

وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَـٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ .

(سورة روم: ۲۲ آیت)

دآسمانو او مځکې پیدا کېدل او ستاسې د ژبو او رنګو اختلاف یو له آیتو څخه د الله دئ.

محمد مصطفی ﷺ د بشریت په جامه کې راغلی او له خلکو څخه ئې وغوښتل چې پر یوه واحد الله ایمان راوړي او د شخصي فکر او عقلي دلیل له رویه دغه ایمان ثابت او محکم کړي.

حضرت محمد رسول الله ﷺ خپل قوم په هغو کارو چې خارق عادت مدهوشه او سرګردانه نه کړل او د دوی سترګې ئې په غیر معتادو نمایشاتو خیره نه کړې او د دوی ژبې ئې په بېره او ډار ګونګې نه کړلې. رشتیا همدا ده چې قرآنکریم بزرګه معجزه ده، او دغه په خپله د قرآن مجید څخه څرګندېږي، چې دغه قرآن عظیم الهي وحي دئ او انسان نه دئ جوړ کړی (ځکه چې د قرآن شریف راوړونکی امي وو، خط ئې نه دئ لیکلی، درس ئې نه وو ویلی). داسې قرآن ئې د انسانانو له پاره راوړ، چې د ژوندو پر دستور او قانون او نظام شامل دئ او انسانان د هغې تیارې ورځې څخه چې درلودله ئې ساتي ئې او د هغه هلاکت څخه چې په تهدید کېدل خلاصوي ئې.

حضرت محمد ﷺ قرآن راوړی، او خلکو ته ئې وویل: آزاد یاست چې فکر په هغه کې وځغلوئ تر څو چې کولای سئ او وس مو وي، کوښښ وکئ چې که دغه قرآن کریم معجزه نه بولئ او پر رسالت ئې دلیل نه ګڼئ تاسې هم دغسې قرآن جوړ کئ:

وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ (سورة بقره: ۲۳ آیت)

که په قرآن کې شک یاست نو فقط یوه سورة تاسې جوړه کئ لکه د دغه قرآن.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُوا۟ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ﴿٨٢﴾

(سورة نساء: ۸۳ آیت)

آیا په قرآن کي فکر نه کوئ که قرآن بغیر له الله د بل له خوا وای نو ډیر اختلاف به پکښې پیدا سوی وای.

قرآن عظیم یوه معجزه ده، چې د خلکو پر عقلو عرضه سوې ده، ټوله وګري ازاد دي چې د هغه په شاو خوا کي فکر وکي، که چیري کولای سي دغسي یو قرآن دي راوړي، یا که یو اعتراض او اشکال لري بې تغیې دې بنکاره کي.

حضرت محمد رسول الله ﷺ راغی چې د الهي سنت و مطالعې ته وګړو ته لار وښیي او د تېرو خلکو په آثارو او د اوسنیو خلکو په احوال کي فکر وکي، چې د هغه څخه پند واخلي.

قَد خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ فَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾

(سورة عمران: ۱۳۷ آیت)

تر تاسي مخکي ډېرې دورې تېرې سوي دي ، په مځکه کي وګرځئ راوګرځئ، وګورئ چې هغه خلک له څه عاقبت سره مخامخ سول چې هغو (د الله حکمونو او لارښوونو ته) د درواغو نسبتونه کول .

سُنَّةَ مَن قَدْ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِن رُّسُلِنَا ۖ وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيلًا ﴿٧٧﴾ (سورة بني اسرائیل: ۷۷ آیت)

لکه سنت چې تر تا دمخه مو د پیغمبرانو له پاره ایښی دئ او زموږ په سنت کي به تغیر نه کی پیدا.

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ ٱلْأَوَّلِينَ ۚ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبْدِيلًا ۖ (سورة فاطر: ۴۳ آیت)

آیا پرته د پخوانیو پر سنتو نظر کوئ. د الله د سنت له پاره تبدیلي نه سئ پیدا کولای.

رحمة اللعالمین ﷺ راغی چې د هغو پیشوایانو تسلط چې آزادي او فکر ئې محدود کړي او د کارو حل و فصل ئې په لاس کي نیولی وو له منځه ایسته کي، او د دغه تسلط اساس خراب کي او پرته د الله تعالی او رسول الله ﷺ پر عقایدو د خلکو پر نورو عقایدو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تسلط کښېږدي.

محمد رسول الله خلک د مريتوب له پاره د الله د بنده ګۍ څخه ماسوا خلاص کړل او د مسلمانانو د هيڅ يوه له پاره ئې د نورو مسلمانانو پر افرادو که څه هم کمعقل او ناپوه وي پرته له لاس نيوي او لارښوونې او نصيحت څخه يو حق نه دئ مقرر کړی.

وَتَوَاصَوْا بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِٱلصَّبْرِ ﴿٣﴾ (سورة عصر: ۳ ايت)

يو د بله په راستي او درستي او تحمل سپارش کوئ.

وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى ٱلْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ

(سورة عمران: ۱۰۴ آيت)

ستاسي څخه بايد يوه ډله وي چې خلک و خير ته رابولي او ښو کارو ته ئې امر کوي، او د بدو کارو څخه ئې منع کوي.

حضرت محمد ﷺ ديني تسلط او سلطنت فقط په ښه نصيحت او خير ته په رابللو او له شر څخه په منع کولو کې مقرر کړی دئ، همدغه سلطنت ئې د مسلمانانو و هر سړي ته ورکړی دئ، لوړ او ټيټ، بډای او فقير هر يو له دې سلطنت څخه برخه لري او کولای سي چې په خپل وخت کې يو د بله استفاده سره وکي. حضرت محمد ﷺ په خلکو کې يو د بله لوړتوب او فضيلت په پرهېزګاري او د عقل په پاکي او د قرآن عظيم او سنتو په پيروي سره مقرر کړی دئ، د حضرت محمد ﷺ په نظر کې هغه د يوه ديني مشر پيروي بايد وسي او اطاعت ئې لازم وګڼي چې د قرآن او سنتو پيروي کوي، که د لاري څخه کوږ سي او يو قدم د شرع د لاري دباندې کښېږدي مسلمانان بايد هغه تر لاس ونيسي لاري ته ئې راکش کي، پند او نصيحت ورته وکي او که د قرآن او سنتو پر خلاف رفتار کوي بل يو دې د ده پر ځای غوره کي، بنايي دا چې دغه مفسدة تغير علاوه تر مصلحت وي ده مبارک ﷺ ويلي دي:

لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق.

حضرت محمد ﷺ هغه شيان چې عقل او شهوت په هغو کې مخالفت درلود او د وګړو مصلحت او د دوی د لذت منازعت کاوه بيان ئې کړل، د محبت راز ئې څرګند کی او دا ئې په وګړو وفهمول چې د جامعې انتظام د هغو په وسيله و خپل کمال ته رسېږي او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغو له فايدو څخه دا دي:

چي قوي د ضعيف سره مرسته وکړي، بډای د مسکين او بېوزلي سره کومک وکي، لاربنوونکی بنوئېدلی او ګمراه پرلار کي او لار وروبنيي او دانا او عالم و ناپوه ته پوهه او علم ورزده کي.

هغه چي حضرت رسول اکرم ﷺ راوړل زړونه ئې آرام کړل د انسانانو د ژوندون هغه لوی او سخت مشکل چي د جهان هوبنياران تر اوسه د هغه د حل په لار کي کوبنښ کوي اسان او حل کړ، په دې ډول چي مغموم او غمجن وګړي ئې په صبر سره امر کړل او ورته وئې ويل، چي صبر د ډېر اجر او ثواب مايه او د الله ﷻ رضامندي او خوشحالي ده.

حضرت محمد ﷺ هغه بندونه چي پخوانيو پېشوايانو د وګړو و مخ ته اچولي وه او دوی ئې د هغه استعداد د پر کار اچولو څخه چي د ممکناتو د اسرار د کشف او د حقايقو د پېژندلو په لار کي درلود منع کړي او ګرځولي وه مات کړل، او خلک ئې د عرفان و طلب او دلايلو او برهان و احترام ته وپاروول او وئې ګومارل.

حضرت محمد ﷺ د بنه ورکړي او راکړي لارو وګړو ته صافه او روښانه کړه، او دوی ئې و ګټورو کارو ته متوجه کړل او د هغو ناوړو او خرابو کارو څخه لکه کم فروشي، سودخوري، په معامله کي ظلم او نورو څخه منع کړل، او د قرض او پور ورکولو بنه لارئې وروښودل، او د دوی په سترګو او زړو کي ئې خيرات او صدقه او زکات ورکول بنه وايسول، او د دې کارو ډېري ګټې ئې و دوی ته څرګندي کړې.

هوکې! د دې عصر تمدن به هغه لار پسې واخلي چي پخواني تمدنونه پرتللي دي، نو د دې خاوندان هغه وخت چي په تيارو کي دننه او سرګردانه او په خپلو کارو کي عاجزه پاته وي نو ناره به سي چي د زړه د کومي څخه د داسي نور طلب وکئ چي د هغه په روښنايي کي خپل ځانونه د فنا د ګرداب وساتئ. شک نسته چي پرته د حضرت محمد ﷺ له دين څخه به بل شی پيدا نه کي. له دې جهته پر مسلمانانو لازمه ده چي يو ګړی د دې مبارک دين د خدمت څخه آرام کنبې نه ني، او هغه په هغه سامان سره چي د دين په نامه زيات سوی دئ بنايسته کړي او د عالم وجود د حقايقو په کشف او د کايناتو د علومو په زده کولو کي کوبنښ وکي، چي اسلام او مسلمانان سرلوړي وګرځوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

څلرم باب

د نبوت د حصول مراحل او د هغه استقرار

د نبوت او رسالت د حصول له پاره څو مرحلې دي

چې لاندې بيانېږي

(۱)

الهي سنت پر دې قرار نيولی، چې هر کله يو بزرگ امر موجود سي، دمخه تر هغه بشير او نذير موجود کېږي، چې بيده عقلونه ويښ او ناپوه وگړي خبر او د وگړو نفوس آماده او مستعد سي، له همدې جهته هغه وخت چې د حضرت محمد رسول الله ﷺ مبعوث کېدل نژدې کېده د ټولو امتو په منځ کې دغه آوازه خپره سوه چې په دې زمانه کې د الله تعالی ﷻ له جانبه يو رسول را استول کېږي او د ده د ظهور وخت ډېر نژدې دئ، همدا وو، چې هر هغه امت چې اسماني کتاب ئې درلود د خپلو کتابو له رويه ئې و دغه رسول ته کتل او که ئې کتاب نه درلود د بېروونکو آياتو او نخښو د ليدو څخه ئې عقلونه بيدار او دې موضوع ته ئې انتظار کاوه.

د دې له پاره چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د تهمت څخه ليرې، د شک او شبهې او ترديد څخه يو سالم حجت، دليل او برهان ډېر مؤثر وي، په ظاهره نه پوهېدی چې دغه انذارات د ده له پاره او د دې څخه منظور د ده پيغمبري ده، څو ندا ورته ورسېده او مناجات سو او په عين حال کې تر خپلو ټولو معاشرانو او تر ټول قوم او خاندان څخه په ښه خوی، ښه طبع، ښه وضعيت او درست رفتار سره ممتاز وو، هيڅکله ئې لکه دوی و بت ته سجده نه ده کړې، بلکې تل به په هغه چې سالم عقل حکم کوي حکم ئې کاوه، د الله ﷻ پر ازليت او وحدت ئې عقيده درلوده، د عالم پر حدوث او د هغه پر فنا معتقد وو، د نعمت د څښتنانو شکر ئې لازم ګانه، ظلم ئې بد او حرام باله، امانت ساتل او عدل کول ئې واجب او ښه شمېرل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۲)

د دې له پاره چې پیغمبر کاملاً آماده او مهیا سي، هر څه چې د نبوت زمانه نژدې کېدله، میل ئې و یوازي توب او خلوت ته په زړه کي ښکاره کېدی، څو چې په کال کي یوه میاشت د حراء په غار کي خلوت کېدی، او د هغو خوړو او اوبو څخه چې ور وړل کېدل لږ قدر ئې خوړل نور ئې و مسکینانو ته ورکول، سره له دغه ټول اهل کتاب د ده په رسالت خبر وه، لیکن په خپله حضرت محمد رسول الله ﷺ و هغه ته متوجه نه وو او له دې لاري الله تعالی دی د تصنع او اختراع څخه وساتی، که اختراعي یا ساختگي وای نو ناچاره کومه مقدمه او اسباب په کار وه دښمنانو به لاس پر لاس ګرځولای او دوستانو به ئې لاس او پښې وهلای چې و هغه ته یو تاویل لاس ته راولي.

حضرت محمد ﷺ خپل خلوت ته دوام ورکی تر څو چې د ده د رسالت علامې او آثار ښکاره سول، الله و ده ته د رسالت زېری وکی، څرنګه چې ثابته سوله چې دغه درونډ بار اخیستلای سي او د هغه حقوق ادا کولای سي نو ئې دغه شریف مقام و ده ته عنایت کی.

(۳)

پسله دغه و حضرت محمد ﷺ ته رشتیا او درست ښه خوبونه لیدل شروع سول او د دې لاري څخه د هغه کار څخه خبر سو، چې په مخ کي ورته راتلی او د دعوت له پاره آماده او قوي سو؛ بي بي زهری د عروة او بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت کړی دئ، چې ویلي ئې دي:

لومړی شی چې حضرت رسول الله ﷺ ته ور د مخه سو، د رشتیا خوبو لیدل وه.

(۴)

پسله دغه ئې د درو کالو په متن کي د ملائکي آواز اروېدی لیکن په خپله ملکه ئې نه لیدله او د ملکي څخه ئې شی زده کاوه، په دغه موده کي چې قرآنکریم لا نه وو نازل سوی حضرت محمد ﷺ په رسالت لا نه وو مامور سوی، الله تعالی دی په دې وسیله د وحي له پاره آماده کاوه، او په رسالت ئې زېری ورکاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۵)

هر کله چې ئې دا مرحلې طی کړلې جبرئیل علیه السلام پرده نازل سو، هم ئې د ده پوره آواز اروېدی او هم ئې دی لیدی، په دې مرحله کې دی مبارک یوازې په رسالت خبر کی، لیکن د انذار فرمان لا نه وو ورسېدلی. حضرت عروة د بي بي عائشې رضی الله عنها څخه روایت کړی دئ، چې وې ویل:

هر کله چې د حق د ظهور وخت راورسېدی، جبرئیل علیه السلام ورته راغی او ده مبارک ته ئې وویل:

ولوله! حضرت ﷺ ورته وویل:

زه لوستونکی نه یم.

نو حضرت ﷺ وویل: چې حضرت جبرئیل علیه السلام زه ونیولم او کلک فشار ئې راکی، نو ئې ایله کړم، وئې ویل:

ولوله!

بیا مې ورته وویل: زه خوانا او لوستونکی نه یم.

دوهمه پلا ئې بیا ونیولم او سخت ئې کنبېکنبم او بیرته ئې ایله کړم وئې ویل: وئې ولوله!

بیا مې ورته وویل: زه ویونکی نه یم، همدغه رنګه ئې دریم وار فشار راکی او وئې ویل:

اَقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿۱﴾ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿۲﴾ اَقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿۳﴾ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿۴﴾ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿۵﴾ (سورة العلق: ۱- ۵ آیتونه)

ولوله! (اې محمده قرآن) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب (پالونکی) چې پیدا کړې ئې دي ټول مخلوقات، پیدا کړی ئې دئ انسان له ټرلو ټوټو څخه د وینو، ولوله! (اې محمده قرآن) حال دا چې رب ستا لوی کریم دئ، هغه رب چې بنوولی ئې (خط انسان ته) په قلم سره، بنوونه ئې کړې ده انسان ته د هغو شیانو چې دی نه په پوهېدی پخوا تر دې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/

Downloaded By: Afghan Salar Library

وروسته دی مبارک ږېږد واخیست، د بي بي خديجې رضی الله عنها کره ولاړی، مکرر ئې وویل پټ مي کئ، دی ئې پټ کی څو بیرته پر خپل حال راغی، نو ئې بي بي خديجې رضی الله عنها ته قصه وکړه، ورته وئې ویل: زه پر ځان بېرېږم، بي بي خديجې رضی الله عنها ده ته د زړه ډاډ ورکی، ورته وئې ویل:

الله تعالی دي تا ته کرټ آفت نه رسوي، ځکه چي ته صله رحمي کوې، خبري په رښتیا کوې، امانت ښه ساتې، د وګړو لاسنیوی کوې، مېلمه ته عزت ورکوې، د وګړو سره په سختو پېښو کي مرسته کوې.

بیا دې مبارکي حضرت رسول اکرم ﷺ خپل د اکا زوی ورقه بن نوفل ته بوتلی، حضرت ﷺ ورقه ته قصه وکړه، ورقه وویل:

دغه ملکه هغه څوک دئ، چي حضرت موسی علیه السلام ته راتلی (یعني جبرئیل علیه السلام دئ). کشکي زه تر هغه وخته ژوندی وای چي ستا قوم تا باسي، حضرت ﷺ ورته وویل: چي ما به وباسي؟ ورقه وویل: هو! ځکه چي هیڅ پیغمبر نه دئ راغلی، مګر دا چي د ده سره دښمنان سوي دي، که زه تر هغې ورځي پاته سم زه به ستا سره مرسته وکم، د (اقراء) تر نزول وروسته لومړی سورت چي پر رسول اکرم ﷺ نازل سو دا سورة و*:

نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ ﴿١﴾ مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ ﴿٢﴾ وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ ﴿٣﴾ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿٤﴾ (سورة القلم: ۱ - ۴ آیتونه)

چي د حضرت ﷺ ثبات زیات کي او بصیرت ئې لا زیات سي او شکر ډېر وکاږي او ښه پوه سي چي رسول او غوره سوی د الله دئ او خپل ځان د الهي فرمان و منلو ته چمتو کي، او په رسولو کي کوښښ وکي څرنګه په دې سورة کي د انذار دستور ورنه کړل سو، بلکي فقط و حضرت ﷺ ته اجازه ورکړه سوه، چي خلک خبر کي، (واما بنعمت ربک فحدث) د خپل رب نعمت و خلکو ته ووایه له دې جهته رسول الله ﷺ وګړي خبرول.

* په ځینو روایاتو کي لومړی سورة چي پر حضرت محمد ﷺ نازل سو. د فاتحې سورة وو. یا د مدثر یا د اقراء سورې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/422812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(٦)

شپږمه مرحله دا وه، چې په انذار سره مامور سو، او د قرآنکریم اوامر او نواهي پرده نازل سوه، لیکن په دې لانه وو مامور سوی چې کار څرګند او بنکاره کړي، یعني مامور نه وو چې ټوله خلک انذار کړي، په دې باره کې دا آیت نازل سو:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمْ فَأَنذِرْ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴿٤﴾ وَٱلرُّجْزَ فَٱهْجُرْ ﴿٥﴾ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَٱصْبِرْ ﴿٧﴾ (سورة المدثر: ۱ - ۷ آیتونه)

اې په جامه کې نغښتلې، ولاړ سه خپل قوم وبېروه، الله ته ځې راوبوله، خپل الله په تعظیم یاد که، خپلې جامې پاکې لره، د ټولو پلیدو څخه لیرې سه (یا د شرک څخه لیرې ګرځه) شی چا ته مه ورکوه، چې بیا ډېر عوض ځنې غواړې او د الله له پاره د زحمتو په مقابل کې صبر وکه.

کم کم خلکو و اسلام ته مخ راوګرځاوه، حضرت رسول اکرم ﷺ که څه هم په پټه دعوت کاوه، لیکن د ده دعوت په قریشو کې تیت سو د وحي او انذار مرحله تحقیق ته ورسېدله.

(۷)

اوومه مرحله دا وه، چې په ښکاره دعوت وکې، او ټوله خلک و اسلام ته راوبولي:

فَٱصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٩٤﴾ (سورة الحجر: ۹۴ آیت)

خپل دعوت په ډډه او ښکاره کوه او د مشرکانو څخه لیرې سه.

دغه امر تر بعثت درې کاله وروسته وو، پسله دغه د الله حکمت اقتضا وکړه چې حضرت محمد ﷺ لومړی خپل نږدې خپلوان دعوت کې، په دې جهت ځې وفرمایل:

وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(سورة الشعراء: ۲۱۴ - ۲۱۵ آیتونه)

خپل نژدې خپلوان وبېروه او الله ته ئې راوبوله، او د مؤمنانو سره تواضع کوه.

حضرت رسول مقبول ﷺ تر دغه وروسته د صفا پر غره وخوت، او خپل خپلوان ئې د نژدې کت په ترتیب راټول کړل. په دې ډول چې د بني عبدالمطلب څخه ئې شروع په کړه، بیا ئې بن عبدمناف، په دې ترتیب ئې د قریشو قبایلو ته جلا جلا بڼغ وکی هر کله چې دوی راټول سول، نو حضرت ﷺ ورته وویل:

آیا که زه تاسي ته ووایم چې د دغه صفا د غره د شا څخه لښکر پر تاسي راوزي باور کوئ؟

ټولو وویل: هو! موږ هیڅ کله ستا څخه دروغ نه دي اروېدلي.

نو حضرت محمد ﷺ ورته وویل: ټوله وپوهېږئ خبر اوسئ چې سخت عذاب مو په مخ کي دئ، زه تاسي په هغه خبروم او بېروم مو.

ابو لهب په قهر برېڅ وواهه وئې ویل:

افسوس دئ پر تا! آیا موږ دي د دې خبري له پاره راټول کړي وو. تر دغه وروسته د (تبت) سورة نازل سو. قریشو د دعوت په لومړي سر کي که څه هم د حضرت محمد ﷺ دعوت رد کاوه لیکن ډېره دښمني ئې نه ورسره کوله، هر کله چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د دوی خدایان بد وبلل او دوی ئې ناپوه او کم عقل وګڼل د دوی بت پرستي ئې وغندله او دوی ئې پر بت پرستۍ سرزنش کړل وروسته تر دغه پرته څو کسو څخه چې اسلام ئې راوړ، نورو ټولو د ده مبارک په دښمنۍ ملاوي وترلې، حضرت جل جلاله د دغو ټولو دښمنانو په مقابل کي تحمل کاوه، استقامت ئې کاوه، دوی ئې د الله جل جلاله لاري ته بلل او د قیامت د عذابو څخه ئې ببرول څو چې دعوت ئې بېخي بنکاره او رسالت ئې کامل سو.

(۸)

اتمه مرحله د تشریعي قانون ایښوول وو، حضرت محمد ﷺ څو عمر چې په مکه معظمه کي وو د حضرت جبرئیل امین د تعلیم او ښوونې په اثر اودس او لمونځ چې په ابتدا کي پرده واجب او پر امت مستحب وو تشریع ئې کې. د هجرت تر نهم کال پورې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هجرت په نهم کال تر معراج وروسته په ورځ کې پنځه لمونځونه پرده او د ده پر امت واجب سول.

تر څو چې حضرت رسول الله ﷺ په مکه معظمه کې وو، بل عبادت پر خلکو نه سو واجب[1]. و مدینې منورې ته تر هجرت وروسته د برات په میاشت کې د هجرت په دوهم کال کې د رمضان د روژې د نیولو حکم راغی، په همدغه کال د قبلې تحول د بیت المقدس څخه و کعبې معظمې ته وسو او هم د اختر لمونځ، د فطر صدقه (سرسایه) واجب سوله، وروسته د مالونو زکات واجب او بیا حج او عمره تشریع سول.

د عباداتو تشریع د پورته په قرار چې وویل سوه وو، لیکن د احکامو کلي اصول چې د اسلام شریعت د هغو د حفظ حکم کړی دئ، مثلاً دین، نفس، عقل او نسل، مال په مکه معظمه کې نازل سوي دي، د نفس د ساتنې په باره کې دا آیت نازل سوی دئ:

وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ﴿٨﴾ بِأَىِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ ﴿٩﴾ (سورة التكوير: ۸ - ۹ آیتونه)

هغه وخت چې پوښتنه وسي د هغه نجلۍ څخه چې ژوندۍ په قبر کې ښخه سوې ده چې په کمه ګناه وژل سوې ده؟

د عقل ساتنه د بدن د یوه غړي په منزله چې د انسان د نفس د ساتنې له پاره د دوی تولو ساتنه لازمه ده ګڼل کېږي.

د نسل د ساتنې له پاره په مکه معظمه کې د زنا د تحریم آیت نازل سو:

قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى صَلَاتِهِمْ خَٰشِعُونَ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ ﴿٤﴾ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَٰفِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ (سورة المؤمنون: ۵ - ٦ آیتونه)

هغه مؤمنان چې خپل لمونځ په خشوع کوي او د ناوړو کارو څخه لیرې ګرځي، او د مال زکات ورکوي او ځان د زنا څخه ساتي پرته له مینځو، نو دوی د عذابه خلاص دي.

---

[1] د تشریع او عباداتو او د هغو د زماني تعین په باره کې مختلف قولونه دي. د فارسي مترجم وایي چې و هغه ته مي ه (تاریخ ادوار فقه) په باره کې چې لیکلی مي دئ اشاره کړې ده، دلته فقط هغه چې مؤلف لیکلي ترجمه ئې سوېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د مال د ساتني له پاره په مکه معظمه کي د (ویل للمطففین) آیت نازل سو او په دې وسیله د وګړو د کمفروشۍ مخه ونیول سوه.

د دین ساتنه په حقیقت کي د ټولو اصولو اصل دئ، قرآنکریم او سنت د هغه د بیان له پاره راغلي دي او لومړی شی دئ چې په مکه معظمه کي نازل سو.

د عرض، او آب و عزت، ناموس او شرف ساتنه باید د پنځګونو اصولو د ملحقاتو څخه وبلل سي، ځکه چې هغه احکام چې د نفس د ایذا څخه ئې نهي کړیده و د هغه عرض ته هم شامل دي، د هغه پنځګوني اصول په مکه معظمه کي نازل سوي دي، څرنګه چې حضرت محمد ﷺ په هغه ځای کي نفوذ نه درلود نو د مجمل په طور وویل سوه، لیکن په مدینه شریفه کي چې د حضرت محمد ﷺ کامله احکام چلیده هم هغه اصول د تفصیل په ډول بیان سول او د هغو فروعات و خلکو ته واضح او روښانه سول، وګړو د هغو سره سم عمل کاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

پنځم باب

د رحمة اللعلمين حضرت محمد ﷺ پر رسالت باندي قطعي دلايل

حضرت محمد رسول الله ﷺ تر ټولو عفيف، رشتيا ويونکی او امين وو، گرده ښه صفتونه او نېک خويونه لکه: حلم، صبر، مړانه، عدل و انصاف، شکر، پاک لمني، تواضع، زړه ورتوب، شرم او حيا، بخشش په ده کي جمع وه، نو ځکه دونه قوت او طاقت ئې وو، چي غرو هدر ځني کاوه. د ده د طاقت په مقابل کي نه سواى درېدلای، د ده مبارک دونه تجلی، روښا او نور وو، چي ليري او نژدې گرده په روښانه کېدل. داسي دلايل ئې درلوده چي گرده نړۍ د ده رسالت پېژندی او تصديق ئې کاوه، چي دی مبارک خاتم الانبياء او د گرده نړۍ اقوامو، قبايلو او ټولو انسانانو له پاره رسول او رالېږل سوی دئ.

اوس هغه قطعي دلايل چي د ده د رسالت د اثبات له پاره مو د ده مبارک د رفتار روش او سيرو څخه را ايستلي دي ليکو، څو د ده د نبوت صدق ښه ترا ښکاره سي، دغه دلايل دوه ډوله دي:

اول: عقلي، چي د عقلو څښتنانو هغه ميدان ته را ايستلي دي.

دوهم: حسي، چي الله جل وعلى شانه د تحدى (معارضه) په مقام کي د ده پر لاس جاري کړي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الف

عقلي دلايل

(۱) درحمة اللعلمين رسول الله ﷺ د ډول ډول اذيتو تحمل:

څوک چې وکولای سي چې د حضرت رحمة اللعلمين ﷺ تحمل او ثبات د قريشو د کافرانو او نورو قبايلو د آزار او ځورولو په مقابل کي ئې تصور کاوه تصور کي بې له شکه به تصديق وکي چې حضرت محمد رسول الله ﷺ په خپل کار کي صادق وو او خپل ځان ئې کاملاً پر حق ګانه، په مطمئن او آرام نفس ئې دعوت کاوه، هر څه چې ئې ويل په خپله ئې پرباور وو، او د يقين له رويه ئې ويل.

(۲) درحمة اللعلمين محمد ﷺ د ستايل سوو اخلاقو شهرت:

حضرت رحمة اللعلمين ﷺ دمخه تر رسالت د ده ټوله قوم په ښو ستايلو اخلاقو او په نېکو خويو سره پېژندی او دی مبارک ئې (امين) باله. هيڅکله ئې د ده څخه درواغ يا لغزش يا بېهوده خبري نه وې اروېدلي. کنه نو څنګه ده مبارک کولای سوای چې د دوی پر عقلو تنقيد ونيسي او د دوی و خدايانو ته بد ووايي، بې له دې چې پر ده يو څوک اخلاقي ايراد وکي. درواغ سړی پست ښکاره کوي او د وګړو په سترګو کي ئې قدر کموي، نو له دې جهته درواغجن نه سي کولای چې د نورو لارښوونکی سي، علاوه تر دې حضرت رسول الله ﷺ د قرآن شريف د څو آيتو په وسيله درواغ ويل بد بللي دي او درواغجنان ئې سخت بېرولي دي، لکه چې ټوله پوهېږي چې داسي خبري پرته له هغه زړه څخه چې د راستي څخه ډک وي نه راوزي، هغه کسان چې د حضرت مبارک ﷺ سره معاشره د ده د ګفتار، رفتار او عمل څخه ئې راستي ليدل او يقين ئې وو، چې هر څه چې وايي رشتيا او درست دي. يو اعرابي چې حضرت رسول مقبول ﷺ وليد دستي ئې ايمان راوړ او وئې ويل:

"قسم په الله دئ چې دغه څېره د درواغجن څېره نه ده".

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی ﷻ هیڅکله د هغه چا تائید نه دئ کړی چې په درواغو او باطلو ئې د رسالت دعوه کړې وي او نه ئې کوي، ځکه چې ډېر زیان لري، حضرت مسیح علیه السلام ویلي دي:

"پسله ما څخه به درواغجنان د نبوت دعوه کوي". نو پوښتنه ځني وسوله، چې علامه ئې څه شي ده؟ وئې ویل:

"د دوی علامه او نښاني دا ده چې الله ﷻ د دوی تائید نه کوي".

د ده مبارک ټوله دښمنان او غلیمان شاهدي ادا کوي د غسي پېروزي او کامیابي چې د ده مبارک په برخه سوې ده د هیڅا نه ده په نصیب سوې که تر ده دمخه وي که وروسته او نه به ئې په نصیب سي، دا به ډېره بېعقلي، ناپوهي او ظلم وي چې څوک ګومان وکي چې (العیاذبالله) محمد ﷺ پر باطل وو او الله تعالی دی کامیابه کی او مرسته ئې ورسره وکړه. ځکه چې دا کار د الهي عدل، حکمت او سنت پر خلاف دئ. آیا دا ممکن ده، چې یو درواغجن وکولای سي چې د خپل ژوند په ټوله دوره کي پر ټولو وګړو لیري وي که نژدې، خپل وي که بېګانه حال پټ کي؟ یه یه! هیڅکله ئې نه سي کولای، ولي چې خامخا په آخر کي درواغجن رسوا او درواغ ئې بنکاره کېږي. په زیاته بیا که درواغجن ډېر دښمنان ولري او د ده په عیبونو او درواغو پسې څارو وي، چې کله به ئې یو لږ درواغ او لغزش تر لاسه کړي چې دوی پسې چکچکي او رسوا ئې کي، ممکن نه دي چې څوک و یهودو ته چې تورات شریف ئې په لاس کي وي په صراحت ووایي:

يَجِدُونَهُۥ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِى ٱلتَّوْرَىٰةِ وَٱلْإِنجِيلِ (سورة اعراف: ۱۵۷ آیت)

دی مبارک په تورات او انجیل کي لیکلی او نوم ئې یاد سوی او ویني ئې، او دوی ته سرزنش ورکوي چې سره له دې چې دی مبارک په خپلو کتابو کي ویني او دی مبارک لکه خپل زامن داسي پېژني نو ولي ایمان نه پر راوړي.

دا معقوله نه ده چې یو درواغجن په دونه زړه ورتوب او دونه جرئت خپل درواغ بنکاره ووایي ځکه چې درواغجن حتی و خپل وجدان ته هم بې زړه، بزدله او سست او ناتوانه دئ.

رشتیا ویل د نېکیو سره ملګري، او درواغ د بدیو ملګري دي. نو ځکه چې بې بې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansal

Downloaded By: Afghan Salar Library

خديجه رضي الله عنها پوهېدله، چې حضرت مبارک ﷺ راستکاره او رشتيا ويونکی دئ، هغه وخت چې پرده مبارک وحي نازله سوله او بي بي خديجې رضي الله عنها ته ئې وويل: زه ببرېږم. وده مبارک ته ئې دغسي جواب ورکی: "قسم په الله چې ته صله رحمي کوې، مېلمه ته عزت ورکوې او د بېوزلو او مسکينانو لاسنيوی کوې، مرسته ورسره کوې، نو الله به هيڅکله تا خوار نه کي".

د دې مبارکي مقصود دغه وو، چې دغسي ستايلي او ښه صفات ولري نو بېشکه رسول دئ او الله تعالی هغه نه خواروي. لکه چې هرقل د ابوسفيان او ملګرو څخه ئې چې په دغه وخت کي کافران هم وه پوښتنه وکړه: آيا د محمده څخه مو دمخه تر رسالت درواغ اروېدلي دي؟ وئې ويل: يه! هيڅکله مو نه دي اروېدلي. نو ئې ورته وويل: څوک چې د خلکو په باره کي درواغ نه وايي د الله په باره کي ئې هيڅکله نه وايي او باطله ادعا هيڅکله نه کوي.

هر سړی چې د حضرت محمد ﷺ په ويلو او راوړلو کي د انصاف په سترګو وګوري ښه ورته ثابته او وبه پوهېږي چې دغسي امور چې د وګړو د اصلاح او لارښوونې او د دوی د ګټې او نقصان په باره کي دي د هغه چا څخه چې درواغجن يا ناپوه يا اشتباه کاروي محال دي چې څرګند دي سي. بلکي راوړونکی ئې تر ګرده عالم پوه، هوښيار، رشتيا ويونکی، او تر ټولو مهربان دئ پر خپلو همنوعانو باندي. هر څوک چې سليم عقل او مستقيم فطرت ولري وينې ئې چې هغه چې حضرت محمد ﷺ حق ګڼلي دي حق دي او هغه چې باطل ئې شمېرلي او بللي دي باطل دي. ښه هغه دي چې ده مبارک ويلي دي، بد هغه دي چې ده مبارک ښوولي دي.

(۳) د رحمة اللعلمين ډېره ډېره د الله د عظمت په مقابل کي:

حضرت رحمة اللعلمين ﷺ د ژوندون په ټوله دوره کي د الله څخه ډېر ډېر ويرېدی، په ټولو امورو کي ئې د الله تعالی څخه ترس درلود. که به يو ښه د ده محبوب شی و ده ته ورسېدی ويل به ئې: (الحمد الله الذي بنعمة تتم الصالحات). که به د يوه ناوړه کار سره مخامخ کېدی ويل به ئې: (اللهم خرلي واخترلي). که به ئې د سفر اراده درلوده ويل به ئې: (اللهم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

بک اصول و بک اجول). هر کله چې غوښته به ئې چې بيده سي داسي به ئې ويل: (اللهم باسمک و صنعت جنبي و باسمک ارفعه). هر کله چې به ويښ سو دا ئې ويل: (الحمدالله الذي احيانا بعدماامانتا و اليه النشور) او چې نوې جامه به ئې اغوستل دا به ئې ويل: (الحمدالله الذي رزقتي ما اتجمل به فی حياته). د خورک په وخت کې ئې داسي ويل: (الحمدالله الذي اطعمنا و سقانا و جعلنا من المسلمين). چې اوبه ئې وڅښلې دا به ئې ويل: (الحمدالله الذي جعل الماء عذاباً فراتاً برحمة ولم يجعله ملحاً اجاجاً بذنوبنا). د روژه مات پر وخت به ئې ويل: (الحمدالله الذي اعانني فصمت و رزقني فافطرت). چې په خوب کې به د يوه ارخه و بل ارخ ته اووښت ويل به ئې (لااله الا الله الواحد القهار، رب السموات والارض و مابينهما العزيز الغفار)، هر کله چې به دی مبارک د شپې د خوبه راويښ سو ويل به ئې: (رب اغفروارحم و اهدللسبيل الاقوم)، هر کله چې به د يوه قوم څخه بېره ورولوېده داسي ئې ويل: (اللهم انا نجعلک في نحورهم و نعوذبک من شرورهم)، او کله چې به ئې آسمان ته کتل داسي ئې ويل: (يامصرف القلوب ثبت قلبی علی طاعتک)، هر کله چې ئې قسم اخيست ويل به ئې: (والذي نفس محمد بيده)، کله چې به يو غم پر راغی ويل به ئې: (حسبيي الخالق من المخلوقين حسبيي الرازق من المرزقين حسبيي هو حسبي حسبيي الله ونعم الوکيل).

د دې څخه څرګنديږي، چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د ټولو شيانو نسبت و الله ته کاوه، په ټولو کارو کې بې له الله څخه بل چا ته ئې نه کتل، پرته له الله جل و علی شانه څخه د بل چا څخه ئې ياري او مرسته نه غوښتل، نه ئې د خپل ځان له پاره او نه ئې د بل چا له پاره د حق په مقابل کې حول او قوت نه ليدی.

هو! هو! په دې کې هيڅ تعجب نسته، چې:
محمد ﷺ دپر بنبه، غوره، لوی او بزرګ پېشوا دئ.

(۴) د اسلام ژر خپرېدل:

د رحمة اللعلمين محمد مصطفی ﷺ د رسالت يوه لويه او بزرګه نخښه او دليل دغه دئ، چې تر يوه قرن په لږ موده کې اسلام داسي ژر خپور سو، چې په تاريخ کې مثال نه لري، زړونه پرمين سول، اروحانو سر تر قربان کی، د دين روښنايي ټې ټوله دنيا روښانه کړله، د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

اسلام پلوشه تر لمر لوېدیځه او لمر ختیځه، تر قطبه او تر سهېله ورسېدله اسلام د یوې خوا په هند او له بلي خوا په اندلس کي حکومت درلود، ګرده جهان او د جهان ټوله وګړو په ډېرو دورو کي د اسلام د دستور او قانون څخه استفاده وکړه، زړه ورتوب او مېړانه، رشادت او شهامت، راستي او درستي، هدایت او صحیح تمدن ئې د اسلام څخه زده کړتر دې چې د غرب پوهان د اسلام په صفت کي وایي:

اسلام د اروپا د تمدن استاد دئ.

(۵) درحمة اللعلمين محمد ﷺ زحمت ګالل دوګړو د لار ښوونې په لار کي:

حضرت رسول اکرم ﷺ د بشر د هدایت په باره کي تر دې اندازې حریص وو، چې په دې لار کي ئې تر ځانه او خپل خاندان تېرېدی، هغه ټول زحمتونه او آزارونه چې ئې په مکه معظمه کي د قریشو لیدل د همدغه جهته وه، هغه چې طایف شریف ته ورغی چې د طایف وګړي الله ته راوبولي دی مبارک ئې خورا ډېر زهیر کی. په دونه کلکو ډبرو ئې پر پرکیو باندې وویشت چې پرکي ئې په وینو سره او نعلیني ئې د وینو ډکي سولې او بېعقلان ئې ورته ګومارلي وه، ده مبارک سره له دغه زحمته څه ونه ویل، پرته له دې څخه:

"اې زما الله! زه د خپلې ناتوانۍ او بېچاره ګۍ څخه و تا ته ژاړم".

تر دې ځایه ئې وویل: "اې زما الله! دغونه قدر چې ته پر ما په قهر نه سې نور پروا نه کوم".

ده مبارک زحمتونه، تکلیفونه، آزارونه، تکذیبونه لیدل، مګر دغه ټوله د ده مبارک په نظر کي آسانه ښکارېده، ځکه چې دی مبارک سر تر پایه پر خپله وظیفه مین وو، نو په دې سبب حضرت محمد ﷺ د یقین په ډول په خپل کار او د رسالت په دعوی کي څه شک نه درلود، ځکه چې دغه ګرده تحمل او صبر د ده د زړه ورتوب او شک سره نه سي یو ځای کېدای.

(٦) درحمة اللعلمين ﷺ د غیبو څخه خبر ورکول:

حضرت رسول مقبول ﷺ د قرآنکریم له لارې د ډېرو غیبي کارو خبر ورکړی دئ، چې هغه ټوله چې خبر ئې ورکړی دئ ټیک واقع سویدي، لکه دا:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي ٱلْأَرْضِ كَمَا ٱسْتَخْلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرْتَضَىٰ لَهُمْ (سورة النور: ۵۵ آیت).

ترجمه:

الله تعالی هغو کسانو ته چې ایمان ئې راوړی دئ، او ښه کارونه ئې کړي وعده ورکړه، چې دوی د مځکې پر مخ خلیفه کي، لکه چې مخکني چې ئې خلیفه ګان کړي وه او هغه دین چې د دوی خوښ دئ تل او غالب وګرځوي.

بل دا چې:

لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ (سورة فتح: ۲۷ آیت).

بېشکه به په امن او امان و مسجد الحرام ته داخل سي.

بل دا چې:

وَإِذْ يَعِدُكُمُ ٱللَّهُ إِحْدَى ٱلطَّآئِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ (سورة انفال: ۷ ایت).

په یاد ئې که اې محمده! هغه وخت چې الله وعده ورکړه چې یوه له دغو دوو طایفو څخه (د قریشو کاروان) ستاسي له پاره ده.

بل دا چې:

سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ﴿٤٥﴾ (سورة قمر: ۴۵ آیت).

ژر به دوی وتښتي او جنګ ته به شا وګرځوي.

د غیبي اخبار نظیر چې و حضرت محمد ﷺ رسېدلی دئ، هغه اخبار دئ چې هغه هم د قرآنکریم دلاري څخه د وګړو د زړو څخه ورکړه سوی دئ، لکه دا آیت:

وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ (سورة مجادله: ۸ آیت).

په خپلو زړو کي وایي ولي الله موږ نه په عذابوي په هغه څه چې وایو ئې. بل لکه دا آیت:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

إِذْ هَمَّت طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا (سورة آل عمران: ۱۲۲ آیت).

یاد که اې محمده! هغه وخت چې دوو طایفو له تاسي څخه قصد وکی، چې بد دلي وکي او وګرځي[1].

سره له دغه ټولو چې وویل سول دا هم باید هېر نه کړو، چې حضرت محمد ﷺ په داسي زمانه او داسي امت کي مبعوث سو، چې د توحید د پېژندګلوی څخه ببخي لیرې وه، او د الله ﷻ په شرک کي تر ګردو امتو اول لمبر وه، په عین حال کي هغه قرآنکریم چې ده مبارک راوړی دئ، په کلي مقاصدو او اصولو کي لکه نبوت، توحید او نور د تورات سره کاملاً موافق دئ، لکه چې نجاشي د قرآن تر اروېدلو وروسته وویل: دا (قرآن) د هغه سره چې حضرت موسی علیه السلام راوړی دئ له یوې تاخچې راوتلي دي. ورقه بن نوفل وویل:

"بېشکه دا هغه ناموس دئ، چې پر موسی نازلېدی". د دې آیت اشاره همدغه مطلب ته ده:

قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًۢا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَمَنْ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٤٣﴾ (سورة رعد: ۴۳ آیت).

ووایه! الله او هغه څوک چې د کتاب علم ورسره دئ بس دي په شاهدي سره زما او ستاسي په منځ کي چې زه پیغمبر یم.

آیا د حضرت محمد رسول الله ﷺ د رسالت د اثبات له پاره او د ده د دعوت د صدق له پاره دا خبره کافي نه ده، چې دی مبارک په خپله امي وو او په امیانو کي لوی سوی وو، سره له دغه ټې بې له دې چې د چا څخه ټې شی زده کړی وي لکه نور انبیا علیهم السلام د پټو حالاتو او غیبي امورو څخه ټې خبر ورکړی دئ. په دې باره کي په قرآن عظیم الشان کي راغلي دي:

تِلْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كُنتَ تَعْلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوْمُكَ مِن قَبْلِ هَٰذَا ۖ فَٱصْبِرْ ۖ إِنَّ ٱلْعَٰقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾ (سورة هود: ۴۹ آیت).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا کیسه (د نوح علیه السلام کیسه) د غیب د خبرو څخه ده، چې و تا ته ئې وحي کوو، دمخه تر دې نه تا او نه ستا قوم په هغه سره علم درلود نو صبر کوه بنه آخر کار هغه چا لره دئ، چې پرهېزګاروي.

او هم په دغه باره کې وایي:

ذَٰلِكَ مِنْ أَنۢبَآءِ ٱلْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ ۖ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ أَجْمَعُوٓا۟ أَمْرَهُمْ وَهُمْ يَمْكُرُونَ ﴿١٠٢﴾

(سورة یوسف: ۱۰۲ آیت).

دغه کیسه (د یوسف علیه السلام کیسه) د غیب د خبرو څخه ده، چې و تا ته ئې وحي کوو او ته نه وې د دوی سره (د یوسف علیه السلام وروڼه) هغه وخت چې دوی پر خپل کار تولنه وکړه (په څاه کې د یوسف علیه السلام د اچولو) او دوی مکر کاوه (د یعقوب علیه السلام په باره کې).

د دې لارې څخه د اهل کتاب پوهانو په هغه څه چې حضرت محمد رسول الله ﷺ راوړ تصدیق درلود. لکه چې په قرآن عظیم کې فرمایي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهِۦٓ إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ يَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ سُجَّدًا ﴿١٠٧﴾ وَيَقُولُونَ سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِن كَانَ وَعْدُ رَبِّنَا لَمَفْعُولًا ﴿١٠٨﴾ (سورة بني اسرائیل: ۱۰۷ – ۱۰۸ آیت).

هغه کسان چې تر قرآن د نزول دمخه عالمان وه، چې قرآن دوی ته وویل سو، سجده کوونکي پر مخ ولوېدل، او وایي پاک دئ زمونږ پروردګار، بېشکه چې وعده پر ځای راوړل سوې ده.

او په قرآن عظیم الشان کې وایي:

وَإِذَا سَمِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا۟ مِنَ ٱلْحَقِّ ۖ (سورة مائده: ۸۳ آیت).

هر کله چې دغه هو بنیاران هغه چې پر حضرت رسول مقبول ﷺ نازل سوي دي واوري وینې ئې چې په دې واسطه چې حق ئې پېژندلی دئ مترګي ئې اوښکي تویوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۷) درحمة اللعلمین محمد ﷺ اهتمام د امت په نېکبختي کي:

حضرت رسول الله ﷺ د امت په نېکبختي کي ډېر اهتمام درلود، تر دې حده چې دا آیت ئې په باره کي نازل سو:

فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَاتٍ (سورة فاطر: ۸ آیت).

نبایده چې د غمه د دوی دي روح د لاسه ونه وزي. حضرت محمد ﷺ پر دې مین وو چې وګړي و ښو خویونو ته راوبولي او عادله قوانین او فاضله شریعت چې امت په هغه متمسک وي او و عزت، شوکت، اقتدار او عظمت ته ورسېږي، په دوی زده کي د دې څخه سړی دا نتیجه اخیستلای سي، چې حضرت محمد رسول الله ﷺ رشتیا ګویه وو، هیڅ رنګه دوه رویي او درواغ ئې نه درلوده، ځکه چې دا معقوله خبره نه ده چې هغه څوک چې د امت پر سعادت ځان ورکوي او د بشر د تکمیل او هدایت له پاره و هلاکت ته نژدې دئ چې ورسېږي او په عین حال کي درواغجن وي؟ توبه!!!

(۸) درحمة اللعلمین محمد ﷺ پاکوالی د بشري حظ څخه:

حضرت محمد رسول الله ﷺ لکه نور و ګړي د غسي نه وو، چې په خپل سر کار وکي او د خپلي طبع بندي وي او د خپل نفس د حظ پیرو سي لکه د اُحد په جنګ کي سره له دونه آزار او تکلیف چې ور ورسېدی که پرته له ده څخه یو بل څوک وای صبر به ئې د لاسه ورکړی وای، ولي چې مبارک غاښ ئې ورمات کی او هر ډول تکلیفونه ئې ور ورسول، بیا هم هیڅ کار ئې په ونه کی پرته له دې څخه د دوی له خوا ئې د الله ﷻ څخه عذر و غوښت او وې ویل:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾ (سورة توبه: ۱۲۸ آیت).

حضرت رسول الله ﷺ ستاسي څخه و تاسي ته راغلی دئ، چې سخت دي پر ده زحمت ورځ ستاسي، حریص دئ ستاسي پر هدایت مهربان او بخښونکی دئ پر ټولو مؤمنانو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۹) د رحمة اللعالمين محمد ﷺ کوښښ د ناوړو کارو او رذائلو څخه د وګړو د پاکۍ په لار کې او د دې منظور له پاره ښ ځ وسایل په کار اچول:

دمخه تر دې چې په دې بحث شروع وکو، ښه دا دئ چې څه آیاتونه او روایات چې د حیواني شهواتو د ککړتیا او د بشري طبیعت د پلیدیو څخه د وګړو د پاکۍ په باره کې وارد سوي دي او دوی د کمال د صفاتو و تحصیل ته پاروي نقل کړو:

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿١٨﴾ وَٱقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَٱغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ ﴿١٩﴾

(سورة لقمان: ۱۸ - ۱۹ آیتونه).

مخ پر وګړو مه کړوه (د مخ د کړولو څخه مراد تکبر دئ) په ناز مه ځه، د مځکې پر مخ د خودکامۍ او غرور له رویه ځکه چې الله خودخواه او په ناز تلونکي وګړي دوست نه لري، په تګ میانه ځه، خپل آواز تیټ کړه، ځکه چې بد اوازه خره آواز دئ.

وَلَمَن صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴿٤٣﴾ (سورة شوری: ۴۳ آیت).

هر څوک دي صبر کوي بخښ دي کوي، صبر او بخښش د سختو او محکمو کارو څخه دي.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ وَإِيتَآئِ ذِي ٱلْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْيِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ (سورة نحل: ۹۰ آیت).

الله ﷻ په عدل، احسان او خپلوانو ته په بخښش امر کوي او د فحشا او بدو کارو او ظلم څخه نهي کوي، الله ﷻ تاسي ته پند او نصیحت کوي، ښایي تاسي پند واخلئ.

وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾ (سورة حشر: ۹ ایت).

دمخه کوئ ئې (مهاجران) پر خپلو ځانو که څه هم دوی په خپله محتاج او نیازمند

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وي، هغه څوک چې د نفس د بخل څخه ساتلی وي هغه خلاص دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱجْتَنِبُواْ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا تَجَسَّسُواْ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا (سورة حجرات: ۱۲ آیت).

اې مؤمنانو! د ډېرو ګومانو څخه پرهېز وکړئ، چې ځینې ګومانونه ګناه ده، چغلي او مخبري مه کوئ، یو د بله غیبت مه کوئ آیا یو له تاسي څخه دا خوښوي چې د خپل ورور مرداري غوښې وخوري.

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا ﴿٣٦﴾ (سورة بني اسرائيل: ۳۶ آیت).

په هغه شي پسې چې علم نه پر لرئ مه ځه ځکه چې غوږونه، سترګې او زړه پوښتنه ونکې دئ د ټولو څخه پوښتنه کېږي.

ٱلَّذِينَ يَنقُضُونَ عَهْدَ ٱللَّهِ مِنۢ بَعْدِ مِيثَٰقِهِۦ وَيَقْطَعُونَ مَآ أَمَرَ ٱللَّهُ بِهِۦٓ أَن يُوصَلَ وَيُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٢٧﴾ (سورة بقره: ۲۷ آیت).

هغه کسان چې د الله ﷻ عهد وروسته تر دې چې محکم ټې کړي ماتوي او قطع کوي هغه شی چې الله ﷻ ئې په وصل امر کړی دئ او د مځکې پر مخ فساد کوي همدوی زیان کاره دي.

قُلْ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَفْتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ لَا يُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ (سورة يونس: ٦٩ آیت).

ووایه هغه څوک چې پر الله ﷻ درواغ او افترا تړي نه خلاصېږي.

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنفُسِهِمْ (سورة رعد: ۱۲ آیت).

الله تغیر نه ورکوي هغه ته چې د یوه قوم له پاره دي (له عافیت او نعمت) څخه څو دوی تغیر ورکي، هغه ته چې د دوی په نفسو کي (لکه فاضله اخلاق او کامله صفات).

حضرت محمد رسول الله ﷺ ویلي دي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

آیا غواړئ چې د الله ﷻ د بندګانو څخه هغه بد بنده درو ښیم؟ هغه بدخوی، تند خبرې کوونکی، متکبر دئ. آیا غواړئ چې د الله تعالی د بندګانو څخه هغه ښه بنده درو ښیم؟ عاجز ضعیف دئ، چې عاجزه لیدل سوی دوې څیرې جامې لري. که په الله ﷻ قسم یاد کې هغه پای ته رسوي.

"د عذابه خلاص هغه څوک دئ، چې ایمان ئې خالص، زړه ئې سالم، ژبه ئې رشتیا، نفس ئې آرام، طبع ئې سمه مستقیمه وي".

"د بنده په زړه کې دوړې او تاثیر چې د الله ﷻ په لاره کې وي د دوزخ د ګرمۍ سره نه جمع کیږي او همدغه رنګه د الله ﷻ د بنده په زړه کې ایمان او حسد نه جمع کیږي".

"غلوونکی، منان[1]، بخیل و جنت ته نه داخلیږي".

"په سړي کې بد شی حرص دئ، چې دی په تلوار او زاریو کې اچوي او بېره ده چې دی د ځایه وباسي".

"درې شیان دي چې په هر چا کې چې وي د ثواب وړ دي او د لرونکي ایمان ئې کامل دئ، هغه خوی چې د وګړو سره جوړښت وکي، پرهېزګاري چې د حرامو څخه ئې وساتي، تحمل چې د ناپوه او بېعقل په مقابل کې".

"څلور شیان دي چې په هر چا کې وي خالص منافق به وي، که یو له دغو څلورو څخه پکښې موجود وي په ده کې دغونه منافقت موجود دئ، په امانت کې خیانت، دزواغ ویل، په قول او وعده کې بې وفایي، د دښمنۍ په وخت کې تباهي او ناوړه کار".

"درې کسه جنتیان دي: موفق عادل پاچا، نرم زړه سړی چې پر خپلو ټولو مسلمانانو خپلوانو بخښونکی او مهربان وي وسیله پر ولري، هغه سړی چې عیالداره باعفته، پرهېزګاره وي".

"درې شیان دي چې په هر چا کې وي الله تعالی ﷻ دی په خپله پناه کې ساتي او دی په خپله دوستي کې داخلوي، هغه څوک چې د بخښش په وخت کې شکر ادا کې او د قدرت په وخت کې بخښنه او عفوه وکي، د قهر او غضب په وخت کې سستي وکي".

"خویونه د الله ﷻ له جانبه دي، هر چا ته چې د الله تعالی اراده د خیر وسي نو ښه

---

[1] احسان اچوونکی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansala

Downloaded By: Afghan Salar Library

خوی ورپه برخه کي او که ئې د بدی اراده وسي بد خوی ورپه برخه کي".

داسي خبري او ویل پرته د هغه پاک زړه او ملکوتي روح څخه چې د هوا او هوس څخه پاک او د خپل شهرت غوښتلو سپېنسي شلولي او د الهي انوارو څخه ئې استفاده وي د بل چا څخه نه صادرېږي. محمد رسول الله ﷺ دغه صفتونه درلودل، ځکه چې د خپل ژوندون په دوره کي ئې ټینګ عزم او خورا لوړ همت درلود، او مهرباني، پرهېزګاري، دانايي او اخلاص ئې درلود، د ښه معاشرت، د ښه محضر، د جدت، خوشخويي څښتن وو، خلاص تندی او په زړه ډک وو، ده مبارک پر هره خوا د علم او هدايت نور پاشه، سره له دې چې نه ئې درس لوستی او نه ئې کوم مجرب پوه سړی لیدلی وو.

(۱۰) د رحمة اللعالمين محمد ﷺ اجتماعي دردونو او د هغو د درمان کولو توصيف:

الله ﷻ حضرت رسول رحمة اللعالمين محمد ﷺ د انساني شئونو په احوال دونه خبر کی، چې صفت ئې نه کېږي. هغه لار چې باید انسان پر هغه لار ولاړ سي و ده ته ئې ښکاره کړه، ده ته ئې ورو ښودله چې سړی د الله ﷻ سره څنګه معامله وکړي، چې زړه ئې پاک سي او احساس ئې ترقي پیدا کي. ده مبارک ته ئې لار ښوونه وکړه، چې سړی د خپلي کورنۍ سره څنګه معامله باید وکړي، چې حال ئې ښه او ژوندون ئې سم وي، په ده مبارک ئې زده کړه، چې هر سړی د نورو افرادو په مقابل کي څه څه وظيفې لري او سړی په اجتماع کي باید څه وکړي چې ژوند ئې په آرامي او آسوده ګي تېر سي.

(۱۱) د عربو عجز د قرآنکريم د برابرۍ او معارضې څخه:

په دې کي شک نسته چې عربو د وينا او خبرو په شيوايي او رسايي کي ډېر لوړ مقام درلود، ډېر تلانبس ئې کاوه، چې که وکولای سي چې حضرت محمد ﷺ تکذيب کي چې د هغه مطلب رسالت پټ کي، ځکه چې ده مبارک د دوی عقلونه پست ګڼل او د دوی بتان ئې نسکور کړل او د هغو په باره کي ئې ډېر سرزنش ورکی او وې غندل او وئې ويل:

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُواْ وَلَن تَفْعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

لِلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٤﴾ (سورة بقره: ۲۴ آیت).

که د قرآن په ډول نه سی راوړای او هیڅکله ئې نه سي راوړی نو د هغه اور څخه وبېرېږئ چې بوتې او محروقات ئې وګړي او ډبرې دي او دغه اور د کافرانو له پاره تیار سوی دئ، پرهېز ځني وکړئ.

و یهود و ته ئې وویل:

وَلَن يَتَمَنَّوْهُ أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ (سورة بقره: ۹۵ آیت).

د هغو بدو کارو له جهته چې دمخه ئې کړي دي د مرګ غوښتنه به هیڅکله ونه کي.

سره له دې چې یهود د حضرت محمد ﷺ وتکذیب ته ډېر تړي وه، که څه هم هسي په ژبه وي وئې نه سوای کولای چې مرګ وغواړي.

په دې صورت چې حجت پر عربو تمام سوی او دوی د قرآنکریم د معارضې او برابرۍ څخه عاجزه پاته دي نو دغه حجت د ټوله دنیا پر وګړو هم تمام دئ، لکه چې حضرت عیسی علیه السلام حجت د پیس او د مار د زهرو، د ړندو سترګو په جوړولو او بینا کولو هم پر طبیبانو هم پر نورو تمام وو او همدغه رنګه د حضرت موسی علیه السلام حجت د لکړي د اړولو په مار سره هم پر جادوګرانو او هم پر نورو وو، ځکه د وګړو مختلف جمعیتونه چې ټوله یو د بله مدد کوونکي او مرستیالان دي د هغو کارو د معارضې څخه چې د بې مرستو او بې باره افرادو پرته له بنکاره سي عاجزه پاته سي لوی دلیل دئ پر دې چې دغه کارونه د الله جل جلاله په تائید او د ده جل جلاله له خوا دي، انسان نه سوای کولای چې هغه میدان ته راوباسي، ټوله وګړي چې انصاف ولري که عرب دي که عجم پوهېدلي دي چې قرآن مجید یو آسماني کتاب دئ، چې خلک د الله جل جلاله و بندګۍ او عبادت ته وربولي او د کریمه اخلاقو لار وربنیي او نفوس احساسات پاک کوي او خلکو ته ئې وربنیي چې پرته له الله جل جلاله څخه ونه بېرېږئ او بېله الله جل جلاله څخه و هیڅا ته هیله او امید ونه کئ او د شهوت د مرییتوبه څخه ځان وژغورئ او د اوهامو او خرافاتو دامونه ټوکر ټوکر کړئ او خپل ځان د هغو د بارو څخه آزاد کئ.

د حضرت محمد رسول الله رحمة اللعالمین د رسالت پر صدق هغه خورا لوړ او لوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دليل دا آيت دئ:

قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ (سورة بني اسرائيل: ۸۸ آيت)

اې محمده! که انسانان او پيريانان توله سره غوند او سره يو ځای سي چې د قرآن په څېر کتاب راوړي نه ئې سي کولای، چې مثل ئې راوباسي که څه هم يو د بله مددګار او مرسته سره وکي.

هر کله چې قرآن عظيم الشان نازل سو د عربو په منځ کي د هغه په باره کي اختلاف پيدا سو، يوې ډلي وويل: چې د قرآنکريم فصاحت او بلاغت او رسايي تر دې حده کامله ده چې د بشر قوه هغه نه سي درک کولای، قرآن عظيم داسي خصوصيات لري چې د هغو خصوصياتو جمعيت د يوه سړي په خبرو کي ولو که ډېر هنرمند هم وي او د امتو د تېرو سوو او راتلونکو او حاضره احوالاتو او شئوناتو څخه خبروي او په فنونو، آدابو، حکم او سياست هم وپوهېږي معقوله نه دي، علانه پر دې قرآن عظيم په هغه ډول او روش چې په عربو کي معمول دئ نه دئ تنظيم سوی بلکي ځانته او بېل اسلوب او تنظيم لري، هو د قرآنکريم رسايي او شيوايي ئې د بشر تر قدر پورته ليدل، ځکه چې دوی وليدل چې قرآن عظيم الشان په هر فن کي چې خبري کړي دي و کمال ته ئې رسولی دئ، اخبار او حکم، مواعظ او امثال، اخلاق او آداب، بېره او اميد، د نېکانو ستاينه او د بدانو غندنه، د بدو خويو څخه بېرول، د سياست تدبير او د دښمنانو څخه جلوګيري، د الله ﷻ پر وجود او د ده پر وحدت دلايل، د حشر او نشر بيان، د آسمان او ستورو، اوريځو او باران توصيف، مځکي، غرونه، دريابو، چينو، ولو توصيف، د کانو، وبنو، نباتاتو، حيواناتو تعريف دا ټوله په قرآن مجيد کي راوړل سوي دي. لنډه دا چې دوی وليدل هيڅ يو علم د اولينو او آخرينو نسته. مگر دا چې په قرآنکريم کي د هغه تصريح يا اشاره ورته سوې ده. قرآن په ښايسته اسلوب سره چې ټولو هغه خوښ کړی او د دوی د روح په ذايقه کي خوږ راغلی او د دوی غوږو د هغه څخه خوند اخيستی دئ نازل سوی دئ، نو په دې صورت چې قرآن ده

https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عربي قصايدو روش لري او نه د صحرا د اعرابو د طبع اسلوب لري، لکه د قس[1] خطبې، نو ځکه د عقل په حکم دوی وپوهېدل چې دغه لوړ صفات او ممیزات ممکنه نه ده چې دتصادف او نابېره په ډول دي د يوه سړي په خبرو کې څرګند سي، نو دا دليل پر دې دئ، چې الله ﷻ دغه قرآنکريم د معجزې په ډول و محمد ﷺ ته چې امي وو ورعنايت کړی دئ.

يوه بله ډله چې د فصاحت او بلاغت نه وه او د قرآنکريم پر عاليه صفاتو (چې هغه پر دې دليل دي چې قرآن د الله ﷻ له جانبه دئ) ئې اطلاع نه درلوده نو هر کله چې دوی وليدل چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د رسالت دعوی کوي او قرآن عظيم د تحدی او معارضې وسيله ګرځولی او د يوه کوچني سورة راوړل ئې د وګړو څخه غوښتي دي، او هغوی په دغه کې عاجزه دي ځکه چې فرمايلي ئې دي:

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ وَلَن تَفْعَلُوا۟ (سورة بقره: ۲۴ آيت)

او دوی ئې سرزنش کړي دي او له بلي خوا ئې وليدل چې هغه ټوله فصيح او بليغ خلک ئې د معارضې څخه عاجزه سوله، ناچاره سوله چې د حضرت محمد رسول الله ﷺ په دې ادعا کې تصديق وکې او قرآنکريم تر هغه لوړ وګڼي چې د چا لاس دي ئې و لمن ته ورسېږي، نو له دې لامله دې ډلې ټولو ايمان راوړ او د ده مبارک و مرستې ته ئې ملاوي وترلې (رحمة الله عليهم).

قرآنکريم هغه وخت راغی چې عرب ګرد سره پراګنده او يو د بله سره مخالف وه، ژوندون کښته او احوال ئې خراب وو، آب و رونق ئې نه درلود ټوله د جهل په تيارو کې دننه وه، تر دې چې ژوندی نجوني ئې په خاورو کې ښخولې، د کاهنو او بوټو عبادت ئې کاوه، خپلوي او نزدېکت ئې نه کاوه، په چور او چپاو بوخت وه، په همدغه وخت د قرآنکريم د نور شغلې پورته سولې، دغو خلکو بې د نور څه له احتياجه د ده له پلوشو څخه استفاده وکړه. پرېشانۍ او پارګنده ګي ځني ولاړه اتفاق او يکرنګي ئې پر ځای کښېنسته، زړونه يو د بله سره مهربان سول، لاسونه او تورې يو د بله د خونرېزۍ څخه بندي بلکې يو د بله په مرسته پر کار ولوېدلې، قرآن عظيم دوی ټوله يو ملت کی او تر يوه بيرغ د يوه پايداره محکمه

---

[1] قس د قاف په پېښ د يوه موحد او بليغ سړي نوم دئ، د جاهليت په وخت چې په قس بن ساعد سره معروف وو (نوري).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سلطنت لاندي ئې راوستل، دوی ته ئې د مځکي پر مخ باداري او سرداري ورکړه، هغه کسان چې پر دوی حاکمان وه د دوی تر حکم ئې لاندي کړل.

قرآن شریف په هغه وخت کي راغی چې په عربو کي جاهلي عصبیت ریښې ځغلولي وې، قرآن شریف علاوه تر دې چې د دوی بتان ئې نسکوره کړل، او د دوی عقلونه ئې وغندل او هغه عادات چې دوی خوی ګرځولي وه د دوی څخه ایسته کړل، په حقیقت کي لکه نور وګړي داسي سول، داسي نوی ملت ئې جوړ کی چې ګواکي په قرنو قرنو ئې د قرآن سره عادت نیولی او د قرآن په حکم ئې کار کاوه، داسي چې ګویا دوی په خپله د قرآنکریم وراثان وه، نه موروث، لکه چې دې ته اشاره سوې ده:

(خیرالقرون قرنی ثم الذي یلونهم)، ښه خلک هغه دي چې زما په قرن کي دي، بیا هغه دي چې تر دغه قرن وروسته دي.

علاوه تر دې بد عصبیت ئې ورک کړ، ځای ئې د ښو اخلاقو عصبیت ونیو، خلکو ته ئې د همسایه حقوق ورزده کړل، په عهد سره وفا ئې ورو ښوولە، عجز او انصاف له فساده پرهېز، د قهر زغمل، د ظلم بدي، د قتل ناروا توب ئې ورته څرګند کړل.

هغه وګړي چې د بدو خویونو او ناوړه عاداتو سره اخښلي وه او تل د ښو اخلاقو څخه تښتېدل، د حضرت رسول اکرم ﷺ تر تاثیر لاندي راغلل او د قرآن عظیم په مقابل کي ئې د تسلیم سر کښته کی، لاس ئې د پخوانیو عاداتو څخه واخیستی لکه چې ښائېده ښه ستایلي سړي ځني جوړ سول، بېشکه که قرانکریم بالذات معجزه نه وای د عربو په منځ کي و دې مقام ته نه رسېدی، بلکي د دوی په نظر کي به ئې (د قصیدو، خطبو، او نکلو حکم درلودای) او د هغه په مقابل کي ئې سرونه نه کښته کول، بلکي یوه یوه کلمه به ئې ناقصه بلل او معارضه به ئې ورسره کولای.

قرآن شریف و خلکو ته ښکاره کړه، چې طبیعت د دوی تر فرمان لاندي دئ، نو باید اسرار کشف کي او نتیجې ئې لاس ته راولي:

قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ (سورة یونس: ۱۰۱ آیت)

ووایه اې محمده! وګورئ چې په آسمان او مځکه کي څه شي دي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ ﴿١٠٥﴾

(سورة يوسف: ۱۰۵ ايت)

ډېرې نښانې په آسمان او مځکه کې سته معاندان پر هغه تېرېږي او له هغو څخه مخ ګرځوي.

وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَـٰهَا وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ شَىْءٍ مَّوْزُونٍ ﴿١٩﴾ (سورة حجر: ۱۹ ايت)

مځکه مو وغوړول، وغزول، کش مو کړه او پر دې مو لوړ غرونه ودرول او هر شی مو په اندازه پکښې شنه کړه.

وَأَرْسَلْنَا ٱلرِّيَـٰحَ لَوَٰقِحَ فَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَسْقَيْنَـٰكُمُوهُ وَمَآ أَنتُمْ لَهُۥ بِخَـٰزِنِينَ ﴿٢٢﴾ (سورة حجر: ۲۲ آيت)

در وامو ستول بادونه چې برالېږه وونکي دي، بيا مو د آسمانه اوبه در نازلې کړې او هغه مو په تاسې وڅښلې او تاسې د هغو خزانه داران نه ياست.

قرانکريم په عربو کې بډ وکی چې حضرت رسول مقبول ﷺ زاده د کار او خپل عقل دئ نه دا چې شاعر، يا د واهمې تر تاثير لاندې دئ، يا پر چا مفاخره کوي، قران عظيم الشان دا آيت چې په علم او عمل کې د ملتو د پايداری اساس پر هغو ووايه:

وَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل لِّى عَمَلِى وَلَكُمْ عَمَلُكُمْ ۖ أَنتُم بَرِيٓـُٔونَ مِمَّآ أَعْمَلُ وَأَنَا۠ بَرِىٓءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٤١﴾ (سورة يونس: ۴۱ آيت)

که تا تکذيب کوی نو ووايه! زما د کار نتيجه ما لره ده، او ستاسې د کار سزا په خپله تاسې لره ده، هغه څه چې زه ئې کوم تاسې بېزاره اوسئ او له هغو څخه چې تاسې ئې کوئ زه بېزاره يم.

لکه دمخه چې مو وويل عرب د قرآن عظيم الشان تر نزول دمخه په نهايت پستې کې او د انحطاط آخرې پايې ته رسېدلي وه، چې قرآنکريم نازل سو نو د دوی په زړو کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

قرآنکریم احکامو ځای ونیو او د دوی احساسات ئې پر بنور راوستل، د دوی بیده روح ئې ویښ کی، ټوله د حق غوښتونکي سوله، د زړه د کومي ئې د قرانکریم د پېشرفت په لاره کي کوښښ کاوه، د الله تعالی په عبادت کي و لوړي درجې ته ورسېدل، ټوله په دین قوي سول، د علم په تحصیل پسي ئې تلاښ کاوه، داسي ملت ځني جوړ سو چي ډېر متحمل، بردباره وګرځېدل، په بډایي کي میانه رو، په عبادت کي په عجز، په نښتي کي عفیف، په سختی کی صابر، د حلالو په تحصیل کي زحمتکښه، د وګړو په هدایت په نشاط، بې طمع او ایمانداران وه، له همدې حیثه د دوی څخه خواره او د خواری بېره ولاړه، په ډېر عزت او امن سول، پر دنیا ئې سرداري، سلطنت او حکومت وموند.

عجبه لا دغه ده، چي دغه بزرګي او عزت عربو ته فقط په سل کاله کم کي په لاس ورغله، لوی دلیل ئې دغه دئ چي قرآنکریم یوه بهترینه لاره ده چي انساني ملکاتو ته وده او د دنیا او آخري ژوندون ته ترقي ورکوي، قرآن عظیم الیشان د عربو هغه سخت ملت چي سر ئې و حق ته نه کښته کاوه داسي ئې اېل او آرام کړل چي نه یوازي ئې د قرآن د احکامو په مقابل کي سرونه ټیټ او غاړي ورته کښېښوولې، بلکي خپل زړه او روح ئې و هغه ته تسیلم کړ، خپل تاریخ او عادات ئې هغه ته وسپارل.

څوک چي د وخت له رویه په قرآنکریم کي وګوري وبه ئې ویني هیڅ یو نقص په انسان کي نسته مګر دا چي قرآن ئې د اصلاح لار بیان کړې ده، قرآن مجید د ګرد عالم طبیب، لوی طبیب هغه دئ، چي درد ښه وپېژني، او هغه ښه دارو ور وفرمایي، قرآن شریف همدغه کار وکی، ځکه چي د عربو طبایع او اخلاق ئې ګرد سره الیش او وګرځول او د اسلام په لومړي سر کي ئې داسي نوي وګړي میدان ته راوستل چي ټوله د طبع په بلندی، د نفس په علو، نرم خویي، په ایمان او یقین، امانت ساتلو، په عدل او انصاف، حق خواهی او حقیقت پروري کي یوه کامله نمونه ده، سره له دې چي د فلسفې د پیدایښت څخه تر اوسه ډېر عصرونه تېر سوي دي، لیکن په هیڅ عصر کي ئې داسي کار ونه کولای سوای چي قرآنکریم په دغه لږه موده کي پای ته ورساوه. هو! هیڅکله فلسفې ونه کړای سوای چي نوي وګړي میدان ته راولي او نوی امت دي جوړ کي قرآنکریم دغه کار په لږ عمر کي وکی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

(۱۲) د رحمة اللعالمين محمد ﷺ تائيدبدل او د ده د دښمنانو خواربدل او ناکامبدل:

الله تعالی ﷻ د حضرت محمد ﷺ تائيد وکی، قوت ئې ورکی، د ده ډېر دښمنان ئې چې د ده مبارک و مبارکو وينو ته تږي وه (سره له دې چې دی مبارک په دوی کې اوسېدی) خوارکړل، او دی مبارک ئې د دوی د آفت څخه وساته، يوه ورځ حضرت محمد ﷺ تر يوې ونې لاندې ناست وو، يو اعرابي توره کښلې ورته راغی غوښت ئې چې کار ئې تمام کې. لاس ئې ربړ دبدلی او توره ئې د لاسه ولوېدله، په عين حال کې ده مبارک عفه ه، ته وکړه. اعرابي چې خپل قوم ته ورغی دا نکل ئې ورته وکی او ورته وئې ويل:

"زه د وګړو د يوه غوره او ښه سړي څخه درته راغلی يم".

يو وخت د بدر په غزا کې يوازې پاته سو يوه منافق توره پسې راه کښله. الله دی مبارک د ده له شر او آفته وساته او هغه شر ئې دغه منافق ته وګرځاوه. د حارث زوی د عتورد غطفان په غزا کې کښلې توره پر حضرت محمد ﷺ را الاکړه، نابېره د شا پر تخته سخت ولوېدی، نو ځکه ئې تر دغې غزا وروسته ايمان راوړ.

څو واره مشرکان سره غونډ سوي وه، چې يو چم وکې د مبارک کار تمام کې چې د کار او مطلب ځای ته ورسېدل څه به وتښتېدل او څه به بېهوښه په خاورو کې ولوېدل، ځينې به رانده سوله او ځينې به د ده مبارک په مخ کې درب غوځار سول.

لکه چې يوه ورځ قريش د ده مبارک پر وژلو غونډ سول، چې حضرت محمد ﷺ د کوره راووت نو څه خاورې ئې وروشيندلې، دوی ګرده کاڼه، رانده، ګونګيان او بې ژبي سول. حضرت ﷺ تېر سو دوی لا په انتظار کې وه.

و مدينې ته د هجرت په وخت کې قريشو اعلان وکی چا چې دې مبارک او حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ووژل دونه روپۍ به ورکو. سراقه د دوی د مرګ په نيت په دوی پسې رهي سو. هر کله چې حضرت محمد ﷺ ته نژدې سو دوه واره ئې د آس پښې په وچه ډبرينه مځکه ننوتې د آس څخه به غوزار سو وروسته ئې امان وغوښت حضرت محمد ﷺ عفوه کی.

يو وخت حضرت رسول کريم ﷺ لمونځ کاوه، قريشو ورته کتل، چې دی مبارک پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سجده سو ابوجهل ملعون ډبره واخیسته غوښته ئې چې پر سر مبارک ئې وولي، دستي ئې لاسونه وچ سول او د (هبل) څخه ئې څه مرسته ونه لیدل. بل وخت بیا حضرت محمد رسول الله ﷺ لمونځ کاوه، ابوجهل ملعون د ده مبارک د آزار قصد وکی، چې ور نژدې سو بې اختیاره بیرته پر شا راوګرځېدی.

کلده د اسد زوی چې قریشو دی ابوالاشد باله ډېر قوت مند وو، و قریشو ته ئې وویل، چې زه به د مبارک کار تمام کم، قریشو په دې باره کې ډېر مکافات ورته وتاکل، چې حضرت محمد ﷺ و سجدې ته تلی کلده په لار کې ولید (مزراق) یعنې یوه کوچنې نېزه په لاس ورځخه وه پرورالائې کړله، نېزه ور وګرځېده د ده په خپله سینه ښخه سوه، نو په وچه ځغاسته د ببرې سره قریشو ته راغی، قریشو ورته وویل:

ای ابوالاشده! څه در وسوه؟ چې رائځغلې؟ کلده ورته وویل: پر تاسې دې افسوس وي، لکه چې تاسې دغه مست نر اوښ نه وینئ چې په ما پسې رائځغلې؟ دوی وویل: چې مور هیڅ شی نه وینو، کلده وویل: زه ئې وینم.

بله دا چې یهودیانو، کاهنانو او بت پرستان د ده مبارک څخه وبېرول او د ده د کار په اهمیت ئې پوه کړل، او دوی ئې د ده په مرګ وګومارل، په عین حال کې الله تعالی دی مبارک د دوی د شره څخه وساتی په کور او دباندې په سفر او حضر کې ئې حفاظت وکی، او د ده دښمنان ئې خوار او ځورمغزي او ځورې سترګې کړل، د دوی لاس ئې د ده مبارک د لمنې څخه لنډ کی، د ده ساتنه او نګهباني ئې د خپل کفایت پر عهده واخیسته او وئې فرمایل:

أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُۥ (سورة الزمر: ۳۶ آیت)

آیا الله خپل بنده لره کافي نه دئ؟

الله ﷻ د حضرت محمد رسول الله ﷺ داسې تائید وکی او دونه قوت ئې ورکی چې وئې کولای سوای چې داسې امت چې ټوله سره تیت او پرک پرک وه سره یو او متحد ئې کړل دوی ته ئې داسې قانون ورکی چې د هغه په وسیله ئې پر ټولو اقوامو او مللو سیادت او سلطنت وموند، دغه د الله ﷻ تائید وو چې حضرت رسول اکرم ﷺ موفق سو چې د باطلو عقیدو ریښه ئې وکښله او داسې دین ئې د وګړو په لاس کې کښېښود چې د هغه د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مبادیو د متانت په واسطه ورځ په ورځ په خپله په زیاتوب او په پیشرفت کي دئ.

که چیري یوه قانون جوړوونکي، یا سلطان یا فیلسوف یا یوه لارښوونکي یا یوه مشر ته د دغو پورته یادو سوو کارو څخه سلمه برخه په لاس ورغلې وای ځان به ئې ورک کړی وای، دغه کارونه د حضرت کریم محمد ﷺ په لاس تمام ته ورسېدل او یو لږ غوندي تاثیر ئې د ده مبارک د نفس په پاکي او د روح په بلندي کي ونه کی.

(۱۳) د حضرت محمد امین رسول الله خاتم النبین ﷺ د فضایلو تکامل:

حق جل و علی شانه و اعظم برهانه حضرت رسول مقبول ﷺ په هر ډول فضایلو آراسته او ښایسته کړ، د نمونې له پاره څو ډوله فضائل ئې دلته ذکر کوو:

الف:

آ: وقار او شان چې د هیبت او تعظیم مایه ګڼل کېږي، په حضرت نبوي ﷺ کي د کمال حد ته رسېدلي وه، دونه هیبت او ستاره ئې درلوده، چې د (کسری) استازي او سفیران سره له دې چې درباري وګړي وه د اېران د پاچهانو د دبدبې او هیبت سره هم اموخته سوي وه، د حضرت رسول اکرم ﷺ له هیبت او ستاري څخه دونه وبېرېدل چې غړي ئې ښوئېدلي، زړه ئې له لاسه ویوست.

ب:

نرمي او خوشخوئي چه لیري او نژدې وګړي ئې دوستان وه، د ده مبارک یارانو دغه رحمة اللعالمین ﷺ تر خپل زوی او پلار دوست ګانه.

ج:

زړونه ټوله ورته هواداره او ده ته ئې میل درلود، پرته له حاسدانو څخه ئې هیڅ یو زړه د ده څخه نه تور او نه تښتېدلی وو.

د:

حضرت محمد سید الانبیاء ﷺ د درونډ عقل څښتن او د لوړ همت او ربښتین فراست خاوند وو، په هیڅ سختي کي نه لاس و پښه کېدی، هیچا نه سوای غولولای، د کار د لومړي سر څخه د کار وستری نتیجه ورڅرګنده وه او د هغه کار عیبونه او مشکلات ئې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ليدل، هغه ئې حل او ايسته کول.

هـ:

د ده مبارک ژوندون په سختي کي په ډېره پايداري او په کار کي په ډېره محکمي او د زړه په آرامي سره تېرېدی، د سلمه زوی حضرت حماد رضي الله عنه د ثابت څخه چي ثابت د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت کوي چي حضرت انس رضي الله عنه وويل، چي: حضرت رسول مقبول ﷺ وويل: "د الله ﷻ په لار کي مي وبېرول، او د الله ﷻ په لار کي مي ازار ولید، پر ما دېرش شوارو زه تېر سوه چي ما او بلال ته طعام او خواړه نه وه منګر بېخي لږ".

و:

د حضرت رسول الثقلين ﷺ د دنيا څخه اعراض او د کفايت پر مقدار د ده اقتصاره سره له دې چي د حجاز څخه تر عراق او د يمن څخه تر عمان پوري د ده په تصرف کي وه هيڅ ډول مال ئې جمع نه کړ او درهم او دينار او مال ئې و خپلو بازمانده ګانو ته پرې ننبوده چي دوی دغه وضعيت خپل سرمشق وګرځوي او لکه دې دنيا ته د حقارت په سترګه وګوري. بي بي فاطمه رضي الله عنها و حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته ورغله، د ده څخه ئې ميراث وغوښت، حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ورته وويل، چي: ما د حضرت رسول الله ﷺ څخه اروېدلي دي چي ويل ئې: "انا لا نورث ما ترکناه فهو صدقه" زه د ځانه ميراث نه پرېږدم او که زما څخه کوم څه پاته سي صدقه ده[1]. بيا نو حضرت صديق رضي الله عنه ورته وويل: حضرت رسول مقبول ﷺ چي د هر چا د معاش متکفل وو، زه ئې هم متکفل يم، پر هر چا چي ده مبارک انفاق او خرڅ کاوه زه هغه انفاق کوم.

ز:

د ده مبارک تواضع او فروتني نسبت و خپلو يارانو ته په داسي ډول چي د دوی سره ئې ناسته او ولاړه کوله، خبري او مجلس ئې ورسره کاوه، او هيڅ امتياز ئې د دوی څخه نه درلود، پرته په وقار او حيا، او هيبت سره، يو وخت يو اعرابي و ده مبارک ته راغی هسي د ده په ليدو سره د ده مبارک له هيبته او ستاري څخه ئې غړي وښوئېدل، رحمة اللعالمين

---

[1] محققانو دا روايت مجعول ګڼلی او فدک چي بي بي فاطمې رضي الله عنها غوښت د دې ملک يې بللی دئ، ځکه چې د بي بي په ادعا او د حضرت علي کرم الله وجهه او نورو په شهادت حضرت محمد رسول الله ﷺ پخپل ژوند کي فدک د بي بي فاطمې رضي الله عنها ته بخښلی وو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ﷺ ورته وويل: کار ځان ته مه ګرانوه، ځکه چې زه د هغې ښځې زوی يم چې په مکه معظمه کې ئې وچې غوښې خوړلې.

ح:

د رحمة اللغالمين ﷺ حلم نسبت هغو ظالمانو اعرابو ته چې زړونه ئې لکه ډبره دغسې سخت وه سره د هغه سخت آزار او ضررو څخه چې د دوی څخه ئې ليدی د دوی څخه ئې سترګې اړولې، هيڅکله ئې لغزش ونه کی او نه بې حوصله سو، لکه چې د مخه مو وويل: چې د مکې معظمې د فتح په ورځ ئې و قريشو ته وويل، چې: "زما په باره کې څه ګومان کوئ؟" دوی ورته وويل: ته مو د اکا زوی يې، که مو وبخښې نو و تا ته زموږ هيله همدغه ده او که انتقام او غچ راڅخه واخلې نو موږ ئې وړيو، حضرت محمد ﷺ وويل: زه تاسي ته هغه څه وايم چې حضرت يوسف عليه السلام و خپلو وروڼو ته وويل: نن ورځ پر تاسي څه باک نسته الله بخښونکی دئ، تاسي به وبخښي. بيا ئې وويل: اې الله! د قريشو اول دي په عذاب اخته کړه د دوی آخر وبخښې او سرفراز او سرلوړي ئې کړې.

ط:

د عهد ساتنه او په قول او وعده سره وفا، حضرت محمد مصطفی ﷺ د عهد ماتول، وعده خلافي. و وګړو ته عذر کول د لويو ګناهو څخه شمېرلي.

ي:

سره له دې چې دی مبارک امي وو او د اميانو په امت کې لوی سوی وو، د عالم او معلم سره ئې مجلس او مصاحبت نه درلود، درس او کتاب ئې نه وو ويلی، دونه حکمت او پوهه ئې درلوده، چې د ګرد عالم عقلونه ورته عاجز پاته دي، هغه څه چې ويل ئې محکم او څه چې ئې راوړي وه ډېر متين وه.

د ده مبارک د حکمت دپټزندلو له پاره همدغه بس او کافي دي، چې سړی په دغه کې فکر وکې چې د خپل شريعت ګرد منظور ئې د څلورو حديثو په يوه لفافه کې خلص او کوتاه کړاو د وګړو غوږو ته ئې ورساوه:

۱. "انما الاعمال بالنيات و انما لکل امرئ ما نوی" کارونه په نيت پورې اړه لري هر چا لره خپل نيت دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

Downloaded By: Afghan Salar Library

۲. "الحلال بين و الحرام بين، و بينهما امور مشتبهات و من بحم حول الحمى يوشک ان يقع فيه" حلال ښکاره او حرام څرګند دي، د دې دوو په منځ کې مشتبه امور دي، څوک چې د ممنوع شي پر شاوخوا ګرځي ډېر ستە چې پکښې ولوېږي.

۳. "من حسن اسلام المرء تركه ما لا يعنيه" د انسان اسلام د حسن څخه دا دئ چې هغه چې مطلب او مقصود ئې نه وي پرېږدي.

۴. "دع ما يريبک الى ما لايريبک" په کارو کې د يقين پيروي کوه مشکوک کارونه پرېږده.

يا:

مبارک ﷺ د انبياء عليهم السلام پر قصصو او د جهان پر اخبارو اطلاع درلوده تر دې چې هيڅ يو کوچنی يا غټ امر پر ده نه وو پټ الله تعالى دی مبارک په ټولو تېرو سوو امورو خبر کړی او دغه اطلاع او خبرتيا چې يو له امتيازاتو څخه د رسالت د مقام ده په ده کې ئې و کمال ته رسولې وه.

يب:

د ده مبارک شريعت او ديني قوانين د عقل سره بابر او د برهان سره مطابق دي هيڅ يو حکم او قانون ئې د برهان او عقل پر خلاف نه دئ راوړی، له همدې رويه مبارک ﷺ ويلي دي: "اوتيت جوامع الكلم و ختصرت لی الحكمة اختصاراً".

يج:

د ستايلو خويو او ښو آدابو لارئې ښوولې ده، په صله رحم او پر يتيمانو او بېوزلو او عاجزانو باندې ئې په مهربانۍ سره تشويق کړی دئ، د کين او حسد او بد زړه څخه ئې منع کړې ده د خپلوۍ د شلولو او د دوی څخه د ليرې کېدلو څخه ئې ممانعت کړی دئ او ويلي ئې دي: "لا تقاطعوا ولا تدابرو و لا تباغضوا و كونو عباد الله اخوانا". دغه د دې له پاره چې د امت فضايل زيات او د دين او دنيا صلاحيت د دوی له پاره کامل سي، سرداري او پېشوايي د دوی وي او دوی د دې آيت مصداق وګرځي:

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عمران: ۱۱۰ آیت)

ید:

د حجت او برهان په اقامه کي قوتمند وو، هیڅکله او هیڅ وخت د هیچا په مقابل کي ئې سر نه دئ کښته سوی. ابي بن خلف جمحي یو ژړ وروست هډوکی له هدیرې څخه راواخیست و حضرت رسول اکبر ﷺ ته ئې راوړی او هغه ئې په لاس کي ښنه سره وموښی چي ښه نرم سو، نو بیا ئې وویل: اې محمده! آیا ته وائې چي موږ او زموږ نیکه ګان چي پر دغه حال وراسته هډوکي سوي بیرته به ژوندي سي؟ دا ښځي لو خبره ده چي پرته له تا څخه مي د هیچا څخه نه ده اروېدلې، څوک دئ چي وراسته او پوده هډوکي ژوندي کي؟ حضرت محمد رسول الله ﷺ ورته وویل:

قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ (سورة یس ۷۶ آیت)

وراسته پوده هډوکي هغه څوک ژوندي کوي، چي لومړی وار ئې هغه پیدا کړي دي، او دی په ټولو مخلوقاتو عالم دئ.

ابي چي دغه محکم دلیل واورېدی اریان سو او ببجوابه ولاړی.

یه:

د ده مبارک ژبه د درواغو او تحریف څخه ساتلې وه تر دې حده چي هیڅکله او په هیڅ کار کي د وړوکوالي بیا تر آخره پوري د ده څخه درواغ نه دي اروېدل سوي، دی مبارک په راستي او رښتیا ویلو سره مشهور وو.

یو:

د عربو ملت ئې د پخوانیو او مخنیو اخلاقو، عاداتو او رسم او رواج څخه و خپل دین او شریعت ته رانقل او راوړول لکه چي ټوله که د ببري څخه وه او که د امید د لاري څخه وه د ده مبارک مطیع او فرمان وړونکي او د ده سره په مرسته کي ئې ملا وتړله.

یز:

حضرت مبارک ﷺ میانه رو او معتدل امت میدان ته راویوست، ځکه چي نه ئې لکه یهودیان پر دنیا مین کړل او نه ئې لکه نصارا په رهبانیت او د دنیا په پرېښولو وګومارل بلکي امت ته ئې وویل: "خیرکم من لم یترک دنیاه لاخرته، ولاخرة لدنیا" ستاسي څخه هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ښه سړی دئ، چې د آخرت له پاره دنیا خرابه او پرې نه ږدي او هم خپل آخرت تر دینا فدا نه کي، چې یو خوا ټینګول او هغه پرېښودل د تباهۍ او اختلاف مایه او دواړه ټینګول د اعتدال موجب ګرځي، لکه چې ځینو ناپوهانو ګومان کړی دئ، حضرت رسول اکرم ﷺ هیڅکله د دنیا په پرېښولو حکم نه دئ کړی ځکه دنیا د آخرت کښت دئ، مؤمن باید د خپل آخرت تو ښه او ثوري په همدغه دنیا کي برابر او تهیه کړی علاوه پر دې هغه څوک چې دنیا ئې پرې ایښې وي یا تل د نا امیدۍ او تباهۍ په حال کي وي یا د نورو د ترحم او رعایت وړ وي، په لومړي صورت کي د خلکو د اوږو بار ذئ په دوهم صورت کي د دوی په سترګو کي اغزی دئ.

یو وخت د حضرت رحمة اللعالمن ﷺ په حضور کي خلکو د یوه سړي تعریف کاوه داسي ئې ویل: هر کله چې سپاره سو د بیرته کښته کېدو تر وخته پوري دی د الله په ذکر بوخت وي او چې راکښته سو دی په لمانځه مشغول وي څو چې سپرپږو. حضرت رسول کریم ﷺ ورته وویل: چې د ده او د اوښ غذا څوک ور برابروي؟ دوی ورته وویل چې موږ. حضرت ﷺ وویل: تاسی ټوله تر ده ښه یاست.

یح:

د مبارک د بېخي لنډې زمانې پراخېدل او وسعت پیدا کول هم د وګړو د دعوت له پاره (چې لومړی په پټه او بیا بې پردې او ښکاره سو) او هم د جنګو او غزاوو له پاره چې دا تر هجرت وروسته و میدان ته راغلل او هم د دین د احکامو د توضیح له پاره، عبادت ئې بیان کی، د حلالو او حرامو او مباحاتو شرح ئې ورکړه، روا او ناروا معاملې ئې وګړو ته وښوولې، تر دې اندازې چې یهود او نصارا په ډېرو معاملاتو او مواریثو کی د ده مبارک و شریعت ته اړ سول، مګر د ده مبارک شریعت هیڅ دین ته اړ نه سو، د خپل شریعت او دین له پاره ئې داسي اصول او قوانین تهیه کول، چې د دین ډول ډول پېښو احکام چې په مختلفو زمانو او بېلو بېلو ځایو کي پکښې سته د دې لاري څخه ئې خپل الهي تکلیف ادا کړ، او د امت حقوق ئې پر ځای کړل، چې په الهي حقوقو کي خطا او نقصان او په بشري مصالحو کي خلل پیدا نه سي، دا ټول کارونه د خارق عادت پر ډول په ډېره لږه زمانه کي پای ته ورسېدل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ب

حسي دلايل

معجزو او د هغو و احتياج ته اشاره:

هغه وګړي چي په ګمراهي کي وي او خپل ځان په هدايت کي ګڼي نو که يو لارښوونکی و دوی ته راسته لار وښيي په آسانۍ سره ئې نه قبلوي، او د هغې لاري چي دوی ور دعوت سوي دي صحت غواړي.

هغه برهان او دلايل چي وګړي ئې د يوه رسول څخه غواړي پر دوه ډوله دئ:

يو عقلي دلايل دي چي عقل ئې قبلوي، او د وګړو زړونه په هغو آرامېږي، دوهم دغسي نه دي چي زړه ئې پر آرام او تقرر پر ونيسي، بلکي کله کله په هغو کي تردید هم پيښېږي، او کله کله بالکل انکار ځني کېږي، همدا دئ چي الله تعالی ﷻ د خپل رسول د مطلب د اثبات له پاره معجزه ور عنايت کوي.

هره معجزه چي بايد انسان د هغې د ښکاره کولو څخه عاجزه وي علاوه پر دغه بايد معقوله هم وي چي ټوله وګړي ئې ومني او د وګړو شک د زړو څخه ووزي او ونه سي کولای چي پر الله ﷻ ايراد ونيسي او کوم حجت قايم کي.

* يَوْمَ تَأْتِي كُلُّ نَفْسٍ تُجَادِلُ عَن نَّفْسِهَا وَتُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١١١﴾ (سورة نحل: ١١١ آيت)

هغه ورځ چي هر سړی د ځان څخه دفاع کوي او هر سړي ته هغه چي کړي ئې دي ټوله ورکړه سي او هيڅ به ونه وينې.

﴿٣٥﴾ هَـٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ (سورة مرسلات: ٣٥-٣٦ آيتونه)

دا هغه ورځ ده چي خبري نه کوي او اجازه به ونه کړل سي چي عذر وغواړي.

هوکې! وروسته تر دې چي الهي دعوت و وګړو ته ورسېدی او د حق حجت پر دې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کامل سو، هیڅوک به د خبرو او عذر غوښتلو حق نه لري لکه چې و دې مطلب ته د اشارې له پاره ئې فرمایلي دي:

فَٱلْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾ (سورۃ یس: ۵۴ آیت)

نن ورځ پر هیچا ظلم نه کیږي، او تاسي به پاداش پیدا نه کی مگر د هغو عملو چې کړي مو دي.

الله جل و علی شانه د حجت د اتمام له پاره و خپل رسول ته دوه ډوله معجزې ورعنایت کړې:

۱. معنوي

۲. حسي

معنوي معجزې:

قران عظیم الشان او نبوي احادیث د حضرت رسول اکرم ﷺ معنوي معجزې دي، د قرآن مجید په باره کي مو دمخه تر دې په تفصیل سره بیان وکړ، نبوي احادیث ټوله ربنتیني قضایاوي دي چې د بشر پر دیني او دنیوي مصالحو د دوی د طبایعو او مکان او زمان سره سم مشتملي دي. هر سړی دي حضرت رسول الله ﷺ ښه وپیژني او پوه دي سي چې دی د هیڅ یوه معلم سره اشنا نه وو او د ده مبارک په محیط او شاوخوا کي سیاست، حکومت او تمدن وجود نه درلود، بلکي د ده مبارک قوم بالکل د علومو او معارفو څخه بې برخي وو، سره له دغه بیا هم ټوله ګوري چې دغسي احادیث او قضاوي د ده مبارک څخه صادري سوي دي نو ناچاره دي چې باید د ده مبارک د دعوی په صحت سره تصدیق وکړي او د ده په رسالت سره یقین وکړي.

حسي معجزې

د حسي معجزو د ښکاره کولو موجب دا وو، چې هر کله حضرت محمد رسول الله ﷺ د داسي اقوامو په مابین کي رسول سو، او د دوی د هدایت له پاره راوستول سو، چې په فصاحت او بلاغت کي ئې څه برخه نه درلوده او نه ئې سوای کولای چې هغه فاضله صفات چې په قرآن عظیم کي جمع سوي دي (سره له دې چې د هیڅ یوه انسان له پاره امکان نه لري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې هغه جمع کړي) ادراک کړي، او پر هغه احاطه پیدا کي، د هغې خوا څخه هم خبر نه سول چې د فصاحت او بلاغت خاوندان د قرآن عظیم سره په معارضه کي عاجزه سوي دي، نو څرنګه چې د قرآنکریم په اسرارو نه پوهیدل او د قرآن مجید په څېر ئې یو مثل نه سوای راوړای نو ناچاره سوه د منازعې او مخاصمې د لارې پورته سول، نو دغه ناپوه او ناخبره وګړي چې فقط د طبیعت عالم ئې لیدی او د هغو په نوامیسو او روش پوهیدله او پوهیدل چې انسان قدرت نه لري چې هغونه تغیر ورکي نو ځکه ئې د حضرت رسول مقبول خاتم النبیین محمد مصطفی ﷺ څخه وغوښته، چې په دغه طبیعي نوامیسو کي تغیر وکي، او په دغه حوادثو کي د عادت په خلاف کار وکي چې که دغه خرق عادات د ده مبارک څخه بنکاره سي نو دا به داسي وي لکه الله تعالی چې ووایي: "زما بنده رشتیا وایي ربنتین دئ او که دی د دغه کار څخه عاجز سي پر دې به دلیل وي چې (العیاذبالله) درواغجن دئ او الله تعالی دی تکذیب کوي".

نو همدا وو چې د داسي وګړو د غوښتنې او مطالبې او اصرار په اثر داسي ډېري معجزې د حضرت رسول کریم ﷺ څخه بنکاره سولې.

یو له دغو معجزو څخه د سپوږمۍ دوه ځایه کېده او انشقاق دئ.

په دغه وخت کي خلک په منی کي وه، سپوږمۍ داسي دوه ځایه سوه، چې د حرا غر د سپوږمۍ د دوو ټکرانو په منځ کي چې لکه دوې پلوشې چې وي معلومېدی، حضرت ﷺ وګړي شاهدان کړل، ابوجهل د خپل جهل او ناپوهۍ او بېعقلۍ څخه دغه جادوګري وبلله، او وئې ویل: چې شاوخوا د وګړو څه پوښتنه وکړئ، هر کله چې ئې پوښتنه وکړه ټولو تصدیق وکړ او خبر ئې ورکی چې بېشکه دغه معجزه پېښه سوه[1].

یوه بله معجزه هر کله چې وګړي په اوبو پسي ګرځېدل نې سوای پیدا کولای حضرت رحمة اللعالمین یو لږ څه اوبه چې پاته وې راوئې غوښتلې او هغه ئې په یوه لوښي کي واچولې او لوښی ئې خپل مخ ته کښېښود او خپل مبارک لاس ئې په هغو کي کښېښود په

---

[1] د شق القمر مسئله د داسي مسئلو څخه ده چې باید په باره کي ئې مخصوص کتاب ولیکل سي او اسلامي محققانو د شق المقر په څرنګوالي کي تحقیقات کړي دي. چې په دې ترجمه کي ئې راوړل ډېځایه کار دئ، د دې کتاب مؤلف لکه چې په پاورقۍ کي یې ویلي دي په دې باب کي یو کتاب د (انشقاق القمر معجزة السید البشر) په نامه تالیف کړی دئ او د دلایلو غوښتونکو ته ئې په دې باره کي و هغه کتاب ته حواله ورکړې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دغه موقع کي اوبه لکه يوه زوره وره چينه د ده د گوتو له منځه څخه د جوش په ډول راوتلې نو ټولو وګړو چي دالته وه د هغه څخه اوبه د اوداسو او نورو کارو له پاره راواخيستلې.

يوه بله ورځ د يوې غزا په ترڅ کي په لښکرو کي تنده پيښه سوله اوبه نه وې، دونه تږي سوله چي ځينو وګړو اوښان حلال کړل او د نس کثيفي اوبه ئې چنبلې، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مبارک محمد مصطفی ﷺ څخه وغوښتل چي دعا وکي، دستي اوريځ پيدا سوله دونه باران واورېدی چي ټوله اوبه سول او خپل لوښي ئې ګرده ډک کړل.

يوه بله معجزه دا وه، چي په يوه جنګ کي چي وګړي ډېر وږي سوله د خورک هيڅ شی نه وو حضرت محمد رسول الله ﷺ څه لږ طعام کښېښو، نو ټوله مجاهدين ئې راوبلل، خپل ټوله لوښي ئې په ډک کړل ولاړل، هغه خواړه لا هغسي پاته وه.

يو وخت يوه اعرابي د ده مبارک څخه معجزه وغوښته او ده مبارک يوه ونه راوغوښته ونه ورته راغله احترام ئې وکی ودرېدله، بيرته د ده مبارکه په اشاره ولاړه پر خپل ځای ودرېدله.

بله دا چي په کعبه شريفه کي درې سوه او شپيته بتان ولاړ وه، چي د ټولو پښې ئې په ډبرو کي په قلعي سره محکمي کړي وې، هر کله چي حضرت محمد ﷺ مکه معظمه فتحه کړله او د مسجد الحرام شريف ته داخل سو په هغه لرګي سره چي په لاس کي ئې وو د دوی ته اشاره وکوله، دغه ټوله چي به ئې د هر لور ته د لوېدو د هر يوه ته اشاره وکړه پر هغه خوا به ولوېدی، څو ګرده نسکور سول.

بله دا چي د احد د غزا په ورځ کي د حضرت قتاده د سترګي ته څه ضرورت پيښ سو تر دې حده چي سترګه ئې د غالبه څخه راووتله پر بارخو پرته وه، حضرت محمد ﷺ ئې دغه سترګه په خپل ځای کي کړله، دغه سترګه ئې دونه جوړه او ښه سوله چي تر هغه بلي بهتره سوله.

د خيبر د جنګ په ورځ د حضرت علي کرم الله وجهه پر سترګو درد وو، حضرت محمد رسول الله ﷺ مبارکي ناړي پوري وموښلې، په هغه ګړي درد ورک سو.

د خندق په ورځ د حکم د زوی پښه ماته سوله، حضرت مبارک ﷺ خپلي مبارکي ناړي پر وموښلې دستي ئې درد کونده او جوړه سوله.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د حضرت انس رضي الله عنه په حق کي ئې دعا وکړه چې په مال او اولاد کي ئې برکت پيدا سي دونه سوله چې هيڅوک د زامنو په ډېرښت او د عيش په پراخي کي په ده پسې نه سوای رسېدلای، د حضرت معاويه رضي الله عنه په حق کي ئې دعا وکړه و خلافت ته ورسېدی[1].

د نابغه په باره کي ئې وويل: (لا يفصنض الله فاک) سره له دې چې عمر ئې خورا اوږد سو، ګرد غاښونه ئې پوره، يو غاښ ئې ونه ووت او که به ووت دستي به ئې پر ځای بل غاښ شين سو، و حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته ئې دعا وکړه چې په فقه او تاويل کي عالم سي دونه عالم سو، چې دی مبارک ئې د امت پوه او عالم او د تنزيل ترجمان باله، د کسری په باره کي ئې نفرين وکړ پاچهي ئې زائله سوه او خاندان ئې ګرده متفرق او منقرض سو.

لنډه دا چې د ده مبارک ﷺ و معجزو ته که په ځير سړی وګوري وبه ئې ويني چې علوي او سفلي، صامت او ناطق، ساکن او متحرک، مايع او جامد، سابق او لاحق، غائب او حاضر، باطن او ظاهر، عاجل او آجل لره شامل دي، په داسي ډول چې د دغو په مجموع کي تامل سړي ته يقين حاصلوي، چې د ده مبارک پر لاس ډېري معجزې او خوارق عادت ښکاره او جاري سوي دي، که څوک ګومان وکي چې دغه واقعې يوه يوه د تواتر پر ډول لکه قرآنکريم چې متواتر دئ و موږ ته نه دي رسېدلي نو د خرق العادة مسئله مشکوکه ده، نه مقطوع نو دغه سړی لکه هغه څوک داسي دئ چې د فيض او برکت په مشهورو شيانو او مستفضو مشهوراتو کي شک ور ولوېږي، يا د حضرت علي کرم الله وجهه په زړه ورتوب او د حاتم په سخا کي شک او ترديد لري، ځکه چې د حضرت علي کرم الله وجهه او د حاتم واقعې هم متواتري نه دي، ليکن د انسان له پاره د هغو د مجموعې څخه قطع او يقين حاصلېږي.

سخته غټ بېعقل او جاهل دئ، هغه څوک چې د حضرت محمد رسول الله ﷺ د احوالو او افعالو او اقوالو او اخلاقو او معجزو ته وګوري او د اسلام انتشار او خپرېدل د جهان تر يوه سره وويني او د معاصرو او وروستنيو شاهانو اطاعت د ده مبارک په مقابل کي ملاحظه کي، سره له دغه تولو دغه احمق د ده مبارک په رشتيا ويلو کي شک ولري (العياذ بالله).

---

[1] ددې دوو قضيو صحت کاملاً مشکوک دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دا وه د آنحضرت رحمة اللعالمين محمدرسول الله ﷺ پر رسالت باندي لنډ او مختصر قطعي دلايل، په حقيقت کي دغه لږ او مختصر دلايل د هغو بې حسابه او بې شمېره دلايلو څخه يوه نمونه ده، چې په دې باب کي موجود دي.

او که نه:

و فضل البحر لم يدركه وصف وعدالموج فيه ليس يحصر
عظيم الخلق معروف السجايا اله العرش قدسة و طهر

نقطهٔ خط اولين. پرکار
خاتم آفرينش آخر کار
امی و امهات را مايه
عرش فرسای و عرش را سايه
همه هستی طفيل و او مقصود
او محمد رسالتش محمود

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

شپږم باب

رحمة اللعالمين محمد ﷺ تر ټولو مصلحانو کامياب دئ

هغه وخت د حضرت نبوي رحمة اللعالمين ﷺ نور وځلېدی چې پر ټوله نړۍ تياره غورېدلې وه، په سرو کې ئې گمراهۍ ځای نيولی وو، فتنې او فسادونه تر حساب تېر وه، الله ﷻ حضرت نبوي رسول الله ﷺ راواستاوه، چې ټوله د نړۍ وگړي د تيارې څخه و رونا ته راوباسي، او د دنيا ټوله افراد د راستۍ لاري ته راوبولي، ده مبارک ﷺ لکه چې ورې وه هغسي کوښښ وکړ، پر ځان ئې زحمتونه او سختۍ او آزارونه اسانه وگڼل، په ډېر حکيمانه ډول ئې گذاره کوله، په پوره موعظه او ښه مجادله سره ئې وگړي و الله ﷻ ته رابلل، څو چې گمراهي او فساد ئې له بېخه د ريښو وکيښل او حق ئې وځلاوه، هغه څه چې زړه ئې غوښت هغه ئې وکړل، و پای ته ئې ورسول، په اجتماعي او خلقي اصلاح او په سياسي نفوذ او جنگي پېشرفت او په ټولو خواهشاتو کې ښه کامياب سو.

اول

د رحمة اللعالمين محمد ﷺ اجتماعي او خلقي کاميابۍ

د داسي امت د حال او اوضاعو تغير کېدل لکه د عربو امت او د دغه امت ژوندي کول په نتيجه کې د مځکې د مخ د نورو امتو ژوندي گرځول د هغه په وسيله سره او د هغه امت د ژوندون د ډول او شان پر بله خوا را اړول او د هغه د حال او ټولو کارو اصلاح د سرگردانۍ او اجتماعي اخلاقي فساد څخه و وگړو ته نجات ورکول او د سياسي دايلې ورځې مخه نيول هغه هم د داسي شخص په وسيله لکه حضرت محمد ﷺ فقير، يتيم، امي، بې يارە، بې مرستيالە، هغه هم په ډېره سخته بېړه او چابکۍ په بېخي لږ او لنډه زمانه کې د شکه وتلي هغه کارونه دي چې په تاريخ کې مثال نه لري، بايد دغه کارونه سړی د تعجباتو او بې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مثاله او نادرو خوارقو څخه وګڼي.

یو سړی هغه هم فقیر، مسکین، بېوزلي، یتیم، بې پلاره، بې مورہ، امي، د علم او عالم او معلم څخه لیري، بیا په داسي ځای کي چې د نظم او تمدن څخه بې برخي او ژوندون ئې په سرګردان او ناپوهانو کي، او خپلوان ئې جاهل او بت پرست، د الله څخه لیري، دی وکولای سي چې د ناپوهۍ پر ځای پوهه، د فساد پر ځای نظام او د کفر په مرکز کي اسلام او ایمان میدان ته راوباسي، تشبه او شرک له منځه ورک کړي، خالص توحید او تنزیه رواج کي، تفرق او پراګندګي او ضعف له منځه وباسي، اتحاد، قرب او تمدن منځته راولي، او په ټولو مرحلو کي لکه هیبتناکه زمری او مجرب پېشوا او زړه ورونکی ویاند او پوه سیاستمدار او صادق خبر ورکوونکی او حکیم قانون جوړوونکی او ماهره معلم چې خپل قوم په هغه چې نه پوهېدل عالم کي، او لکه کلک پرهېزګاره او عابد زاهد، په عین حال کي د حلالو څخه نفع اخلي او د طیباتو څخه برخي وړي، بخښونکی او مهربان، نسبت و ظالمانو ته کلک زړه، د محکم ایمان او پاکۍ، جمال و کمال او نرم دلۍ او تهذیب د ادب کامله نمونه، د عربو د امت او د ټوله بشر له پاره لکه یو لوی بزرګ مصلح، دا ټوله خورا لوړ دلیلونه دي پر دې چې دغه مبارک ذات کاملاً انسان دئ، د هغه شیانو واجد او جامع دئ، چې د وګړو له پاره د کمال و مزله ته د رسېدو په خاطر لازم دي، په هر صفت او خوی او عمل کي یوازي صالح پېشوا او تنها پوره نمونه او کامل سرمشق دئ:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ (سورة احزاب: ۲۰ آیت)

له دې څخه باید سړی تعجب ونه کي چې په هغه وخت کي چې فساد او اختلال، کفر او ظلم، استبداد او جهل د مځکي پر مخ چلېدل او بشري ټولنه د یوه رسول و رالېږلو ته سخته احتیاج وه حضرت محمد ﷺ په رسالت راولېږل سو، او داسي امت ئې میدان ته راووست چې د عزت او مجد او د صحیح تمدن او د آزادۍ او ورورګلوۍ او د بشر د ټولو افرادو سره د مساوات بیرغ ئې جګ کړ او د مځکي مخ ته ئې تغیر ورکړ او د نورو امتو نظام ئې پر بله خوا راواړاوه، په لږ زمانه او خارق عادت او بېړه سره ئې ټوله امتونه د اخلاقو او ژبې او دین له حیثه و خپل رنګ ته راواړول، سره له دې چې د هغه عصر دولتو سره د هغه شوکت، قوت او علم او کمال او قدرت چې درلود ئې ونه کولای سوای چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مغلوب ملتونه په ژبه او دين، جنس او اخلاقو کي په خپل رنګ کړي کوښښونه ئې وکړه، روپۍ ئې مصرف کړې، زحمتونه ئې وکښل و خپل مقصود ته ونه رسېدل، بلکي هر څونه مال او علم او قدرت چې ئې په دې لار کي مصرف کړل وګړو لا د دوی د مطلب څخه وځغستل، ځني ليري کېدل او لا باندې په قهر کېدل، سره له دې چې دوی د مغلوبو امتو د ژوندون پر ټولو وسايلو قدرت درلود او ډېر ډېر کلونه ئې په دې لاره کي کوښښ کاوه، په هغه چې عاجزه او ناتوانه عرب په بېخي لږ کلو کي و مطلب ته ورسېدل کاميابه نه سول.

حضرت محمد رسول الله ﷺ چې دغه امت ژوندی کی او پرورښت ئې ورکی او دغه دين ئې راوړ او د دې وړ وګرځېدی چې پيروان ئې د زړه د کومي درست ګڼي او په عمل او وينا کي د ده مطيع دي او د بشر په مليونو افراد ئې پيروي کوي نو شک نسته چې دغه بری او کاميابي د الله ﷻ په مرسته او ياري سره وه، په تاريخ کي نه دي ليدل سوي چې پرته له آنحضرت ﷺ څخه دي د بني نوع په منځ کي کوم مصلح پورته سوی وي او د ده حال او احوال او اوضاع دې ئې لکه د ده مبارک او د ده د امت دي ئې لکه د عربو امي او وحشي امت داسي وي او په داسي عيجبه بېړه دي په نړۍ کي يو بزرګ اثر پرېږدي يا دا چې ترننه ورځې دي پاته وي.

رشتيا همدا ده، هر چا چې تر حضرت خاتم النبيين محمد مصطفی ﷺ وروسته د نبوت دعوه کړې يا ئې وکړې ناميده او په دوارو جهانو کي رسوا دئ، ځکه چې محمد رسول الله ﷺ يو مقدس فرد او په ټولو کارو کي يو دئ، ځکه چې و ده مبارک ته الله جل و علی شانه ډېر عجيبه قدرت او بېخي ژر استېلا ورکړه او د مځکي پر مخ ئې په ټولو امتونو کي داسي تاثير وکی چې تر قيامته به باقي پاته او د عقل د حيرت مايه به وي.

د حضرت محمد ﷺ کار د عربو د ملت پر دا بله خوا را اړولو کي او داسي ژر د هغه مړه ملت په ژوندي کولو کي شک نسته چې د موسی عليه السلام د لکړې تر اړولو کي په مار سره او د عيسی عليه السلام د مړو تر ژوندي کولو لوړ او مهم کار دئ، ځکه امتونه د تيارې څخه را ايستل او رڼا ته ئې رسول او ناپوهي ورک کول او علم او پوهه و ميدان ته راوړل او هوا او هوس د عقل تر حکم لاندې راوستل د نبوت د ادعا سره وړ او د رسالت د مقام سره لايق دي او دغه کارونه د مدعا د اثبات له پاره قوي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سرولیم مویر په خپل کتاب (محمد ﷺ) کې ویلي دي:

"د امتیازاتو څخه د محمد ﷺ یو د ده د کلام وضاحت دئ، بل ئې د ده مبارک د دین آساني ده او علاوه پر دې دغه چې محمد ﷺ د خپلو کارو پر انجام کامیابه سو، چې عقلونه او فکرونه و هغه ته حیران دي. تاریخ نه دي بنوولي چې هیڅ یوه مصلح دي په دغه لږ زمانه کې نفوس ویښ او اخلاق دي ژوندي کړي او د فضیلت شان دي پوره لوړ بېولی وي لکه چې محمد ﷺ کړي دي".

د عربو بنارونه په زیاته بیا مکه معظمه چې په سوو کلونه پر هغو تېر سول چې تیاري او تاریکي پر هغو غلبه کړې وه او د حضرت موسی علیه السلام او حضرت مسیح علیه السلام دیانت د دوی په اخلاقي او اجتماعي حال کې په هغه لږ اندازه تاثیر وکړ چې کله دېره په خړو ژورو اوبو کې واچول سي د هغې دېري د لوېدلو اثر د اوبو د سطح څخه نه تېرېږي او نه دغه اثر و تل ته رسېږي، عرب د رذائلو، سنګدلیو او ظلم په تیاره کې دوب وه، لوی زوی د پلار تر مرګ وروسته د پلار ماندینه په میراث وړله، عصبیت تر دې اندازې رسېدلی وو، چې ژوندی نجونې ئې په خاورو منډلې، د بتانو عبادت ئې کاوه، د قیامت په ثواب او عذاب پسې نه ګرځېدل، نو هر کله چې حضرت نبوي ﷺ په رسالت راولېږل سو، د درویشتو کلونو په ظرف کې کامیاب سو، چې مکه معظمه او نور د عربو بنارونه د ککړتیا، ناخوالتیا او کرغېړنو کارو څخه پاک کړي، او بت پرستان، الله پرست، دین داره او مؤمنان کړي.

هو! د هغو بت پرستو سخت لکه کانې زړونه د الله د ېېرې څخه نرم سول، د الله ﷻ په عفو او فضل او د نېکو کارو په کولو او د فضیلت د نشر په لار کې کوښښ کولو او په عدالت پورې ئې زړونه وتړل، او وپوهېدل چې الله اعظم برهانه پر ټولو شیانو قادر دئ، څو دوی د دین په لار کې محکم وي د الله د عنایت او مهربانۍ مورد به ګرځي، تصدیق ئې وکړ چې هر نعمت د الله ﷻ څخه د کارو اجرا که کوچنې وي که لوی ګرده د ده په قدر سره کېږي، هر څه چې وغواړي هغه کوي، او دغه تازه شریف دین چې ئې دوی ته رالېږلی دئ ده د الله ﷻ څخه یو فیض او پر دوی واجب دئ چې د دغه دین څخه دفاع وکې او د دغه دین حوضه وساتي، دوی و دې ته متوجه سول چې حضرت رسول الله رحمة اللعالمین د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

عالم او زمونږ له پاره رحمت دئ د نېکبختۍ زېری راکوي او دی مبارک د بدي ورځي او سختۍ خلاصوونکی دئ، له همدې لامله د ده د اطاعت تر بارئې ځانونه لاندي کړل او د زړه له کومي د ده مطیع سول.

د حضرت رسول الله ﷺ تر بعثت وروسته د مکې معظمې وګړي قهراً دوې ډلي سول: کافران او مؤمنان، د مکې شریفي کافران غالباً تر هغې ورځي پوري چې د مسلمانانو فتح او بری نه وو په نصیب سوی پر خپل عناد پاته وه او د مکې مکرمې مسلمانان چې لږ وه ډول ډول عذابونه ئې لیدل، ورځ په ورځ د دوی دوستي او محبت د حضرت رسول مقبول ﷺ او د ده د مبارک دین سره زیاتېده، په داسي ډول چې اول ئې د خپلو پخوانیو معتقداتو څخه چې د دوی په ستر ګو نفیس او معظم شیان ښکارېده لاس واخیست، بیا ئې د خپل اهل او عیال څخه لاس پرېولی و حبشې ته ئې هجرت وکړ او بیا د حضرت محمد ﷺ په امر و مدینې منورې ته ولاړل، د قریشو د بد رفتاری او بد سلوک له حیثه ئې خپل ګران ښار چې بیت الله شریف هم هلته وه پرېښود، او په مدینه کي مېشت سول.

حضرت نبوي ﷺ په دوی کي د مواخات او ورورګلوی مزی ومښلاوه، د دغه ورورګلوی د عقد په وسیله ګرده لکه یو وجود او متحد سول، د دین د دفاع او د حق د کلمې د اعلا له پاره ئې زحمتونه پر ځانو واخیستل او خپلي وینې ئې تر جار او قربان او صدقه کړې، دغه دیني ورورګلوی داسي اثر وکی چې هغه عرب چې تر پرون ورځي ئې پر یوه اندک شي یو د بله وینې تویولې او چور و چپاو ئې کاوه نن ورځ ئې د خپل دیني ورور د منفعت په لاره کي پر هیڅ شي سرفه نه کول، تر دې اندازې چې انصارو د مهاجرینو څخه وغوښتل چې د دوی په مالو کي شرکت وکي، هغه مال چې تر ځان او اولاد وروسته و هر چا ته محبوب دئ.

عربي ملت چې د اسلام د مخه د دوی جهل د ګرد جهان پر ژبه جاري او ضرب المثل وو په داسي ډول مهذب سو چې جهان او نړۍ والو د دوی د علم او عرفان د رونا څخه استفاده کوله، کارلیل په دې باره کي ویلي دي:

"هغه د شپلو، دښتو او صحرایي قوم چې څو قرنه په هیڅ نه ارزېدل هر کله چې محمد عربي رسول الله ﷺ ورته راغی، دغه قوم په علومو او معارفو کي د خلکو د انظارو او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansala

Downloaded By: Afghan Salar Library

کتلو قبله او د امید کعبه وگرځېدل، دمخه چې لږ او خواره وه، اوس ډېر عزیز وگرځېدل، یو قرن تېر نه سو چې د مځکې د مخ ټوله وگړي له هري خوا د دوی د عقولو او علومو څخه مستفید او په پلوشو ئې روښانه سول".

هغه عرب چې تر اسلام دمخه ئې بنځې تر خپلې طبیعي مرتبې کښته کړې وې او د بنځو ټول حقوق ئې تر پښو لاندې کړي وه د اسلام تر قبلولو وروسته د بنځو د حقوقو په منلو کې دوی د ټولې نړۍ د ملتو او امتو لارښوونکي سول، دوی د استقامت او تقوی کامله نمونه وگرځېدل، دوی د الهي حدودو ساتونکي او د ديني احکامو پرځای کوونکي وگرځېدل، هغه ملت چې افراد ئې پست همت او کوتاه نظره وه او د دوی د حرکاتو او اعمالو هدف ناچیزه او رذیل شیان وه د اسلام د راتګ په اثر ئې همت لوړ او نظر ئې قیمتي او دوربینه سو او ښه شریف مقصدونه ئې خپل هدف وگرځول، ښه کار، یاري او عدل د دوی په ستر گو کې محبوب او د محبت بیرغ د دوی په لاس ودرول سو.

رشتیا همدا ده چې دغه بېساري تحول، په دغه لږه موده کې ډېر د تعجب وړ دئ، گواکې اسماني ملکي مځکې ته راکښته سوې د عربو په نفوسو کې ئې د وحدت او اتحاد روح پو کړ، د انتقام حس، د بتانو عبادت، د خمار او جوارې مینتوب او نور قبائح، رذائل او منکرات ئې د دوی د زړو څخه شړلي او محوه کړل، د اسلام په اثر د ماندینو تعدد تر انتظام لاندې راغی، ربا ورو - ورو مخ پر نېستي ولاړه، د بېکارۍ او لتې پرځای د کار او کسب سره ئې مینه پیدا سوه، او هغه د عیسی علیه السلام خواهش چې د آسمان ملکو د مځکې پر مخ استقرار پیدا کې څرگند سو.

حضرت محمد ﷺ لکه تنا داسې هیبت ئې وو، چې د خپل هیبتي آواز په سبب ئې هغه ټوله شرارت او شرونه چې په پخوانیو دورو کې ئې په مځکه کې ځای نیولی وو ورک او محوه کړل، وگړي ئې د درانه خوبه ویښ او د تمدن او انسانیت د ترقۍ و منزل ته ئې رهي کړل، هغه ملت چې د کانو، بوټو او حیواناتو عبادت ئې کاوه د الله جل جلاله په عبادت بوخت سول، یقین ئې ثابت، عقل ئې درست سو تر دې حده چې حضرت عمر رضي الله عنه چې د جاهلیت په زمانه کې ئې بت پرستي کوله د اسلام په زمانه کې ئې د حجر اسود د مچولو په وخت کې وویل: "ته ډبره ئې، که حضرت رسول الله ﷺ مې نه وای لیدلی چې ته ئې مچ کړې، نو ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مي نه مچولي".

په حقيقت کي امتونه او ملتونه لکه کوچنيان داسي دي، د همدې جهته انبياء عليهم السلام د دوی سره د کوچنيوالي په ژبه ږغيدلي او هغه چي راوړي ئې د دوی د ساده عقلو سره وه، ليکن هر کله چي د پشر افراد د حضرت رسول اکرم ﷺ د بعثت په وخت کي د وړوکوالي دوره تېره کړې د رشد حد ته رسيدلي وه هغه ډول دلائل چي په لومړيو قرنو کي د بشر له پاره ويل سوي دي د دوی سره مناسب نه وه او دوی هيله درلوده، چي هدايت د خپلي حقيقي لاري څخه و لاس ته راولي، اسلام داسي لار پسي واخيستله چي دمخه تر هغه هيڅ يو دين پر دغه لار نه وو تللی، او خلکو د هغه سره چي د دوی وړ وه ملګري ئې وکړه له همدې جهته په حسي معجزو سره (ممکن د انسان د عقل د ترقي په لاره کي سد ولوېږي) لږ بوخت سو، او ډېر ئې د عقلي دلايلو او علمي برهانو ته چي د بشر د عقل د کمال اساس ګڼل کېږي توجه وکړه:

وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ﴿٣٨﴾ يَمْحُوا۟ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ وَيُثْبِتُ ۖ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴿٣٩﴾ (سورة رعد: ۳۸ - ۳۹ آيتونه)

هيڅ رسول نه سواى کولاى چي معجزه راوړي مګر د الله په امر، د هري زمانې له پاره حکم نوشته سوى دئ، الله هغه چي وغواړي محوه کوي ئې او هغه چي وئې غواړي پرځاى ئې پرېږدي، اصل کتاب (لوح محفوظ) د ده په نزد دئ.

د حضرت محمد رسول الله ﷺ د رسالت په دوره کي بشري افراد وپوهېدل، چي د حسي معجزو حق توب په آسانۍ سره نه پېژندل کېږي، او د دغو معجزو امتياز، د سحر او شعبده بازيو څخه ډېر مشکل دئ، بلکي د ځينو په ګومان د د رسالت د ادعا او د حسي معجزې په منځ کي علاقه او کومه رابطه نه وي[1].

او بالفرض که دغه ډول معجزې قديمه عقول قانع کي، د هغو عقولو له پاره چي مخ پر رشد ځي فايده نه لري، لنډه دا چي هر يو دليل چي تر عقل هغه بالاترين نصيب ونه لري هغه

[1] دغه ګومان او نظريه د محققانو او پوهانو په نظر کي فاسده ده، ځکه چي انبياء عليهم السلام د حق د قدرت او علم مظاهر دي، او يو له دې ګڼو خواصو څخه چي فلاسفه د نبي لپاره قايل دي همدغه د ده اقتدار دئ پر ايجاد د خوارقو عاداتو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansal

Downloaded By: Afghan Salar Library

ډېر ضعيف دئ اما هغه کسانو چې د حضرت رسول اکرم ﷺ څخه حسي معجزه غوښته (العیاذبالله) پرته له ریشخند استهزا او عناد څخه بل څه ئې نه وه مراد او دوی په خپله ګومان سره غوښته چې دغه مبارک ﷺ عاجز کي، او بیا ئې (العیاذبالله) مسخره کي او که نه خو دلایل او آیات او برهانونه موجود وه، دوی و حسي معجزې ته هیڅ احتیاج نه درلود، لکه چې په قرآنکریم کي فرمایل سوي دي:

أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ (سورة عنکبوت: ۵۱ آیت)

آیا دوی لره بس نه دي (بنکاره حجت او بنکاره او واضحه معجزه) چې ما قرآن پر تا نازل کړی دئ، چې پر دوی (چې د بلاغت او فصاحت اهل دي او تا هم راوغوښتل او معاوضه دي د یو کوچني سورة ځني وغوښتله) ویل کیږي بېشکه په دې قرآن کي رحمت او پند دئ، د هغو کسانو له پاره چې ایمان ئې راوړی.

د حضرت رسول اکرم ﷺ د خپلي ادعا پر اثبات ټوله اعتماد پر قرآنکریم وو او حسي معجزې چې الله تعالی ﷻ د ده مبارک پر لاس جاري کړي فقط د معاندانو او ریشخندانو د غوږ تاوولو او د ضعیفو مؤمنانو د بصیرت د زیاتوب له پاره وې، قرآنکریم یوه معجزه ده، چې د حضرت محمد ﷺ د ادعا سره پوره متناسب او وړ ده، او د انسان عقل ته ترقي ورکوي او هم د هغو خلکو سره چې په وروسته کي دنیا ته راځي مناسبت لري او د دوی د فکر، نظر، معلوماتو او اختراعاتو په لار کي سد نه ګرځي، او هم د حیله بازانو او اشتباه کارانو د نیرنګ، سحر او د قصه جوړوونکو، نکلچیانو د درواغو سره نه مشتبه کیږي، د انسانانو عقلونه و پوهي، فکر او استدلال ته کشوي نو په حقیقت کي د حضرت محمد رسول الله ﷺ د بعثت د ورځي څخه هغه عجیب او غریب عصر تېر او د پوهي او عقل ځلانده دوره شروع سوه، دی مبارک د پخواني عجایب عصر او د نوي زماني تر منځ یو فاصل حد دئ، له همدې جهته ئې دواړه ډوله معجزې د انسانانو له پاره بنکاره او راوړې لو او بهتره معجزه ئې قرآنکریم دئ، چې هم په خپله د ده مبارک د عصر سره وړ وه او هم په راتلونکو ټولو دورو کي د انسانانو له پاره کافي او بس ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د حضرت رسول الامين محمد مصطفى ﷺ د عصر شروع نه يوازي د نبوت ختم وسو، بلكي د هغه سره د كهانت ختم وسو، تر ده وروسته نور كاهنان، اپلتي ويونكي، بې آبه او رسوا سول، د كاره ولوېدل، په پخوانيو لومړيو عصرو كي چې انسانانو د وړوكوالي دوره طى كوله الله تعالى ﷻ دغه بشر د حواسو د لاري مخاطب كاوه، ليكن په وروسته دورو كي چې د انسانانو د رشد او مېړاني دوره سوله د عقل او بصيرت له لاري مخاطب سوله، ځكه چې په ابتدايي عصر كي د انسانانو د زړه سترگي تړلي وې، د دوى د عقل قوت كم وو، الله تعالى اعظم برهانه پرله پسې انبياء عليهم السلام او رسولان عليهم السلام ورته راولېږل او دوى ته ئې آيات او معجزې چې د وگړو د استعداد سره وړ وې ورعنايت كړې، او لكه (له المثل الاعلى) يو پلار د دوى سره رفتار وكى چې د خپلو كوچنيانو سره په مدارا كار كوي د دوى سره نرمي كوي او د دوى د حال سره سم خبري ورسره كوي، د دوى په تاديب او تهذيب كي په نرمي سره رائي، او د دوى په زړو كي ببره او اميد ډېر اچوي، د دوى د ښو او بدو كارو په مكافات كي مادياتو لكه: شېرېني، پيسې او د بازيو شيان يا كوتك او سوټي او چپلاخه ورته ايږدي، وختي چې لوى سي نو د دوى سره خپل وضعيت بدلوي، په پند او نصيحت سره اكتفا كوي او خپلي تجربې و دوى ته بيانوي څو دوى په خپله په هغو كي فكر وكي، او هغه چې خپل خير پكښې گڼي غوره ئې كړي.

هر كله چې انسانان د رشد و حد ته ورسېدل الله جل و علی شانه د دوى عامه شريعت او كلي قواعد ور عنايت كړل، دوى ته په كارو كي دونه تصرف مباح كى چې دين اجازه وركړې وي او عقل ئې ومني په پخوانيو امتو كي لكه بني اسرائيل په هر جزئي امر كي مخصوص وحي او حكم راتلى، ليكن په اسلامي دوره كي چې د انسانانو عقل د رشد، بلوغ او مال حد ته رسېدلى دئ په قرآنكريم چې پر كلي اصولو او ثابتو قواعدو شامل دئ د عقل د استنباط او مساعدت سره اكتفا سوې ده[1].

له همدې جهته الله تعالى ﷻ د وحي او معجزو دروازه (لكه چې په قرآن عظيم كي تصريح سوې ده) وتړله چې د چمگرانو، حيله چيانو، ساحرانو او مكرچيانو او مداري گرو

---

[1] احاديث او روايت چې په حقيقت كي د قرآنكريم د روح مفسر او د هغه د حقيقت بنكاره كوونكى دئ ورسره ضميمه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او غولوونکو لاس د وګړو د غولولو او بازۍ ورکولو او خطا کولو څخه لنډ سي او د دوی عقلونه د اوهامو او خرافاتو څخه خلاص سي او د عقل او پوهي د لارې څخه ولاړ سي، د دې له پاره چې سړي ته لږ شک او شبه ورونه لوړې او شیطان الرجیم ملعون هغه خپل سند او دستاویز ونه ګرځوي، په قرآن مجید کې ئې په کامل صراحت چې هیڅ دول تاویل نه قبلوي ویلي دي، "غیب بې له الله ﷻ هیڅا ته نه دي معلوم او هیڅوک نه دي په خبر او ټوله کارونه د الله جل و علی شانه په اراده، امر، قدرت او حکم سره اجرا کیږي، د چا سره مجامله[1] نه کوي او د هیڅا څخه کومه ملاحظه نه لري".

قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ ١٨٨

(سورة اعراف: ۱۸۸ آیت)

ووایه زه خپل سود او زیان نه سم کولای (نه ئې پېژنم) مګر په هغه اندازه چې الله ﷻ ئې غواړي (او زه ئې خبر کړی یم) که زه په غیبو خبر وای نو ډېر خبرونه به می لاس ته راوستلي وای او د بدیو څخه به ساتلی پاته وای، زه نه یم مګر ببره ورکوونکی او زېری ورکوونکی د هغو کسانو له پاره چې تصدیق کوي، هغه څوک چې د قرآن مجید په تلاوت مشغول وي هغه پوهېږي او ورته معلوم دي چې په قرآنکریم کې دغسي ډېر آیاتونه دي.

د مسیحي اولو قرنو و تاریخ ته کتل دا ښه څرګندوي چې حضرت محمد رسول الله ﷺ په اجتماعي امورو کې بېخي کامیاب سوی دئ، ځکه چې په قرنو کې د مسیحیانو عقاید او فکرونه د دین د اصولو په باره کې مخالف وه، او د عقل د کوتاهۍ په سبب د ډوی په نظر کې پرته د شرک او تجسم د بتانو او مجسمو عبادت څخه بل شی نه ایسېدی، هر چا چې په توحید یا اصلاح سره خوله ښورولې وه په دښمنۍ او نفاق بدل سو، په حقیقت کې د کار د لومړي سر څخه د مسیحیت په اساس کې نخره جوړه سوه.

اریوس د نورو اسقفانو او امپراتور قسطنطین په ملګرې سره د توحید د پېژندنې له پاره ولاړ سو، او د ژرمن ډېرو وګړو د ده پیروي وکړه لیکن څرنګه چې عموم وګړي د شرک

---

[1] د سړي سره ښه کول (منتخب).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او بت پرستي ته مايل وه په ۳۲۵ م کال د (نيفيه) د انجمن غړو د ده پر بې دينۍ او زنديقيت حکم وکړ او دغه کار د دې سبب سو، چې د هغې ورځې څخه د ده د پيروانو او د نورو مسيحيانو په منځ کې د دښمنۍ ريښې ټينګې سولې.

په اتم او نهم قرن چې د صورت او تماثيلو او بتانو عبادت د مسيحيانو او نصاراوو په منځ کې ډېر سخت رواج سو، دغه بت پرستي په دين کې داخله سوه ځيني وګړي د هغه د محوه کولو له پاره پورته سول او د (بت ماتوونکو) په نامه مشهوره سول، اول، دوهم ګريګوري او بيا دريم ګريګوري چې پاپان وه دغه ډول ئې د دين څخه وايستله او د ديني حقوقو څخه ئې محروم کړل.

د قسطنطنيې په مجمع کې چې په ۸۴۲ م کال کې ئې ټولنه وکړه بيا غلبه د بت پرستانو او د مجسمو د بنده ګانو سوله (سره له دې چې د دوی کتابو په صريح ډول او بې له تاويله د بتانو او مجسمو او صورتو (تمثال، تنديه) د عبادت څخه نهي او منع کړې وه او هغه ئې حرام ګرځولي وه) دغې قضيې بيا د نصاراوو په منځ کې نوی اختلاف پيدا کی.

په شپاړسم قرن کې هغه وخت چې (لوتر) د پروتستانيانو د اصلاح له پاره ولاړ سو د مسيحيانو په منځ کې د جنګ اور بل سو، او د مځکې مخ د زرو زرو اصلاح کوونکو او بېګناه وګړو په وينو رنګ سو، لکه چې په ۱۵۷۲ م کال په فرانسه کې د يهودو کشتار جوړ سو. د مسيحيانو يوې قديمې فرقې د حضرت بي بي مريمي رضی الله عنها عبادت کاوه.

د عربو ځينو نصرانيانو و الله جل جلاله ته سجده نه کوله او فقط بي بي مريمي رضی الله عنها ته ئې سجده کوله هر څه چې ئې غوښته د بي بي څخه ئې غوښته، نو ځکه قران مجيد و وګړو ته وويل: "مريمه د الله جل جلاله سره مه شريکوئ او د دې عبادت مه کوئ".

له دغه پورته بيان څخه څرګنديږي چې د اسلام شريعت ولې د تصويرو او مجسمو د نيولو څخه نهي کړيده او دا ځکه بنکاري چې په هغه وخت کې دنيا تر کمي اندازې و دغې لويې اصلاح ته چې پر هره علمي اصلاح مقدمه وه او اسلام د دغې اصلاح په راوړلو کامياب سو احتياج درلود.

آيا دغه کار پرته د وحي د لارې څخه و چا ته امکان لري؟ په داسې وخت کې چې ټوله خلک په بت پرستي کې ډوب وه، ولې بايد حضرت محمد ﷺ د دوی څخه جلا سې؟ او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

Downloaded By: Afghan Salar Library

ولي د حضرت رسول کریم ﷺ عقل د خپل قوم او د اهل کتابو د عاداتو تر تاثیر لاندي (په زیاته بیا د هغو کسانو چي اوسني مسیحي مبلغان ئې د حضرت ﷺ د معلمې ګومان کوي (العیاذ بالله) سره له دې چي په حقیقت کي حضرت محمد ﷺ دمخه تر هغه چي مسیحي کشیشان دي وپېژني خلک د بت پرستۍ څخه نهي کړي وه او دغه اصلاح ئې پر ځای کړې وه) رانه غی؟ آیا څرنګه حضرت رسول مقبول ﷺ خپله عقیده د تنزیې او توحید په مسئله کي سره له دې چي د هغه عصر د وګړو د اعتقاد څخه (پرته له څو کسو) مخالفه وه کاملاً ئې درسته او رشتیا ګڼله او ولي د هغه د کوچنیوالي د دورې څخه چي ظاهراً ئې د بحث او فکر ځای نه دئ وپوهېدی چي د هغو وګړي او خپل خاندان ئې په ګمراهي کي دي او حق د څو کسو سره دئ؟ ولي حضرت رسول کریم ﷺ په ټولو اجتماعي، ديني او دنیوي ټولو فسادو په اصلاح کي پر ټولو خلکو پېښرفت وکی او په خپله علمي اصلاح کي کامیاب سو؟ دغه عملي لاري ئې چي د ده د پېښرفت او د خلکو په زړه او روح کي د ده د تاثیر موجب سولې تر دې چي ټوله د ده مبارک ﷺ مطیع او فرمان وړونکي سول او داسي په خپل مقصود کي کامیاب سو، چي هیڅ مصلح او پیغمبر نه دئ کامیاب سوی، دا ئې د چا څخه زده کړې؟ په دې صورت کي چي (لوتر) او د ده په څېر نن ورځ د لوېو مصلحانو څخه ګڼل کېږي، نو حضرت نبوي محمد ﷺ چي تر ده دمخه د بت پرستۍ په مغز کي ظهور وکړ او د ټولو خلکو کارونه او د ژوندون شئونات ئې اصلاح کړل او خالص پاک حق دین او د واحد احد توحید ئې میدان ته راوړ، په زرو - زرو او ملیونو - ملیونو ځله وړ، ښایسته او لایق دئ، چي کبیر او بزرګ او خورا لوی مصلح وبلل سي، هیڅ شک نسته بېخي رشتیا او حقه ده، مځکي چي یو بزرګ او لوی مصلح لیدلی هغه محمد رسول الله خاتم النبیین رحمة اللعالمین ﷺ دئ، ځکه له همدغه جهته الله تعالی ﷻ ویلی دی:

هُوَ ٱلَّذِى بَعَثَ فِى ٱلْأُمِّيِّـۧنَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا۟ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢﴾ وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا۟ بِهِمْ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٣﴾ (سورة جمعه: ۲ - ۳ آیت)

دی دئ هغه څوک چي د امیانو وګړو په منځ کي ئې په خپله له دوی څخه رسول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

مبعوث کړ، چې د ده آياتونه پر دوی ولولي، او پاک ئې کړي او په دوی کتاب او حکمت زده کي. سره له دې چې دوی دمخه په ښکاره ګمراهي او ضلالت کي وه او همدغه رنګه دغه خپل رسول مبعوث کړو نورو ته چې وروسته راځي او په مخنيو پوري نه دئ مربوط سوی، الله عزيز او حکيم دئ، همدغه رنګه الله ﷻ ويلي دي:

و ما ارسلناک الا رحمة للعالمين!

هيڅ حکومت او دولت نه دئ قادر سوی چې پر خپل ښار استيلاء او غلبه پيدا کي مګر د سپاه او لښکر په وسيله، پرته له محمد رسول الثقلين ﷺ څخه چې هر کله ئې و مديني منورې ته هجرت وکی او اسلامي حکومت ئې راويوست، بې له دې چې لښکري ولري يا دغي وسيلې ته لاس واچوي هر ځای په امن سو او وګړو هغه چې پای ته ئې ورسوي پر ځای کوله ئې، تر دې حده چې جرائم، خرابکاری او فساد ډېر کم سو او که بالفرض کله کله کوم يوه په پټه يا په لڅه کومه ګناه وکړله په خپله به ډېر ژر و حضرت مهربان ﷺ ته په ځغاسته ورتلی، پر خپله ګناه به ئې اقرار کاوه او د هغې ګناه و سزا ته به د زړه د ګومي تيار سو، دا ولي؟ په دې سبب چې د الله ﷻ بېرې د هر مسلمان په زړه کي ريښې نيولي وې، نو پټه او ښکاره پر دوی يو رنګه وه او هر سړی د خپل ځان نګهبان او ساتونکی وو، له همدې جهته د حاکم کار ډېر آسان وو. نه قاضي و تحقيقاتو ته اړ وو او نه ګناه کاره او متهم و وکيل نيولو ته احتياج درلود، ناچاره يو چې هغه څوک چې داسي ملت ميدان او داسي امت ځني جوړ کي چې ګردو فيلسوفانو، حکيمانو او پيغمبرانو عليهم السلام تر ده دمخه نه سوای کولای، بايد ووايو دغه مبارک لويه کاميابي چې ليدلي سوې او اروېدلي سوې ده لاس ته راوړې ده، شک نسته دغه امت چې ده جوړ کړی او پرې اېښی ئې دئ د سياسي او اجتماعي او ترقی له حيثه په تاريخ کي جوړه نه لري.

د علم اجتماع پوهانو دا ثابته کړې ده چې هيڅ يوه ملت او امت د اصلاح کار و کمال ته نه رسېږي مګر هغه وخت رسېږي، چې د هغه ملت او امت د افرادو زړونه د خپلو مصلحانو په مهر او محبت او دوستی سره ډک سي، او د ده د اطاعت حس ئې په زړه او روح کي ريښه تينګه کي، ډېره څرګنده خبره ده چې مال، قدرت او معجزه نه سوای کولای چې زړونه داسي مين او شيفته کي چې مصلح سړی دوست ولري، او دی محترم و ګڼي او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

Downloaded By: Afghan Salar Library

ده د زړه د صدقې اطاعت وکړي دغه درې کارونه د ملتو د روحي او خلقي پېشرفت او ترقي تابع دي.

حضرت رسول اکبر ﷺ نه په مال، نه په قوت او نه په بل امر چې د پارولو او غولولو او میل کولو مایه ګڼل کېږي متمسک نه سو، بلکي د دغو کارو څخه ګوښه ګرځېدی او صریح به ئې د قرآنکریم په ژبه ویل:

قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمْ عِندِى خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمْ إِنِّى مَلَكٌ

(سورة انعام: ۵۰ آیت)

تاسي ته نه وایم چې دالله ﷻ خزاني زما سره دي او نه په غیبو خبر یم او نه وایم چې زه ملکه یم، سره له دغه پر تولو ئې فرمان چلېدی. او یارانو ئې د زړه له کومي دوست درلود ځان، مال، اولاد ئې تر قربان کول.

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾ (سورة توبه: ۲۴ ایت)

ووایه که پلرونه، زامن، وروڼه، ماندیني او خپل خپلوان او هغه مالونه چې لاس ته مو راوړي دي او هغه تجارت چې پر کوتې کېدو ئې ببرېږئ او هغه کورونه چې خوښ مو دي و تاسي ته تر الله ﷻ او رسول ﷺ او د دوی په لار کې تر جهاد محبوب دي، نو ودرېږئ او اوسئ چې الله ﷻ خپل کار وکي او الله ﷻ فاسقانو ته لار نښوونه نه کوي.

اوس چې څرګنده سوه چې د محمد ﷺ یارانو دی مبارک دوست درلود او ځان او هر پر ګران شی چې ئې درلود د ده مبارک د مرستې په لاره کې ئې نه سپماوه، بې له دې چې مبارک ﷺ ئې په مال وغولوي، نو باید تولو ته تصدیق وکړي چې حضرت رسول اکرم ﷺ تر تولو رسولانو علیهم السلام او تولو مصلحانو کامیاب دئ، لکه چې ځینې غربیانو ګڼلی دی. باید یقین وسي چې دغه کامیابي چې مثال نه لري پرته له [illegible]

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

چې د روحي و هغه بېخي لوړو ترقياتو ته رسېدلی وي، بل چا ته امکان نه لري، د حضرت رحمة اللعالمين ﷺ خوی دغه وو، چې ويل به ئې:

فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾ (سورة مائده: ۲۴ آيت)

ته او ستا رب ولاړ سئ او جنګ وکئ، موږ به دلته ناست يو.

دغه د مبارک د يارانو ويل د ځان ښکاره کولو له پاره نه وه، بلکې د محمد ﷺ يارانو هغه څه چې ويل ئې هغه ئې کول، د دې مطلب د تصديق له پاره هغه واقعه چې په اُحد کې پېښه سوې ده بايد وکتل سي. هغه وخت د حضرت پيغمبر برحق ﷺ لاندې د رباعيه غاښو څخه د ښي لاس و خوا ته غاښ مات سو او لاندې مبارکه شونډه ئې زخمي سوله، تندی او بارخو ته ئې صدمه ور روسېده، او خول مبارک ئې پر سر کوچنی سو، او د زغرې دوې الغې ئې په مبارک بارخو کې داسې ښخې سوې چې حضرت ابوعبيده جراح رضي الله عنه نه سوای کولای چې هغه راوکاږي، مګر د دوو غاښو د کښلو سره دونه ډبرې ئې پر واورولې چې په يوه کنده کې ولوېدی، دښمنانو پرور الاکړل د مبارک يارانو ور وځغستل او خپل ځانونه ئې د ده د دښمن و مخته سپر کړل، او د کندې په شاوخوا کې ئې په ډېره بې پروايي خپلې سينې د دښمن و غشو ته ونيولې او يو په بل پسې په شهادت رسېدل، هر يو چې به شهيد سو بل به ئې پر ځای ودرېدی دمخه د شهادت او قربانۍ روح نه يوازې د نارينه وو څخه ښکاره سوه بلکې ښځو هم په دغه واقعه کې په خپله قربانۍ او فداکارۍ کې کوښښ وکړ. حضرت بي بي عائشې رضي الله عنها او ام سلمة رضي الله عنها او نورو زړه ورو ښځو توري وکښلې او پر دښمن ئې حمله وکړه، د اصحابو د دغه فداکارۍ په اثر حضرت رسول مقبول ﷺ د دغه زحمت او ضرر څخه وساتل سو، د حضرت ﷺ مبارک يارانو تل فخر کاوه په دې سره چې يو د بله ئې عهد او ترون کړی دئ، چې د اسلام د دين په لار کې خپل سرونه جار کې او روح پر بايلي، له همدې سببه دوی په خپل مقصود کې کامياب سول، او غټ بری ئې په نصيب سو.

هغه روح چې حضرت محمد ﷺ په خپل قوم کې پو کی نه يوازې د دښمن د جنګ په وخت کې څرګندېدی بلکې دوی ئې د سختريښه او سرکښو دښمنانو د جنګ له پاره چې د دوی پست عادات، خراب طبايع او باطل عقايد وه تيار کړل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

د حضرت محمد رسول الله ﷺ د کامیابۍ سر دا دئ چې ده علاوه پر دې چې ټوله وظایف ئې په کامل ډول پای ته ورسول، هیڅکله ئې د خپل پاک الله جل و علی شانه و اعظم برهانه د عبادت څخه غفلت ونه کی، د ورځې په کار بوخت وو او شپه ئې په عبادت رونړوله:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾ نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا ﴿٣﴾ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ هِىَ أَشَدُّ وَطْـًٔا وَأَقْوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِى ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾ (سورة مزمل: ۱ - ۷ آیتونه)

اې په جامه کي نغښتې! د شپې پاڅه (د لمانځه له پاره) مګر لږ د هغې نیمي پوره یا کم که لږ له هغې، یا څه پر هغه زیات که، او قرآن په ترتیل (ټکي په ټکي شمېرلی) وایه، زړ پر تا اچوم درنه خبره (چې پر تکالیفو شامله وي) رښتیا چې د شپې عبادت پایدار او ویل په دې کي باقوامه دي.

په هغه ټوله موده کي چې حضرت رسول مقبول ﷺ په مدینه منوره کي وو سره له دې چې هلته ئې ډول ډول کارونه درلودل د رحلت تر وخته پورې تل په عبادت مشغول وو.

د هجرت لسم کال لا نه وو پوره سوی چې له هرې خوا اعراب ډلي ډلي و حضرت محمد ﷺ ته راتلل چې د ده مبارک په دین کي داخل او د اسلام سره مرسته وکي، نو دغه آیت نازل سو:

إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ يَدْخُلُونَ فِى دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَٱسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾ (سورة نصر: ۱ - ۳ آیتونه[1])

دغه سورت د بیت الله شریف د زیارت په وخت په داسي موقع کي چې په زرو زرو یاران د حضرت محمد ﷺ سره وه پر ده نازل سو، او د دې آیت نزول پر دې دلالت کاوه، چې د وحي دوره و کمال ته رسېدلې ده.

[1] مؤلف لکه نور دا سورت مکي ګڼلی دئ، لیکن ځینې یې مدني ګڼي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

حضرت ابن عباس رضي الله عنه د دې سورت د نزول څخه داسي حدس وکی چې د پیغمبر ﷺ رحلت نژدی سوی دئ او د ده حدس درست وخوت، ولي چې د دغه سورت د نزول څخه حضرت محمد ﷺ تر ۸۰ ورځې زیات ونه اوسیدی او رحلت ئې وکی.

د هجرت په لسم کال د ذوالحجې په نهم برابر له ۹ د مارچ د ۶۲۲ م حضرت نبوي ﷺ په منی کي وو، د ده سره نر او ښځي لوی او کوچني تر یو لک او څلیرویشت زره نه کم وه، په همدغه ورځ دغه آیت نازل سو[1]:

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾

(سورة مائده: ۳ ایت)

نن ورځ ستا دین کامل او نعمت مو پر تا تمام کی او د اسلام دین ستا له پاره خوشحاله او راضي یم.

حضرت رحمة اللعالمین محمد رسول الله ﷺ دا فرصت غنیمت وګانه، او په دغه موقع کي چې د ټولو قبایلو نماینده ګان د ده په حضور کي وه خپله مشهوره خطبه ئې انشاء کړه:

ان الحمدلله نحمده و نستغفره و نتوب اليه و نعوذبالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا من يهدالله فلا مضل له و من يضلل فلاٰ هادى له و اشهد ان لااله الا الله وحده لاشريلک له و ان محمداً عبده ورسوله، اوصيكم عبادالله بتقوالله و احكم على طاعته و استفتح بالذى هو خير امابعد! ايهاالناس، اسمعوا منى ابين لكم فانى لا ادرى لعلى لا القاكم بعد عامى هذا فى موقفى هذا: ايهاالناس ان دئكم و اموالكم حرام عليكم الى ان تلقوا ربكم كحرمة يومكم هذا فى شهركم هذا فى بلدكم هذا، الاهل بلغت؟ اللهم اشهد فمن كانه عنده امانة فليؤدها الى الذى ائتمنه عليها و ان رباالجاهلية موضوع و ان اول رباً ابدء به رباعمى العباس ابن عبدالمطلب و ان دماء الجاهلية موضوعة و ان اول دم ابدء به دم عامر بن ربيعة بن الحارث بن عبدالمطلب و ان ماثر الجاهلية موضوعة غير السدانة والسقابة والعمدقود وشبه العمدما قتل بالعصا و الحجر ففيه مائة بعير فمن زاد فهو الجاهلية.

---

[1] په دې کتاب کي چې دا آیت په کومه ورځ نازل سو اختلاف دئ، یو قول دغه دئ چې مؤلف هغه غوره کړی دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansal

Downloaded By: Afghan Salar Library

ایهاالناس الشیطان قدیئس ان یعبد فی ارضکم هذه و لکنه رضی ان یطاع فی ماسوی ذلک مما تحقرون من ایهاالناس (انما النسی زیادة فی الکفر یضل به الذین کفروا یحلونه عاماً و یحرمونه عاماً لیواطئو اعدة ماحرم الله) و ان الزمان قد استدار کهیئة یوم خلق الله السموات والارض منها اربعة حرم ثلاثة متواليات، و واحد فرد: ذی القعدة و ذی الحجة و المحرم و رجب الذی بین جمادی و شعبان الاهل بلغت؟ الهم اشهد.

ایهاالناس ان لنسائکم علیکم حقاً و لکم علیهن حقاً الایوطئن فرشکم غیرکم و لایدخلن احداً تکرهونه بیوتکم الا باذنکم و لایاتین بفاحشة فان فعلن فان الله قد اذن لکم ان تعضلوهن و تهجروهن فی المضاجع و تضربوهن ضرباً غیر مبرح فان انتهین و اطعنکم فعلیکم رزقهن و کسوتهن بالمعروف و انما النساء عندکم عوان لایملکن لانفسهن شیئاً اخذتمون بامانة الله واستحللتم فروجهن بکمة الله فاتقوالله فی النساء و استوصوابهن خیراً.

ایهاالناس انماالمؤمنون اخوة: فلایحل لامری مال اخیه الا من طیب نفسه الاهل بلغت؟ اللهم اشهد فلا ترجعوا بعدی کفاراً یضرب بعضکم اعناق بعض: فانی قد ترکت فیکم ما ان اخذتم به لن تضلوا: کتاب الله و اهل بیتی. الاهل بلغت؟ اللهم اشهد ایهاالناس ان ربکم واحد و ان اباکم واحد، کلکم لادم و آدم من تراب اکرمکم عندالله اتقاکم لیس لعربی علی عجمی فضل الا بالتقوی: الا قد بلغت؟ قالوا: نعم قال: فلیبلغ الشاهد منکم الغائب.

ایهاالناس ان الله قسم لکل وارث نصیبه من المیراثو ولا یجوز الوارث وصیة فی اکثر من الثلث و الولد للفراش و للعاهر الجر: من ادعی غیرابیه، او تولی غیر والیه، فعلیه لعنة الله والملائکة والناس اجمعین، لا یقبل الله منه صرفا و لا عدلا و السلام علیکم و رحمة الله و برکاته.

حمد الله لره دئ، الله ته حمد وایو، او د ده څخه بخښنه غواړو او ده ته بیرته ورګرځو، د انفسو د شرو او د خپلو بدیو څخه و ده ته پناه ور وړو، هغه چا ته چې لارښوونکی وي هیڅوک ئې نه سي ګمراه کولای او هغه څوک چې الله ﷻ ئې ګمراه کي لارښوونکی نه لري او شاهدي ادا کوم چې حضرت محمد ﷺ بنده او د ده رسول دئ.

اې د الله بندګانو! تاسي ته په تقوی (پرهېزګاري) سره توصیه کوم، او د الله ﷻ په اطاعت مو ګومارم، او ښه کشایش غواړم (یا په هغه چې خیر دئ د [illegible]

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

کوم).

اې خلکو! هغه چې ستاسي له پاره ئې بيانوم له ما څخه واورئ، ځکه ښايي تر دې کال وروسته تاسي ونه وينم، خلکو ستاسي وينې او مالونه محترم (نورو ته حرام) دي. لکه نن ورځ د دې مياشتې په دغه ښار کې محترم دي، آيا ابلاغ مي وکی؟ اې الله شاهد اوسه.

که د چا امانت ستاسي څخه وي بايد خپل خاوند ته ئې وسپارئ، د جاهليت د زمانې ربا له تاسي څخه واخيستل سوه، هغه لومړۍ ربا چې زه ئې ستاسي څخه ايسته کوم زما د اکا (عباس) ربا ده. د جاهليت د زمانې خويونه پورته سول، هغه لومړی خوی چې زه هغه پورته کوم د عامر خون چې د ربيعه زوی ربيعه زما د کاکا حارث زوی دئ، حارث د عبدالمطلب زوی د جاهليت د زمانې ماثر او نخښې ايسته سولې، پرته د کعبې د خدمت او د وګړو د ستاينې څخه په قصد وژل قصاص لري او د (شبه عمد) وژل دا دي چې په لګړه يا په ډبره وي، د دې ديت سل اوښان هر څوک چې تر دغه زيات غواړي د جاهليت د خلکو څخه دئ.

اې خلکو! شيطان ناامېده سوی د دې څخه چې ستاسي په مځکه کې عبادت وسي ليکن په دې خوشحاله دئ چې تاسي په يوه لږ کار کې د ده په فرمان کې واوسئ، اې خلکو نسيئې[1] په کفر کې زيادت دئ کافران د هغه په سبب ګمراه ګرځي، يو کال هغه حلال جوړوي، بل کال ئې حراموي چې د هغه شمېر چې الله ﷻ حرام کړی دئ له منځه څخه يوسئ د نن زمانې ورځ لکه هغه ورځ داسي ده چې الله ﷻ آسمان او مځکه پيدا کړې ده، په زمانه کې څلور مياشتې حرامې دي، درې پرله پسې ذي القعده، ذی الحجه، محرمه او بله جلا ده هغه د رجب مياشت ده چې د جمادي او شعبان په منځ کې ده.

ايا ابلاغ مي وکی، اې الله جل شانه شاهد اوسه!

اې خلکو د ښځو حق پر تاسي دئ او ستاسي حق پر ښځو سته، ستاسي حق پر ښځو دغه دئ، چې خيانت او بې عفتي نه کوي او هغه څوک چې ستاسي نه وي خوښ ستاسي بې اجازې ئې کور ته پرې نه ږدي او فحشا ته نه ورنژدې کېږي، که دغه کارونه دوی وکي الله

---

[1] د نسيئې په تفسير څو دوله قولونه دي. نهم سورة ۳٦ آيت دي وکتل سي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ﷻ امر او اذن درکړی دئ چي سختي پر ونيسئ او ليري ځني وګرځئ او هغه وډبوئ، ليکن نه داسي سخت وهل (چي ځای ئې مات سي) نو که ئې د خپل بد عمل څخه لاس واخيست او ستاسي امر ئې ومانه، لکه چي بنايي خوراک او جامې و دوی ته ورکوئ بنځي ستاسي په لاسو کي بنديانې دي د ځانه د ځان په باره کي اختيار نه لري تاسي دوی د الله ﷻ په امانت سره اخيستي دي، د الله ﷻ په کلمه او حکم تاسي دوی ځان ته حلالي ګرځولي دي، نو د بنځو په باره کي د الله ﷻ څخه وبېرېږئ او د دوی په حق کي د خير سفارش کوئ.

اې خلکو!

مؤمنان يو د بله سره وروڼه دي نو د چا مال پر ورور ئې حلال نه دئ، مګر د هغه په رضا او طيب زړه، آيا ابلاغ مي وکی؟ اې الله ﷻ شاهد اوسه.

خلکو! تر ما وروسته و کفر ته مه ګرځئ چي يو د بله غاړې او مغزي (سرونه) پرې کی، ځکه چي زه دوه شيان په تاسي کي پرېږدم چي هغه وساتئ هيڅ نه ګمراکېږئ، يو د الله ﷻ کتاب او بل زما اهل بيت، آيا ابلاغ مي وکی اې الله ﷻ شاهد اوسه.

اې خلکو! ستاسي الله ﷻ يو دئ او ستاسي پلار يو دئ ټوله د آدم عليه السلام څخه او آدم عليه السلام د خاورو څخه دئ، هغه څوک چي د الله ﷻ په نزد مکرم (ښه) دئ چي بنه ترا پرهېزګاره وي د عربي پر عجمي فضيلت نسته مګر په پرهېزګاري سره، آيا ابلاغ مي وکئ؟ ټولو وويل: هو! نو حضرت سيد المرسلين ﷺ وويل: حاضران دې و غائبانو ته ورسوي.

اې خلکو! الله ﷻ د هر وارث (دلته ميراث پرېښوونکی مراد دئ نه ميراث خوړونکی) له پاره د ده د ميراث څخه برخه قسمت کړې ده او هيڅ وارث (ميراث پرېښوونکی) تر ثلث زيات د وصيت حق نه لري، زوی د فراش د خاوند دئ او د زناکار له پاره ډبري دي (يعني ډبري پرې واوروئ) هغه څوک چي ځان بغير له پلاره وبولي او بل چا ته د ځان نسبت وکي، يا په يوه مولی غير له خپله مولی څخه تولی وکي د الله ﷻ او د ملائکو او د ټولو خلکو لعنت دي باندي وي، الله ﷻ د ده څخه نه قبلوي تېری او نه جزا او نه فدا اخيست (صرف وعدل) سلام دي وي پر تاسي رحمت او برکت د الله ﷻ دي وي پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

رشتیا همدا ده چې د نن ورځې د فرنګیانو په منځ کې ډېر اشخاص ستە چې د اسلام په حقیقت پوهېدلي دي او هغه چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د ځانه سره راوړي دي ورته ځیر سوي او بې پردې ئې د هغه د رشتیاتوب او درستی تصدیق کړی دی. حتی ځینې د دوی چې د مسیحي کشیشانو د افترا او تهمتو د اروپدلو په اثر (لکه چې دا وایي چې محمد ﷺ (العیاذبالله) روایت[1] دئ چې د هغه پیروان ئې پرستش کوي) محمد ﷺ ئې (نعوذبالله) لوی دروغجن باله اوس چې ئې د اسلام په حقیقت خبر سول او د اهل اسلام په عبادت چې الله ﷻ ته ئې کوي وپوهېدل چې دغه امت د روئې پنځه واره لمونځ کوي او په هره پلا پورته کښته کېدو کې د الله ﷻ نوم (الله اکبر) یادوي او په کال کې یوه میاشت د لذائذو څخه پرهېز کوي روژه نیسي، نو ئې ظاهراً او باطناً اسلام قبول کړ او د اسلام پر رسول حضرت محمد مصطفی ﷺ ئې ایمان راوړ.

شک نسته چې دروغجن پیغمبران لکه مسیح علیه السلام چې ویلي دي (انجیل متي ۷ - ۱۶ - ۲۰) د خپل عمل څخه پېژندل کېږي او هیڅکله ممکن نه ده چې بد ذات انسان داسې ښه شیان چې د ټولو وګړو حال اصلاح کې راوړي، هغه کسان چې دروغجن وي او وګړي ګمراه کوي الله ﷻ ئې هیڅ تائید نه کوي، د حضرت رسول مقبول ﷺ ئې داسې تائید وکی چې په خپل کار کې ئې په بېړه او لږ عمر کې ښه پېشرفت وکی او کامیاب سو چې تاریخ ئې جوړه نه ده لیدلې. یو سړی چې د الله ﷻ په نامه ولاړ سي او خلک د الله ﷻ په نامه دعوت کې او هر څه چې کوي د الله ﷻ په نامه ئې کوي او خپل ټول کارونه او الله ﷻ ئې تکذیب او رسوا نه کي لکه چې د (دروغجنو په باره کې ئې کړي دي) بلکې هغه تائید کړي او مرسته ئې وکي قوت ورکي، په ټولو کارو کې ئې کامیاب کي او قیمتي او ستایلی نوم ورکي تر دې حده چې د محکې پر مخ د ده نوم د خپل نامه سره جوړه مشهور کي، نو هیڅ معقوله خبره نه ده چې داسې سړی دي دروغجن وي.

هر کله که لوی پاچهان او سیاستمداران، باتجربه قایدان، شیوا سخنه خطیبان، کلک شاعران، زبردسته لیکونکي، پوه قانون جوړوونکي، باتاثیره واعظان، پیغمبران، مصلحان او د لویو دولتو مؤسسان تر نظر تېر کو وینو ئې چې حضرت محمد رسول الله ﷺ

---

[1] په منتخب کې روایت د دې شمېر روایت کوونکي ته وایي (نوري).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

تر ټولو شاهانو لوړ، تر ګردو سیاستمدارانو هوښیار، تر ټولو قایدینو پوه، تر ګردو واعظانو او ناصحانو مؤثر تر ټولو جنګي کسانو فاتح، ډېر متدین، لوی ناصح، غټ رهنما (د بشر په ديني او دنيوي امورو کي) د لوی وطن او بزرګ ملت مؤسس وو، سره له دغه ټولو د هیڅ یوه مخلوق څخه ئې داسي شی نه وو زده کړی چي وکولای سي چي د اوهامو او خرافاتو د زرو جزوو څخه یو جز برطرف کي او د خپل رسالت د مخه ئې هیڅ یو کار د کارو څخه نه وو ازمویلی چي تر پیغمبری وروسته ئې وکي، تمرین ئې نه وو ورو - ورو ئې دغه مزل نه وو طی کړی، بلکي په دغه ټولو کارو کي په یوه کرت او بې سابقې د رسالت په هغه لومړي سر کي نابغه سو، د هري پېښي په مقابل کي ئې چي د نبوت د لوازمو څخه وه په ډېر ښه ډول سره پېښرفت کاوه. آیا دغه پوهه د دغه امي سړي له پاره د کمي خوا وه؟ او دغه اصلاحات د هغه چا له پاره چي د بت پرستی او هوا پرستی او د (هر ډول تمدن څخه لیري) ښارو کي ئې پرورش کړی وي څنګه میسره سوه؟

کفاک بالعلم فی الامی معجزه
فی الجاهلیة والتادیب فی الیتیم

اې الله جل علی شانه ته ښه پوهېږې، ته ښه خبر ئې چي پرته له وحي او ستا له مرستي او یاری څخه بل شی په منځ کي نه وو، که ستا عنایت نه وای نه ئې سوای کولای چي یو ښار فتح کي او نه ئې یو تن مهذب کولای سو، ځکه چي موږ ئې وینو چي اروپایي دولتونه سره د ډېرو لښکرو، پوهي، علم، فن، طیارو، کښتیو، زره پوښو، مالو، مکتبو، شفاخانو، فریبو، او چمو سره چي لري ئې د دې څخه چي ستا د دین سره معاوضه وکي عاجزه پاته دي او نه سوای کولای چي خلک ستا د دین څخه وګرځوی.

بلکي تل د مځکي په هر ځای کي د ټولو ملتو او امتو څخه وګړي د اسلام و غېږې ته ځان اچوي، د نورو ادیانو مبلغان په ډېر دهشت سره په فریاد او کریږو دي او لېڅي ئې راغښتي ډېر کوښښ کوي چي په خپلو خولو سره دغه د الله ﷻ نور خاموش کي، لیکن الله تعالی ﷻ خپل نور لا روښانه کوي که څه هم د کافرانو خوښ نه وي:

هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾ (سورة صف: ۹ آیت)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هلاکت څخه تل په وهم کي وو.

هر کله چي ئې يقين سو، چي دښمنانو ئې و مرګ ته ملاوي ټينګي ترلي دي او څلوېښت تنه ئې چي هر يو د يوې قبيلې نماينده دئ، د ده د محوه او مرګ له پاره تاکلي دي، او تر دې زيات په مکه معظمه کي اوسېدل محال دي، نه يوازي دا چي د ده دعوت د دوی په زړو کي اثر نه دئ کړی بلکي د لجاجت او عناد له رويه ئې تر پخوا زيات و بدو کارو ته ملاوي ترلي دي، او خپله ګمراهي پر مخ بيايي، نو همدا سبب وو چي الله جل جلاله و عم نواله په لاربنوونه ئې هجرت غوره کی چي د الله ﷻ دين په هر ځای کي خپور سي او مؤمنان ګرده سره دوستان او سره وروڼه سي او د اسلام بری او فتح په نصيب سي.

(۲)

د رحمة اللعالمين محمد ﷺ ځيراکت، په پيمان کي وفد او جرګې ته د ده هرکلی او پاچهانو ته د ده ليکونه

د رحمة اللعالمين محمد رسول الله ﷺ په سياست کي لوړوالی او د اصلاح په کارو کي د ده ځيراکت او د بنو عواقبو ملاحظه ئې تر دې حده رسېدلې وه چي د نړۍ پر لاربنوونکو او سياستمدارانو په هر ځای او هره زمانه کي چي وي واجب ده، چي د ده مبارک پيروي وکي، او دی د خپل کار د سرمشق نمونه وټاکي، له دغه جملې څخه دلته څو شيان بيانېږي:

(۱) د حديبيې ټرون:

د هجرت په شپږم کال حضرت محمد رسول الله ﷺ د مکې معظمې د زيارت قصد وکی، مسلمانان ئې خبر کړل، چي زه د عمرې د ادا کولو اراده لرم، د دې له پاره چي نبايده چي قريش مو د عمرې څخه وګرځوي نو ئې د مدينې شاوخوا کوچيانو ته هم امر ورکئ چي تاسي هم زمونږ سره کوچ وکئ، ليکن اعراب له دې ګومانه چي دی مبارک او مؤمنان به بيا راونه ګرځي نو ئې ورته وويل، چي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

زموږ مالونه او عیالونه په غاړه کي لوپدلي دي نه سو تلای، زموږ له پاره ته د الله ﷻ څخه بخښنه هلته وغواړه. حضرت محمد ﷺ د انصارو او مهاجرینو سره چې تهوله ۱۵۰۰ کسه وه د مدیني منورې څخه راووتل د دې له پاره چې قریش وپوهیږي چې دوی د جنګ قصد نه لري حضرت محمد ﷺ حکم وکی چې هدیې واستوئ، د رسول الله ﷺ یارانو پرته له توري څخه چې هغه په تېرکي کي وې بله درسته او وسله د ځان سره نه درلوده، د جنګ او شر یا غدر نیت ئې بالکل نه وو، څرنګه چې دوی و عفان ته (چې د مکې معظمې په دوهم منزل کي یو ځای دئ) ورسېدل، خبر ورته راورسېدی چې قریش ستاسي د راتګ څخه پر بنور راغلي دي او دا ئې سنجولې ده چې تاسي و مکې معظمې ته نه پرېږدي او قریش و جنګ ته تیار سوي دي، خالد بن ولید ئې د ۲۰۰ کسو سپرو لښکرو سره تیار کړل چې رسول الله ﷺ او ورسره کسان پرې نه ږدي چې مکې معظمې ته ورسي او د دوی جلوګیري وکي.

حضرت محمد ﷺ سره له دغه مقاومته چې د قریشو له خوا کېدی لاس ئې د خپل مقصده وانه خیست اصحابو ته ئې وویل، چې: د حدیبیې (حدیبیه د یوه څاه نوم دئ، چې دغه مځکه او ځای د هغه څاه په نامه یادېږي) په آخره مځکه کي کښته سي اتراغ سي.

دلته د وقاء زوی بدیل چې د خزاعه د قبیلې مشر وو، د قریشو له خوا و حضرت محمد ﷺ ته راغی او د ده مبارک څخه ئې د مکې معظمې د راتګ د سبب پوښتنه وکړه. حضرت ﷺ ورته وویل، چې: موږ د عمرې د ادا له پاره راغلي یو، د چا سره د جنګ خیال نه لرو، علاوه پر دې څرنګه چې قریش جنګ ستړي کړي دي که د دوی خوښه وي زه حاضریم چې د متارکې عهد وکړو چې څو ورځې جنګ پاته وي، په دې شرط چې موږ عمرې ته پرېږدي.

بدیل قریشو ته ورغی دغه نکل ئې ورته وکی (په دې واسطه چې د خزاعه قبیله د جاهلیت په زمانه کي د قریشو حلیف وه[1]) نو قریشو د ده په خبرو باور ونه کی او ده ته ئې

---

[1] د دغه قوسي تقریر څخه څرګنديږي. چې د خزاعه قبیله مسلمانه وه. لیکن د شبلي نعماني په سیرة النبي کي صریح لیکلي دي چې د بني خزاعه قبیله تر دغه وخته پورې لا په اسلام سره نه وه مشرف سوې. لیکنږه اخلاص حلیف او دوست وه. نو ځکه تل به ئې د قریشو د وضعیت حال و حضرت محمد ﷺ ته رسا وه. دلته هم بدیل چې د خزاعي مشر وو په خپله بې له دې چې قریشو ورته رالېږلی دئ. په خپله د څو تنو سره و حضرت محمد ﷺ ته راغی او د قریشو حال

Facebook Link: https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128 Telegram:https://t.me/afghans

Downloaded By: Afghan Salar Library

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ ٱللَّهَ يَدُ ٱللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ۚ فَمَن نَّكَثَ فَإِنَّمَا يَنكُثُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِمَا عَٰهَدَ عَلَيْهُ ٱللَّهَ فَسَيُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ۝ (سورة فتح: ۱۰ آیت)

هر کله چې قریشو د بیعت قصه واروپده، او وپوهیدل چې حضرت نبوي ﷺ د خپل عزم څخه لاس نه اخلي، نو د خپلې سرکښۍ څخه راکښته سول. حضرت عثمان ﷺ او ملګري ئې ایله کړل او د خپلې خوا څخه ئې د عمرو عامر زوی سهیل او د عبدالعزیز زوی حویطب چې د قریشو د غټانو څخه وه و حضرت نبوي ﷺ ته ور واستول چې دوی پیمان او ترون ورسره وکي، حضرت رسول الله ﷺ په دې سره خوشحاله سو او و سهیل ته ئې وویل: ولې موږ نه پریږدئ چې پر کعبه شریفه طواف وکو؟

سهیل په جواب کې وویل: قسم په خدای ﷻ دئ چې نباید عرب به یو د بله سره ووایي چې قریش مجبور سول. لیکن تاسي عمره او زیارت په راتلونکي کال کې وکړئ، نو ترون وسو چې لس کاله دې جنګ نه کیږي، او یو د بله دې سره په امان کې وي او حضرت نبوي ﷺ او یاران دې بیرته مدینې منورې ته ولاړ سي او په راتلونکي کال کې دې راسي او درې ورځې دې په مکه مکرمه کې تېرې کې او د حضرت نبوي ﷺ یاران دې د ځانو سره پرته له توري چې هغه هم په تبکي کې وي بله اسلحه نه را اخلي، که د قریشو څخه کوم سړی که څه هم مسلمان وي و مدینې منورې او حضرت نبوي ﷺ ته راسي نو باید بیرته د قریشو په لاس ورکړه سي او که د مدینې منورې او د حضرت نبوي ﷺ کوم یو پیرو و قریشو ته راسي نو قریش به ئې بیرته په لاس نه ورکوي او پرته له قریشو څخه بل هر څوک چې وغواړي د قریشو یا د محمد ﷺ په ترون او پیمان کې داخل سي آزاد دي.

هر کله چې د ترون خبرې تمامې سولې اوس نو باید ولیکل سي، امضا سي حضرت عمر ﷺ ولاړ سو، و حضرت ابوبکر ﷺ ته ورغې ورته وئې ویل: آیا حضرت محمد ﷺ د الله تعالی ﷻ رسول نه دئ؟ ده وویل: ولې؟

حضرت عمر ﷺ ورته وویل: آیا موږ مسلمانان نه یو؟

بیا حضرت صدیق اکبر ﷺ وویل: ولې؟

حضرت عمر ﷺ وویل: موږ ولې د پستې او بې همتې و بار ته تن ورکو؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

قسم په الله ﷻ دئ، چې موږ په تا کې د کوچنیوالي او په لوی والي کومه دروه او غدر نه دئ لیدلی، نو اوس څه وسوه، چې د جنګ د سامان سره په حرم کې پر خپل قوم حمله کوې؟

رحمة اللعالمین ﷺ ورته وویل: چې ستاسي له خوا بې وفایي ونه سي موږ بې وفایي نه کوو، موږ په هغه پیمان وفا کوو، هیڅکله د اسلحې سره و مکې مکرمې ته نه ننوزو، خپلې اسلحې دباندې ایږدو چې که ضرورت پیښ سو بې لاسه او بې پښو به نه کیږو، او د هغو څخه به استفاده کوو.

هر کله چې د پیمان او ترون په موجب د حضرت محمد ﷺ او اصحابو ئې په مکه معظمه کې درې ورځې تېرې سولې قریشو حال حال ورکی چې باید د مکې څخه ووزي، حضرت محمد ﷺ د دوی و حال راوړونکي ته وویل: څه تاوان به در ورسیږي که موږ څو ورځې په مکه کې پریږدئ؟

دوی وویل په الله ﷻ قسم درکوم چې د مکې څخه ووزئ، ځکه چې د پیمان درې ورځې پوره سوي دي، حضرت محمد ﷺ و خپلو اصحابو ته د کوچ بوغ وکی، د عربو قبایلو چې د ده مبارک وفا په پیمان او عهد سره ولیده ټوله و دې ته تیار سول چې د ده مبارک سره هم ترون وکې او هم ئې حلیف سي، نو وروسته د ده مبارک او د عربو د قبایلو ترمنځ دوستي او د مرستي د مساعدت مزی محکم سو.

اوس نو د فکر او توجه وړ دا ده چې په دغه وخت کې حضرت رحمة اللعالمین ﷺ د مضبوط اقتدار او زور څښتن وو، کولای ئې سوای چې په لوی بري او فتحه سره و مکې ته راسي، د جنګ څخه ئې ځان ګوښه کی هغه شرطونه ئې قبول کړل چې حضرت عمر رضی الله عنه نه خوښول. او هغه ئې د اسلام د شرافت سره وړ نه ګڼل، نو ولې حضرت محمد ﷺ دغسې وکړه؟

د دې له پاره چې د کار په سرینښته او دوربینې او و مقصود ته په رسېدلو کې په ښه فکر او ښې لارې څخه دی سرمشق او کامله نمونه وي، د نورو پیشوایانو له پاره. لیکن د وګړو فکر لنډ وو، دغه ته نه ځیر کیږي چې د حضرت محمد ﷺ او د الله تعالی ﷻ ترمنځ څه پټ اسرار دي. بندګان په هر کار کې تلوار کوي لیکن الله ﷻ د خپلو بندګانو د تلوار له امله تلوار نه کوي او هر کار پر خپله وعده کوي. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وایي:

Downloaded By: Afghan Salar Library

"په اسلام کي د حدیبیې تر فتح لویه فتحه نه ده سوې".

همدغه رنګه د حدیبیې په صلح او د حضرت محمد ﷺ په سیاسي علومو کي هم فکر وسي حضرت محمد ﷺ پوهېدی چي په دغه وخت کي مسلمانان د ډېر قوت، قدرت او طاقت خاوندان دي، د هر ډول کار تر عهدې وتلای سي، سره له دغه ځې صلح پر جنګ ښه وګڼله. ځکه چي پوهېدی چي دغه صلح د دې سبب او مایه ده چي مسلمانان او مشرکان سره ګډوډ سي او قرآنکریم واوري، او د اسلام د دین په حقیقت پوه سي. هغه کسان چي خپل اسلام ځې د کفارو د ډېرې پټ ساتی ښکاره ځې کړي، علاوه پر دې په دغه ترڅ کي حضرت محمد ﷺ د جزیرة العرب او مصر، شام او ایران و پاچهانو ته لیکونه او فرمانونه واستول، چي ایمان راوړي دوی ځې و اسلام ته دعوت کړل، د دې پیمان او ترون د شان و عظمت او اهمیت ته دغه بس دئ چي په دغه باره کي (سورة فتح) نازل کړ او په دغه سورة کي ځې د دغه پیمان او صلح حکمتونه او مصلحتونه څرګند کړل، او غیبي خبرونه ځې په دغه سورة کي راوړل او د مرستي او د غنیمتو وعده ځې و کړه، او د دغه ځې (فتح مبین) وبلله او بیا ځې (نصر عزیز) ورکی، ځکه چي دغه پیمان د مکې معظمې د فتحي مقدمه وه، چي د هغې د فتحي په اثر الله ﷻ د عربو پر ملت او پر ټوله جهان خپل نعمت کامل کی.

(۲) د جرګو (وفد) او راتلونکو هیئتو څخه د حضرت محمد ﷺ استقبال او هرکلی:

د حضرت محمد ﷺ پر ښه تدبیر او لوړ سیاست لوی دلیل د ده مبارک د واردینو او راتلونکو جرګو او وفدو څخه ښه استقبال او په خلاص تندي هرکلی او د دوی د زړه په مراد رسول دي، تر هغه حده چي په شریعت کي ځې ګنجایش درلود، دا دي څو نمونې د هغو څخه:

(۱) د نجران د ترسایانو جرګه (وفد):

د نجران د ترسایانو یوه ډله چي ۶۰ کسه او ټوله سپاره وه د حضرت محمد ﷺ تر هجرت وروسته و مدینې منورې ته راغلل چي د ده مبارک سره د حضرت عیسی علیه السلام په باره کي وږغېږي.

ماپیښین وو، چي دغه جرګه و مدینې منورې ته ورسېده له، او د حضرت محمد ﷺ مسجد مبارک ته راغله، دستي پر لمانځه ودرېده له او مخ ځې و مشرق ته لمونځ ځې کاوه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

قوم ته په دې کي حق نسته، ليکن ته ئې د سپرو مشر. عامر وويل: همدا اوس په نجد کي پر سپرو حکم لرم بيا ئې وويل: آيا کېدای سي چې صحرا او باديه ما ته پرېږدې او بنار دې ستا له پاره مخصوص وي؟ حضرت محمد ﷺ ورته وويل: يه.

ځيني نقل کوي، چې و رسول الله ﷺ ته ئې وويل: که زه د اسلام دين ته راواوړم ما ته به څه شي امتياز وي؟ حضرت محمد رسول الله ﷺ وويل: ته به په خير او شر، ګټه او تاوان د نورو سره شريک ئې او ته به د مسلمانانو څخه يو مسلمان ئې. عامر وويل:

قسم دئ چې دا ځای به د سپرو او پياده وو څخه ډک کم. او په هره ونه پوري به يو آس وترم او ستا سره به ومنبلم او درسره وبه جنګېږم. حضرت محمد ﷺ وويل: الله ﷻ به ستا مخه ونيسي او ستا شر به وګرځوي. بيا نو رسول الله ﷺ دعا وکړه او وئې ويل: اې الله! بني عامرو ته هدايت ورکې، او د عامر شر په هر ډول چې ته پوهيږې او هر ځای يا هر وخت چې وغواړې له ما څخه ئې وګرځوې. نو عامر ملعون په ډبر بد مرګ مړ سو پر اربد ټکه ولوېده وسوځول سو او بني عامر په اسلام سره مشرفه سول.

(۴) د عبدالقيس وفد:

د عبدالقيس اعراب په بحرين کي اوسېدل، د دوی يوه ډله د جارود ترسا سره چې په اسماني کتابو خبر وو د حضرت سيدالمرسلين ﷺ د ليدلو له پاره رارهي سوله. چې ده مبارک ته راورسېدل جارود خپل اشعار چې د حضرت محمد ﷺ په باره کي ئې جوړ کړي وه وويل، چې دوه بيتونه ئې دغه دي:

يا نبي الهدى اتاک رجال
قطعت فد فداً و آلا فالا
تتقى وقع يوم عبوس
اوجل القلب ذکره ثم هالا

اې رسوله د هدايت هغه خلک چې بيابان او سرايونه ئې قطع کړي دي تا ته راغلي دي، دغه خلک د قيامت د هغې ورځې څخه ببرېږي، چې ياد ئې زړونه په ببره کي اچولي دي، تا ته پناه راوړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128 Telegram:https://t.me/afghan

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

و حضرت محمد ﷺ ته ور ورسوې، ځکه چې که دی رسول وي فضیلت به دي په برخه سي او که پاچا وي ته به پر خپل ځای باقي پاته سې. دغه د دې رایه مي خوښه سوله، هر کله چې محمد رسول الله ﷺ ته ورغلم پوښتنه ئې راڅخه وکړه، چې: څوک ئې؟ ومي ویل: عدی د حاتم زوی، زه ئې کور ته وبللم، لار ئې راوښوولە په دغه ترڅ کي یوه بوډی سپین سرې ښځه په مخه ورغله ورسره ودریدله، ورته کتل ئې یو ګړی ئې په خپل کار کي خبري ورسره وکړې ما د ځانه سره وویل: چې دغه سړی پاچا نه دئ، هر کله چې کور ته سره ورغلو یو د پوستکي توشک چې د خرما د پوستو (لیف) څخه ډک وو ماته ئې واچاوه وئې ویل، چې: دلته پر کښېنه. ما ورته وویل:

چې ته په خپله پر کښېنه، قبول ئې نه کړه ویل ته پر کښېنه، زه پر کښېنستم، دی مبارک پر مځکه کښېنوست، د ځانه سره مي وویل، چې: په الله سره قسم دئ چې دغه سړی پاچا نه دئ، بیا ئې وویل: اې عدی آیا ته د دیندارانو څخه نه یې؟

ومي ویل: ولي؟ بیا ئې وویل: تا د غنیمت چهاریکه نه ده اخیستې؟ (د جاهلیت په زمانه کي د عربو اشرافو دغه کار کاوه).

ما وویل: ولي؟

ده مبارک وویل: ستا په دین کي دغه کار روا نه دئ؟ ما ورته وویل: هو! په خدای قسم دئ، چې وپوهېدم دی نبي او د الله رسول دئ، ځکه د هغو کارو څخه خبر دئ، چې نور نه دي په خبر. بیا حضرت محمد ﷺ وویل: ښایي چې ته د اسلام د دین د منلو څخه د مسلمانانو وګړو حاجت او فقر ګرځولی ئې په الله ﷻ سره قسم دئ، چې ژر دئ چې مال به د دوی په منځ کي دونه کوټه سي چې څوک به ئې د تصرف له پاره نه پیدا کېږي، او ښایي چې د مسلمانانو لږتوب او د دښمنانو ډېروالي ته د اسلام د دین د قبلولو څخه منع کړی نُو، په الله قسم دئ، چې ژر به واورې چې د قادسیې څخه یوازي ښځه بې له ښځي او وهم پرخپل اونس سپره د بیت الله شریف زیارت ته راځي او ښایي چې د اسلام د دین څخه په دې سبب غاړه غړوې چې پاچهي او سلطنت د نورو په لاس کي دئ، قسم په الله ﷻ چې ژر به نُو واورې چې د بابل د خاورو سپیني مانۍ او قصرونه به د اهل اسلام په تصرف کي راغلي وي.

Downloaded By: Afghan Salar Library

عدی ویلي دي: په خپلو سترګو مي ولیده، چي د قادسیې څخه ښځه پر خپل اونې سپره مکې ته د بیت الله شریفي زیات ته راځي.

عدی اسلام راوړ او په اسلام کي ښه ټینګ وو.

(٦) د کندة وفد:

اتیا کسه د کندة (یوه قبیله ده په یمن کي) د قیس د زوی اشعث سره چي تر ټولو ملګرو کوچنی او په قوم کي معزز او آمر وو وئې غوښته چي حضرت محمد ﷺ ته راسي، نو ئې سرونه ږمونځ کړل، سترګي ئې توري کړې، ښې ارتي جامې چي سجانونه ئې ورپښمین او په یمن کي جوړي سوي وې وائې غوستلې نو را رهي سوله، و حضرت محمد رسول الله ﷺ ته چي راورسېدله ورته وئې ویل: "ابیت اللعن[1]" حضرت نبوي ﷺ و دوی ته ویل، چي زه باچا نه یم. زه محمد د عبدالله زوی یم. دوی وویل موږ دي په نامه نه بولو، حضرت رسول الله ﷺ وویل: کنیه مي ابو القاسم دئ.

دوی وویل: اې ابو القاسمه! موږ یو شی پټ کړی دئ، ستا څخه پوښتنه کوو، چي څه شي دئ؟ (د ملخ سترګه ئې د غوړو په لوښي کي پټه کړې وه)؟

حضرت محمد ﷺ وویل: سبحان الله دغه کار د کاهن کار دئ، کاهن او کهانت غوښتونکی په اور کي وي. دوی وویل چي موږ به څنګه پوه سو چي ته رسول ئې؟

حضرت محمد ﷺ یو مون وړې ډبري واخیستې وئې ویل چي دغه ډبري زما پر رسالت شاهدي ادا کوي، بیا نو رسول الله ﷺ وویل: الله تعالی زه په حق سره رسول کړی یم او کتاب ئې پر ما رالېږلی دئ، چي د باطل لار و هغه ته نسته. دوی وویل چي موږ ته ئې ووایه. حضرت نبوي ﷺ د (والصافات صفاً) سورة شروع کی. هر کله چي (ورب المشارق) ته ورسېدی. پټه خوله سو. داسي آرام سو چي ګرد غړي ئې د حرکت او ښور څخه ولوېده. اونبکي ئې تر سترګو راتوی سوې.

دوی ورته وویل چي دغه ژړا دي د هغه چا څخه ده چي ته ئې را استولی ئې؟

---

[1] د جاهلیت په زمانه کي چي اعراب به شاهانو ته ورتله نو دغه جمله به ئې د تحیت په ډول ورته وویل یعني (داسي یو کار مه کوه چي د نفرت او نفرین او د لعنت لایق سې).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

ده مبارک ویل هو، ببرېزم چې د ده څخه په ژړا سم، ځکه چې زه ئې پر داسې سیمه او سیخه راسته لار را استولی یم چې لکه د توري دم که لږ څه کوږ یا وښوئېږي هلاک او محوه کېږم، بیا ئې دا آیات ووایه:

وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ (سورة بني اسرائيل: ۸۸ آیت)

که وغواړم چې هغه چې پر تا وحي کوو یوبه ئې سو.

بیا ئې وویل: اسلام نه راوړئ؟ دوی وویل: ولي؟ ده مبارک وویل: نو دغه د ورېښمو جامې څه شي دي، په دغه وخت کې ئې جامې تهوکرتهوکر کړې، پر مځکه دوی وغورځولې.

(۷) د تجیب وفد:

دیرلس تنه د تجیب د قبیلې څخه (چې دغه قبیله هم د قبایلو څخه یوه قبیله وه) چې د خپلو مالو څخه واجبي صدقې ئې را اخیستې وې و حضرت رسول اکرم ﷺ ته راغلل، حضرت نبوي ﷺ خوشحاله سو دوی ته ئې ښه عزت ورکی، و حضرت نبوي ﷺ ته ئې وویل، چې: موږ د خپلو مالو زکاتونه راوړي دي. حضرت محمد ﷺ ورته وویل، چې: دغه زکاتونه بیرته یوسئ، و خپلو فقیرانو او مسکینانو ته ئې ورکئ. دغه چې دلته مو راوړي دي زمونږ د قبیلې تر فقیرانو زیات دي.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه و حضرت سید الانبیاء ﷺ ته وویل: تر اوسه دغسې وفد د عربو څخه و مونږ ته نه وو راغلی. ده مبارک وویل: هو! هدایت د الله ﷻ په اراده دئ، چې د هر چا له پاره خیر غواړي نو سینه ئې د دین له پاره فراخه کي.

وروسته ئې د قرآنکریم او سنتو څخه د حضرت مبارک ﷺ پوښتنې وکړلې، د حضرت مبارک ﷺ پر دوی لطف لا ډېر سو، هر کله چې دغې جرګې وغوښته چې رخصت سي، د حضرت مبارک ﷺ سره ئې وداع وکړه، حضرت نبوي ﷺ و حضرت بلال رضي الله عنه ته وفرمایل، چې: هغه ښه جایزه ور عنایت کړي، پسله دغه ئې پوښتنه وکړه چې ستاسي څخه کوم نفر تر شا پاته دئ، دوی وویل: چې یو د زوی زوی لمسی مو د خپلې بارو بونې د ساتلو له پاره پر ځای پرې ایښی دئ. مبارک وفرمایل: چې هغه هم ما ته راواستوئ. نو بیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansch

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

(۳)

و پاچهانو ته د رحمة اللعالمين محمد ﷺ مراسلات

حضرت رسول مقبول ﷺ د هدايت او ارشاد په لار کي په دغه حد اکتفا نه کوله بلکي څرنګه چي دی رحمة اللعالمين او عام رحمت او د ټوله جهان د وګړو له پاره بشير او نذير وو بايد د نړۍ ټوله وګړي د ده د لارښوونې او هدايت او دعوت د نور او روښنايي څخه روښانې سي، نو ځکه د خپلو معاصرو پاچهانو سره په مکاتبه او ليک لېږلو بوخت سو.

و قيصر د روم پاچا او کسری د ايران پاچا ته ئې فرمان ولېږی او دوی ئې الله ﷻ ته دعوت کړل او همدغه رنګه ئې نجاشي د حبشو پاچا، منذر بن ساوي او مقوقس ته خطونه د دعوت واستول، د روم پاچا د ده فرمان ته په ښه ستر ګه وکتل عزت ئې ورکی او په ښه نېکي سره ئې جواب ورکی، د ايران پاچا کسری فرمان څيری کی نو الله ﷻ د ده مملکت ټوکر ټوکر کی او ترڅلورو کالو وروسته الله ﷻ پر ايران باندي اسلام ته حکمراني ورکړه. نجاشي اسلام راوړ، مقوقس هم د حضرت محمد ﷺ د نامې احترام وکی، د حضرت محمد ﷺ ليک و قيصر ته دغسي وو:

بسم الله الرحمن الرحيم. من محمد بن عبدالله الى هرقل عظيم الروم، سلام على من اتبع الهدى. امابعد فانى ادعوک بدعاية الاسلام، اسلم سلم. يوتک الله اجرک مرتين، فان توليت فانما عليک اثم الاريسيين قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ تَعَالَوْا۟ إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَآءٍۭ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِۦ شَيْـًٔا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ۚ فَإِن تَوَلَّوْا۟ فَقُولُوا۟ ٱشْهَدُوا۟ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾ (سورة آل عمران: ۶۴ آيت)

دا ليک د محمد بن عبدالله ﷺ د روم پاچا هرقل ته، سلام او سلامتي دي پر هغه چا وي چي د هدايت پيروي کوي. پسله دې زه تا ته د اسلام راوړلو دعوت کوم هغه دغه ﷺ چي اسلام راوړه چي سالم سې، الله به و تا ته دوه کرته اجر درکي، "يو اجر د عيسى عليه السلام د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghans

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

کي عاجزه پاته سول په پای کي ئې اعلان وکی چي هر څوک حضرت محمد رسول الله ﷺ راولي او يا ئې د ځای څرک وباسي سل اوښان به ورکول کيږي. الله الستار ﷻ د دوی ټولوستر گي د ده مبارک ﷺ او د صديق اکبر رضی الله عنه د ليدو څخه ړندې کړې. دغو دوو مقدسو ملگرو تر درو شوارو زو وروسته سره له دوو بوده وو (مرکب) چي يو چا و غار حرا ته ور وستل و مدينې منورې ته ولاړل، حضرت محمد رسول الله ﷺ په قباء کي کښته سو، د انس بن مالک رضی الله عنه په روايت څوارلس ورځي هلته وو، د مبارک نزول د بني عمرو بن عوف په قبيله کي وسو او په هغه ځای کي ئې خپل مسجد چي د لومړی ورځي څخه ئې اساس پر تقوی وو بنا کی دغه کار د مني په اعتدال کي چي د مېزان اول وو پای ته ورسېد.

سړی ويلای سي، چي دغه نقاران اشاره او رمز دئ، و هغه اعتدال ته چي په اسلامي شريعت کي موجود دئ، او و دې ته چي اسلام آخرين او وروستنی شريعت دئ چي الهي دين د کمال و سرحد ته د هغه په واسطه ورسېدی.

هر کله چي رسول الله ﷺ په مدينه منوره کي آرام سو، يو سړی ئې ولېږی، چي هغه کسان چي په مکه مکرمه کي پاته دي رائې ولي، مشرکانو هغه کسان چي ضعيف وه په وهلو تکولو و زندان ته اچولي وه، څو موده تېره نه سوه چي د اسلام دين مخ پر انتشار کښېښود، يهوديان په دغه سره ډېر خپه او دردېده، د مسلمانانو او اسلام سره ئې د دښمنی مزی کلک کی، سره له دې چي دمخه په خپله دوی خبر ورکاوه چي نژدې دئ چي يو رسول د الله له جانبه راواستول سي، په دغه وخت کي د رياست اشتها دوی کانه و ړانده کړل، نو ئې د حق اسلام او مسلمانانو په مخالفت لېښي راوغښتلې، نو ئې د مدينې منورې د منافقانو سره جوړښت وکی، حضرت محمد ﷺ د يهودو سره تړون وکی چي د مبارک له آزاره لاس واخلي او دی د دوی سره جنگ نه کوی.

د قتال د حکم رسېدل:

وگړي چي دلي دلي د اسلام دين ته راواوښتل، د توري په زور نه وه، ځکه چي حضرت مبارک ﷺ داسي توره چي د خلکو کلې او سرونه په وهي نه درلوده، بلکي دغه کار فقط د دعوت او ارشاد په وسيله وو، څرنگه چي رسول الله ﷺ په دغه لار کي ډېر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

قانع کېدی، نو په تېره توره ئې قانع کاوه، لس کاله ئې پرله پسې بې له دې چې یو ګړی آرام سي د الله تعالی ﷻ په لار او د الله د دین په خپرېدو کي لکه چې بنایي هغسي مجاهده وکړه، ځکه چې یقین ئې درلود چې پر حق دئ او حق چې که په هره وسیله وي ژبه وي یا توره یا بل شي باید خپور سي، چې مځکه د بت پرستۍ د ککړتیا او نجاسته څخه پاکه سي، او هغه کافران او دښمنان چې غواړي د الله ﷻ نور خاموش او پټ کي محوه سي او د ایمان او د الله ﷻ پرستۍ نور مځکه روښانه کي او جهان سر تر پایه ونیسي او حقیقت تحقق پیدا کي:

وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

(سورة توبه: ۳۲ - ۳۳ آیت)

د حضرت محمد ﷺ د مجاهدو په اثر د الله تعالی دین خپور او رواج سو، وګړي ډلي ډلي د اسلام ته راواوښتل، د سړیو شمېر و شپېتو او د غزاوو حساب و اووه ویشتو ته ورسېدی، چې په نهو غزاوو کي په خپله حضرت نبوي ﷺ هم وو چې جهاد او جنګ ئې کاوه، په دا ښه تدبیر او مضبوطه نظام او پوره نقشې سره ئې کار وکی چې د نن ورځي پوځي غټ سرداران په هغه سره فخر کوي، یارانو ئې هم په خالص مهر او محبت د ده په لاره کي ځانونه جار او قربان کړل، د دې خبري د ثبوت له پاره د آنحضرت نبوي ﷺ ځینې غزاوي تر نظر او فکر لاندې ونیولې سي، همدا ده د ځینو غزاوو خلاصه:

د بدر غزا:

په دې غزا او جنګ کي باید په ډېر دقت سره وکتل سي، د مسلمانانو فتحي، بري او عزت او د کافرانو ذلت او شکست او ماتي ته باید فکر وسي، چې مسلمانان لږ او کافران ډېر وه څرنګه ئې الله مرسته وکړه او د دوی غیرت او مېرانه ئې دنیا ته ثابته کړه.

مشرکان زر تنه جنګي کسان وه، سل آسان او اووه سوه اوښان د جنګ د سامان سره ورسره وه، د مسلمانانو شمېر تر څلورو سوو کسو زیات نه وو، دري آسونه او اویا اوښان

Downloaded By: Afghan Salar Library

ورسره وه، د خپل لږوالي او د کفارو د ډېروالي څخه مومنان ونه ببرېدل، بلکي حضرت مقداد رضي الله عنه ولاړ سو وئې ويل:

"اې رسول الله ﷺ! په هغه څه چې مامور ئې کوه ئې، موږ هم درسره يو، په الله قسم دئ چې موږ دغسي نه يو لکه بني اسرائيل چې و حضرت موسی عليه السلام ته ئې ويل:

فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴿٢٤﴾ (سورة مائده: ۲۳ آيت)

بلکي دغسي وايو، چې موږ ستا دمخه د الله په لار کي ځانونه قربانوو، په هغه الله جل جلاله مو قسم دئ، چې ته ئې په راستي او ربنتيا سره رسول کړی ئې چې که موږ ته د حبشو ښار ته د حرکت او کوچ امر راکړې ستا سره ځو چې هلته ورسېږو".

حضرت نبي ﷺ ده ته د خير دعا وکړه، بيا سعد بن معاذ رضي الله عنه وويل: موږ پر تا ايمان راوړی دئ او ستا خبري مو تولې منلي دي او شاهدي مو ادا کړې ده، چې هغه چې تا راوړي دي ښځي درست او ربنتيا دي، ستا سره مو پيمان، قول او ترون کړی دئ، چې ستا حکم موږ پر ستر گو منو او د الله په لار کي ځانونه قربانوو نو هر څه حکم چې کوئ کوه ئې. په الله قسم دئ، چې که موږ ته حکم راکې چې په دغه درياب کي ژوندي ننوزئ، موږ ښې درېغه ننوزو او زموږ يو تن به ستا د دغه امر څخه غاړه ونه غړوي، موږ د دښمن د ليدو څخه نه ببرېږو، د جنگ په وخت صابر او پر ميدان ټينګ ولاړ يو، ژړدئ چې وبه وينې چې موږ تا خوشحاله کړو، نو موږ ته د الله په مرسته د مارش حکم راکه.

حضرت رحمة اللعالمين ﷺ د حضرت سعد رضي الله عنه د نطق څخه ډېر خوشحاله سو او دی ئې هم خوشحاله کی، بيا ئې نو وويل:

"د الله په مرسته او توکل درځئ، او خوشحاله اوسئ چې الله يو له دوو طايفو څخه و ما ته وعده کړې ده، قسم په الله دئ چې هم دا اوس هغه ځايونه وينم چې قوم د هلاکت په خاورو کي پرمخي پراته دي".

وروسته ئې هغه ځايونه وتاکل او همدغسي سول لکه چې ويلي ئې وه او ځايونه ئې تاکلي وه، د بدر جنگ د هجرت په دوهم کال د رمضان د مياشتي پر دوولسمه د حوت پر ۱۹ تاريخ شروع سو، د بدر د جنگ ورځ ډېر سخته او د وهم ورځ وه، دوې ډلي سره مخامخ او سره ونښتې، فتح او بری د مومنانو په نصيب سو، مشرکان د مومنانو د توري په زور اکثره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

وتبنتبدل، د قريشو غټان او مشران او ابوجهل په دغه غزا کي ووژل سول. الله ﷻ د دې واقعې خبر ورکی، چې په قرآن مجيد کي ئې ويلي دي:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ أَذِلَّةٌ ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَن يَكْفِيَكُمْ أَن يُمِدَّكُمْ رَبُّكُم بِثَلَٰثَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُنزَلِينَ ﴿١٢٤﴾ بَلَىٰٓ إِن تَصْبِرُوا۟ وَتَتَّقُوا۟ وَيَأْتُوكُم مِّن فَوْرِهِمْ هَٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُم بِخَمْسَةِ ءَالَٰفٍ مِّنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِينَ ﴿١٢٥﴾ (سورة آل عمران: ۱۲۳ - ۱۲۵ آيت)

الله ﷻ تاسي ته په بدر کي مرسته درکړه، په داسي حال کي چې تاسي ذليل واست، نو د الله ﷻ څخه وبېرېږئ، او بايد د الله شکر وکاږئ هغه وخت چې تا مومنانو ته ويل آيا تاسي ته بس نه دي چې درې زره ملکي د الله په فرمان درته راکښته سي او الله ﷻ په دې وسيله ستاسي سره مرسته وکي، که صبر وکئ او د الله او د رسول سره ئې د مخالفت څخه پرهېز وکی، او همدا اوس ستاسي دښمنان ستاسي پر سرو رائي، الله به په پنځو زرو ملکو چې اسان ئې نخښه داره دي ستاسي مرسته وکي.

تر دې لوی بري وروسته مومنان په ډېر عزت خوشحاله و مدينې منورې ته ولاړل.

د حضرت نبوي ﷺ نوري غزاوي په فتح، بري او د دښمن په ماتي کي تر دې غزا کمي نه دي، د خندق و غزا ته وګورئ، چې د مسلمانانو شمېر تر درو زرو زيات نه وو او د مشرکانو احزابو شمېر لس زرو کسو ته رسېدی، چې د هري خوا احاطه او پر مسلمانانو شاوخوا راګرځېدلي وه، د دوی د ډېرښت څخه سترګي تاريکي او سينې تنګي وې، په ځينو مسلمانانو کي بد ګومانې لا هم پيدا سوې وه، سره له دغه الله تعالى مسلمانان غالب، فاتح او مشرکان ئې مغلوب کړل، حضرت محمد ﷺ په دې غزا کي د خندق په کيندلو حکم وکی، پنځه سوه کسه ئې د مدينې منورې د ساتلو له پاره واستول، چې نبايده دښمن راسأ پر مدينه حمله ونه کي او کوچنيانو، ښځو ته آزار ورونه رسوي، دښمن له هري خوا پر مسلمانانو راتوی سو. ليکن الله جل و علی شانه د شپې سخت زوره ورباد پر دښمن راوالوزاوه، دښمنان ناچاره وتبنتبدل، سره له دغه دونه کروپره او د ډېرښت ئې وته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

حضرت رسول الله رحمة اللعالمين ﷺ د مکې معظمې خلکو ته امان ورکی او ابو سفیان ته ئې چې په اسلام مشرفه سو وفرمایل: ولاړ سه پر قریشو وګرځه خبر ئې که چې هر څوک مسجد الحرام ته راسي په امان کي دئ او هر څوک چې د ابو سفیان په کور ننوزي هم په امان دئ، او هر څوک چې د خپل کور دروازه په ځان پسي وتړي هم په امان کي دئ، څو کسو چې ډېر بد ئې کړي وه، د هغو ویني هدر سولې، او د دوی څخه هم ځینو ایمان راوړ له مرګه خلاص سول او ځینې ئې ووژل سول، پسله دغه حضرت رسول الله ﷺ کعبې شریفې ته ننووت، درې سوه او شپیته بتان پکښې وه، و دغو بتانو ته ئې اشاره کوله او ویل ئې: "جاء الحق و زهق الباطل" حق راغی باطل ورک سو.

"جاء الحق و ما یبدي الباطل و ما یعیده" حق راغی، باطل نوی نه راځئ او بیرته هم نه راګرځي، بیا ئې وویل، چې: بتان دباندې وغورځوئ او بیت الله شریف ئې د باطلو معبودانو څخه پاکه کړه او د واحد، احد الله عبادت ئې پر ځای ثابت سو. بیا حضرت نبوي ﷺ و مقام ابراهیم علیه السلام ته ورغلی هلته ئې لمونځ وکی، د زمزم اوبه ئې وڅښلې، بیا نو په مسجد کي کښېنوست په دې وخت کي د ټولو ستر ګي و ده مبارک ته وې، چې د مکې مکرمې د مشرکانو په باره کي به چې د ده مبارک لوی دښمنان وه، دی مبارک ئې ډېر زهیر کړی او څو واره د ده مبارک و مرګ او وژلو ته ئې ملاوي تړلي وې، د ده سره ئې مقابلې کولې او دی مبارک ئې د مکې څخه ایستلی وو څه وکي؟ نو حضرت رسول رحمة اللعالمین ﷺ وویل: اې قریشو! تاسي څه ګومان کوئ، چې ستاسي سره به څه وکم؟ دوی وویل: نېکي، ځکه چې ته ورور او مهربان وراره ئې! ده مبارک وویل: ځئ آزاد یاست [طلقاء پر هغه چا وایه کېدی چې بې مریي توبه او بې اسارته ازادېدی].

په دغه وخت کي د مکې معظمې ټوله خلک په اسلام او ایمان مشرفه سوه نارینه وو او ښځو ټولو د ده مبارک سره بیعت وکی.

هر کله چې د مکې مکرمې د فتح او کار څخه مبارک ﷺ فارغ سو، نو ئې سریې د عربو و قبایلو ته د دوی د بتانو د ماتولو او د بتانو د ورانولو له پاره ولېږلې، او څه سپاهیان ئې د حضرت علي کرم الله وجهه په مشرتوب و یمن ته ولېږل، و حضرت علي کرم الله وجهه ته ئې وویل: "چې هلته ور ورسېدې، نو دوی د لااله الا الله د کلمې ویلو ته امر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128
Telegram:https://t.me/afghansalar

د لوړ مقام سره مناسب نه دي او هيڅکله و هغه ته اقدام نه کوي، که کوم شی چې په ظاهره لغزش ګڼل کېږي د دوی څخه پېښ سي په حقيقت کي و دې ته اشاره ده، چې مطلق کمال چې هيڅ د نقص او عيب دوړه د هغه پر لمن نه وي هغه په واحد و احد ذات پوري منحصر دئ او که نه د خلکو د افرادو په منځ کي کاملتر، پاک او پاکيزه انبياء او رسولان علی نبينا و عليهم السلام دي، او هيڅوک د دوی په شان کمال او بې الايشي او پاکه لمن نه لري[1].

شک نسته چې د تخليق د لومړي سر څخه جهان هيڅکله بې له دين څخه نه وو، په هره دوره او په هر عصر کي اسماني احکام د بشر د افرادو د خلقي تکامل او عقلي ترقي د اندازې سره سم او مناسب وو.

هر کله چې محمد مصطفی خاتم النبيين ﷺ ته وار ورسېدی نو ده مبارک داسي دين راوړ چې مقصد او هدف ئې خورا لوړ وو او دئ، ځکه چې څرګنده ده چې د دين مقاصد د انسان لوړول، او د ده ملکاتو ته وده ورکول او د ده د غرائزو څخه فايده اخيستل دي، چې د ده جسم، عقل او خلق و کمال ته ورسېږي او په نتيجه کي انسان و هغه ترقي، تکامل او پېشرفت ته چې ورته آماده دي ورسېږي.

انسان لکه د جهان ټوله سنن او نواميس داسي دئ، نو د کامله ملکاتو قدرت او استعداد درلوونکی دئ، د الله ﷻ اراده چې هغه چې د ده په اراده کي پټ دي ښکاره او شهود ته ئې ورسوي، لکه چې الهي سنت، د جهان په سننو کي پر دې قرار نيولی دئ، چې ښکلي او ښايسته د بد او مليح د قبيح څخه ميدان ته وباسي، همدارنګه ئې د انسان په باره کي چې داسي خواهش او ميل لري لکه د حيوان ميل غوښتي دي چې همدغه ميل د هغو ونو او درختو تخم وي چې مېوه ئې ترقي او تمدن سي، له همدې جهته ئې عربي او امي رسول ﷺ راوستاوه، چې هغه اسرار چې په انسان کي پټ دي ښکاره کي او بيان کي چې انسان په څه ډول کولای سي چې د حيواني پستي او کښته درجې څخه د ملکو و لوړ مقام ته ورسېږي.

حضرت محمد رسول الله ﷺ د دې اسرارو په لټولو او د انسان د حقيقت د پټو رازو

---

[1] شيعه پيغمبران معصوم ګڼي او هغه عباراتو ته چې ظاهراً د دوی پر معصيت دلالت کوي تاويل ورکوي. علم الهدی سيد المرتضی په دې باب کي د (تنزيه الانبياء) په نامه کتاب ليکلی دئ. لکه چې د کتاب د نامه څخه څرګنديږي هلته هغه معاصي چې انبياو و ته يې نسبت کېږي تاويل سوي وو.

Downloaded By: Afghan Salar Library

په څرګندولو کي په دې اکتفا ونه کړه، چې یوازې او فقط و وګړو ته پند او نصیحت وکي او لمانځه، روژې، دعا او قربانۍ ته ئې وګوماري، بلکې لکه یو پوه او کلک معلم چې د تشریح په علم کي استاد وي هغه شی چې د انسان په عقل کي پټ دئ که لږ وي که ډېر، لوی وي که کوچنی تفصیل ورکي، او د انسان د غرائزو له پارې ئې داسي نظام مقرر کړ، چې پر هغه باندې استېلا او په انساني منافعو کي د هغه استخدام ممکن او اسان وي او د همت او د ځان او د ځان د خواریو د دفاع او د مال او شرف د ساتلو او د نورو انساني کمالاتو پایه وګرځي.

د غریزې څخه دوې قوې پیدا کېږي: یوه د غضب او خښم قوه، بله د شهوت قوه، دغو دوو قوو لره ډول ډول لاري دي چې ځینې ئې ښې او ځینې ئې بدې، ځینې ستایلي او ځینې ئې غندلي دي، نو که د غضب او خښم قوه په خپل بد صورت کي وي کین، دښمني، هوا، تندخویي، استبداد، غیبت، بد ویل، تهمت، ترس او بېره، منافقت او دورویي له هغه څخه پیدا کېږي، او که په خپل ستایلي او خوښ صورت کي وي نو زړه ورتوب، اقدام، علو نفس، صبر او تحمل، عفو او تېری، کم نفسي او تواضع، مړانه او سخا ځني راوزي. همدغه رنګه د شهوت قوه چې په خپل ښه او ستایلي صورت کي ښکاره وي، د محبت، وفا، رحم، کرم، رضا، پر الله ﷻ د اعتماد، اطمینان او د وګړو د ملګرۍ منشاء ګرځي او که په خپل بد صورت کي وي، نو پستي، کم همتي، بخل، حرص، ځانمني، حسد، بغض، خیانت او داسي نور رذیله اخلاق ځني پیدا کېږي.

انسان لره یوه بله قوه هم سته چې (عاقله) قوه ئې بولي، که دغه قوه تهذیب او تربیت ومومي نو د هغو دوو قوو ملونه په لاس کي نیسي، او لکه چې د انسان د لوړ مقام سره ښایي هغسي ئې پر کار اچوي.

قرآن عظیم الشان د انسان د عقل د حقیقت د کنه (؟) پر پلټو او د ده د صفاتو او ملکاتو پر بیان مشتعل دئ او په دې باب کي بېخي بې مثله دئ.

د طبیعت په عالم کي چې هر شی د هغه کمال و خوا ته ځي چې د هغه د رسېدو له پاره آماده او پیدا سوی دئ انسان هم چې د خلقي، عقلي او جسمي ملکاتو خاوند دئ باید و هغه شي ته چې دی د هغه له پاره آماده او پیدا دئ ځان ورسوي، او د دې پوازینې وسیله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله تعالی ﷻ د جهان او د جهانیانو رب او پروربنت ورکوونکی دئ او دی بخښونکی، مهربان او ډېر رحم والا او د جزا د ورځي درلوونکی دئ، الله تعالی اکرمه شانه و اعظم برهانه ټوله خلایق پیدا کړي دي او په دوی کي ئې مزایا او اسرار، امانت او په ودیعت ایښي دي، او د دوی د رزق فضلاً متکفل سوی دئ، د دوی د ودي او د روزلو وسائل ئې چي د خپل مطلوب و کمال ته ورسېږي تیار کړي دي.

الله ﷻ بخښونکی دئ، چي هر شی ئې لکه چي بنایي هغسي پیدا کړی دئ او د هر شي له پاره ئې د ده د وجود د اطوارو په هر طور کي یو مزیت ایښی دئ، دغه مزایا او منافع فقط د ده د ارادې، حکمت او فیض د سرچینې څخه دي، نه په خپله د هغه شي د کسب څخه.

الله الرحمن او رحیم جل و علی شانه داسي مهربان دئ، چي هر څوک چي یوه نېکي وکي و هغه ته یو پنه لسه یا زیات تر دغه بنه ثواب، مکافات او عوض ورکوي، رحمت او خپل محبت د ده په باره کي ښندي او دغه خیرات اکثره د انسان په باطني مواهبو او پټو ملکاتو کي ایږدي، هر کله چي د الله تعالی بنده گان د خپل ارتقایي مزل په لار کي وښوئېږي یا ئې کومه خطا د لاسه وخېژي ناچار او مجبوره نه دي چي دوی ته سزا ورکي، ځکه چي کار د ده په قدرت دئ او اختیار هم د ده دئ: "لا یسئل عما یفعل".

الله تعالی د آخرت او جزا ورځ لري، چي رحمت ئې پر غضب د مخه دئ:

۞ نَبِّئْ عِبَادِيٓ أَنِّيٓ أَنَا ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٤٩﴾ وَأَنَّ عَذَابِي هُوَ ٱلْعَذَابُ ٱلْأَلِيمُ ﴿٥٠﴾

(سورة حجر: ۴۹ - ۵۰ آیتونه)

زما بنده گانو ته خبر ورکه، چي په تحقیق سره زه یم بخښونکی او مهربان او عذاب مي یو عذاب دئ دردناک.

د الله تعالی عذاب او عقاب د ده د حکمت د اقتضا سره سم دئ، داسي چي هر کله یو گناه کار بې له عذاب او عقوبت څخه صلاحیت نه قبلوي او حال ئې اصلاح نه سي نو دی په عذابوي چي هم دی اصلاح سي، او د نورو عبرت سي.

که څوک په دغه الهي صفتو کي په دقت سره ځیر سي، نو د دغو مظهر به د عالم وجود په ټولو ذرو کي وویني، او وبه پوهېږي چي انسان ته د دغو شریفو صفاتو پیروي واجب او لازم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هو! که د وګړو د کار واکداران لکه چې ښایي په دغه حنیف دین وپوهېږي، او په الهي اخلاقو متخلق سي او د الله تعالی د بنده ګانو سره داسي معامله او ګذاره وکړي چې د الله (رب العالمین الرحمن الرحیم مالک یوم الدین) د صفاتو مظهر سي، نو شک نسته چې د دوی ملک او مملکت هغسي ملک او مملکت سي لکه چې حضرت عیسی علی نبینا وعلیه السلام ئې په زړه کې آرزو درلوده، او هغسي مملکت او ملک به سي لکه چې د حضرت نور عرش العظیم محمد ﷺ په زمانه کې د مځکې پر مخ ښکاره سو.

دغه حنیف دین لره مقاصد ستە، چې لاندې د اختصار په ډول بیانېږي:

د اسلام مقاصد

مقدمه

الله تعالی ﷻ د هر امت له پاره د خپل حکمت د اقتضا سره سم مخصوص رسول را استولی دئ، چې خاص هغه امت و راستي لارې ته راولي، لیکن هر کله چې عقلونه لوړ او وګړي و علم، عرفان او هدایت ته تیار سول الله تعالی ﷻ وغوښته چې خیرعام سي، یو قانون او یو نظام پر ټوله نړۍ جوړ سي نو ئې حضرت محمد ﷺ راواستاوه، او خپل حق دین ئې د ده په وسیله راولېږی او ده مبارک ﷺ ته ئې وفرمایل، چې: بې له بېړي او برالا ښکاره و وګړو ته حق ورسوه، که څه هم په دې لار کې زحمتونه، ربړونه او خواری وګالې او سپکتیاوې وویني باید په ټینګ عزم او محکم ایمان دین خپور کې او د وګړو په اصلاح کې کوښښ وکې.

بلکې د محمد رسول الله ﷺ رسالت علاوه تر بنې نوع د پېریانو طایفې هم د ده مبارک دلارښوونې په وسیله و رشد او هدایت ته ورسېدې او وئې ویل:

إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾

(سورة جن: ۱ – ۲ آیتونه)

موږ عجبه قرآن واورېدی چې د رشد و لارې ته هدایت کوي، نو موږ پر هغه ایمان راوړی او هیڅکله د خپل رب سره شریک نه نیسو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

يقين سره ويلای سو او دعوه ئې کولای سو، چې دغه دين د نړۍ د ټولو وګړو له پاره په هر عصر او په هر ځای کې چې وي وړ او صالح او ورته کافي او بس دئ، په دغه دين کې هم اخروي عبادات سته او هم دنيوي معاملات پکښې سته، د دغه مبارک دين په هر حکم کې حکمت سته، چې سړی کامياب کوي او د دنيا او آخرت د آفت او عذاب څخه ئې خلاصوي، او دغه دين د هر سړي د دنيا او آخرت د نېکبختيو ضامن دئ.

لنډه دا چې الله ﷻ خپل رسول حضرت محمد ﷺ د ګردي دنيا انسانانو ته بې له استثنی څخه را استولی دئ، چې ټوله نړيوال د رشد او خير څخه برخه واخلي، او قرآن عظيم ئې پر خپل رسول ﷺ په يوه وار لکه "د نورو انبياوو عليهم السلام کتابونه چې په يوه وار نازلېدل" نازل نه کړ، چې واقعاً د الهي حکم پر صحت قاطع دليل وي، رباني فيوضات او الهي تائيدات پرله پسې پر حضرت نبوي ﷺ راتلل، او وګړو په ډلو ډلو د ده د دعوت اجابت کاوه او ده ته ئې لبيک وايه، څو د ده مقدس دين کامل سو:

اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا

(سورة مائده: ۳ آيت)

تر دغه وروسته آنحضرت د کاينناتو سردار، بادار، پيشوا ﷺ د جهان څخه رحلت وکړ، ليکن الحمدلله د ده مبارک دين تر نن ورځي پوري محکم او ثابت او پاينده پاته دئ او د بشر ملجاء او مرجع دئ، او حقيقت او ربښتينتوب ئې تر لمر څرګند دئ:

لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ ۖ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾

(سورة حم السجده: ۴۲ آيت)

دغه لوی قاطع برهان او بنکاره روښانه حجت دئ د حضرت محمد ﷺ پر عظمت او د ده د مقام او درجې پر لوړتوب.

هغه مقاصد چې همدا اوس ئې يو يو وروسته ليکو هغه امور دي، چې د حضرت نبوي ﷺ شعار او د ده د مبارک دين مبادي ګڼل کېږي چې و خلکو ته ئې د هغو توصيه کړې ده او د هغو رعايت ئې لازم ګڼلی دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ (سورة روم: ۲۳ آیت)

یو له آیتو څخه د الله ﷻ ستاسي خوب دئ، په شپه او ورځ کي او غوښتل ستاسي دي د رزق د فضل څخه د ده، بیشکه په دې کار کي آیتونه دي هغه چا ته چې اروي.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ (سورة روم: ۲۴ آیت)

یو له آیتو څخه د الله ﷻ دا دئ چې تاسي ته برق (برېښنا) ښکاره کوي چې ببره او امید په تاسي کي ښکاره سي او د آسمان څخه باران اوروي، او مځکه وروسته تر دې چې مړه ګرځېدلې ژوندۍ او تازه کي، بیشکه په دې امورو کي آیتونه دي هغه چا ته چې عقل لري.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ (سورة روم: ۲۵ آیت)

یو له آیتو د الله ﷻ دا دئ، چې اسمان او مځکه ئې پر ځای دي، وروسته هغه وخت چې تاسي (د صور د پوکلو په واسطه) وبولي چې له مځکي (قبر) څخه دباندي راووزی، په دغه وخت کي تاسي وزی.

په قرآن عظیم الشان کي دغه ډول آیتونه ډېر دي، چې انسان و دې ته اړ دئ چې په هغو کي په اول، منځ او آخر کي دقت او فکر وکي، ځکه چې انسان د خالق ﷻ د وجود او د ده د قدرت، علم او حکمت هغه ښکاره لوی دلیل دئ او هیڅ یو دلیل و ده ته تر خپل ځان نژدې نسته، د دې موجود په وجود کي د خالق جل و علی شانه پر عظمت باندي د دلالت له پاره دونه عجایبات اینبوول سوي دي چې د ځینو د پوهېدلو له پاره ډېر وخت او ډېر عمرونه غواړي.

د انسان بدن وګوره، چې څرنګه پلې، هډوکي، رګونه، سپنسکي لري، چې د قدرت په لاس په ډېره محکمي یو د بله سره تړلي او پیوست دي، او د دوی د ساتنې له پاره ئې پر هډوکو غوښې شنې کړي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

د تناسب له رویه د الله جل و علی شانه و عم نواله و اکرم شانه کامل حکمت او پوره حکمت او پوره قدرت وپیژني. په سپوږمۍ، لمر او نورو امورو قسم یادول چې په قرآن مجید کې ډېر دي لکه: (والسماء ذات البروج) او (والسماء والطارق) او (والسماء و مابنها) او (والسماء ذات الرجع) او (والشمس وضحها) او (والنجم اذا هوی) او داسي نور ډېر دي، چې په قرآن کریم کې یاد سوي دي دا ټوله د دې له پاره دي، چې د دغو په عجائباتو کې چې د بشر عقل د دغو ټولو د عجائباتو د فهمولو څخه قاصر او عاجز دئ فکر او دقت پکښې وسي، او د دې لاري څخه د الله بندګان متوجه سي چې د واحد احد خالق جل و علی شانه قدرت او حکمت تر څه درجې دئ. همدغه الله ﷻ دئ، چې آسمانونه ئې سره له لویي او دونه عظمت څخه بې ستني او بې پائې محکم درولي دي:

آللَّهُ ٱلَّذِى رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ (سورة رعد: ۲ آیت)

الله ﷻ دئ، چې آسمانونه ئې بې لیدني ستني درولي دي.

وَأَلْقَىٰ فِى ٱلْأَرْضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ (سورة نحل: ۱۵ آیت)

په مځکه کې ئې لوړ او لوی غرونه ایښي دي، چې مځکه د یوې خوا څخه و بلې خوا ته وانه چوي، (وبث فیها من کل دابة) او په مځکه کې ئې هر ډول خوځندي یا هر ډول خوځندګان تیت کړي دي، (وانزلنا من السماء ماء فانبتنها فیها من کل زوج کریم) او به مو د آسمانه نازلي کړي دي نو په مځکه کې مو له هر جوړې بنه او فرسوده ګیاه شنه کړي دي (هذا خلق الله فارونی ما ذا خلق الذین من دونه بل الظالمون فی ضلال مبین) دا چې وویل سوه د الله پیدا دي، نو اوس ئې تاسي بنکاره کئ (وبنیاست) چې هغه کسان چې تاسي ئې عبادت کوئ او شریک ئې ګڼئ کوم شی ئې پیدا کړی دئ؟ بلکې ظالمان په بنکاره ګمراهي کې دي.

د دې له پاره چې پر ټولو وګړو حجت قایم، ثابت او تمام سي په قرآنکریم کې ئې وګړي و تعقل او تفکر ته د جهان په اجزاوو او اوضاع کې دعوت کړل.

د قرآن عظیم الشان په تعبیر سره دا جهان لکه یوه خونه داسي دئ، چې هر شی پکښې دي او ځای پر ځای منظم وي، آسمان ئې سقف اوچت دئ، مځکه ئې فرش ده، لمر او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128
Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سپوږمۍ دوه روښانه او ځلانده څراغونه دي، او ستوري مشعلونه دي چې د خوني د بنايست او د اوسېدونکو د لارښوونې له پاره دي، مرغلري، خزانې او کانونه لکه د دې خوني ذخيرې او مال دغسي دي. لنډه دا چې ټوله شيان په دغه خونه کې ځای پر ځای اوډلي او ايښوول سوي دي. نبات او شنيلي، حيوانات، انسانان چې د هر يوه اصناف بې حسابه دي، هر يو د کار له پاره پيدا سوی دئ او انسان په دغه کور کې لکه د کور څښتن او مالک داسې دئ.

دغه امور او کارونه او مخلوقات ټوله پر دې دليل دي چې دغه جهان سره له مافيها لره خالق سته، حکيم، توانا، دانا چې هغه ئې په ښه انتظام سره منظم کړی دئ.

د الله جل و علی شانه حکمت و انسان ته د کرامت خلعت او جامه ورکړه و ده ته عقل، علم، قدرت، بيان، ښايسته او ښکلې بڼه او څېره، ښه شکل او صورت، رسا اندامونه او قد ورعنايت کړه او ده ته ئې د علم د زده کړې او د ښو خويو لارو ښوولې، د جهان سرداري ئې ورکړه، اوريځ، باد، سپوږمۍ، لمر او آسمان ئې په کار واچول چې د ده له پاره دوډی تهيه کې، لوړ، ځور او د نړۍ وچ، لوند، تود، سوړ، دروند، دښت، غرونه، ناطق او صامت مخلوق او نور ئې د ده له پاره مسخر او د ده په فرمان کې دي.

وَلِتَجْرِيَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾ (سورة روم: ۴۶ آيت)

مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾

(سورة جاثيه: ۱۳ آيت)

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْفُلْكَ لِتَجْرِىَ فِى ٱلْبَحْرِ بِأَمْرِهِۦ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلْأَنْهَٰرَ ﴿٣٢﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ ﴿٣٣﴾ وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴿٣٤﴾

(سورة ابراهيم: ۳۷ آيت)

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

ده، چې که د نړۍ ټولې عقلونه سره غونډ او یو عقل ځنې جوړ سي نه ئې کولای سي چې د وګړود معاش او معاد له پاره د قرآنکریم تر بنوولي لاري بنه او په زړه پوري لاز بنکاره او وبنيي، له دې رویه قرآن عظیم تر ټولو دلایلو لوړ دلیل او روبنانه حجت او شاهد دئ چې د قرآنکریم را استوونکی (الله تعالی) بې مثل، بې شریکه، بې مثاله، بې نیازه، واحد، احد دئ، چې په کامل کمال آراسته او د ټولو نقائصو څخه پاک دئ.

قرآنکریم دغه ثابتوي چې الله تعالی بنه کارونه د سړي په خټه کې ایښې دي او د انسان په فطرت کې ئې ایښې دي، چې پر دغو شیانو د بنو تصدیق کوي:

عدل او انصاف، راستي، نېکي، وفا، پر بېوزلي او محتاج مهرباني او ترحم، و خلکو ته نصیحت، د مظلوم سره مرسته، د محتاجانو، فقیرانو، مسکینانو، کونډو، یتیمانو، اسکېرلو سره هر ډول کومک او ورکړه، د امانت ادا، د نېکۍ مکافات او عوض په نېکي سره، د بدۍ او بدو څخه عفو او تېری، پر خپل ځای صبر، بخښش پر خپل مورد، لازم انتقام، د سزا بردباري، سکینه او وقار، مدارات، دوستي، خوشخویي، بنه ژوندون او معاشرت، د خپلوانو او بېګانه وو سره د خطا بخښل، د عیبو پټول، په فریاد رسېدل، د خیر پر کارو معاونت، د غمجنو زړونه خوشحاله کول، زړه ورتوب، سخا، عزم او ثبات، بینایي، حق خوایي او د حق طرفداري، د اهل حق په مقابل کې نرمي، پر اهل باطلو باندې غیظ درشتي او سختي، د وګړو تر منځ اصلاح، د دوو کسو په پخلا ټولو کې کوښښ، د بزرګانو تعظیم، د هغو کسانو توهین او سپکتیا چې ورسره وړوي، د وګړو د مراتبو حفظ، حق و حقدار ته رسول، و ګمراه ته لارښوونه و بېعقل ته عفوه، په حقوقو کې مساوات او داسي نور لکه عدلي قانون پېژندل چې په معاملاتو کې ایښوول سوی وی او هغه دستورات چې د شکر ادا کولو او عباداتو له پاره زده سوي او وګړو ته ئې وښيي، چې د الله ﷻ د بې حسابه، بې شمېره او بې انتها نعمتو په مقابل کې چې وس ئې وسي څنګه باید شکر ادا کې او د الله ﷻ قرب طلب کې او د الله ﷻ حب او قرب پر ټولو مقدم وبولي.

لکه چې په فطرت کې د دغو صفاتو بنه والی ورښوول سوی وي. همدغه رنګه د دغو صفاتو د اضدادو پر بدي باندې علم و ټولو وګړو ته په فطرت کې ایښود سوي دي.

تر دغه وروسته الله تعالی رسولان راولېږل چې دغه دوې دلي بنه او بد کارونه وګړو

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

فکر ئې نه دئ پکښې کړی دا هغه کسان دي چې حق تعالی جل و علی شانه د دوی د ژبې څخه وایي:

لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيٓ أَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٠﴾ (سورة الملک: ۱۰ آیت)

(۲) د هر سړی د ظاهر ښایسته کول او د باطن پاک او اصلاح کول د عبادت د لاري څخه:

لمونځ:

الله تعالی چې و خپلو بندګانو ته د لمانځه لار ورښوولې ده د څو جهتو څخه ده چې لاندې ذکر کېږي:

۱- که لمونځ لکه چې ښائي هغسې په خشوع، خضوع، عجز، تعظیم، حیا او پوره حضوره سره وسي، سړی ویښوي او بیداره کوي ئې، او د دنیا د خواهشاتو شوق او حرص د سړی څخه محوه کوي، او د دې فاني نشاة لوړوالی پر عالم باقي باندې د سړی د زړه څخه وړي، ځکه چې څوک پر لمانځه د الله تعالی په حضور کې ودریږي او د الله تعالی عقاب او عظمت دی و ببروی او خامخائي نسبت و دنیا ته حرص کمیږي او میل ئې آخرت ته زیاتیږي.

۲- انسان فطرتاً په خپل ژوندون او حال کې یو رنګه نه دئ، ولې که الله تعالی و ده ته خیر او ښیګڼې ورورسوي نو سر کښې کوي د الله تعالی ﷻ حقوق نه ورکوي، او که شر او مصیبت ورورسیږي نو مایوسي، خښتم او جزع فزع کوي نو څرنګه چې هره ورځ پنځه واره پر خپل وخت لمونځ کوي نو ده ته د نفس د طمانیت او ثبات ملکه ور پیدا کیږي، بیا د وارداتو او پېښو په مقابل کې که خیر وي که شر ځان د لاسه نه بایلي او نه ئې حال بل ډول کیږي، ځکه پوهیږي چې خیر و شر او هر رنګه پېښې تولې د هغه الله تعالی له جانبه دي چې د ورځې پنځه واره د ده په حضور لاس ترلی درپیږي.

لمونځ کښته، پست او رذیل اخلاق لکه: حرص، حسد، غضب او نور له منځه باسي او ستایلي اخلاق لکه: ثبات، صبر، قوت، عزم، د نظام سره اموخته کېدل او نور په سړي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

لاس ئي نيسي نجات ور کوي که کوم څوک وږی او مسکين وي زکوة، خيرات او نور معاونت او مالي مرسته ورسره کوي، او که کوم بې له عذره و لمانځه ته نه وي راغلی عتاب او سر زنش ورکوي، د حضرت عمر رضی الله عنه همدغه خوی وو، او نورو ته ئې هم دغه شېوه او خوی وربښوده: حضرت عمر رضی الله عنه وائي: د لمانځه په وخت کي د خپلو ورونو پوښتنه کوئ، که کوم يو نه وو، ناجوړه وو، پوښتني ته ئې ورسئ او که جوړ او روغ وي وئې ترتئ عتاب ورته وکئ.

٦- دا چي لمونځ آزادي او برابري او ورورګلوي د مؤمنانو په زړو کي ټينګوي او يو د بله کبر، بغض، حسد او عناد د زړو څخه باسي، ځکه چي د يوې کوڅې او محلې خلګ چي په صف کي ودريدل، او بادار، نوکر او مزدور، غني او خوار، وضيع او شريف په دغه حال کي سره يو برابر، او يو د بله هيڅ تفوق نه لري، ټوله په اخلاص او خلاص زړه چي هيڅ نور څه بې له د ياد څخه د الله په زړه کي نه پرېږدي، او ټوله د خپل الله تعالى په حضور درېږي او يوه واحد، احد الله ته پر سجده پرېوزي، نو دوی چاره نه لري چي پر ارخ مسکين ترځان لوړ ونه بولي او د خپلو جماعتی ورونو څخه تر حسد او بغض ټېر نه سي او د عجز او تواضع په ګټه بنايسته نه سي، او هر کله چي بډای، بادار، متکبر، د لمانځه څخه فارغ سي البته هم د خپل الله څخه چي اوس د خپل عاجزه ورور سره يو ځای هم رنګه په عجز ورته ولاړ وو، او هم د خپل وجدان څخه شرمېږي، بيا ځان تر نورو لوړ او ښه نه بولي.

٧- دا چي د جماعت لمونځ وکړي د خپل پېشوا او بزرګ په اطاعت او انقياد سره روږد وي، لکه چي يو منصبدار خپل افراد، و داسي کارو ته امر کوي چي د جنګ په وخت کي ئې نه کوي، يا داسي کارونه چي د جنګ په وخت کي امکان نه لري، او همدغه ټوله اوامر د دې له پاره دي چي په دوی کي د اطاعت او انقياد حس پيدا او قوت ومومي، رستم، چي د ايران د لښکرو سپهسالار وو، يو وخت ئې وليده چي مسلمانانو يو سړی امام کړی او د ده سره لمونځ کوي او ټوله په خپلو حرکاتو او سکناتو کي د امام پيروي کوي، نو په سو چي دغه سرد لمانځه دئ، او دغه فضيلت د لمانځه دئ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

روژه:

الله تعالی ﷻ و خپلو بندګانو ته د روژي نیولو امر ورکړی دی، له څو جهتو څخه:

۱- دا چي د روژې د نیولو څخه یوازي دغه منظور نه دئ چي سړی سهار تر مابنامه پوري د خوړلو او څښلو څخه خوله وساتي، بلکئ منظور ئې اثر دئ چي: خپل نفس د هوا او هوس د پیروی څخه وساتي، او د پرهیز او صبر په توره سره دنفساني شهواتو او خواهشاتو سره جګړه وکي، د بد ویلو، پوچ، بښکنځلو، غیبت، چغلی، درواغ، ځان ستاینې، ځان بښکاره کولو، او غوړه مالی څخه ژبه وساتي، او خپل غوږونه د ناخوښو او ناوړو شیانو د اوریدلو څخه وساتي، سترګي د شیانو د لیدو څخه چي الله په ناراضه کیږي راوګرځوي.

زمونږ نورالهدی محمد مصطفی رحمة للعلمین ﷺ فرمایلي دي: ناوړه کتل یو غشی دئ د شیطان د زهر لړلو غشو څخه، نو هر څوک چي د الله څخه وبیریدی، او هغه ئې راوګرځاوه الله تعالی به ده ته داسي ایمان ورکي چي په خپل زړه کي به خوند او شیرینې ځني پیدا کي، و همدې حکمت او سر ته د دې آیت شریف اشاره ده:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.

په دې آیت کي د (لعلکم تتقون) نتیجه منظور ده: چي مؤمنان د خپلي روژې په وسیله د بدو او رذیلو هوسو څخه ځان وساتي، او روژه د تولو نواهیو څخه د ځان وقایه کړي.

لکه چي حضرت رحمة للعلمین ﷺ ویلي دي: روژه یو سپر ده، او هر څوک چي روژه ونیسي نو نه ورته بنائي چي ژبه په بدو ویلو ککړه کي، او نه بنائي چي بیعقلی وکي بلکي که څوک د ده سره مقاتله شروع کي، یا ناوړه او سپکي خبري او بښکنځل ورته وکي، نو روژاني دي ورته ووائي: زما روژه ده!

مطلب دا دئ چي روژه د روژاني له پاره سپر دئ، چي په هغه سره باید د دوو قوي دښمنانو څخه ځان وساتي چي یو نفس او بل شیطان دئ، نو د نفس سر دي د هوا او هوس په پرېښولو سره ور وکوتي، او شیطان دي د نفسي خواهشاتو او هوسو په دفع کولو، چي همدغه د شیطان د کار وسائل دي رانده او ترتي، دغه آرزوګاني او هوسونه په خورک او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

"زړه مي د هغه شي څخه چي خوښ ئي لرم د حيا په واسطه ئي ځني ګرځوم، نفس ساتم، او عفت غوره کوم چي نبايده صبا خبره د دښمنانو په لاس کي ونه لوېږي".

دغه ډول حيا د ثنا د حب او د مېړاني د کمال څخه حاصليږي، هغه څوک چي دغسي حيا نه لري نو مېړانه ئي لږ او د شهواتو په مقابل کی ئې ضعف ډېر وي له دې جهته د ده بدګوئي د غيبت په حکم نه ګڼل کيږي لکه چي حضرت رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

"من القى جلباب الحياء فلاغيبة له"

دريم– د ځانه شرمېدل په دې ډول چي په پټه هم د بدو کارو څخه ځان وساتي او عفت غوره کي، حکيمي ويلي دي: بايد د خپل ځان څخه دي تر نورو شرم ډېر وي.

بل شاعر وايي:

فسری کا علاني وتک خليقتي
وظلمة ليلی مثل ضوء نهاريا

(پټه او بنکاره مي يو دي، او توره شپه مي لکه روښانه ورځ داسي ده) شک نسته څوک چي دغه دري مواد خاصيتونه ولري حيا ئې کامله وي او په ده کي د خير ټوله اسباب موجود وي، او د شر ګرد اسباب ځني محوه وي.

۷– د نفساني مشتهياتو څخه جلو ګرځول لويه مجاهده ده د نفس سره، او دغه د ادبي شجاعت پر ډېرو الی دليل دئ، ادبي شجاعت د بنکلو خويو او فضائلو پايه ده، په همدې نظريه حضرت رسول اکرم ﷺ ويلي دي:

"رجعنا من الجهاد الاصفر الی الجهاد الاکبر".

ځکه چي د حضرت نبوی ﷺ د لوی جهاد څخه همدغه د حوا او هوس سره مجاهده مراد ده.

۸– دا چي څوک چي روژه نيسي هغه د لوږي او تندي زحمت وينې، مجرب سي نو که بله ورځ وږی يا تږی وويني نو شفقت پر کوي خپل حال ور په ياد ږي مړوي ئې او به کوي ئې او هغه څوک چي لوږه او تندَه، نه وي پر تيره سوې نو وايي چي: "مور د وږي په حال څه خبر دئ" نو چي په حال ئې خبر نه وي نو زړه ئې پر وږي او تږي هم نه سوځي.

و حضرت يوسف علی نبينا وعليه السلام ته وويل سوه، چي د مځکي ګرده خزائې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

(لئن شكرتم لازيدنكم ولئن كفرتم ان عذابى لشديد)[1]

٦- الله جل وعلى شانه وغوښته چې علم اسلام ګرد سره مربوط کي، او د دوی زړونه يو د بله سره نژدې کي، او تهوله اسلام او مسلمانان لکه يوه کورنۍ داسي کي، چې بډايان او غنيان د کور خاوندان او مشران وي او د خپلو کشرانو او خوارانو او مسکينانو سره احسان وکي او دوی د خواری او پکر څخه وساتي او د پکر او ګډاګری په ذلت او خجالت اخته نه سی او تهوله سره يو وجود او يو د بله مرسته او کومک سره وکي.

۷- د زکوة ورکړه د ايمان د ثبات او د يقين د کمال موجب دئ، ځکه چې وګړی خپل مال لکه خپل ځان او زړه او روح داسي ګڼي، نو تر دغو تېريدل ډېر سخت کار دئ، او هر کله چې زکوة ور کړه سي، او پر دغه رياضت او زکوة پر ورکړه عادي سي، نو د دوی د اطاعت حال کمال ته رسېږي او د دوی د حوا او هوس پيروي کمېږي، او د عالم باقي ثواب ته د عالم فاني پر کارو ترجيح ور کوي و همدې مطلب ته د دې آيت اشاره ده:

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاةِ اللهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ[2]

۸- د زکوة ور کړه ددې موجب ده: هغه چې د مال سره ور او مناسب دي د هغه پر خلاف د مال په باره کي عمل و نه سي، داسي چې د مسکين لاس بيخې د مال څخه خالي سي، او تهوله مال د بډای په لاس کي جمع او خزانه سي، علاوه پر دې هغه اندازه مال چې تر اصلي حاجت زياد دئ په ښو او نېکو کارو کي مصرف نه سي، نو دغه مال د هغه څخه چې ورته پيدا سوی دئ (اتفاق فی سبيل الله) ممنوع او معطل ګرځي، او دغه د مال په پيدايښت کي په حقيقت کي د الله تعالى د حکمت د ظهور جلوګيري ده، له همدې جهته الله تعالى فرمايلي دي:

(وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ) هغه کسان چې سره او سپين زر تهولوي او د الله تعالى په لار کي ئې نه بښندي نو و دوی ته د دردناک عذاب خبر ورکه.

---

(۱) ۱۴ سورة (ابراهيم) ۷ آيت.
(۲) سورة (بقرة) ۲۶۴ آيت.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

نیمګړتیاوو په پوره کولو او پیشرفت کی به کوښښ کوي.

۲- د کعبي شریفي او نورو مقدسو ځایو زیارت یو پاداش دئ، دحضرت آدم علیه السلام او حضرت حوا رضی الله عنها چي دوی څنګه کښته سوله او بیا څرنګه ئې توبه قبوله سوله، او حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل ګران زوی حضرت اسماعیل علیه السلام په حلالولو کي څنګه په ازمویښت کي راغی، او دغه دواړو انبیاؤ علیهما السلام (پلار و زوی) څرنګه خپل سرونه د الله تعالی حکم ته کښیښوول، او الله جل وعلی اشانه څنګه د دوی اطاعت او سرتیټي قبوله کړله څرنګه ئې لو فدیه (مړ) ورته رالیږلی او ذبح کی، او دوی ئې په دې لوی نعمت خوشحاله کړل، او حضرت نور الهدی محمد مصطفی رحمة للعلمین صلی الله علیه وسلم په دغه ځای کي څنګه پیدا؟ او څنګه لوی، او څنګه رسول سو، او د اسلام د کلمې پر اعلا باندي ئې په دغه ځای کي پر ځان د مشرکانو، بت پرستانو جاهلانو څه زحمتونه یووړل او نورډپر پاداشتونه سته چي ټوله دلته نه ځائیږي او د دغو مقدسو ځایو زیارت سړی و دغه ته اړکوي چي باید سړی د دغو پاکو ذواتو علیم پیروي وکي، او خپل کارونه د الله کارو ته او الله ته تسلیم کي او یوازي واحد احد الله تعالی ته پناه وروړي، ښائي چي دی د الله په رحمت او غفران کي داخل سي.

۳- د الله تعالی د شعائرو لیدل، او د هغو هیئتو سره ملګري او ملازمت چي د حق پر تعظیم دلالت کوي، او د فرضي حدودو ساتل، او د شعائر الله تعظیم دا ټوله د الله په یاد او ذکر سره سړی ګوماري، او د الله تعالی د عظمت او جلال او قدرت په مقابل کي سړی مرعوب، ډار سوی، او سرټیټی او خاضع کوي او د دې ترس او خضوع فایدې پټې نه دي.

۴- تقریباً ظلم د وګړو خوی ګرځېدلی دئ، تر دې حده چي جلوګیري ئې سخته ده، د دغه خودسرۍ او خودپرستۍ او ظلم تحمل د اجتماعی عالم له پاره سخت او ګران کار دئ، نو ځکه حکمت دغسي اقتضاء لري چي بشري نفوس د دغو ظلمو څخه خلاص سي، او ټوله د عدل تر فرمان لاندي راسي، نو الله د حج وخت او ځای ته ډېر احترام ورکی، او دلته ئې ثواب دو چنده او عذاب ئې سخت کی، چي د حج په موقع کي د ظلم او سرکښۍ څخه لاس واخلي، توبه وکاږي او احسان او عدل ته قدم واخلي، نو دا به د دې موجب سي چي ظلم او خود سري به کمه سي، د حج په موقع او ترڅ کي د جامې اغوستل او بنکاره

Downloaded By: Afghan Salar Library

کول، چې په نورو وختو کې مباح دي ممنوع سوي دي، داغه همدغه سبب دئ، ځکه چې کبرې کله کله چې څوک په یو کار سره مشغوله وي، نو دغه کار ئې عادت وګرځي، نو که کله کله چې د عذاب د ببرې په ځینو ځایو کې د جرائمو د ارتکاب څخه ځان وساتي بنایي چې دغه عدم ارتکاب ئې عادت وګرځي علاوه پر دې هوښیار سړی کوښښ کوي چې څو ممکن وي خپل کار درست پای ته ورسوي او ناقص او فاسد ئې نه پرېږدي، او داسې نور کارو ته چې د هغه د فساد موجب وي نه ئې کوي، نو هر کله چې ئې په کوم ځای یا وخت کې یو کار د ډېر ثواب په امید وکړی څو چې وس ئې وي هغه د فساد څخه ساتي، او د کومې ګناه نه مرتکب کېږي، نو دغه به د ده د حال د اصلاح موجب او د ده د لیرې کېدو سبب به د ګناهو څخه وي.

۵- هر کله چې مسلمانان په یو ځای کې سره ټول سي، او زړونه ئې د اخلاص د رویه و الله تعالی ته متوجه، او لاسونه ئې و الله ته اوږده، او ژبې ئې په ډېر تضرع او عجز او زاریو د ده په یاد او د خپلو حاجتو په غوښتلو مشغوله وي، نو شک نسته، چې الله تعالی به ئې نا امیده او بې هیلې نه پرېږدي، او انشاءالله تعالی ټوله به چې په دې کار کې سره شریک دي و خپل مقصود ته ورسوي.

علاوه پر دغه د دوی یو ځای کېده، په هغه صورت کې چې عادي جامې (کالي) ئې له خپلو ځانو څخه لیرې کړي، د دنیا علائق ئې له زړه څخه ایستلي او له ګناهو څخه پښیمانه سوي وي، بزه ګار (ګنه ګار)، شریف او عاجز، فرمان وړونکی ټول بېریدونکي او د بخښنې هیله او آرزو لري، دوی د قیامت د ورځې په یاد کې اچوي، (يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ (٣٤) وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ (٣٥) وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ) د خپل کار د سمون په فکر (جاج) کې راځي.

٦- لیدل د هغو ځایو چې د اسلام دین هلته ظهور کړی دئ، او حضرت رسول کریم ﷺ هلته مبعوث سوی دئ، او د هغه منور بنار لیدل چې هلته د حضرت نبوی ﷺ او اصحابو مهاجرت د اسلام د عزت او پېشرفت سبب ګرځېدلی دئ، سړی و دې ته متوجه کوي چې د دین خپرېدل له داسې ځای څخه چې د ودانیو او تمدن څخه لیرې دي، او د دغه دین داسې ژر پېشرفت چې په لږ زمانه کې ئې شرق او غرب ګرده ونیو پرته له معجزې او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

الله د مرستي څخه بل شی نه وو او نه دئ.

له دغه څخه چې بیان مو کړه ثابتېږي چې د اسلام دین داسي قوانین راوړي دي چې هر سړی هم مستقیماً اصلاح کوي اخلاق ئې درست او عقل ئې کاملوي او همدی د جامعې یو ګټور غړی جوړوي.

دریم مقصد

د جامعې اصلاح:

حضرت نور الهدی رحمة للعلمین محمد مصطفی ﷺ د جامعې د اصلاح له پاره دوې لاري غوره کړي دي:

اول: د بنځې په باره کې انصاف او د دې د شان لوړول.

دوهم: د مریانو د آزادی له پاره د وسایلو غونډول.

لومړی لار: د بنځې په باره کې انصاف او د دې د شان لوړول:

اجمال

بنځه په پخوانیو ملتو کې:

د آتن وګړي نسبت و نورو قدیمو ملتو ته زیات متمدن وه بنځه ئې لکه کم قیمته او ارزان بها کالي مستعملوله او معامله کوله، د آتن په بازارو کې ئې رانیول او خرڅېدل کېده. د آتن خلګو بنځه نجسه او د شیطان څخه پیدا سوې ګڼله، دا ئې پرته د کور او هلکانو د چوپړ څخه د ژوندون د منافعو څخه محرومه کړې وه، د آتن وګړو چې هر څو بنځې ځان ته غوښتې کولې ئې.

اسپارتي سړی منع وو، چې پرته له مخصوص مورد څخه تر یوه بنځه زیاتي وکي مګر بنځه آزاده وه چې هر څو مړونه کوي، کول ئې، د اسپارتیانو ډېرو بنځو دغه خوی چې نهایت د رذالت او بی همتی او خجالت خوی دی غوره کړي وو.

د روم په دولت که په لومړي سر کي وو او که په آخر کي وو، د ماندینو شمېر قانوني او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

(وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ)[1] د بنځو له پاره پر نارینه وو هغه حقوق دي چې نارینه ئې پر بنځو لري د خیر او معروف په ډول، او نارینه وو لره پر بنځو درجه او لوړتوب دئ.

د محمد رسول الله ﷺ پیروانو، یعني مومنانو او مسلمانانو په دې باره کي په خپل رسول ﷺ پسې پوره اقتدا وکړه، د بنځو په احترام او د دوی په رتبه کي ئې سستي او کمبوټ ونه کی، تر دې حده پوري چې حضرت بي بي عائشه رضی الله عنها ئې په نامه د (سیدة النساء اهل الجنة) وبلله چې د دې پر اصلاح او تقوی او عفت دلیل وي[2]، د دین د دښمنانو یوې ډلې د بنځو حقوق پاته کړي، او په ډېره ناپوهي او بیعقلي او جهالت سره ئې پر اسلام حمله کړې ده او ویلي ئې دي چې د بنځو حقوق ئې د حجاب په واسطه پایماله کړي دي، نو د دې له پاره که دغه کسان د انصاف په سترګو په قرآن او احادثو کي او د اسلافو رفتار وګوري ژر به تصدیق وکي چې اسلام د بنځي په باره کي ډېر په انصاف سره قانون ایښی دئ، ځکه هغه بنځه چې په چین کي بندي کېدله، او په ایران کي بې قدره او سپکه وه، په مصر کي خواره وه، په اروپا کي مال او مملوکه وه، په غربي ښارو کي ئې حکم د کالو درلود، چې په میراث کي رسېدله، اسلام خورا ډېره پورته کړه او د دې حقوق ئې لکه چې ورسره ښائي کاملاً رعایت او وساتل.

وګورئ! چې د بنځي بې اهمیتي تر کومه حده رسیدلې وه، د میلاد په ۵۸۶ کال کي د فرانسې په ځینو ولایاتو کي یو مجلس جوړ سو چې د بنځو په باره کي ئې بحث وو، چې آیا بنځه انسان ده یا د بلي نوع څخه ده؟ د ډېر بحث په پای کي د انجمن رایه پر دې سوله چې بنځه انسان ده مګر د نارینه او میړه د خدمت له پاره پیدا سوې ده. لنډه دا چې حضرت سید المرسلین ﷺ په داسي زمانه کي رسول سو چې ځینو وګړو نجوني ژوندۍ په قبر منډلې، او په هیڅ ښار کي وګړي د بنځي پر حق قایل نه وه هر ډول بنځه چې وه که نجلۍ وه که مړوښې که مور. حضرت محمد رسول الله ﷺ راغی د بنځي له پاره ئې داسي حقوق

---

(۱) ۴ سورة (بقرة) د ۲۲۸ آیت آخر.

(۲) د حضرت بي بي فاطمې رضی الله عنها په باره کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په تواتر روایتو سره نقل سوي دا ئې د دنیا د بنځو سیده یا د جنت د بنځو سیده بللې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansi

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

پلار نه سي کولای چي لور په ګټه او مزدوري مجبوره کي، لکه زوی چي مجبوره کوي، بلکي که لور په خپله رضا او خوښه کوم مشروع کار کوي او د خپل خرڅ په اندازه د خپلي ګټي او کار څخه استفاده کوي نو په دغه صورت کي ئې نفقه د پلار د غاړي اوړي ساقطیږي.

د: د اسلام شریعت د هغي لور رضا چي و رشد ته رسېدلې وي د نکاح د ترلو په باره کي معتبره ده، هیڅوک نه سي کولای چي نجلۍ د دې بې رضا په نکاح او مېړه کولو مجبوره کيَ، دغه اختیار یو حق دئ چي د مسلمان لور ته د میلاد په اووم قرن کي ورکړه سوی دئ پر خلاف د دې، د اروپا ښځي د میلاد تر شپاړسم قرن پورې له دغه حق څخه بې برخي وې.

دوهم: د اسلام په نظر کي مړو ښځه:

الف: د جاهلیت د زمانې د وګړو دا عادت وو چي سړی به مړ سو، نو وارث به ئې خپله کومه جامه د ده د ښځي پر مخ وغورولە (لیکن په دې صورت کي چي دغه ښځه به د وارث مور نه وه) او ویل به ئې دغه ښځه په میراث ورم یعني میراث مي ده لکه چي د مړه مال مي میراث دئ، نو د دغه کار په اثر به ښځه بېخي بې اختیاره وه که به وارث وغوښته چي دغه متروکه ښځه بې مهره ځانته ماینه کي هم ئې کولای سوای، او که به ئې زړه وغوښت، بل چا ته به ئې ورکړه، مهر به ئې ده وخوړ، او که به ئې وغوښته چي بېخي دي میړه نه کوي، چي د دې تر مرګ وروسته د دې میراث د ده وي هم ئې اختیار وو، د اسلام شریعت دغه باطل حق ښه پسې باطل او دغه د ظلم میراث خوري ئې منع کړه، او وئي ویل:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا)[1].

ب: عربو په ډول ډول لارو سره خپلي ښځي د میړه کولو څخه منع کولې، وارث نه پرېښوولە چي د مړه ماینه (کونډه) میړه وکي مګر په دې شرط چي دغي کونډې د خپل میراث برخه وارث ته ورکړې وای، پلار پر لور دغه حق درلود څو لور ئې خپله ګرده دارایي و پلار ته نه وای ورکړې، ده کولای سو چي لور ئې د میړه کولو څخه منع کړې وای هغه

---

[1] ۴ سورة (النساء) ۲۳ آیت.

Downloaded By: Afghan Salar Library

حقوق چې د ميړه له پاره پر ښځه ايښود سوي دي ټوله منفي حقوق او کارونه دي چې هيڅ تکليف پکښې نسته، علاوه پر دې د دغو حقوقو په ځای کولو کې د ښځې شرف، عفت او د دې د مرتبې او عزت لور توب پروت دئ.

د اسلامي شريعت د فضلو څخه يو فضل د ښځې په باره کې دغه دئ چې د اولاد مصرف او نفقه ئې د پلار پر ذمه کړې ده، او ښځه که هر څونه دارايي ولري او بډايه وي له دغه څخه ئې معافه کړې ده، مسلمانه ښځه د کامل شخصيت لرونکې ده، هغه حقوق چې يو د مستقلې ارادې خاوند او آزاد سړی ئې لري دا ئې هم لري مسلمانه ښځه په خپله دارايې او پيسو سره هر کار چې زړه ئې وغواړي په کولای ئې سي، کولای سي چې په هغه سره تجارت وکې او ګټه ئې کاملاً په خپله واخلي بې له دې چې ميړه ئې يو جزوي حق او تصرف پکښې وکې، ليکن دغه اختيارات ئې د شرعی قانون په چوکاټ کې دي، هر کله چې ئې ميړه مړ سي که زوی و نه لري څلورمه برخه ميراث و دې ته رسيږي:

(الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ).

د اسلام شريعت تر يوې معيني مودې پورې د حضانت حق و ښځې ته مقرر کړی دئ، او که ئې ميړه په کوم بد او مخصوص مرض اخته وي، کولای سي چې طلاق وغواړي.

بل دا چې که د نکاح د ترلو په وخت کې د ښځې له پاره مهر معين نه سي، نو د دې حق مهر مثل دئ، د ميړه څخه مهر مثل اخيستلای سي.

دريم: ښځه د مور توب د لحاظه:

الف: حضرت رسول مقبول ﷺ فرمايلي دي چې: جنت د مندو تر پښو لاندې دئ، حضرت انس رضی اللہ عنہ ويلي دي چې: د حضرت رحمة للعلمين ﷺ په زمانه کې يو ځوان وو چې علقمه نومېدی ډېر سخت ناجوړه سو، ده ته ئې وويل چې د (لااله الاالله) کلمه ووايه، نه ئې سوای ويلای، نو حضرت رسول الله ﷺ ته ئې حال يووی، حضرت مبارک ﷺ وويل چې مور او پلار لري؟ ورته وئې يل چې پلار ئې مړ دئ، يوه ډېره سپين سرې بوډی مور لري. حضرت نبوی ﷺ ئې مور را وغوښتله، او د دې د زوی د احوال پوښتنه ئې ځنې وکړه، بوډی ورته وويل چې: زما زوی علقمه ښه لمونځ کاوه، روژه ئې نيوله، زکوة

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

او خيرات ئې و فقيرانو ته ډېر ورکاوه سخی وو. حضرت رسول الله ﷺ ورته وويل: چې ستا سره ئې څنګه ګذاره کوله؟ دې ورته وويل: چې زه ځنې خپه او خوابدې وم پر ما به په قهر کېدی، حضرت ﷺ وويل: چې ولي؟ دې ورته وويل: چې د ماندينې پر خبره ئې غوږ نيوی زما خبره ئې د ماينې تر خبرې پورې هيڅ نه ګڼله، د ماينې تر حکم لاندې وو. حضرت ﷺ وويل: دغه د مور خوابدي ئې د دغه ځوان ژبه د لااله الاالله د کلمی د ويلو څخه بنده کړېده. نو حضرت بلال رضی الله عنه ته ئې وويل: چې ډېر بوتې راوړه چې دغه سړی په اور کې وسوځوم، مور ئې وويل: دغه زما د سترګو نور او د زړه مېوه زما په مخ کې سوځې؟ زما زړه دغه د زوی سونګ ګلولای سي؟

حضرت محمد رسول الله ﷺ ورته وويل: چې که غواړې چې الله تعالی ئې وبخښي او په اور کې ئې ونه سوځي، نو د ده څخه راضي سه! قسم په الله دئ چې ته ځنی راضي نه سې، دغه لمونځونه، روژې او سخاوي ئې په ښه نه ورځي، وروسته بوډی په دعا لاس پورته کې وئې ويل: الله تعالی او رسول الله ﷺ او ټوله حاضرين شاهدان دي چې زه د ده څخه خوشحاله او راضي يم حضرت رسول مقبول ﷺ و حضرت بلال رضی الله عنه ته وويل: چې اوس ورسه وګوره چې د علقمه ژبه د شهادت پر کلمه خلاصه ده که يه؟ ځکه چې مور به ئې د حضرت نبوی ﷺ د شرمه څخه په ژبه راضي سوې وي نه د زړه د صدق څخه.

حضرت بلال رضی الله عنه ولاړ چې د علقمه د دروازې و چارچوب ته ورسېدی د علقمه آواز ئې واروېدی چې ويل ئې (لااله الاالله) هغه ځوان په دغه ورځ وفات سو. د دغه روايت څخه ښه څرګندېږي چې حضرت رسول الله ﷺ تر څونه اندازې پورې مور محترمه او بزرګه ګڼلې ده او د دې احترام ئې لازم ګڼلی دئ.

ب: د اسلام شريعت دغه حکم کړی دئ چې د ښځې زوی مړ سي مور دي خپله برخه ميراث يوسي چې د عجز او سپين سرتوب په وخت کې د اړې څخه وساتله سي او د ده د مال څخه په ارامي ژوند وکولای سي، په دې باره کې په قرآن کريم کې فرمايل سوي دي:

(وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ)[1]

---

[1] ۴ سورة (النساء) ۱۲ آية.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

ولاړه سي.

په اسلام کي بنځه د خپل مال په نسبت هر ډول چي ئې کوي آزاده ده، بنځه کولای سي چي مينځه او مريی ولري، او حق او اختيار لري چي هغه آزاد کي، بنځه د هر چا سره چي وغواړي ترون وکي يا معامله وکي، د ميړه او پلار بې اذنه په شرعی چوکاټ کي دننه ئې کولای سي بنځه د اسلام په قانون کي کولای سي چي په مرافعه کي د دوو طرفو څخه د يوه طرف وکيله سی.

پنځم: د بنځي او نر په منځ کي سنجش:

(د بنځي او نر ممیزات)

الف: اسلام د لوی امامت او سلطنت حق و نارينه ته ورکړی دئ ځکه چي د سلطنت او پاچهی کار ډير سخت وي، ځکه چي بايد د رعيتو کارونه اجرا کي او اداري او سياسي شئونات منظم کي، تعليميافته او تربيه سوي لښکر و دروي د تعليم، تربيې، معارفو، اقتصادي او اجتماعي مؤسسو ته تقويه او پېشرفت ورکي شک نسته چي بنځه تر دې سختو کارو تر عهده نه سي وتلای، هو! که څوک ووايي چي ځينې بنځي د دې کارو تر عهدې وتلي دي او تر نارينه وو ښه د سلطنت واګي په منظم صورت سره نيولي دي او د حکومت او ملت اداره ئې په ښه ډول کړيده نو موږ په جواب کي وايو چي دغسي بنځي ډېرې لږ دي، د تشريع او قانون ايښوولو په مقام کي بايد و کثرت ته وکتل سي.

ب: د اسلام شريعت د طلاق اختيار د نارينه په لاس ور کړی دئ، ځکه چي د بنځي نفقه، جامه، مهر او نور تکليف ئې د ميړه پر اوږو اچول سوي دي، نو دا به د عقل او انصاف څخه ليرې وي چي د طلاق حق د نارينه په لاس کي نه وي، بل دا چي طبيعي ده چي بنځه ژر د خپلې عاطفې محکومه کېږي او پر اندک شي باندې متاثره او خپه کېږي او که طلاق د بنځي په لاس کي سي، نو په لږ تاثير سره د نکاح غوټه خلاصوي او دغه د مړونې مزي شلوي، په همدې سبب د ژوندون بنسټ ورانېږي، نو ځکه حکمت دغه اقتضاء لري چي دغه اختيار دي، د دې په لاس کي نه وي.

ج: اسلام د شهادت په مسئله کي دوې بنځي د يوه نر په منزله کي درولي دی د دې له پاره که پريوې هېره يا ګمراهی غلبه وکي، هغه بله به ئې ورپه ياد وي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

د ماینو شمیر یا د زوجانو تعدد:

د اسلام دښمنانو چې د دې دین د اسرارو څخه خبر نه دي او په مزایاوو ئې نه پوهیږي د زوجانو پر تعدد ئې اعتراض کړی دئ، او دغه جفا بولي، نو ښه دا ده چې د انصاف له رویه هغه علل او اسباب چې نه یوازې د دې موضوع جواز د هغو په استناد سره منل کیږي بلکې نژدې و دې ته دي چې د ماندینو د تعدد وجوب هم ثابت کي په دقت سره وګوري او یا د منصف په ډول تامل وکي چې څرنګه نور ملل د ماندینو د تعدد د ممانعت په سبب د اخلاقی پستیو سره مخامخ او په رذائلو اخته سوي دي.

د ماندینو د تعدد علل او اسباب:

الف: کله کله ښځه په زړو او مزمنو ناجوړیو، یا په داسي مرض اخته سي چې مېړه نه سي ور نژدې کیدای، نو په دې صورت سړی ناچاره کیږي چې د خپل شرف سره منافي کارو ته ملا وتړي.

ب: غالباً د ښځو شمېر تر نارینه وو زیات دئ، په زیاته د زیاتو جنګو په اثر سره، نو که د ماندینو تعدد ممنوع سي نو یوه ډله ښځي به بې مېړه پاته سي، دا خو هم څرګنده ده چې ښځه د طبیعي سیاق او هم د ژوندون له لحاظه څخه و مېړه ته اړه ده، نو په دې صورت خامخا په فساد ککړه کیږي، او د دې کورنۍ ته د دې په فحش ژړه ورا وړي.

ج: د نسل او مېړو ډېرښت، چې دغه د نفوسو، کثرت د اسلامي امتو د شوکت او دبدبې، او د اسلام سطوت او ستاړې او د اسلام د کلمې د نفوذ مایه ده، او د دین او اسلام د دښمنانو د ډار او بېرې سبب دئ، څرنګه چې د ماینو د تعدد ممانعت د نسل او د مېړو د کمښت سبب ګرځي، او دغه کم نسلي د دې موجب ګرځي چې اسلام په ضعیف کیږي، نو چې اسلام ضعیف سي، دښمنان او غلیمان ئې طمع کوي او لاس ورغزوي، غواړي چې غوړې تېر او محوه ئې کړي.

په دې موضوع کي لوی دلیل دا دئ چې د غربي ملتو هوښیاران د خپل امت د آخر کار څخه، چې افراد ئې د یوې خوا د ماندینو د تعدد څخه منع دي، او د بلي خوا د ماندینې او اولادو د خرڅ او مصرف د بار د بېرې د ماینې نه کول دوی په فحشاء او په بې شرفه کارو او

Downloaded By: Afghan Salar Library

په کمي سره اخته کړي دي، ډېر په فکر کي دي چي څه چاره ئې وکي؟

غربي مملکتونه د زړه له کومي وس کوي چي د قسم، قوْل او تړون په واسطه د بل د بېري ځان سره مربوط او مرستیال کي او د پوره آزادۍ څخه لاس مینځي او خپل ځان د اوږد عهد او پیمان او تړون د قیود او موادو تر بار لاندي نیسي دا ولی؟ دا د دې له پاره چي د خپلو افرادو کمبوت په بل پوره کي او د افرادو د ډېرښت د فایدې څخه کار واخلي ځان په قوی کړي. له دې ځایه څرګندېږي چي اسلام تر کمي اندازې د ماندینو د تعدد په وسیله چي د طبعیت د ناموس سره سم کار دئ، پر خپلو مسلمانانو افرادو کار اسانه کړی دئ، او د افرادو ډېرښت چي د شوکت، ستاړې، قوت، سیادت، حربت، مریي توب او خواری د مخنیوي سبب او مایه ده د خپلي طبیعي لاري څخه تامین کړي دي!

د: د غیر اسلامي مملکتو څخه دغه اوازه را رسېږي چي د ماندینو د تعدد ممانعت د نامشروعو او ارمونو اولادو د ډېرښت (د دغو اولادو توارث ځیني هوښیاران متوجه او متفکر کړي دي) او د عالم تباه مرضو د شیوع او خپرېدو (چي ښځه او نر کوچنی او لوی ګرده په اخته سوي دي طبیبان او ډاکټران ئې د علاجه څخه عاجز دي) سبب ګرځېدلي دي.

اووم: په خپله د سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم د زوجاتو د تعدد علل او عوامل:

هغه شیاز چي د دې کار علل او عوامل ګڼل کېږي دوه ډوله دي:

۱- عامه

۲- خاصه

عامه اسباب

الف: حضرت نور الهدی رحمة للعلمین ﷺ نارینه او ښځو ته را استول سوی دئ، د دواړو ډلو احوال باید اصلاح کي، او هغه احکام چي د دواړو شریک یا مخصوص په یوه پوري اړه لري باید و دوی ته ورسوي، نو د احکامو د رسولو له پاره زیات اشخاص په کار دي چي باید د حضرت رسول الله ﷺ څخه ئې واوري او نورو وګړو ته ئې ورسوي، که دا نه وي، نو د رسالت د زمانې د لږ توب د بشري افرادو د زیادت او تیت و پرک توب، او د احکامو د ډېرښت سره به څرنګه الهی پیام و ټولو خلګو ته ورسېږي او څنګه به دوی ته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

وغوښته (د دې نکل به وسي) آزاد سول او اسلام ئې راوړ؟

د حضرت نبی کریم ﷺ په دغه فرموده کې چې د خپل زوی حضرت ابراهیم ؓ په باره کې ئې ویلې ده: (لوعاش لو ضعف. الجزیة عن کل قبطی) فکر وکړئ، د دې خبرې څخه د حضرت مبارک ﷺ مطلب دا وو، که ابراهیم ؓ ژوندی پاته سوی وای، ماماګانو (قبطیان) به ئې د ده د تجلیل او اکرام، عزت او په ده سره د خوشالۍ په سبب اسلام راوړی وای، نو جزیه به مې ځنې ایسته کړې وای.

یو له هغه شیانو څخه دغه مطلب ښه ثابتوي د حضرت ﷺ د ازواجو د تعدد سبب همدغه نتیجه وه چې د خپلوانو څخه منظور وه، هغه دا ده چې اکثره ازواجې مطهراتې ؓ د عربو (قریشو) د غټو مشرانو او بزرګانو د کورنۍ څخه وې.

علاوه پر دې مسلمانانو د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپلوي د ځان له پاره غټ شرف ګاڼه، او د دې لارې څخه ئې و الله تعالی ته ځانونه نژدې کول او خپلې آخرې آرزو ته رسېدل.

هغه وخت چې حضرت رسول الله ﷺ د حضرت عمر ؓ د لور بي بي حفصې ؓ څخه لږ څه ګوښه سو، نو حضرت عمر ؓ ډېر غمجن سو او ویل ئې: "د دې پسه لکه چې د الله تعالی نظر د عمر څخه اوښتی دئ" تر هغې وخته چې رسول الله ﷺ و دغې بی بی ته رجوع نه وه کړې د حضرت عمر ؓ سره غم ورسره وو، حضرت علی کرم الله وجهه سره له دې چې حضرت ﷺ د یوې خوا خپل او د بلې خوا ئې زوم وو، لا ئې هم غوښته چې خپله خور حضرته بي بي ام هانې ؓ و حضرت ﷺ ته په نکاح ورکې چې شرف ئې زیات سي، ام هانې ؓ چې څو اولادونه درلوده چې د دوی خدمت پر دې وو وبېړه چې زه به د اولاد په خدمت اخته یم، د حضرت نبوی ﷺ خدمت به لکه ښایي ونه کولای سم نو ځکه ئې نټه وکړه.

خاص اسباب:

د حضرت محمد رسول الله ﷺ د حضرته بي بي جویریه ؓ سره د ازدواج سبب دا وو چې د دغې بي بي پلار د ضرار زوی حارث، د بنی مصطلق بن خزاعه سردار او غټ مشر وو دمخه تر دې چې اسلام راوړي څه لښکر ئې سره تول کی غوښتې چې د حضرت ﷺ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

سره وجنګېږي څرنګه چې د حارث لښکر او اسلامي لښکر سره مخامخ سوله حضرت رسول الله ﷺ دوی اسلام او ایمان ته راوبلل، دوی قبول نه کړ، نو جنګ سره ونوښت، نتیجه دا سوه چې اسلام فاتح سو، او د حارث لښکر مات او وتښتېدی، بي بي جویریه د حارث لور چې بره ئې بلله د ثابت بن قیس په برخه ورغله، ثابت د دې سره مکاتبه[1] وکړه چې اووه اوقیې زرورکي او دا آزاده سي، دغي بي بي زر نه درلوده، و حضرت محمد رسول الله ﷺ ته راغله او ځان ئې په وپېژندی، او د آزادۍ درخواست ئې ځني وکړ، حضرت نبوی ﷺ په دې ملحوظ چې د دې قوم معزز او د قوت خاوندان دي، او د دښمنۍ او د ناپوهۍ له حیثه په دغه خواري کي لوېدلي دي نو هغه زر چې ثابت د دغي بي بي ځخه غوښته حضرت ﷺ ورکړه دا او د دې بي بي قوم ئې په دغه کار خوشحاله کړه. بیا ئې دغه بي بي په نکاح کړه، هر کله چې مسلمانان په دغه نکاح خبر سوله، هغه بندیان چې د بني مصطلق د قبیلې ځخه ئې په لاس کي وه ټوله ئې آزاد کړل، بني مصطلق چې په دغه کیفیت خبر سول نو د دغه آزادۍ د تشکر له امله ټولو ایمان راوړ، او په اسلام کي داخل سول!

د حضرت رحمة للعلمین ﷺ ازدواج د بي بي حفصې رضی الله عنها سره چې د حضرت عمر رضی الله عنه لور وه داسي وو: چې د بدر په جنګ کي د دغي بي بي مېړه ټپي سو، او د دغه ټپ ځخه مړ سو، په دغه وخت کي حضرت بي بي رقیه د حضرت محمد رسول الله ﷺ لور چې د حضرت عثمان رضی الله عنه په نکاح کي وه وفات سوله، حضرت عمر رضی الله عنه بي بي حفصه رضی الله عنها و حضرت عثمان رضی الله عنه ته ور کوله، د حضرت عثمان رضی الله عنه دغه په زړه کي وه چې د حضرت ﷺ بله لور حضرته بي بي ام کلثوم رضی الله عنها په نکاح کي چې ذوالنورین سي او شرف ئې بنه زیات سي، نو ئې د بي بي حفصې رضی الله عنها ځخه صرف نظر وکی څرنګه چې حضرت عمر رضی الله عنه ته د ده د اعراض علت معلوم نه وو، نو خپه او خوابدی سو، او حضرت ﷺ ته ئې د حضرت عثمان رضی الله عنه ځخه شکوه وکړه، نو الله تعالی جل وعلی شانه داسي اراده وکړه چې حضرت عثمان رضی الله عنه ته د حضرت عمر رضی الله عنه تر لور بنه بنځه ورکي، او د حضرت عمر رضی الله عنه

---

[1] مکاتبه د فقهي یوه اصطلاح ده، دغه یو قرارداد دئ د بادار او مریي یا مینځي په منځ کي چې څه روپۍ بادار ته ورکي ځان آزاد کړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansal

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

دغه کار په خپله وکي، ټولو مسلمانانو ئې پيروي وکړه.

د جاهليت د وختو، خونونه، سود خوري هم د دغي جملې څخه دي. ځکه چې حضرت محمد رسول الله ﷺ د حجة الوداع په خطبه کي وويل: د جاهليت د زمانې ربا واخيستله سوه، لومړۍ ربا چې زه ئې پورته کوم او باطله کوم ئې، زما د اکا عباس ربا ده، او د جاهليت د زمانې خونونه واخيستل سوه پورته سوه (باطل سوه) لومړی خون چې زه ئې په بطلان پيل کوم د عامر بن ربيعه بن حارث، بن عبد المطلب خون دئ.

د دې کار حکمت دا دئ: چې دوه سوه واره ويل، نيم عمل نه دئ، په زياته بيا د تشريع او قانون ايښوولي په ځای کي عمل يو په سله ترويونا مؤثر دي، او دلالت ئې قوی دئ.

دوهم: د اعرابو د عاداتو څخه يو دا وو، چې چا ته به ئې خپل زوی ووايه نو دی به ئې له هره حيثه د حقيقي زوی په ډول ګانه، نو ځکه د هغه چا مامنه چې ده به زوی ورته وايه او پر زوی توب به ئې نيولی وو پر دغه ساختګي او غير حقيقي پلار حرامه وه.

نو الله تعالی وغوښته چې دغه باطله عقيده باطله کي نو حضرت رسول کريم ﷺ ئې په خپله د دغه کار د بطلان له پاره دمخه کی چې اول ئې دی مبارک عملی کي حضرت محمد رسول الله ﷺ خپل مريی (زيد) ازاد کی او کوښښ ئې وکړ چې دی واده وکي، نو بي بي زينبه ئې ورته انتخاب کړه ليکن زيد د داسي ښځي سره لکه بي بي زينبه اسدي چې خورا اصيله او لوړ حسب ئې وو سره برابر نه سول، نو ځکه بي بي زينبي او ورور ئې عبدالله تټه وکړه په دې دليل چې زيد زوی بلل سوی او پست مرتبه دئ، زينبه د لوړ مقام مېرمن ده، نو دغه آيت نازل سو: (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلاَ مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالا مُبِينًا)[1].

مؤمن او مؤمنه د الله تعالی او د ده د رسول ﷺ د فرمان په مقابل کي د ځان اختيار نه لري هر څوک چې د الله تعالی او د ده د رسول ﷺ د فرمان پر خلاف کار کوي نو په ښکاره ګمراهي کي دي، نو په دې سبب خو راو وروړ د الله تعالی وقضا تته تن ورکی په دې کار راضی سوله، تر نکاح وروسته زينبي پر زيد تکبر کاوه او د ده څخه خوشحاله نه وه او وړئې نه سره ووت، زيد چې د بي بي زينبي په تکبير او تنفر پوه سو. او وئي ليده چې د

---

(۱) ۳۳ سورة (احزاب) ۳٦ آية.

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

انصافي ده چي څوک پر هغو بزرګانو چي خپل کارونه ئې د خپلې زمانې او ځای د اقتضاء سره سم اجرا کړي وي اعتراض وکي او د دوی د فکر او د جلال او عظمت او د لوړ مقام په نسبت ناوړه او نالايقي او سپکي و سپوري ووايي آيا دا ډېره نالايقه او سپکه خبره نه ده چي سړی ووايي چي حضرت عيسی عليه السلام (العياذ بالله) يو مفهوم فرسته سړی وو چي هغه چي غوښته ئې او ويل ئې او ويل به ئې تحقيق پذيره نه دي؟ آيا دا ويل سپک او بې ځايه نه دي چي وويل سي چي د حضرت موسی او حضرت عيسی عيلهما السلام ژوندون نسبت د نن ورځي ژوندون ته چي ډېر غوره او د هر چا خوښ دئ يو ناجوړه ژوندون وو بېشکه چي د دغو دواړو انبياوو ژوندون سراسر پند او نصيحت او سرمشق وو هيڅ لره نه ښايي چي (نعوذبالله) دغسي خبري پر وکي له دې څخه زموږ مطلب او خبره ښه څرګنده او ثابته ږي چي وايو حضرت محمد ﷺ و ګردو انسانانو ته رسول دئ د بشريت وده او ترقي په خپله په دې کي مجسمه ګرځېدلې وه او حکمت په دې کي وو چي د خپل رسالت د زماني اجتماعي احوال او اوضاع په يوه واربل ډول ونه ګرځوي او قومي خويونه او عادت په يوه پلا ورک نه کي چي د يوي واري ئې ريښه وکاږي او اجتماعي او سياسي نظام په يوه پلا سره ګډوډ کي بلکي هغه خويونه او عادات چي فاسد وي ورک ئې کړي او هغه چي د جهان د آبادی په نظام کي ګټور وي هغه د ککړتيا او خرافاتو څخه پاک کي او پر ځای ئې پرېږدي.

دا هم ډېره وړ ده چي ووايو: چي د حضرت سيدالمرسلين ﷺ د ممانعت[1] حکم د ښځو د زياتولو او د دوی د طلاق څخه تر دې وروسته وو چي اسلام ښه خپور سو او د زوجاتو د تعدد حکمت ثابت او محقق و ګرځېدی.

اتم: د طلاق جواز:

الف: نجريی ثابته کړې ده چي طلاق د سختو زيانو څخه د خلاصېدلو له پاره يوه ښه لار او ښه فرصت دئ د دليل د رويه ثابته سوې ده چي د اسلام دين چي د طلاق په باره کي اجازه کړې او يوه لار ئې ورته اينبې ده نسبت و هغه ته چي په نورو اديانو کي رواج لري و

(۱) دا چه الله تعالى وائي: (لايحل لک النساء من بعد ولا ان تبدل بهن من ازواج).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ)[1]

هغه کسان چې ایلا کوي (قسم اخلي چې د خپلي ښځي څخه به لیري ګرځي په فقه کي د ایلا کتاب د همدغه آیة څخه جوړ سوی دئ) باید څلور میاشتي خپل ځان وساتی که بیرته وګرځي او خپلي ښځي ته نژدې سي الله تعالی (تر کفارت ورکولو وروسته) بخښونکی او مهربان دئ او که د ایلاء څخه د طلاق نیت وکي، الله اورېدونکی دئ (د دوی د خبرو) او عالم دئ (د دوی په نیت) هغه ښځي چې طلاقي سوي وي باید دوی (طهر) انتظار وکي او دوی ته روا نه دي که ځې پر الله او آخرت ایمان راوړی دئ دا چې هغه د دوی په ارحامو کي دي (طهر وی او حیض) پټ کي په هغه وخت کي چې د دوی عده نه وي پوره سوې د دوی میړونه اول حق لري چې بیرته ځې ماینه کي (رجوع ورته وکي) که چیري د دوی نیت د ښځو د کار صلاحیت وي (نه د دوی د آزار) د ښځو پر نارینه وو هغسي حق دئ لکه د نارینه وو دا چې پر ښځو دئ د خیر او معروف په ډول او د نارینه وو پر ښځو زیادت او درجه ده او الله غالب او دانا (عالم) دي طلاق دوه وار دي یا په خوښي سره باید خپله ښځه وساتله سي (په عده کي په رجوع سره یا تر عدې وروسته په نوي نکاح سره) یا په ښکي سره ایله سي تاسی ته حلال نه دي چې هغه شی (مهر یا نفقه چې ورکړی مو دي بیرته ځې ځني واخلی مګر په دې صورت چې نر او ښځه ببرېږي چې د الله تعالی حدود نه سی برپایه کولای (نه ځې سي عملي کولای) په دې صورت کي باک نسته چې د ښځي هغه څه واخلي چې دا ځې د ځان د ایله کولو له پاره ورکوي دا دي د الله حدود نو تر دغو مه تېرېږئ هغه کسان چې د الله تر حدود تېر سي نو بېشکه ظالمان دي نو که ښځي ته بیا طلاق (تر مخنیو دوو طلاقو وروسته) ورکي دغه ښځه و دغه سړی ته حلاله نه ده مګر وروسته تر بل میړه (چې بل ځې په نکاح کړي دخول او وطي کي) بیا ځې طلاقه کي تر عدې وروسته بیا ورته حلاله ښځي.

علاوه پر دې د اسلام شریعت د حدیث په ژبه اعلان کړی دئ چې "د الله په نزد مبغوضترینه د مباحاتو څخه طلاق دئ".

اسلام چې له هره بابته د اجتماعی کارو او د مدنیت د نوامیسو سره بیخي ور او

---

[1] ۲ سورة (بقرة) ۲۲۶ - ۲۳۱ آیة.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128
Telegram:https://t.me/afgh

Downloaded By: Afghan Salar Library

مناسب دئ بايد په کلئ او قطعي ډول ئې طلاق نه واى حرام کړى ځکه چې طلاق مطلق شر نه دئ چې حکمت د هغه د محو او نېستۍ اقتضا وکې بلکې کله کله ئې ضرورت وجود ميدان ته راولي يعنى ضرورت دا ايجابوى چې طلاق دي پېښ سي له همدې جهته په مخصوصو حالاتو او معينو شرطو سره مباح بلل سوى دئ.

دا چې فرمايلي ئې دي چې طلاق دوه واره بيا يا په خوښي سره د ښځې ساتل يا په نېکي سره ئې ايله کول دي حکمت ئې دا دئ چې ممکن دئ په دغه ترڅ کې سره جوړ سي او بيرته سره ورسي او پخلا سي علاوه پر دې د اسلام شريعت لار ښوولى ده چې تر طلاق دمخه دي تحکيم وسي ښايي چې بيرته په دې وسيله د فکر د رويه د خپل کار په اصلاح او مصلحت پوه سي او د خپلې مړوښۍ تناو ونه شلوي.

تر دې لوړ انصاف او عدل چيرې دئ چې د اسلام شارع وايي چې "تر ټولو مباحاتو مبغوض ترينه مباح طلاق دئ او (او طلاق دوه واره دئ) او د طلاق تر انجامولو دمخه بايد تحکيم وسي او ښځه حق لري چې د معينو شرعي اسبابو په لحاظه وغواړي".

دغه ټوله د دې له پاره دې چې بې له شرطو د وجود څخه دي و طلاق ته اقدام نه کېږي او د کورنۍ او مړوښۍ د بخت او سعادت اساس دي نه ورانوى.

ټوله شرعي فقهاوو هغه طلاق چې ټوله شرطونه ئې پوره او ثابت سوي نه وي د هېر بد کار او مبعوض ئې بولي علاوه پر دې ځينې علماء عقيده لري چې هغه طلاق چې د زور او ظلم او جبر له رويه پېښ سي دا يو لغوه او باطل کار دئ.

عجبه لا دا ده چې د اسلام دښمنانو هغه شرايط او قيود چې شرع د طلاق د اباحث له پاره د اجتماع د ناموس د اقتضاء په سبب اينبې دي ځان غول اچولى لکه چې ليدلى ئې نه وي او د اسلامى فقهاوو د تحقيقاتو څخه ئې چې پر غربي قانون پوهانو د انسانيت او عدالت له لحاظه د هېر لوړ دي تجاهل کړى دئ اسلامي فقهاوو ويلي دي دا چې تر دريم طلاق وروسته الله تعالى د محلل قانون اينبى دئ د دې له پاره دئ چې نر او ښځه د طلاق وروستۍ بده نتيجه وسنجوي او ژر د اوبو دمخه گاولي ونه کاږي بې چرته طلاق وانه چوي.

د لويو اشتباهاتو څخه د (سرموير) اشتباه ده چې په خپل کتاب کې ئې (روش محمد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

دی په خپله په دغه خرڅلاو خوښ او راضي وو د مدافع وکیل د موکل په دفاع کي وویل: په انګلیسی قانون کي سل کاله دمخه د بنځي خرڅلاو سره د رضا د دي جائز وو او په ۱۸۰۱ میلادي کال کي د بنځي قیمت بنپړ پنس (قریباً بنپړ ریاله) مقرر او محدود وو محکمې ومنل چې دغه ماده په هغه قانون کي وه لیکن جواب ئې ورکی چې حکومت په ۱۸۰۵ م کال حکم کړی دئ چې بنځه دي نه خرڅېږي او نه دي بل ته پرېښوولے کېږي په پای کي د بنځي خرڅوونکی په لس میاشتی حبس محکوم سو.

۲ - دوهمه لاره:

د مریانو د آزادی له پاره د پېر وسائل را غونډول

مقدمه

دمخه تر دې چې په موضوع کي بحث وکړو د مریي توب معنی ته توضیح ورکوو او د جهان په مختلفو امتو کي د مریي توب د څرنګه والي او د هغه د منشاء څخه خبری کوو.

مریی توب:

رق په نازی ژبه/و نري او ضعیف ته وایي د زړه رقت هم د دغي معنی څخه اخیسته سوی دئ د فقهاوو په اصطلاح مریي توب و حکمي عجز ته وایي چې پر ځینو وګړو عارض کېږي.

د فرنګیانو په اصطلاح مریي توب دغه ته وایي چې یو څوک د خپلي طبیعي آزادی څخه محرومه سي او د بل مملوک وګرځي.

د مریي نیولو منشاء:

مریی نیول په هغو دورو کي پیدا سو چې تر دغه وخته لا بشري جامعه په نادانۍ کي وه.

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغه شيان چې د مريي توب سبب سوه:

۱ – څرنګه چې کار سخت دئ سړی په ستړی او په زهیر کېږي نو انسان په فکر کې سو چې په څه ډول د کار له باره ځان خلاص کي نو قوي راولاړ سو ضعیف ئې تر خپل بار لاندې واچاوه او خپل کارونه ئې د خپلې اوږې څخه ایسته کړه د عاجزه پر اوږه ئې واچول په دې ډول مریي توب میدان ته راووت.

۲ – تر دغه وروسته د انسانانو حرص ډېر سو د ژوندون په ډګر کې جنګونه شروع سول نو پر دې فیصله وسوه چې (فاتح او د بري خاوندان دي) مغلوب او مات دښمنان چې په لاس ورسي نه دې وژني بلکي ژوندي دې پرېږدي مریان دې وي خپل کارونه دي په کوي.

۳ – داقلیمو طبیعت چې د اجتماعاتو د تکوین قوي عوامل ګڼل کېږي د مریانو په زیاتوب کي لوی مؤثر شی دئ مثلاً په شرقی مملکتو کي چې د مریي قیمت لږ او د ده کار په صنعت، تجارت او نورو کي ډېر ګټور وو نو ځکه مریي توب پکښې ډېر رواج سو.

په شمالي خواوو کي نسبت و جنوبی برخو ته مریي توب لږ رواج وو ځکه د مریي نیول په دغه برخه کي د ډېرو مخارجو لکه خورک او جامه او نورو سبب کېدی او د کار منافع او ګټه ئې لږ وه.

له دې بیانه فهمول کېږي چې مریی نیول د اقتصادي کارو څخه دي چې پر کار او اشتغال مرتب کېږي.

مریي توب په پخوانیو زمانو کي:

په پخوانیو مصریانو کی مریی توب:

د مصر وګړو مریان د کارو له پاره او هم د دبدبې او لویی او جلال د نمایش له پاره درول په شاهي قصر او د کاهنانو په کور او معبد او د سردارانو په مانیو کي به څو څو تنه مریان وه هغه کسان چې په جنګ کي به بندي او ونیول سوه په دولت پوري ئې اړه درلوده او هغه کارونه به ئې کوله چې مملکت و هغو ته احتیاج درلود یا دا چې د هغه ځای د ښایست او ښکلي توب مایه ګڼل کېدل په هغه مواردو کي چې کار به په عامه مصالحو پورې مربوط نه وو د وګړو اخلاق نسبت و مریانو ته ډېر نرم وه او په ډېره مهربانی سره ئې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

وسیله کاوه بیا وروسته مریي توب و ډگر ته راووت دغه مریان په دوه ډوله لاس ته راتلل یو د بیګانه وګړو سره د جنګ د لاري او دوهم په خپله د چین د وګړو څخه وه ځکه چیني فقیرانو د مسکنت او احتیاج له کبله خپل زامن پر بډایانو خرڅول په چین کي د مریي بادار د خپل مریي په باره کي هر ډول اختیار درلود په خپله مریی او زامن ئې خرڅولای سوای لیکن په عین حال کي چیني قوانین او هم د دوی رسم او رواج د مریانو په باره کي نرم او ډېر ظلم ئې پر مریانو نه کاوه لکه چي کرانکون د چین امپراطور چي تر مسیح علیه السلام پنځه ډېرش کاله وروسته وو دوه فرمانونه ئې د مریانو د حال او ژوندون د رعایت له حیثه صادر کړل په دغه فرمان کي ئې داسي جملی سته چي د ده پر مېړانه دلالت کوي لکه دا جملې:

انسان د مځکي او اسمان تر مخلوقاتو پورته دئ نو هر څوک چي خپل مریی مړ کي نو د دغي خپلي ګناه د پټولو له پاره هیڅ یوه لار نه لري هغه څوک چي په بېباکه ډول خپل مریی په اور داغ کي د قانون په حکم باید محاکمه سي او دغه مریی چي داغ کړه سوی آزاد دئ او د چینیانو د آزادو او حر وګړو په شمېر کي داخل دئ.

په چین کي ځینې مریان و لوړو مقاماتو ته رسېدلي او د بادار د اطمینان په سبب به مریانو داد و ستد او ورکړه راکړه کوله معاملې ئې کولې په دې حیث به ئې ډېري روپۍ لاس ته راوستلې په دغه روپو به ئې خپل ځانونه رانیول او د مریي توب د بادار څخه به خلاص سول آزاد به سول له همدې حیثه چي د چین د وګړو فکرونه ښه وه او ښه معقوله رایه ئې درلوده په دوی کي مریي توب لږ وو.

په عبراني وګړو کي مریي توب:

په عبرانیانو کي ښځي د پخوا او قدیمي زمانې څخه مریي توب رواج وو د مریانو نیول په یهودو کي په زیاته بیا په هغو غټانو کي چي په سیاحت او مسافري به تلل د دارایي او بډای توب اسباب وه د مریانو له پاره تر یوې اندازې پورې په حقوقو قائل وه لکه دا چي په هر کال کي اووه ورځي مریی حق درلود چي استراحت وکي او بادار نه سوای کولای چي مریی سخت ووهي که چا به دغه کار وکی په سزا به رسېدی مثلاً که په وهلو کي به د مریي کوم غړی نقصانی کېدی او یا به ئې غاښ یا هډوکی مات سو نو وهونکی ئې په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128 Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

کسب دغه د مریانو پلورل او پیرودل او د دوی په کرایه ورکول وو، دغه ئې لویه سوداګری وه، او د دې لاری څخه ئې ډېره دنیا او مال لاس ته وروستلای سوای، په آتن کې هیڅ یو کور بې مریی نه وو، که څه هم یو فقیر به وو لا ئې مریی درلود، یونانیانو د خپلو مریانو په نسبت هر ډول اختیارات درلودل، او په عین حال کې لکه رومیانو چې د مریانو په نسبت سختګیرې کوله یونانیانو نه کوله.

د مریې سزا ډول ډول وه، کله کله ئې په غمچینه واهه، کله به ئې مېچن او ژرنده په کوله، او که به مریی تنبتېدی یا ئې د وحشي ملکو څخه جلب کاوه نو پر تندي به ئې داغ ورکښیښود، په عین حال کې قانون د مریې د ژوند رعایت کړی وو، چې پرته د قانون په حکم هیڅ څوک نه سي کولای چې مریی اعدام کي.

په آتن کې ډېر آزاد سوي وګړي وه لیکن په خپل عمر کې د خپلو بادارانو تر ولاء نه سوای وتلای او د اهلي اصلي حر وګړو په شان ئې په حقوقو کې برخه نه درلوده او لکه غریبان داسي اوسېدل، په آتن کې داسي مریان وه چې دولت خپل کارونه لکه د ښار ساتل، د لارو امنیت او داسي نور ئې په کول.

په روم کې مریې توب:

په روم کې د کارګرو مخصوص کارونه آزاد وه له همدې جهته د دغه ښار په وګړو کې د شهادت او مړاني روح خپور سوی وو، لیکن د تاریخ ډېرو جنګو او د دغه ښار د توسعې او د ډېرې دارایی په اثر، بډایانو خپل کارونه د مریانو پر غاړه واچول او کسب و کار او کرهنه ئې و دوی ته سپارل د مریانو د لاس ته راوستلو لاري، په روم کې ئې د څولارو څخه مریان لاس ته راوستل:

۱- د جنګ د لاري (اکثره رومي مریان د دې لاري څخه په لاس ورتلل).

۲- هغه آزاد وګړي چې د قانون په حکم مریان کېدل، مثلاً لکه پوروړی چې پور به ئې نه سوای ادا کولای.

د روم مریان خرڅوونکو به د روم د سپاهیانو سره مرافقت او موافقت کاوه په دې سبب به ئې په زور بندیان په لاږ بیه رانیول، او هم ئې کوچنیان د خرڅلاو، او ښځې ئې د بدو

Downloaded By: Afghan Salar Library

کارو د گمارلو له پاره غلا کولې.

په روم کي مريان په مزايده او داوطلبي سره خرڅېدل، مريی به ئې پر لوړه ډبره وداراوه چې خريداران ئې وويني، نو که به چا رانيوی د مريي څخه به ئې کالي وکښل لڅ لغړ به ئې کی چې کوم عيب پکښې نه وي.

پوه مريان يا هغه مريان چې د نمايش تر عهدې وتلای سوای، او همدغه رنګه بنايستې او پی مخی مينځيانې ډېرې ګراني او لوړ قيمت ئې درلود، وروسته ورو - ورو د فساد د خپرېدو په اثر بنايسته مريان د ثروت او بډای توب د شيانو او اسبابو څخه وشمېرل سول.

د مريانو اقسام:

په روم کي هم لکه يونان څو قسمه مريان وه:

۱- داسې مريان وه د رئيسانو، حاکمانو، او کاهنانو خدمت ئې کاوه يا ئې بندي وانې کول بندیان ئې ساتل، د کلاوو پيره داري به ئې کوله: د دې قسم مريانو حال تر نورو بنه او آسوده وو.

۲- هغه خصوصی مريان وه چې د خپلو بادارانو کارونه ئې کول.

د مريی قدر او ارزښت:

په قانون کي مريی هيڅ قدر او او ارزښت نه درلود مريي نه سو کولای چې شخصيت او ملک او ثروت دي ولري يا دي د کور او کورنۍ خاوند سي د مريي توب او آزادۍ په لحاظ د مور تابع وو يعنې د ده د زېږيدو په وخت کي که به ئې مور مينځه وه دی به خامخا مريی وو او که به ئې مور حره او آزاده وه نو دی به آزاد وو.

باداران د خپلو مريانو په وهلو او سزا ور کولو کي ازاد وه هر ډول چې ئې زړه غوښتای هغسې ئې خپل مريي ته سزا ور کوله او په عذاب کاوه ئې.

کله به ئې د اوسپنې په ځنځيرو کي واچوله د کښت او کر سخت کارونه به ئې په کول او کله کله به ئې په غمچينه دونه وهل چې نژدې به سو چې مړ دي سي کله کله به ئې په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

دواړو لاسو په هوا وځړول او په پښو پوري به ئې درانه کانې يا بل درونده شی وروتاړه کله کله به ئې دغه عاجزه مريان د وحشی حيواناتو او جانورانو او درنده ګانو سره په جنګ اچول.

کرار کرار د زمانې په تېرېدو دغه ظلم کميدی لومړی قانون چې د (پټرونيا) قانون دئ د مريانو په باره کې وضع سو چې د مريانو په جنګ اچول ئې د درندګانو سره حرام او منع کی بيا د (انتونان) او د (کلودوس) وار ورسېدی دوی د مريانو باداران د مريانو د زهيرولو او بد ګذرانی څخه منع کړل او يو قانون ئې ورته کښيښو چې هر کله که بادار خپل مريی مړ کې نو جانې او خونې ګنډل کېږي.

په منځنيو قرنو کې مريي توب:

لکه چې د روم د قوانينو په حکم مريی لکه حيوان داسې ګنډل کېدی او د ځان اختيار ئې نه درلود تر دې حده که بادار غوښتای چې مړ ئې کې وژلای ئې سوای په وحشي او بربري[1] ملتو کې هم همدغه احکام جاري وه دغو ملتو ښاخونه درلوده چې ځينې ئې دغه دي:

۱- ګل[2] د ګل د وګړو مريان د کښت او کرهنې او بزګری کارونه اجرا کول ځکه چې دغه کارونه د (سيسرون[3]) په وخت کې ډېر د بې همتی او خواری او د تحقير کارونه وه چې د حر او آزاد وګړو سره ورنه وه چې په مشغوله وای.

۲- جرمنيان[4] دغه وګړي پر قمار باندې مين وو د خپلو مريانو څخه ئې دغه غوښته چې لکه يو مزدور څه مقدار غله او جامه و خپلو بادارانو ته ورکوي، او د خپل ژوندون په کارو کې آزاد وي او د خپلو ځانو له پاره د سکونت ځايونه ونيسي او چې زړه ئې غواړي

---

(۱) دا هغه ملتونه وه چه څو واره ئې د روم پر ښار حمله کړی وه، دغه وګړي د څو جنسو څخه جوړ سوي وه (رومي، صقلی او سيتی) (مؤلف).

(۲) ګلان هغه وګړي وه چه د ګل په مشهورو ښارو کې اوسېدل، ګل پر فرانسه او پر شمالي ايطاليا شامل دئ، د ګل اقليمونه د بريطانيا جزېرې، فرانسه او قديمه اسپانيا. (مؤلف).

(۳) سيسروند روم يو فسيح شاعر وو چې تر ميلاد دمخه په ۱۰۶ کال کې زېږېدلی د فلسفې او بلاغت او نورو درسونه ئې د خپل عصر د مشهورو او نامي استادانو څخه اخيستي وه. (مؤلف)

(۴) هغه وګړي دي چه په جرمن (په اوسني المان) کې اوسېږي (مؤلف).

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

رومیانو د مریي نیول داسي دي پرته له دې چي په هغو دورو کي چي به مستعمرات فتح سول نو مځکي ئې سره له بزګرو د فاتحانو مال او ملک ګرځېدی لیکن په وروستنیو دورو کي چي مځکي کشف او وګړي ئې محوه ګرځېدل نو جبراً او قهراً د ځنګلیانو وراستولو ته احتیاج پیدا کېدی.

د تور لنګیانو قانون:

دغه نوم په هر ځای کي پر هغه اصولي او مجموعي قاعده باندي چي د مریي توب په باره کي لیکلي سوي وي اطلاق کېږي د ۱۶۸۵م کال د مارچ په ۱۷ په فرانسه کي یو قانون جوړ سو دغه قانون په هغه مریانو او آزاد سوو وګړو پوري مربوط وو چي د فرانسي په مستعمرو کي ئې ژوند کاوه دغه قانون د اجرا په وخت کي د سختو پېښو سره مخ سو چي خبر ئې ورک او شر ئې پاته سو د دغه قانون په موجب کي مریانو ته نه ځان پاته سو، نه روح نه اراده، د دغه قانون ځېنې د مصیبت مواد دغه دي:

۱- هر کله چي یو تورلینګی د خپل بادار یا د یوه آزاد سړي سره بې احترامي وکي سزا ئې مرګ او اعدام دئ.

۲- که تورلینګی وتښتي، په لومړي وار او دوهم وار تېښته کي ئې غوږونه د بېخه خېژي او بیا په سره توده اوسپینه ور داغ کېږي او که دریم وار وتښتېدی سزا ئې مرګ دئ.

۳- هر کله که یو رئیس بادار د مریي په حق کي جنایت وکي مړ ئې کي نو که هر ډول د مرګ وړ وي قاضي او سلاحیت دار حق لري چي دغه جاني تبرا او خلاص کي.

۴- تورلینګیان حق نه لري د علم د کسب له پاره فرانسې ته ولاړ سي، دغه قوانین په فرانسه کي تېر سول هر څه چي وه مګر د امریکا قوانین تر دې ډېر سخت وه چي څو مادي ئې دا دي:

۱- بادار حق درلود چي خپل مریی خرڅ کي یا ئې په کرایه ورکي یا ئې ګرو کي یا ئې په قمار بایلي په هر حال کي د مریي بله چاره نه وي پرته له دغه چي فرمان یوسي.

۲- مریی ته د تګ او راتګ حق نه وو، او نه سو کولای چي د بادار بې اجازې د مزرعې او کښت څخه راووزي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

مګر د فرانسې شورش چې وګړي ئې د قانون په مقابل کې ملګري او برابر کړل.

په اسلام کې مریی توب:

له دغه څخه چې ومو ویل څرګنديږي چې د اسلام د راتګ په وخت کې په ټوله نړۍ کې په ډول ډول لارو مریان نیول رواج وه، او په هیڅ ډول د آزادۍ لار د مریانو له پاره نه وه، قوانینو مریان د بادارانو څخه په کلي ډول سره کړي وه او پر مریانو باندې ئې سختي نیولې وه، نو دغه د حکمت سره سم کار نه وو، چې د داسې محکم کار سره چې پخوانیو شریعتو او قوانینو د هغه ریښې ټینګې کړي او ثابتې کړي، او وګړو په قرنو، قرنو د هغه سره خوې نیولی وو، او د خپل تمدن د اصولو څخه ئې ګانه، په یوه وار دې مخالفت ځنې وسي، که د اسلام شریعت په یو وار د دې کار سره مخالفت او باطل کړی ئې وای، نو ټوله نړۍ ئې په مخالفت کې درېدله، او د هغه په مقابل کې ئې په الهی شریعتو او بشري قوانینو سره دلایل ویل.

اسلام د بشر د ترقۍ له پاره یوازنۍ لار په منځ کې ونیوله، چې د کافرانو سره په خپل ديني جنګ کې ښه نظم او ترتیب ونیو، اول ئې دوی اسلام ته رابلل که ئې نه قبلاوه، نو ئې جزیه پر ایښوولې، چې د دغو دوو څخه د یوه د منلو په اثر د دوی ځان او مال وساتل سي، او د مسلمانانو سره په ګټه او تاوان کې شریک سي او په دې صورت کې چې د دغو دوو څخه ئې یو نه قبلولای نو ئې جنګ ور سره کاوه، هر کله چې به ئې بری وموند نو د امام په اذن به کافران د مسلمانانو مریان وه.

په عین حال کې همدغو مریانو کولای سوای چې خپل ځان آزاد کې، یعنې چې فدیه ورکې او ځان آزاد کې، علاوه پر دې امام کولای سوای چې د الله ﷻ په لار کې دغه بندیان آزاد کې (فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوْا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا)[1]

د آزادۍ لارې:

---

(۱) ۴۷ سورة (محمد) ۵۰۴ آية.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

٦- هغه څوک چې د خپل مريي څخه خوشحاله وي او د ده سره مکاتبه[1] وکي په دې ډول چې عقد وکي چې يو معين مبلغ په څو قسطه و خپل بادار ته ورکي او آزاد سي نو دغه عقد لازمېږي او مريی د هغه معين مبلغ په ورکړه يا د بادار په ابراء يا د عوض په ورکولو آزادېږي او دغه آزادي ئې چې په مکاتبه سره آزاد سي د آزاد سوي و اولاد ته چې د مکاتبې د آزادۍ تر عقد وروسته وسي يعني دغه اولاد ئې هم آزاد دئ.

٧- هر سړی چې دا نذر کي که و خپل معين مقصد ته ورسېږي نو مريی به آزاد وي نو هر وخت چې و خپل مقصد ته ورسېدی بايد خپل نذر ادا کي يعني مريی آزاد کي.

٨- د اسلام شريعت د آزادو وګړو نکاح د مينځيانو سره روا کړې ده: (وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ)[2] هر څوک چې قدرت او توانايي ونه لري چې د مؤمنو آزادو ښځو سره نکاح وکړي نو د خپلو مؤمنانو مينځيانو سره دي نکاح وکي.

د اسلام شريعت هغه اولاد چې د آزادو، حرو ښځو څخه چې د مريانو د مړو ښځې څخه پيدا سي حر او آزاد بللی دئ، دا هغه صورت دئ چې د وزيکت (لکه چې دمخه بيان وسو چې وزيکت د کت د بناخو څخه يو بناخ دئ، چې دغه يو قديمی ملت دئ په جرمن کي) په قانون ئې دغسي مېړه او مايند سوئل.

د مريي مميزات:

د اسلام شريعت و مريانو ته د رحم په سترګه کتلي دي، څرنګه چې دوی د آزادۍ د نعمت څخه کامل بې برخي دي نو د مريانو جرمونه ئې د آزادو وګړو د جرم سره برابر نه کړل، او د دې لاري څخه ئې د دوی د صنعت جبيره وکړه، نو په هغو ځايو کي چې کوم مانع نه وي د مريي سزا د آزاد تر سزا کمه ده مثلاً د قذف په حد کي محض آزاد سړی تر مريی يو په دوه، دورې او شلاخي وهل کېږي، لېکن د غلا په حد کي چې لاس پرې کېږي آزاد او

---

[1] مکاتبه ئې د قرآن کريم د آيت د عبارت څخه اخيستې ده او په فقه کي اصطلاح ګرزېدلې ده مکاتبه پر دوه ډوله ده: (مطلق) او (مشرط) په مطلقه مکاتبه کي هسي چې د معين مبلغ څخه څه ورکي هغونه مريي آزاديږي، لېکن بايد پاته مبلغ هم ادا کي. او په مشرطه مکاتبه کي چې توله مبلغ ادا نه کي په هيڅ ډول آزادي نه لري.

[2] ۴ سورة (نساء) ٢٥ آية.

Downloaded By: Afghan Salar Library

مریی یو رنگه دي ځکه چي د لاس پریکښده نه نیمی کیږي، او بل دا چي د وګړو د مال د ساتني له پاره د بدو او شریرو وګړو د جلوګیری له حیثه دغسي سزا یو رنګه ورځ ده.

د آزاد بدو اجتماعي مزیت:

۱- د اسلام شریعت آزاد سوی مریی تر آزادی ورو ستله بالکل د بادار څخه نه دئ جلا کړی او د دوی د ارتباط مزی ئې د یوې پلا نه دئ شلولی، بلکي د دوی دوو تر منځ ئې (ولاء) مقرره کړیده، چي اکثره فایده د آزاد سوي مریي په برخه ده، ځکه څنګه چي مریان د لیري ځایو څخه اکثراً راوستل کیږي، نو ځکه دوی لره پرته له خپل بادار څخه بل یار او مدد ګار نه وي، نو که دی په کلی ډول د بادار څخه جلا سي نو دغه بیچاره بیکسه سو، په بیکسي سره په زحمت کیږي، او زیان ور رسیږي، یوازي کیږي هیڅوک ئې غمخواري نه کوي لیکن د ولاء قانون د ده ارتباط د باداره ئې د دغو څخه ساتي.

۲- د ولاء قانون بادار مجبوروي که یوه ورځ مریی ونه کولای سي چي خپل حاجت تر سره کي د ده اړه ورخلاصه کي او حاجت ئې تر سره کي د دي مطلب د روښانه کېدو له پاره د زنباع او د مریي قصه واروئ:

زنباع د خپل مریي پزه پر یوه ګناه ورپرې کړه غلام و حضرت رسول الله ﷺ ته ګیله وکړه حضرت محمد رسول الله ﷺ و زنباع ته وویل:

ولي دې پزه ورپرې کړه؟ ده وویل چي هغسي او دغسي ئې وکړه. مریي ته حضرت نبوی ﷺ وویل چي ورځه آزاد یې. مریی وویل چي زه د چا بنده او مریی یم.

حضرت رسول اکرم ﷺ ورته وویل: ته د الله تعالی او د ده د رسول بنده او مریی یې هغه وخت چي حضرت رسول الله ﷺ رحلت وکی همدغه مریی و حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ته ورغلی او د حضرت محمد ﷺ خبره ئې و ده ته وکړه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ورته وویل: ستا او د عیال نفقه دي په بیت المال کي ده. هر کله چي د خلافت وار و حضرت عمر ﷺ عنه ته ورسیدی هم هغه مریی و ده ته ورغلی او هغه نکل ئې ورته وکړ. حضرت عمر ﷺ هم تصدیق وکړ او ورته وئې ویل: کم ځای غواړې؟ مریی ورته وویل چي مصر! حضرت عمر ﷺ په مصر کي خپل عامل ته ولیکل چي دغه غلام ته محکمه ورکه چي د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

هغې حاصل څخه نفقه پيدا او ژوندون په کوي.

۳- دغه ولاء کله کله د دې سبب کېږي چې وګړي د دغه آزاد سوي مريي سره خويښي او دوستي کوی ځکه چې ځينې وګړي د بې کسه سړی سره دوستي او خويښي نه کوی علاوه پر دې د پر ځله کېږي چې د ده ولي د ده سلاحيت تر ده بنه تشخيص کي.

د مريي سره رفتار:

اسلام مريي توب د خواری او پستی مايه نه ګڼي او مسلمانان د مريي او بادار په منځ کي دونه لوی فرق نه کوي بلکي د خپلو مريانو سره لکه د کورنۍ د افرادو سره داسي ګذاره کوي او د دوی سره ګډون کوي. اسلام فرمايلي دي چې د مريانو سره نرمي کوئ:

(وَاعْبُدُوا اللهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا)[1]

د الله تعالی عبادت کوئ او ده ته شريک مه نيسئ د مور او پلار او خپلوانو يتيمانو، فقيرانو، مسکينانو، د خپلوانو د همسايګانو او د خپلو د همسايګانو او د اړخ او بېګانه همسايګانو او ملګرو، مسافرو، او مريي او مينځي سره نېکي کوئ، بېشکه الله تعالی متکبر او هغه څوک چې په فخر او نازځي نه ئې خوښوي دوست ئې نه لري.

د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دئ چې حضرت ﷺ وويل: د مريي او مينځي په باره کي د الله ﷻ څخه وېرېږئ او هم د حضرت محمد رسول الله ﷺ څخه روايت دئ چې ويلي ئې دي: "ستاسي مريان او مزدوران ستاسي وروڼه دي، سړی بايد د خپل لاس لاندي وروڼه ته هغه څه ورکي چې دی ئې په خپله خوري او هغه په واغوندی چې په خپله ئې اغوندي".

حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د حضرت رسول کريم الله ﷺ څخه روايت کړی ويلي ئې دي چې: "د دوو عاجزانو او ضعيفو په باره کي د الله تعالی څخه وېرېږي". حضرت

---

[1] ۴ سورة (نساء) ۴۰ آية.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghan

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

څلورم مقصد

دبېکارۍ، بدۍ او پر کار ګومارل د حلالي لاري څخه د مال د تحصيل له پاره

الله تعالی دا جهان پيدا کړی دئ او د مځکي د مخ ټوله موجودات ئې د انسان له پاره ځي د عقل، فکر او ارادې خاوند دئ مسخر کړي دي، چي هغه لکه چي الله ﷻ ئې غواړي او د کلي نظام سره متناسب دي اباد ئې کړي او د خپل ژوندون مواد د هغو څخه راوباسي، قرآن کريم څو واره د مختلفو لارو څخه دغه موضوع د وګړو و غوږو ته رسولې ده.

الله تعالی بني اسرائيل د حضرت موسی عليه السلام د قول څخه مخاطب کړي دي. (عَسٰى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ)[1]

هيله ده چي الله تعالی ستاسي دښمنان ورک او تاسي ئې پر ځای کښېنوي چي وويني چي تاسي څنګه کار کوي؟ و مسلمانانو ته په خطاب کي وائي (وَعَدَ اللهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ)[2]

الله تعالی د هغو مؤمنانو سره چي ښه کارونه کوي وعده کړېده، چي دوی لکه پخواني کسان چي د دوی دمخه په مځکه کي خليفه ګان وه خليفه او پر ځای ئې کښېنوی، او هسي دين چي د دوی له پاره غوره او خوښ دئ متمکن وګرځوي، په دې باب کي چي مځکه د انسانانو له پاره مسخره سوېده راغلي دي (وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ)[3]

په تحقيق سره تاسي مو په مځکه کي واوسولاست او ستاسي له پاره مو په دغه مځکه کي د معيشت اسباب مقرر کړل، نو تاسي لږ شکر کوئ.

---

(۱) ۷ سورة (اعراف) ۱۲۶ آية.
(۲) ۲۴ سورة (نور) ۵۴ آية.
(۳) ۷ سورة (اعراف) ۹ آية.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128
Telegram:https://t.me/afghansalar

لتې او بېکاري بده ګڼي او بېکاري حرامه ګڼي لټ او بېکاره دښمن بولي او د کار سرې ته ترجيح ورکوي.

حضرت لقمان حکيم رحمة الله عليه و خپل زوی ته دغسي نصيحت کړی دی:

"زما زويکه ځان د حلال کسب په ذريعه د ناداری او نبستی څخه وساته ځکه چې هر څوک چې نبستمن او مسکين سي درې خويونه پکښې پيدا کېږي (دين ئې سست، عقل ئې ضعيف، مړانه ئې ورکه کېږي) تر دې زيات دا دی چې وګړي د خواری په سترګه ورته ګوري او سپک او خوار او حقير ئې ګڼي".

کار او کوښښ د عالم انسانيت د واجباتو څخه دي هر سړی چې په هر نامه او بهانه بېکاري او سهل انګاري خوی وګرځوي د انسانانو د شمار او ټله څخه وتلی دی او په مړو کې حساب دی له همدې جهته اسلام چې د انسانيت کامل کوونکی دی وګړي ئې کار او عمل ته ګومارلي دي اسلام نه يوازې وګړي فقط په کار او کوښښ امر او تشويق کړي دي بلکې د کار بنايست او زيب او ښه والی ئې هم تر نظر لاندې نيول دی د اسلام مقدس رسول حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: (ان الله يحب الصانع الحاذق) الله تعالی چابک دسته او ښه بنايسته کاره کسب کاره دوست ګڼی. دغه فرمايش د دې له پاره دی چې وګړي د ژر او ښه کار او ثابته بنايسته سي د جوړولو په سبب ډېره ګټه وکې او کار ئې رواج وموميږي او د هغه په اثر د نړۍ آبادي چې انسان فطرتاً دغه وداني غواړي و کمال ته ورسېږي اسلامی لرغونو او اسلافو د دغو فرمايشاتو رعايت کاوه او خپل کارونه ئې لکه چې بنائيدل دغسي زيبا، بنايسته او ټينګ ميدان ته راويستل.

څرنګه چې د نړۍ مختلف اقليمونه او د جهان بنارونه او مملکتونه هم د محصول او موادو له حيثه او هم د افرادو د فکر او عقل له حيثه توپير سره لري له همدې جهته د کسب او کار او هنر له حيثه چې وګړي په مشغوله دي هم اختلاف لري د اسلام په شريعت کې خاص شغل او مخصوص کار نه دی معين سوی بلکې هر سړی په هر ځای کې چې وي سم له خپلې پوهی او د محيط له شان سره چې لاس ئې برسي او د کار اسباب په لاس ورسي يو کسب او کار د ځان له پاره غوره کي او بېکاره دي نه کښېني.

لنډه دا چې د حلالي لاري څخه په کسب او کار سره مال ګټل او کارګرانو ته په ښه

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By:AfgharSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ *Telegram:https://t.me/afghansalar*

Downloaded By:AfgharSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ *Telegram:https://t.me/afghansalar*

Downloaded By: Afghan Salar Library

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128 Telegram:https://t.me/afghans

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ *Telegram:https://t.me/afghansalar*

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ *Telegram:https://t.me/afghansalar*

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ *Telegram:https://t.me/afghansalar*

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128 *Telegram:https://t.me/afghansalar*

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfgharSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Downloaded By: Afghan Salar Library

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/ Telegram:https://t.me/afghansalar

DownloadedBy:AfghanSalarLibrary

Facebook:https://www.facebook.com/groups/18228128

Telegram:https://t.me/afghansalar